د عُلماو، طُلباو، مُقرِرينو او عامو مسلمانانو دپاره په مختلفو موضوعاتو باندې

د تقريرونو يوه مُفصّله، مُعتَمده، عِلمي، او تحقيقي ذخيره.

# اِصلاحي

# مُدلّلې تقريرونه

تأليف

## ابو الشمس مولانا نور الهدى عفي عنه


مدرس دار العلوم فيض القرآن اكاخيل كالونى، مردان



زير اهتمام
كفايت الله ارماني
0344-9995990

مكتبه اعزازيه
محله جنگي پشاور
07648577

د عُلماؤ، طُلباؤ، مُقرّرینو او عامو مسلمانانو د پاره په مختلفو موضوعگانو باندې د تقریرونو یوه مُفصّله، مُعتمده، علمي او تحقیقي ذخیره

# اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِیْرُوْنه

جلد ۱۳

تالیف


آبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

فاضلِ جامعه امدادُ العلوم پشاور صدر، و وفاق المدارس العربیة ملتان

بی اے عبدالولی خان یونیورسٹی مردان

حالًا: مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی، مردان

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب نوم: اِصلاحي مَدَلّل تقريرونه جلد ۱۲

مؤلف: اَبُو الشَّمس مولانا نُورُ الهُدٰى عُفِيَ عَنهُ
مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القرآن اكاخيل كالونى مردان
فون نمبر ۰۳۰٦ ۵۴۴۷۱۷۴

کمپوزر: مؤلف پخپله

د چاپ کال: ۱٤۳۹ هـ ق ، ۱۳۹٦ هـ ش، مطابق ۲۰۱۹ ء

مکتبه اعزازيه
محله جنگي پشاور

زير اهتمام: کفايت الله ارماني ۰۳٤٤-۹۹۹۵۹۹۰

نوټ: د کتاب ټول حقوق د مکتبه اعزازيه سره محفوظ دي

( ۵ )

# تقریظ

اَلْاَدِیْبُ الْکَامِلُ اَلْعَالِمُ الزَّاهِدُ بَرَکَةُ الْعَصْر

## حضرت مولانا فقیر محمد حنفي صاحب

دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَة

### مهتمم دارالعلوم فیض القرآن اکاخیل کالوني مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَکَفٰی ، وَسَلَامٌ عَلٰی عِبَادِهِ الَّذِیْنَ اصْطَفٰی . اَمَّا بَعْدُ .

زما ګران او محترم وررور حضرت مولانا نورالهدا صاحب دَامَتْ بَرَکَاتُهُ چې د "اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِیْرُوْنه" په نوم باندې کوم کتاب لیکلی مَاشَاءَ الله ډیر په زړه پورې او زړه راښکونکې کتاب دی ، ځکه چې دا په قرآني آیتونو ، نبوي احادیثو، د صُلحاوُ په اَقوالو ، او معتمدو واقعاتو باندې مشتمل دی نو ځکه زړونو ته ډیر مقبول دی.

بیا خاصکر د اُمتِ مُسلمه، د جُماتونو اِمامانو او واعظانو د پاره خو ډیر مُفید دی ځکه په دې کتاب کې په هره هغه موضوع باندې بحث شوی چې د اُمتِ مسلمه ورته ضرورت دی.

دولسم جلد چونکه ټول په جهاد باندې لیکل شوې وُ او په دې دیارلسم جلد کې هم د جهاد باقي پاتې موضوع ګانې او ورسره نورې ډیرې اَهمې موضوع ګانې شاملې دي . جهاد داسې بهترین عمل دی چې ددې په برکت باندې مونږ په خپلو سترګو اولیدل چې د رُوس او امریکې ملعونې سُپَرپاوَر یې زیروپَاور ته راوست.

زما د الله ﷻ په دربار کې دا سوال دی چې دې کتاب له الله ﷻ څومره مقبولیت ورکړې دی ددې په زَر چنده دې الله ﷻ نور هم ورکړي.

او بیا خاصکر زما د پاره خو ډیره د فخر او خوشحالۍ موقع ده چې نوموړې مؤلِف زمونږ د مدرسې " دارالعلوم فیض القرآن " مُدرِّس دی.
الله تعالی دې د دوی په عُمر، عِلم او عمل کې نوره هم اِضافه او کړي.

آمِيْن ثُمَّ آمِيْن

لَا أَرْضَى بِوَاحِدَةٍ بَلْ أَضُمُّ إِلَيْهَا أَلْفَ آمِيْنَا

**فقير محمد " حنفي "**

خادِم العلماء والطلباء بجامعة فيض القرآن اكاخيل كالوني مردان

۲۰۱۹/۹/۲۵

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# سريزه ( د ديارلسم جلد )

نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ ، اَمَّابَعْد!

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ، اَلشُّكْرُ لِلّٰهِ . دا ديارلسم (١٣) جلد هم د الله جَلَّ جَلَالُهٗ په توفيق سره پوره شو ، په دې کې مې ددې وخت مناسب اَهمې موضوع ګانې په ډير مِحنت سره راجمع کړي ، هره خبره مې په څو څو مُعتمدو حوالو سره مُزَيّن کړې ، اُميد دى چې ددې په کتلو سره به ستاسو سترګې يَخې شي ، او عِلمي تَنده به مو پرې ماته شي.

**خوشخبري** : اِن شَاءَ الله دا سلسله به همداسې تر يو وخته پورې جاري وي ، او **خوارلسم** (١٤) **جلد به هم د الله جَلَّ جَلَالُهٗ په توفيق سره ډير زر را اُووځي** .

الله تعالى دې دا ټول کتابونه په خپل دربار کې قبول کړي ، او په صحيح طريقې سره دې دا د قيامته پورې انسانانو د پاره د اِصلاح سبب اُوګرځوي .

پَروَردِګار عالَم دې دا کتابونه زما ، زما د والدينو ، اُستاذانو او ټول اُمتِ مُسلمه د پاره د مغفرت او نِجات ذريعه اوګرځوي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ

**نوټ** : که د کتاب متعلق يا بله څه مفيده مشوره وي نو په دې ٠٣٠٦ ٥٤٤٧١٧٤ نمبر راسره رابطه کولې شي .

ابوالشمس نُورُالهدٰى عفى عنه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# اجمالي فهرست


| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | تقريظ : حضرت مولانا فقير محمد حنفي صاحب دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة | ت |
| ۲. | ۱. په جهاد کې د مال خرچ کولو فضائل او فوائد | ۱ |
| ۳. | ۲. جهاد خاص د الله ﷻ د رضا د پاره کول او مالِ غنيمت کې د خيانت نه ځان ساتل | ۳۶ |
| ۴. | ۳. په اجتماعي لحاظ سره د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کيدو اَسباب | ۷۰ |
| ۵. | ٤. هر نيک عمل په اِخلاص باندې کول | ۱۶۸ |
| ۶. | ۵. د رِيا نه ځان ساتل | ۲۳۴ |
| ۷. | ٦. د رينښتيا ويلو فضيلت او د دروغو سزاګانې | ۲۷۵ |

بسم الله الرحمن الرحيم

# تفصيلي فهرست



| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | تقریظ : حضرت مولانا فقیر محمد حنفي صاحب دامت برکاتهم العالیة | ث |
| | **۱. په جهاد کې د مال خرچ کولو فضائل او فوائد** | ۱ |
| ۲. | تمهیدي خبره | ۲ |
| ۳. | د جهاد درې قسمونه (جهاد بِالمال، جهاد بِالنفس، جهاد بِاللّسان) | ۳ |
| ۴. | د جهاد بالمال مخکې ذکر کیدو وجه | ۳ |
| ۵. | د یوې روپۍ په عِوض کې اووه سوه (۷۰۰) چنده اَجر | ۴ |
| ٦. | د مثال په ذریعه د بیانولو حِکمت | ۵ |
| ۷. | احادیث | ٦ |
| ۸. | په جهاد کې د مال خرچ کولو په عِوض کې بې حِسابه اَجر | ۸ |
| ۹. | په جان و مال سره جهاد کول بهترین تجارت دی | ۹ |
| ۱۰. | د الله ﷻ په لار کې د خرچ کړې شوي مال پوره اَجر ملاویدل | ۱۰ |
| ۱۱. | په جهاد کې جوړه څیز ورکولو سره د جنت مستحق کیدل | ۱۰ |
| ۱۲. | په جهاد کې مال خرچ کول ډیر بهتر دي | ۱۳ |
| ۱۳. | مجاهدینو سره مدد کوونکي ته د جهاد ثواب ملاویږي | ۱۳ |
| ۱۴. | مجاهِد سره مدد کوونکي ته دوچند اَجر ملاویږي | ۱۴ |
| ۱۵. | مجاهد سره مدد کوونکی به د قیامت په ورځ د عرش د سیورې لاندې وي | ۱۵ |
| ۱٦. | مجاهد سره مدد کول د نفلي حج نه بهتر دی | ۱۵ |
| ۱۷. | ابوبکرصدیق رضي الله عنه په جهاد کې ټول مال او حضرت عمر رضي الله عنه نیم مال ورکړو | ۱٦ |
| ۱۸. | حضرت عثمان رضي الله عنه د غزوه تبوک په موقع ډیر زیات مال ورکړو | ۱۷ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۹. | په غزوه تبوک کې سختي | ۲۱ |
| ۲۱. | حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه د الله ﷻ په لار کې ډير مال ورکړه | ۲۲ |
| ۲۲. | په عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه باندې د الله ﷻ د طرفه سلام او د جنت زیرې | ۲۳ |
| ۲۳. | ابن سهل رَحِمَهُ الله په جهاد کې لس لکه (۱۰۰۰۰۰۰) ديناره ورکړل | ۲۴ |
| ۲۴. | د جهاد په چانده کې زنانه وُ خپل ويښتان ورکړل | ۲۵ |
| ۲۵. | زمونږ اسلافو به د خپل ځان په نسبت بل ته ترجيح ورکوله | ۲۵ |
| ۲۶. | **د قدرت باوجود په جهاد کې د خرچ نه کوونکو د پاره وعيد** | ۲۷ |
| ۲۷. | د مذکوره آيت په باره کې عِلمي تحقيق | ۲۸ |
| ۲۸. | د الله ﷻ په لار ( جهاد ) کې خرچ نه کولو باندې توبيخ | ۳۲ |
| ۲۹. | مجاهدينو سره د مدد نه کولو په وجه په سخت مصيبت کې گرفتار کيدل | ۳۳ |
| ۳۰. | د غونډ تقرير خلاصه | ۳۴ |
| ۳۱. | دُعا | ۳۵ |

## ۲. جهاد خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره کول او مالِ غنيمت کې د خيانت نه ځان ساتل ۳۶

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۲. | تمهيدي خبره | ۳۸ |
| ۳۳. | هغه عمل مقبول دی کوم چې خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره شوې وي | ۳۸ |
| ۳۴. | د اعمالو ثواب په نيت باندې موقوف دی | ۳۸ |
| ۳۵. | چې د دين د سَربُلندۍ د پاره جهاد کوي نو دا د الله ﷻ په لار کې دی | ۳۹ |
| ۳۶. | چې څوک په جهاد سره خالص د دُنيوي سامان حاصلولو اِراده لري نو هغه ته د جهاد ثواب نه ملاويږي | ۳۹ |
| ۳۷. | شهرت حاصلولو د پاره جهاد کوونکي ته هيڅ اَجر نه ملاويږي | ۴۲ |

۳۸. شهرت او ریا کارۍ د پاره جهاد کوونکی به په اولني درې کسانو کې په مخ جهنم ته غورځولې شي ۴۳
۳۹. په جهاد کې مختلف قسمه نیتونه او د هر قسم حُکم ۵۲
۴۰. **په مالِ غنیمت کې خیانت کول گناه کبیره ده** ۵۶
۴۱. خیانت شوې څیز د قیامت په ورځ په خپلو اوږو راوړل، او د خلقو په مینځ کې رَسواء کیدل ۵۷
۴۲. معمولي څیز خیانت کول ډیر لوي جُرم، او د قیامت په ورځ شرم دی ۵۹
۴۳. په مالِ غنیمت کې د خیانت کولو په وجه د جهنم مستحق کیدل ۶۰
۴۴. د چُغې خیانت کولو په وجه د جهنم مستحق کیدل ۶۱
۴۵. د څادَر خیانت کولو په وجه د جهنم مستحق کیدل ۶۳
۴۶. په مالِ غنیمت کې خیانت کوونکي باندې پخپله نبي علیه السلام د جنازې مونځ او نکړو ۶۴
۴۷. د خیانت کوونکو خلقو په زړونو کې د دُشمن رُعب او یَره پیدا کیږي ۶۵
۴۸. عامِل به هم خیانت نه کوي ۶۶
۴۹. په مالِ غنیمت کې د خیانت کوونکي کس حُکم ۶۷
۵۰. په مالِ غنیمت کې د خیانت کولو نور نقصانات او ضَرَرونه ۶۸
۵۱. د غونډې تقریر خلاصه ۶۸
۵۲. دُعا ۶۹

**۳. په اجتماعي لحاظ سره د مسلمانانو د کمزَورۍ او مغلوب کیدو اَسباب** ۷۰

۵۳. د مُقرَّرینو د پاره راهنمائي ۷۱
۵۴. ډیر وَسائل او ډیر مُلکونه د مسلمانانو سره دي ۷۳
۵۵. د ډیرو وَسائلو او تعداد باوجود بیا هم مسلمانان کمزوري دي ۷۳

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۵٦. | په مسلمانانو باندې ذلت مسلطا کيدل د دوی د خپلو اعمالو په وجه دی | ۷۴ |
| ۵۷. | د مسلمانانو د ذلت او کمزورۍ اسباب | ۷۵ |
| ۵۷. | **د مسلمانانو د کمزورۍ اول سبب "د اسلام او قرآن نه لرې والي"** | ۷٦ |
| ۵۸. | د اسلام متعلق د حضرت عُمر ﷺ وينا | ۷۷ |
| ۵۹. | د صحابه کرامو په کپړو کې پيوَندونه وو خو بيا هم کافران ورنه يريدل | ۸۰ |
| ٦۰. | د حضرت عُمر ﷺ په ليدلو سره د رُوم په قاصد بندې يره راتلل | ۸۰ |
| ٦۱. | د ترک راجه اِقرار | ۸۱ |
| ٦۲. | چې کله په زړه کې رُوحاني طاقت وي نو بيا د لږو مسلمانانو په مقابله کې ډير کافران هم نشي ټينګيدی | ۸۲ |
| ٦۳. | د حضرت جعفر طيّار ﷺ بهادري | ۸۳ |
| ٦۴. | د يو څيز په ډيرو باندې د غالب کيدو مثالونه | ۸۴ |
| ٦۵. | د مسلمانانو د کاميابۍ د پاره حقيقي اِيمان ضروري دی | ۸۵ |
| ٦٦. | د اِيماني طاقت په وجه قوّت پيدا کيږي | ۸۵ |
| ٦۷. | اول مثال: د جادوګرو قوي اِيمان | ۸۵ |
| ٦۸. | دويم مثال: د فاطمة بنت خطاب رضي الله عنها قوي ايمان | ۸٦ |
| ٦۹. | دريم مثال: د حضرت بلال ﷺ قوي اِيمان | ۸۷ |
| ۷۰. | تر څو پورې چې په مسلمانانو کې پخپله دِيني کمزوري نه وي نو د غير مسلمو سازشونه ورته نقصان نه نشي رسولی | ۸۸ |
| ۷۱. | **نن صبا د مسلمانانو د ذلت وجه " د قران کريم نه لرې والې دی "** | ۸۹ |
| ۷۲. | د حضرت عمر رضي الله عنه واقعه | ۹۱ |
| ۷۳. | د امام مالک رحمه الله قول | ۹۲ |
| ۷۴. | د قرآن کريم په وجه په دُنيا کې تبديلي راځي | ۹۳ |
| ۷۵. | د اول سبب خلاصه | ۹۳ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۷۵. | **د مسلمانانو د کمزورۍ دويم سبب "بې اتفاقي"** | ۹۴ |
| ۷۶. | په قرآن کريم کې مسلمانانو ته د اتفاق حُکم شوی او د بې اتفاقۍ نه منع شوې | ۹۴ |
| ۷۷. | د امام قرطبي رحمه الله وينا | ۹۵ |
| ۷۸. | د علامه ابن کثير رحمه الله وينا | ۹۵ |
| ۷۹. | په اِجتهادي او فروعي مسائلو کې د علماؤ اختلاف مذموم ندی | ۹۶ |
| ۸۰. | مسلمانان په خپل مينځ کې سره وروڼه دي | ۹۷ |
| ۸۱. | ټول مؤمنان په منزله د يو جسد دي | ۹۸ |
| ۸۲. | مختلف قومونه او مختلفې قبيلې جوړيدل صرف د تعارُف ذريعه ده | ۱۰۰ |
| ۸۳. | د ژبو او رَنګونو اختلاف د الله ﷻ د معرفت ذريعه ده | ۱۰۱ |
| ۸۴. | نن صبا مسلمانان په مختلفو فِرقو تقسيم شوي | ۲ |
| ۸۵. | صحابه کرامو رضي الله عنهم به د وروڼو په شان ژوند تېرول | ۱۰۲ |
| ۸۶. | ترڅو پورې چې مسلمانان مُتحد وو ترهغې پورې په ټوله دُنيا باندې غالب وو | ۱۰۳ |
| ۸۷. | د مسلمانانو د بې اِتفاقۍ او اِختلاف په وجه لوي لوي حکومتونه د دوی د قبضې نه وَتل | ۳ |
| ۸۸. | د اَصحابِ کهف د سپي رَنګ په باره کې تپوس، او مسلمانان په خپل مينځ کې جنګول | ۱۰۴ |
| ۸۹. | د مسلمانانو د بې اِتفاقۍ په وجه اَته سوه (۸۰۰) کاله پس د اُندلس حکومت د دوی د قبضې نه اُووَت | ۱۰۷ |
| ۹۰. | د مسلمانانو د بې اِتفاقۍ په وجه په بغداد کې يو کروړ او شپږ لکه مسلمانان شهيدان شو | ۱۰۸ |
| ۹۱. | د مسلمانانو د اختلاف په وجه نور ملکونه د قبضې نه وَتل | ۱۰۹ |
| ۹۲. | د اَوّلني اسلامي حکومتونو د کاميابۍ راز | ۱۱۰ |
| ۹۳. | **د مسلمانانو د ذلت او کمزورۍ دريم سبب "جهاد پريخودل"** | ۱۱۱ |
| ۹۴. | جهاد د اسلام اَهم حُکم دی | ۱۱۲ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ٩٥. | د قدرت باوجود جهاد نه کولو سزاګانې | ١١٣ |
| ٩٦. | **د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کیدو څلورم سبب ''د دُنیا حرص''** | ١١۴ |
| ٩٧. | د دُنیا سره محبت د مسلمانانو د ذلت سبب دی | ١١۴ |
| ٩٨. | دُنیا ته راغب کیدل هلاکت دی | ١١٧ |
| ٩٩. | **په قرآن کریم او احادیثو کې د دُنیا حقیقت** | ١١٨ |
| ١٠٠ | د دُنیا حرص د دین د پاره نقصاني دی | ١٢٣ |
| ١٠١ | په تعمیراتو باندې د ضرورت نه زیاتې روپۍ لږول صحیح ندي | ١٢۴ |
| ١٠٢ | دُنیا مکمل پریخودل مقصود نده | ١٢۴ |
| ١٠۴ | د مثال په ذریعه وضاحت | ١٢٦ |
| ١٠۵ | اول مثال | ١٢٦ |
| ١٠٦ | دویم مثال | ١٢٦ |
| ١٠٧ | په دُنیا سره د آخرت ګټلو طریقه | ١٢٧ |
| ١٠٨ | په ښه نیت باندې دُنیاوي کاروبار کول هم عبادت دی | ١٢٧ |
| ١٠٩ | د صحابهؤ صحیح تربیت | ١٢٨ |
| ١١٠ | **د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کیدو پنځم سبب '' بدکرداري او بداخلاقي ''** | ١٢٨ |
| ١١١ | د مسلمانانو ترقي په مادي شیانو کې نده، بلکه په شریعت باندې پوره عمل کولو کې ده | ١٢٩ |
| ١١٢ | **د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کیدو شپږم سبب '' بې حیایي او عیاشي ''** | ١٣١ |
| ١١٣ | د یو کس د زنا په وجه په لږ وخت کې د بني اسرائیلو اویا زره (٧٠٠٠٠) کسان د طاعون په بیمارۍ باندې وفات کیدل | ١٣٢ |
| ١١۴ | په مذکوره واقعه کې عبرت | ١٣٧ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۱۵ | د ښځو د آزادۍ خبره د مغربي تهذیب ذهوکه ده | ۱۳۸ |
| ۱۱٦ | د مثال په ذریعه وضاحت | ۱۳۸ |
| ۱۱۷ | **د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کيدو أووم سبب " کبيره ګناهونه کول "** | ۱۳۹ |
| ۱۱۸ | **د مسلمانانو د کمزورۍ اَتم سبب " په هر کار کې د کافرانو سره مشابهت کول "** | ۱۴۰ |
| ۱۱۹ | اسلام يو کامل دين دی | ۱۴۰ |
| ۱۲۰ | کافرانو سره د مشابهت کوونکي کس حَشر به د همدې کافرانو سره وي | ۱۴۱ |
| ۱۲۱ | د کافرانو سره مُشابهت خطرناک دی | ۱۴۲ |
| ۱۲۲ | د غير مسلمو طريقو سره محبت په کار ندی | ۱۴۳ |
| ۱۲۳ | د مکې مکرّمې په قبرستان کې د خَخ شوي عالِم جسَد د فرانس په مقبره کې پيدا کيدل | ۱۴۳ |
| ۱۲۴ | **د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کيدو نهم سبب " اسلامي خلافت نه موجوديدل "** | ۱۴۷ |
| ۱۲۵ | يو اعتراض او د هغې جواب | ۱۴۹ |
| ۱۲٦ | اسلام تر قيامته پورې راتلونکو انسانانو د پاره قانون دی | ۱۴۹ |
| ۱۲۷ | په دُنيا کې د انسان د ژوند مقصد " عبادت او خلافت " دی | ۱۴۹ |
| ۱۲۸ | انسان د عبادت د پاره پيدا شوی | ۱۵۰ |
| ۱۲۹ | انسان د خلافت قائمولو د پاره پيدا شوی | ۱۵۰ |
| ۱۳۰ | د خلافتِ کُبرىٰ د پاره کوشش په کار دی | ۱۵۱ |
| ۱۳۱ | د ايمان کامل والي د پاره عبادت او خلافت دواړه ضروري دي | ۱۵۳ |
| ۱۳۲ | نبي عليه السلام او صحابه کرامو رضي الله عنهم به دا دواړه کارونه کول | ۱۵۳ |
| ۱۳۳ | د صحابه کرامو رضي الله عنهم د غالِب کيدو راز همدا دوه خبرې وی | ۱۵۴ |
| ۱۳۴ | **د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کيدو لسم سبب " دين او سياست جدا جدا ګنړل "** | ۱۵٦ |

| مېرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۳۵ | د سياست تعريف | ۱۵۷ |
| ۱۳۶ | انبياء كرامو سياست كړى | ۱۵۸ |
| ۱۳۷ | نبي عليه السلام هم سياست او حكومت كړى | ۱۵۹ |
| ۱۳۸ | سياست د دِين جُزء دى | ۱۶۰ |
| ۱۳۹ | آيا زمونږ ضمير مَړشوى ؟ | ۱۶۱ |
| ۱۴۰ | **د ذلّت او كمزورۍ نه د بچ كېدو طريقې** | ۱۶۱ |
| ۱۴۱ | د خپل ځان اِصلاح كول ، او الله ﷻ طرف ته رُجوع كول | ۱۶۱ |
| ۱۴۲ | په اِستغفار سره ګناهونه ختمېدل ، او عذاب دفع كېدل | ۱۶۳ |
| ۱۴۳ | د هر مصيبت او تكليف دَفع كولو د پاره مونځ ته رُجوع كول | ۱۶۵ |
| ۱۴۴ | د مصيبت دَفع كولو د پاره صدقه كول | ۱۶۶ |
| ۱۴۵ | د غونډ تقرير خلاصه | ۱۶۷ |
| ۱۴۶ | دُعا | ۱۶۷ |
| | **٤. هر نېک عمل په اِخلاص باندې كول** | ۱۶۸ |
| ۱۴۷ | هغه عمل مقبول دى كوم چې په اخلاص باندې اوشي | ۱۶۹ |
| ۱۴۸ | د اِخلاص تعريف | ۱۷۰ |
| ۱۴۹ | د اِخلاص اَهميت | ۱۷۰ |
| ۱۵۰ | د اعمالو ثواب په نيت باندې موقوف دى | ۱۷۲ |
| ۱۵۱ | الله ﷻ د زړونو اِخلاص ته ګوري | ۱۷۳ |
| ۱۵۲ | په كوم عمل كې چې اخلاص نه وي هغه نه قبلېږي | ۱۷۴ |
| ۱۵۳ | د دُنيا قانون | ۱۷۵ |
| ۱۵۴ | د اعمالو د مقبوليت د پاره دوه شيان ضروري دي | ۱۷۵ |
| ۱۵۵ | د حافظ ابن قيم رَحِمَهُ اللهُ قول | ۱۷۶ |
| ۱۵۶ | د حافظ ابن كثير رَحِمَهُ اللهُ قول | ۱۷۶ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ١٥٧ | د فُضَيل بن عِياض رَحِمَهُ اللهُ قول : | ١٧٧ |
| ١٥٨ | د عملونو بنه والې معتبر دی ، زياتوالې مُعتبر ندی | ١٧٨ |
| ١٥٩ | څومره چې په يو عمل کې اخلاص زيات وي نو دومره به يې اَجر هم زيات وي | ١٧٨ |
| ١٦٠ | وړوکې عمل په اخلاص سره غټيږي | ١٧٩ |
| ١٦١ | د اِخلاص واله معمولي عمل به هم د قيامت په ورځ په تَله د ميزان کې ډير وزن داروي | ١٨٠ |
| ١٦٢ | کوم عمل چې په اِخلاص سره اوشي نو په هغې کې تأثير زيات وي | ١٨٣ |
| ١٦٣ | د اِخلاص واله وړوکي عمل سره د جنت مستحق کيدل | ١٨٧ |
| ١٦٤ | په اِخلاص باندې عمل کوونکي سره د الله جَلَّ جَلَالُهُ مدد ملګرې وي | ١٨٨ |
| ١٦٥ | الله جَلَّ جَلَالُهُ د مُخلِص سړي کار نه بَندوي | ١٩٢ |
| ١٦٦ | د مُخلصينو د پاره زيرې | ١٩٦ |
| ١٦٧ | د اِخلاص دُنيوي فائده | ١٩٦ |
| ١٦٨ | د اِخلاص او اَمانت دارۍ بهترين عوض (مُوندل شوې هار د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رَضا د پاره واپس کول، او دوباره دده لاس ته راتلل) | ١٩٧ |
| ١٦٩ | په اِخلاص باندې د عمل کولو برکتونه په خپله انسان باندې او دده په اَولاد باندې تر قيامته پورې جاري وي | ٢٠٢ |
| ١٧٠ | په اِخلاص باندې عمل کولو سره وَسوسې او رِيا ختميږي | ٢٠٤ |
| ١٧١ | د اِخلاص نور فوائد | ٢٠٤ |
| ١٧٢ | د اِخلاص پيدا کولو طريقه | ٢٠٥ |
| ١٧٣ | د اَهلِ علمو د پاره هم اخلاص ضروري دی | ٢٠٥ |
| ١٧٤ | د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رَضا د پاره عمل کولو سره اِيمان کامل کيږي | ٢٠٧ |
| ١٧٥ | په ښه نيت سره دُنيوي کارونه هم په دِيني کارونو باندې بدليږي | ٢٠٨ |
| ١٧٦ | نيت په منزله د رُوح دی | ٢١٠ |
| ١٧٧ | په ښه نيت سره په کمره کې رُوشندان پريخودل | ٢١٠ |

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۱۷۸ | بُغض او نَفرت به د چا د ذات سره نشي کولی ، بلکه د هغه د بَد عمل سره به کولې شي | ۲۱۱ |
| ۱۷۹ | کومه غصه چې د الله ﷻ د پاره وي د هغې نه دُشمني او فِتنې نه پیدا کیږي | ۲۱۲ |
| ۱۸۰ | د حضرت عُمر رضی الله عنه واقعه | ۲۱۲ |
| ۱۸۱ | د الله ﷻ حُکم منل عبادت دی | ۲۱۴ |
| ۱۸۲ | د نېک عمل اِرادې کولو سره هم انسان ته نیکي ملاویږي | ۲۱۵ |
| ۱۸۳ | چې د تهجد و نیت اوکړي نو ثواب ورته ملاویږي اګر چې اُوده پاتې شي | ۲۱۷ |
| ۱۸۴ | په ښه نیت کولو سره د عمل ثواب ملاویدل | ۲۱۷ |
| ۱۸۵ | **د اَسلافو د اخلاص یو څو واقعات** | ۲۱۸ |
| ۱۸۶ | د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه اِخلاص او خِدمت | ۲۱۸ |
| ۱۸۷ | د امام زَینُ العابدین رحمه الله اِخلاص او خدمت | ۲۲۰ |
| ۱۸۸ | د حضرت علي رضی الله عنه اخلاص او عاجزي | ۲۲۱ |
| ۱۸۹ | د حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه اِخلاص او عاجزي | ۲۲۲ |
| ۱۹۰ | د اَته صحابه کرامو رضی الله عنهم د اِخلاص په وجه په چین کې په کروړونو خلق مسلمانان کیدل | ۲۲۲ |
| ۱۹۲ | د یو بزرګ اِخلاص | ۲۲۴ |
| ۱۹۳ | د دوه ښځو د یو بل سره اِخلاص | ۲۲۴ |
| ۱۹۴ | مُخلِص سړې په خلقو کې خپل شهرت نه خوَښوي | ۲۲۷ |
| ۱۹۵ | ۱. د یو مُجاهِد اِخلاص او امانت داري ( د تاج په واپس کولو سره خپل نوم نه ښکاره کول ) | ۲۲۷ |
| ۱۹۶ | ۲. د غټې کارنامې کولو باوجود خپل نوم نه ښکاره کول | ۲۲۸ |
| ۱۹۷ | ۳. عبدالله بن مبارک رحمه الله د غټې کارنامې کولو باوجود خپل شُهرت خوَښ نکړو | ۲۳۰ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ١٩٨ | مُخلص سړی د خلقو نه د تعريف طمع نه ساتي | ٢٣٢ |
| ١٩٩ | د غونډ تقرير خلاصه | ٢٣٢ |
| ٢٠٠ | دُعا | ٢٣٣ |
| | **٥. د رِيا نه ځان ساتل** | ٢٣٤ |
| ٢٠١ | تمهيدي خبره | ٢٣٥ |
| ٢٠٢ | د رِيا تعريف | ٢٣٦ |
| ٢٠٣ | د رِيا اَقسام | ٢٣٧ |
| ٢٠٤ | د رِيا حُکم | ٢٣٧ |
| ٢٠٥ | د الله ﷻ سره په عبادت کې بل څوک شريکول ناجائز دي | ٢٣٨ |
| ٢٠٦ | رِيا د منافقينو صفت دی | ٢٣٩ |
| ٢٠٧ | د رِيا کار د پاره هلاکت | ٢٣٩ |
| ٢٠٨ | رِيا کار د الله ﷻ سره اِستهزاء کوي | ٢٣٩ |
| ٢٠٩ | د رِيا مثال | ٢٤٠ |
| ٢١٠ | د رِيا په وجه فقر پيدا کيدل | ٢٤٠ |
| ٢١١ | رِيا "شِرکِ خَفِي" دی | ٢٤٣ |
| ٢١٢ | رِيا "شِرکِ اَصغر" دی | ٢٤٥ |
| ٢١٣ | په کوم عمل کې چې د الله ﷻ سره بل څوک شريک شي نو هغه نه قبليږي | ٢٤٦ |
| ٢١٤ | د رِيا کار مثال | ٢٥١ |
| ٢١٥ | د رِياکار د پاره د قيامت په ورځ رَسوائي | ٢٥١ |
| ٢١٦ | د حديث تشريح | ٢٥١ |
| ٢١٧ | رِيا کار به د قيامت په ورځ د ټولو نه مخکې پَرمخ جهنم ته غورځولې شي | ٢٥٣ |
| ٢١٨ | د عمل د صحيح والي د پاره څلور خبرې ضروري دي | ٢٥٦ |
| ٢١٩ | په رِيا سره د عمل ثواب باطليږي | ٢٥٧ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۲۰ | د خپل شهرت د پاره بار بار په خبرو کې نېک عمل یادول ندي په کار | ۲۵۸ |
| ۲۲۱ | واقعه | ۲۵۸ |
| ۲۲۲ | اسلافو به د ډیر عبادت کولو باوجود د خپل عجز اقرار کولو | ۲۵۹ |
| ۲۲۳ | د امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ د عاجزۍ اقرار | ۲٦۰ |
| ۲۲۳ | د نورو خلقو د تعریف په وجه ذهوکه کیدل ندي په کار | ۲٦۰ |
| ۲۲۴ | د انسان هر عمل آخر هم رابنکاره کیږي | ۲٦۱ |
| ۲۲۵ | د ریاکار علامات | ۲٦۲ |
| ۲۲٦ | د خلقو د خبرو په وجه عبادت پریخودل په خپله ریا ده | ۲٦۴ |
| ۲۲۷ | د ریا د ډیرې په وجه نېک عمل پریخودل ندي په کار | ۲٦۴ |
| ۲۲۸ | د مثال په ذریعه وضاحت | ۲٦۵ |
| ۲۳۰ | نورو خلقو ته د رَغبت ورکولو او دده پسې د اِقتداء کولو د پاره د عبادت اظهار کول صحیح دی | ۲٦٦ |
| ۲۳۱ | د ریا نقصانات او ضرَرُونه | ۲٦۸ |
| ۲۳۲ | د نېکو اعمالو په وجه مشهور کیدل او خوشحالیدل ریا نده ، بلکه د الله تعالی نِعمت او زیرې دی | ۲٦۹ |
| ۲۳۳ | د حدیث تشریح | ۲۷۰ |
| ۲۳۴ | د حضرت ابوهریره ﷺ د خوشحالیدو وجه | ۲۷۲ |
| ۲۳۵ | الله ﷻ چې د چا سره محبت کوي نو د زمکې او آسمان ټول مخلوقات هم دده سره محبت کوي | ۲۷۲ |
| ۲۳٦ | د غونډ تقریر خلاصه | ۲۷۴ |
| ۲۳۷ | دُعا | ۲۷۴ |


## ٦. د رینبتیا ویلو فضیلت او د دروغو سزاگانې


| | | |
|---|---|---|
| | ٦. د رینبتیا ویلو فضیلت او د دروغو سزاگانې | ۲۷۵ |
| ۲۳۸ | تمهیدي خبره | ۲۷۷ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۳۹ | رِښتيا ويلو ته په عربي کې "صِدق" او رښتيا ويونکي ته "صِدِّيق" ويلې شي | ۲۷۷ |
| ۲۴۰ | د انبياء کرامو پسې دويمه مرتبه د صدِّيقينو ده | ۲۷۸ |
| ۲۴۱ | د رِښتيا ويونکو سره د ملګرتيا حُکم | ۲۷۹ |
| ۲۴۲ | په رِښتيا ويونکو باندې د الله تعالى اِنعام | ۲۷۹ |
| ۲۴۳ | د قيامت په ورځ به انسان ته رښتيا نفع ورکوي | ۲۸۰ |
| ۲۴۴ | د رښتيا ويلو په وجه د جنت مستحق کيدل، او د الله ﷻ په نزد "صِدِّيق" ليکلې کيدل | ۲۸۱ |
| ۲۴۵ | د حديث تشريح | ۲۸۲ |
| ۲۴۶ | د الله ﷻ په نزد د "صِدِّيق" او "کذّاب" ليکلو مطلب | ۲۸۲ |
| ۲۴۷ | په رِښتيا ويلو سره د جنت ضمانت | ۲۸۳ |
| ۲۴۸ | د رښتيا ويلو په وجه د الله ﷻ محبوب جوړيدل | ۲۸۴ |
| ۲۴۹ | په رښتيا ويلو کې نِجات دى | ۲۸۵ |
| ۲۵۰ | د رښتياؤ په برکت ډير هِندوان مسلمانيدل | ۲۸۵ |
| ۲۵۱ | د رښتياؤ په برکت د مصيبت نه نجات ملاويدل | ۲۸۸ |
| ۲۵۲ | د رښتيا ويلو په برکت د نورو ګناهونو نه منع کيدل | ۲۸۹ |
| ۲۵۳ | د يو ماشوم د رښتياؤ په برکت غلو ته د توبې توفيق نصيب کيدل ( د عبدالقادر جيلاني رَحِمَهُ اللهُ د ورُوکوالي واقعه ) | ۲۹۰ |
| ۲۵۴ | په رښتيا ويلو کې اِطمينان دى | ۲۹۲ |
| ۲۵۵ | لقمان حکيم ته اُوچته مرتبه په رښتيا ويلو او نورو ښو صفتونو سره ملاؤ شوې وه | ۲۹۳ |
| ۲۵۶ | د رښتياؤ نورې فائدې | ۲۹۳ |
| ۲۵۷ | په مسلمان کې چې څلور خصلتونه وي نو دا کامياب دى | ۲۹۴ |
| ۲۵۸ | ټول پيغمبران صِدِّيقين ( رښتيا ويونکي ) وو | ۲۹۴ |
| ۲۵۹ | د نبي عليه السلام صداقت | ۲۹۵ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۶۰ | د نورو پیغمبرانو صداقت | ۲۹۶ |
| ۲۶۱ | **دروغ ویل گناه کبیره ده** | ۲۹۷ |
| ۲۶۲ | په دروغجن باندې لعنت | ۲۹۷ |
| ۲۶۳ | دروغ ویل د مُنافِقانو علامه ده | ۲۹۸ |
| ۲۶۴ | د مذکوره احادیثو مطلب | ۲۹۹ |
| ۲۶۵ | په کامِل مؤمن کې دروغ او خیانت نه جمع کیږي | ۳۰۰ |
| ۲۶۶ | د دورغو د بَدبویَی په وجه حفاظت کوونکې فرښتې یو مِیل لرې کیدل | ۳۰۲ |
| ۲۶۷ | دروغ ویونکي د پاره سخته سزا | ۳۰۲ |
| ۲۶۸ | مسلمان ورور ته دروغ ویل غټ خِیانت دی | ۳۰۴ |
| ۲۶۹ | په دروغه باندې قسَم کوونکي د پاره سخته سزا | ۳۰۵ |
| ۲۷۰ | بې تحقیقه خبره نقل کول ندي پکار | ۳۰۶ |
| ۲۷۱ | دروغ آخِر هم ښکاره کیږي | ۳۰۷ |
| ۲۷۲ | ماشومانو ته هم دورغ ویل ندي پکار | ۳۰۸ |
| ۲۷۳ | امام بخاريؒ د هغه کس نه حدیث نقل نکړو چې اَس ته یې په دروغه دُهوکه ورکړه | ۳۰۹ |
| ۲۷۴ | د خوش طبعی واقعه | ۳۱۰ |
| ۲۷۵ | د خلقو خَندولو د پاره د دروغ ویلو سزا | ۳۱۰ |
| ۲۷۶ | د ملگرو خوشحالولو د پاره خندوُونکې رِښتینې لطیفه یا رِښتینې قصه بیانول صحیح دي | ۳۱۱ |
| ۲۷۷ | دروغ پرېخودونکي د پاره د جنت په مینځ کې د کور ضمانت | ۳۱۲ |
| ۲۷۸ | په درې ځایونو کې د دروغ ویلو گنجائش شته | ۳۱۳ |
| ۲۷۹ | د غونډ تقریر خلاصه | ۳۱۶ |
| ۲۸۰ | ددې کتاب په تېرو جلدونو کې د کتابَتي غلطیانو اِصلاح | ۳۱۸ |
| ۲۸۱ | ددې ( اِصْلَاحِيْ مُدَنِّيْ تَقْرِيْرُوْنه ) ټول کتاب اِجمالي فهرست | |

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ مَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ اَنْۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِيْ كُلِّ سُنْۢبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ ۭ وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴾ البقرة آية ٢٦١

# په جهاد کې د مال خرچ کولو فضائلِ او فوائدِ

تالیف


اَبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# په جهاد کې د مال خرج کولو فضائل او فوائد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ . وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ . وَنَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَنَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَنَبِيَّنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْاٰنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ مَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ اَنْۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِيْ كُلِّ سُنْۢبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ ؕ وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴾ .(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ اَنْفَقَ نَفَقَةً فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ كُتِبَتْ لَهٗ بِسَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ . (۲)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم .

## تمهيدي خبره

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! جهاد د اِسلام اَهم حُکم دی ، په دې کې د مال لګولو ډير فضائل او فوائد بيان شوي .

(۱) البقرة آية ۲۶۱ .

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ النَّفَقَةِ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ رقم الحديث ۱۶۲۵ وقال الترمذي : هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ . سنن النسائي فضل النفقة في سبيل الله رقم الحديث ۳۱۸۶ ، المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۲۴۴۱ وقال الحاکم : هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه الذهبي. شعب الايمان رقم الحديث ۳۹۶۳ ، مسند احمد رقم الحديث ۱۹۰۳۶ ، کنز العمال رقم الحديث ۱۰۶۳۲ ، مشکوة المصابيح کتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۲۶(۳۹) ، مصنف ابن شيبة رقم الحديث ۱۹۴۲۳ ، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۴۶۴۷ ذکر تضعيف النفقة في سبيل الله على غير من الطاعات .

## د جهاد درې قسمونه ( جهاد بالمال . جهاد بالنفس . جهاد باللّسان )

د ابوداؤ ، نسائي او مشکوة شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

جَاهِدُوا الْمُشْرِكِيْنَ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ . (۱)

تاسو د مشرکينو سره په خپلو مالونو ، نفسونو ، او ژبو سره جهاد اوکړئ.

**تشريح** په دې حديث کې د جهاد درې (۳) اَقسام ذکر شو :

۱. جهاد بِالْمال ۲. جهاد بِالنَّفس ۳. جهاد بِاللِّسان

جهاد بِالمال ديته وايي چې انسان خپل مال په جهاد کې خرچ کړي ، مجاهدينو ته پرې اَسلحه يا نور جَنګي سامان واخلي ، يا ورته د خوراک ، څکاک ، کپړو او د ګاډي کرايي د پاره روپۍ ورکړي .

جهاد بالنّفس ديته وايي چې انسان په خپله په جهاد کې شريک شي ، او د کافرانو خلاف اُوجنګيږي .

جهاد بِاللّسان ديته وايي چې انسان په ژبې سره خلقو ته د جهاد متعلق ترغيب ورکړي ، د کافرانو د عقائدو او نظرياتو مذمّت بيان کړي ، کافرانو ته دَهمکي ورکړي ، جهادي نَظمونه اووايي ، او مجاهدينو ته د کاميابۍ دُعاګانې اوکړي .

يعنې په ژبې سره داسې خبرې اوکړي چې په هغې سره په مسلمانانو کې د جهاد جَذبه راپيدا شي او يا پرې د کافرانو سپکاوې اوشي .

**د جهاد بالمال مخکې ذکر کيدو وجه** : په قرآن مجيد کې اکثره جهاد بِالمال د جهاد بِالنّفس نه مخکې ذکر شوی ، او په دې مذکوره حديث کې هم جهاد بِالمال په جهاد بِالنّفس باندې مقدّم شوی نو ددې وجه داده چې مالي جِهاد هر صاحبِ اِستطاعت واله

---

(۱) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ كَرَاهِيَةِ تَرْكِ الْغَزْوِ رقم الحديث ۲۵۰۴ ، قال الالباني: صحيح . سنن النسائي رقم الحديث ۳۰۹۶ باب وجوب الجهاد . مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم ۳۸۲۱ (۳۵)، المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم ۲۴۲۷ وقال الحاكم هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . السنن الصغير للبيهقي رقم الحديث ۲۷۵۳ ، مسند احمد رقم الحديث ۱۲۲۴۶ ، ورقم ۱۳۶۳۸ ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۳۴۰۹ .

کولې شي ، تر دې چې زَنانه ، بوډا ، مريض او هر معذور هم جهاد ته خپلې روپۍ ليږلې شي ، ليکن جهاد بِالنّفس هر کس نشي کولی ، صرف هغه کس يې کولې شي چې په هغه کې د جهاد کولو طاقت وي ، لهذا بوډا ، ګډ ، شَل زَنانه ، مريض او معذور جهاد بِالنّفس نشي کولی ، نو چونکه په جهاد بِالمال کې عموم ؤ نو ځکه يې مقدّم کړو .

دويمه وجه داده چې د جهاد بِالمال ضرورت زيات راپېښيږي ، تر دې چې په جهاد بِالنّفس کې هم مال ته ضرورت وی ، ځکه مجاهدين د جهاد ميدان ته تللو د پاره ، د خوراک ، اَسلحې او نور جنګي اسباب اخيستلو د پاره هم مال ته ضرورت لري .

بهر حال ، د جهاد په اَقسامو کې يو قِسم جهاد بِالمال هم دی . په قرآن کريم او احاديثو کې ددې ډير فضائل او فوائد بيان شوي :

## د يوې روپۍ په عِوض کې اُووه سوه ( ۷۰۰ ) چنده اَجر

څوک چې د الله ﷻ په لار ( جهاد ، حج وغيره ) کې يوه روپۍ اُولږوي نو الله تعالی ده ته ددې په عِوض کې د اُووه سوه ( ۷۰۰ ) روپو اَجر ورکوي .

د الله ﷻ په لار کې د مال لږولو مثال په قرآن کې داسې ذکر دی :

﴿ مَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ اَنْۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِيْ كُلِّ سُنْۢبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ ؕ وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴾ .(۱)

ترجمه : کوم خلق چې د الله تعالی په لار کې خپل مالونه خرچ کوي د هغوی مثال د هغه داني په شان دی چې اُووه ( ۷ ) وَږي رازرغون کړي ، په هر وَږي کې سَل ( ۱۰۰ ) داني وي ، او الله تعالی چې چاته اوغواړي نو ( دا اَجر ) نور هم ورله زياتوي ، او الله فراخۍ واله ، پوهه دی .

**د آيت تشريح** : په دې آيت کې د الله ﷻ په لار کې د مال لږولو اَجر د مثال په ذريعه بيان شوی ، چې ددې مثال داسې دی : لکه څوک د غنمو يوه دانه په زَرخېزه زمکه کې اُوکري ، ددينه د غنمو يو بُوټې جوړ شي چې په هغې کې اُووه ( ۷ ) وَږي وي ، او په هر

(۱) البقرة آية ۲۶۱ .

وَږي کې سَل (۱۰۰) دانې وي (يعنى د غنمو د يوې دانې نه اُووه سوه (۷۰۰) دانې جورې شي)، نو دغه شان د الله ﷻ په لار کې يوه روپۍ لګوونکي ته د اُووه سوه (۷۰۰) روپو لګولو اَجر ورکولې شي، بلکه چې الله ربّ العزت او غواړي نو ددينه زيات اَجر هم ورکوي. (۱)

## د مثال په ذريعه د بيانولو حکمت

قرآن کريم دا مذکوره مضمون (چې د الله ﷻ په لار کې د يوې روپۍ لګولو په عِوض کې انسان ته اُووه سوه چنده اَجر ورکولې شي، دا مضمون) په لنډو او صفا الفاظو هم بيانولې شو ليکن د غنم دانې د مثال په ذريعه يې بيان کړو، دا ځکه چې په دې کې دې خبرې ته اِشاره ده چې لکه څرنګې زميندار د غنمو د يوې دانې نه اُووه سوه دانې هغه وخت حاصلولې شي چې کله د غنم دا دانه هم ښه وي (خرابه نه وي)، دا زميندار د زميندارۍ په فن کې هم پوره مهارت لري، او په کومه زمکه کې چې دا دانه کرَلې شي هغه زمکه هم ښه وي. ځکه که په دې کې يو څيز کم وي نو يا خو به د غنم دا دانه مکمل ضائع شي، يا به اُووه سوه (۷۰۰) دانې اونکړي، بلکه کمې به او کړي.

همدغه شان د الله ﷻ په لار کې د خرچ کولو د قبوليت او زيات اَجر د پاره هم څه شرطونه دي، هغه دا چې انسان کوم مال د الله تعالی په لار کې خرچ کوي هغه به پاک او حلال وي، د خرچ کوونکي نيت به خاص د الله ﷻ رَضا وي، او چاته يې چې ورکوي نو هغه به د صدقې اخيستلو مُستحِق وي.

ځکه که د صدقه ورکوونکي مال حرام وي، يا يې نيت خراب وي (رِيا په کې وي)، يا يې غير مُستحِق ته ورکړي نو په دې سره د ده ددې مال خرچ کولو هيڅ اَجر نه ملاويږي.

نو ددې آيت نه د الله ﷻ په لار کې د مال خرچ کولو فضيلت هم معلوم شو، او ورسره ورسره د مقبول کيدو درې (۳) شرطونه هم بيان شو. (۲)

---

(۱) معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله سورة البقرة في تشريح آية ۲۶۱.

(۲) وراللهي. مرجع.

**احاديث** : په احاديثو کې هم دا مضمون ذکر دی چې په جهاد کې د مال خرچ کولو په عِوض کې انسان ته يو په اُووه سوه چنده ثواب ملاويږي :

۱. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ أَنْفَقَ نَفَقَةً فِيْ سَبِيْلِ اللهِ كُتِبَتْ لَهُ بِسَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ. (۱)

څوک چې د الله ﷻ په لار ( جهاد ) کې ( د خپل مال نه ) څه خرچ کړي نو ده ته به ( ددې په عِوض کې ) اُووه سوه ( ۷۰۰ ) چَنده اجر ليکلې شي.

۲. د مسلم شريف حديث دی چې يو سړی ( رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته ) په مهار کړې شوې ( پېزواني ) اُوښه باندې راغی، او وې ويل :

هٰذِهٖ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ. دا د الله ﷻ په لاره ( جهاد ) کې صدقه ده.

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل :

لَكَ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ سَبْعُ مِائَةِ نَاقَةٍ كُلُّهَا مَخْطُوْمَةٌ.

ستا د پاره به ددې په عِوض کې د قيامت په ورځ باندې اُووه سوه ( ۷۰۰ ) اُوښې وي چې ټولې به مهار ( پېزواني ) کړې شوي وي. (۲)

---

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ فَضْلِ النَّفَقَةِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ رقم الحديث ۱۶۲۵ وقال الترمذي: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ. سنن النسائي فضل النفقة في سبيل الله رقم الحديث ۳۱۸۶، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۴۴۱ وقال الحاكم: هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه الذهبي. شعب الايمان رقم الحديث ۳۹۶۳، مسند احمد رقم الحديث ۱۹۰۳۶، كنز العمال رقم الحديث ۱۰۶۳۲، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۲۶(۳۹)، مصنف ابن شيبة رقم الحديث ۱۹۴۲۴، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۴۶۴۷ ذكر تضعيف النفقة في سبيل الله على غير من الطاعات.

(۲) عَنْ أَبِيْ مَسْعُوْدٍ الأَنْصَارِيِّ رضي الله عنه. قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ بِنَاقَةٍ مَخْطُوْمَةٍ. فَقَالَ: هٰذِهٖ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَكَ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ سَبْعُ مِائَةِ نَاقَةٍ كُلُّهَا مَخْطُوْمَةٌ. صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ الصَّدَقَةِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَتَضْعِيْفِهَا رقم الحديث ۱۳۲ (۱۸۹۲)، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۴۴۹ وقال الحاكم: هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَهُ. ووافقه الذهبي. صحيح ابن حبان محققا رقم ۴۶۴۹، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۶۳۴، شرح السنة للبغوي رقم ۲۶۲۵، كنز العمال رقم الحديث ۱۶۰۲۹، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۷۹۹ (۱۳).

## د يو درهم په عوض کې د اُووه لکه (۷۰۰۰۰۰) درهمو ثواب

دې پاس احاديثو کې چې د يو درهم په عِوض کې د اُووه سوه درهمو کوم آجر ذکر شو دا د هغه چا د پاره دی چې هغه جهاد ته خپلې روپۍ يا نور اَسباب اوليږي خو په خپله جهاد ته نه وي تللي .

اوس چې کوم کس په جهاد کې خپلې روپۍ هم خرچ کړي او په خپله جهاد ته هم لاړ شي نو بيا ده ته د هر دِرهم په عِوض کې، د اُووه لکه (۷۰۰۰۰۰) دِرهمو اَجر ورکولې شي .

د ابن ماجه او مشکوٰة شريف حديث دی کوم چې د ډيرو صحابه کرامو نه نقل دی . رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ أَرْسَلَ بِنَفَقَةٍ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَأَقَامَ فِيْ بَيْتِهِ فَلَهُ بِكُلِّ دِرْهَمٍ سَبْعُ مِائَةِ دِرْهَمٍ . وَمَنْ غَزَا بِنَفْسِهِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَأَنْفَقَ فِيْ وَجْهِ ذٰلِكَ فَلَهُ بِكُلِّ دِرْهَمٍ سَبْعُ مِائَةِ أَلْفِ دِرْهَمٍ .

څوک چې د الله ﷻ په لار کې خرچه (روپۍ، سامان وغيره) اوليږي او په خپله په کور کې ناست وي (په جهاد کې شريک نشي) نو ده ته د هر دِرهم په عِوض کې د اُووه سوه دِرهمو ثواب ملاويږي، او څوک چې د الله ﷻ په لار کې په خپله جهاد اوکړي او په جهاد کې د الله ﷻ د رَضا د پاره خپل مال هم خرچ کړي نو ده ته به د هر دِرهم په عِوض کې د اُووه لکه (۷۰۰۰۰۰) دِرهمو ثواب ملاويږي .

بيا نبي عليه السلام دا آيتِ مبارکه تلاوت کړو : ﴿ وَاللهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ ﴾ .(۱)

ترجمه : او الله تعالی چې چاته اوغواړي نو (دا اَجر) نور هم ورله زياتوي .(۲)

---

(۱) البقرة آية ۲۶۱ .

(۲) عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِيْ طَالِبٍ، وَأَبِي الدَّرْدَاءِ، وَأَبِيْ هُرَيْرَةَ، وَأَبِيْ أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، وَعِمْرَانَ بْنِ الْحُصَيْنِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ كُلُّهُمْ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : مَنْ أَرْسَلَ بِنَفَقَةٍ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَأَقَامَ فِيْ بَيْتِهِ فَلَهُ بِكُلِّ دِرْهَمٍ سَبْعُ مِائَةِ دِرْهَمٍ . وَمَنْ غَزَا بِنَفْسِهِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَأَنْفَقَ فِيْ وَجْهِ ذٰلِكَ فَلَهُ بِكُلِّ دِرْهَمٍ سَبْعُ مِائَةِ أَلْفِ دِرْهَمٍ . ثُمَّ تَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ : ←←←←←←←← ←←←←←←

﴿ وَاللهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ ﴾ . سنن ابن ماجة كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ فَضْلِ النَّفَقَةِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ تَعَالٰى

# په جهاد کې د مال خرچ کولو په عوض کې بې حسابه أجر

حضرت مُعاذ بن جبل ﷛ دا حديث نقل کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل :

د هغه چا د پاره خوشحالي ده چې په جهاد کې د الله ﷻ ذِکر ډير کوي ، ځکه ده ته به د هرې کلِمې په عِوض کې اَويا زره ( ۷۰۰۰۰ ) نيکۍ ملاويږي ، په دې کې هره نيکي به ورته په لس ( ۱۰ ) چَنده ورکولې شي ، ددينه علاوه ده د پاره به د الله ﷻ سره مزيد ( اَجر ) هم وي .

د نبي عليه السلام نه پوښتنه اوشوه : يَارَسُوْلَ اللهِ ! اَلنَّفَقَةُ؟

اې د الله رسوله ! په جهاد کې د خرچ کولو څومره اَجر دی ؟

پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل :

اَلنَّفَقَةُ عَلٰى قَدْرِ ذٰلِكَ . په جهاد کې د خرچ کولو اَجر هم همدومره دی .

عبدالرحمن بن غنم رحمه الله فرمايي چې ما حضرت مُعاذ رضي الله عنه ته اوفرمايل :

آيا په جهاد کې د خرچ کولو ثواب يو په اَووه سوه ( ۷۰۰ ) چَنده دی ؟

حضرت معاذ رضي الله عنه راته اوفرمايل : ستا پوهه کمه ده ، دا يو په اَووه سوه اَجر خو د هغه چا د پاره دی چې په خپله په کورونو کې ناست وي ، جهاد ته نه وي تللي ، جهاد ته يې صرف خپل مال د خرچ کولو د پاره ليږلې وي .

فَإِذَا غَزَوْا وَأَنْفَقُوْا خَبَأَ اللهُ لَهُمْ مِنْ خِزَانَةِ رَحْمَتِهٖ مَا يَنْقَطِعُ عَنْهُ عِلْمُ الْعِبَادِ وَصِفَتُهُمْ . فَأُولٰئِكَ حِزْبُ اللهِ ، وَحِزْبُ اللهِ هُمُ الْغَالِبُوْنَ .

پس کله چې دوی په خپله په جهاد کې شريک شي او خپل مال هم په جهاد کې خرچ کړي نو الله ﷻ چې د دوی د پاره د خپل رحمت د خزانو نه کوم اجرونه او ثوابونه پټ مقرر کړي

←←←← رقم الحديث ۲۷٦۱ ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثالث رقم الحديث ۳۸۵۷ ( ۷۰ ) ،

كنز العمال كتاب الجهاد من قسم الاقوال الباب الاول في الترغيب فيه رقم الحديث ۱۰۵۵۱ .

نوټ : امام الباني رحمه الله اګر چې دې حديث ته ضعيف ويلی خو ضعيف حديث په فضائلو کې معتبر وي ، البته احکام پرې نه ثابتيږي . ابوالشمس علي عنه

دي هغې ته د بندګانو عِلم نه رَسي ، او بندګان د هغې د کيفيت معلومولو نه عاجز دي ، دا خلق د الله ﷻ دَله ده ، او همدا د الله ﷻ دَله به غالبه کيږي . (۱)

## په جان و مال سره جهاد کول بهترين تجارت دی

د الله ﷻ په لارکې په جان و مال سره جهاد کول بهترين تجارت دی ، په دې سره انسان ته د دَردناک عذاب نه نِجات ملاويږي .

الله تعالی فرمايي :

﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا هَلۡ اَدُلُّكُمۡ عَلٰى تِجَارَةٍ تُنۡجِيۡكُمۡ مِّنۡ عَذَابٍ اَلِيۡمٍ ۞ تُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوۡلِهٖ وَتُجَاهِدُوۡنَ فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ بِاَمۡوَالِكُمۡ وَاَنۡفُسِكُمۡ‌ؕ ذٰلِكُمۡ خَيۡرٌ لَّـكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَۙ ۞ يَغۡفِرۡ لَـكُمۡ ذُنُوۡبَكُمۡ وَيُدۡخِلۡكُمۡ جَنّٰتٍ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِىۡ جَنّٰتِ عَدۡنٍ‌ؕ ذٰلِكَ الۡفَوۡزُ الۡعَظِيۡمُ ﴾ . (۲)

ترجمه : اې مؤمنانو ! آيا زه تاسو ته داسې تجارت اُوښايم چې هغه تاسو ته د دَردناک عذاب نه نِجات درکړي ؟ ( هغه تجارت دادی چې ) تاسو په الله او د هغه په رسول باندې ايمان راوړئ ، او د الله په لارکې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کوئ ، همدا ستاسو د

(۱) عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " طُوْبٰى لِمَنْ أَكْثَرَ فِي الْجِهَادِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ مِنْ ذِكْرِ اللهِ تَعَالٰى ، فَإِنَّ لَهُ بِكُلِّ كَلِمَةٍ سَبْعِيْنَ أَلْفَ حَسَنَةٍ ، كُلُّ حَسَنَةٍ مِنْهَا عَشَرَةُ أَضْعَافٍ مَعَ الَّذِيْ لَهُ عِنْدَ اللهِ مِنَ الْمَزِيْدِ " . قِيْلَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! اَلنَّفَقَةُ ؟ قَالَ : " اَلنَّفَقَةُ عَلٰى قَدْرِ ذٰلِكَ " . قَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ : فَقُلْتُ لِمُعَاذٍ : إِنَّمَا النَّفَقَةُ بِسَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ ؟ فَقَالَ مُعَاذٌ رضي الله عنه : قَلَّ فَهْمُكَ ، إِنَّمَا ذٰلِكَ إِذَا أَنْفَقُوْهَا وَهُمْ مُقِيْمُوْنَ بَيْنَ أَهْلِيْهِمْ غَيْرُ غُزَاةٍ ، فَإِذَا غَزَوْا وَأَنْفَقُوْا خَبَأَ اللهُ لَهُمْ مِنْ خِزَانَةِ رَحْمَتِهِ مَا يَنْقَطِعُ عَنْهُ عِلْمُ الْعِبَادِ وَصِفَتُهُمْ ، فَأُولٰئِكَ حِزْبُ اللهِ ، وَحِزْبُ اللهِ هُمُ الْغَالِبُوْنَ . مجمع الزوائد و منبع الفوائد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِي الْمُجَاهِدِيْنَ وَنَفَقَتِهِمْ رقم الحديث ۹۴۵۴ ، المعجم الكبير للطبراني ۲۰/۷۷ رقم الحديث ۱۴۳ ، الترغيب والترهيب للمنذري كتاب الجهاد الترغيب في النفقة في سبيل الله رقم الحديث ۱۹۳۵ ، كنز العمال رقم الحديث ۱۰۵۸۴ .

(۲) الصف آية ۱۰ تا ۱۲ .

پاره ډير بهتر دی که چيرته تاسو پوهيږئ . الله ﷻ به ستاسو ګناهونه اُوبخي او تاسو به داسې ( د جنت ) باغونو ته داخل کړي چې د هغې ( د اُونو ) لاندې به ولې بهيږي ، او داسې پاکيزه محلونو ته ( به مو داخل کړي ) چې هغه د هميشه پاتې کيدو باغونو کې آباد دي ، همدا لويه کاميابي ده .

**فائده** : په دې آيت کې ذکر شو چې په جان و مال سره جهاد کول بهترين تجارت دی ، په دې سره انسان د آخرت د دَردناک عذاب نه محفوظ کيږي ، مغفرت يې نصيبه کيږي ، او د جنت مستحق ګرځي ، او دا يقيني چې لويه کاميابي ده .

## د الله ﷻ په لار کې د خرچ کړې شوي مال پوره اَجر ملاويدل

څوک چې د الله ﷻ په لار کې خپل مال خرچ کړي نو ده ته به په دُنيا او آخرت دواړو کې ددې پوره پوره اَجر ورکړې شي ، او هيڅ کمې به ورته په کې نشي کولی .

الله تعالی فرمايي :

﴿ وَمَا تُنفِقُوا مِن شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴾ . (۱)

ترجمه : او تاسو چې د الله تعالی په لار کې څه خرچ کوئ نو د هغې پوره اَجر به درته درکړې شي ، او په تاسو به ظلم نشي کولی .

## په جهاد کې جوړه څيز ورکولو سره د جنت مستحق کيدل

څوک چې په جهاد کې جوړه څيز ( يعنی د يو نَوعې دوه شيان ) ورکړي نو الله تعالی به ده ته ددې په عِوض کې جنت ورکړي ، او د قيامت په ورځ به د جنت د هرې دَروازې نه ده ته آواز کولې شي : چې دا ستا د پاره ډير بهتر دی ، ته جنت ته په دې دروازه باندې داخل شه .

**۱** . د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيلِ اللهِ نُودِيَ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ : يَا عَبْدَ اللهِ ! هٰذَا خَيْرٌ ...

څوک چې د الله ﷻ په لار کې جوړه شيان ورکړي نو ده ته به ( د قيامت په ورځ ) د جنت د

---

(۱) الانفال آية ۶۰ .

دروازو نه دا آواز کولې شي : اې د الله بنده ! دا ستا د پاره ډير بهتر دی. (۱)

**تشريح** د جوړه شيانو نه مراد د يو نوعې دوه شيان دي ، مثلاً : دوه اوښان ، دوه آسونه ، دوه غلامان ، دوه ديناره ، دوه درهمه وغيره .

په څنې احاديثو کې صراحةً ددې تذکره شته . (۲)

امام نووي رحمه الله د " هٰذَا خَيْرٌ " دوه مطلبه بيان کړي :

**اول مطلب** دلته به ستا د پاره خير او ثواب وي.

**دويم مطلب** په دې دروازه باندې ستا د پاره جنت ته داخليدل ډير بهتر دي ، ځکه په دې کې ثوابونه او نعمتونه ډير دي لهذا ته په دې دروازه باندې جنت ته داخل شه . (۳)

---

(۱) پوره حديث داسې دی : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيْلِ اللهِ نُوْدِيَ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ : يَا عَبْدَ اللهِ ! هٰذَا خَيْرٌ. فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلٰوةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلٰوةِ. وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الْجِهَادِ. وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الرَّيَّانِ. وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ. فَقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا عَلَى مَنْ دُعِيَ مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ مِنْ ضَرُوْرَةٍ. فَهَلْ يُدْعٰى أَحَدٌ مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ كُلِّهَا. قَالَ : نَعَمْ وَأَرْجُوْ أَنْ تَكُوْنَ مِنْهُمْ. صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ الرَّيَّانُ لِلصَّائِمِيْنَ رقم الحديث ۱۸۹۷ ، صحيح مسلم كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ مَنْ جَمَعَ الصَّدَقَةَ وَأَعْمَالَ الْبِرِّ رقم الحديث ۸۵ (۱۰۲۷) ، سنن الترمذي رقم الحديث ۳۶۷۴، سنن النسائي رقم الحديث ۲۲۳۸ ، صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ۳۰۸ ، موطاء مالک رقم الحديث ۴۹ .

(۲) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَا مِنْ مُسْلِمٍ أَنْفَقَ مِنْ مَالِهِ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيْلِ اللهِ إِلَّا ابْتَدَرَتْهُ حَجَبَةُ الْجَنَّةِ . وَكَانَ الْحَسَنُ يَقُوْلُ : زَوْجَيْنِ مِنْ مَالِهِ : دِيْنَارَيْنِ وَ دِرْهَمَيْنِ وَعَبْدَيْنِ أَوِ اثْنَتَيْنِ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجِهَادِ مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ۱۹۵۴۵ ، وهكذا في مسند احمد رقم الحديث ۲۱۴۱۳ ، و صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ۴۶۴۳ ، والمعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۶۴۵ .

(۳) ( يَا عَبْدَ اللهِ ! هٰذَا خَيْرٌ ) قِيْلَ : مَعْنَاهُ : لَكَ هُنَا خَيْرٌ وَثَوَابٌ وَغِبْطَةٌ . وَقِيْلَ : مَعْنَاهُ : هٰذَا الْبَابُ فِيْمَا نَعْتَقِدُهُ خَيْرٌ لَكَ مِنْ غَيْرِهِ مِنَ الْأَبْوَابِ لِكَثْرَةِ ثَوَابِهِ وَنَعِيْمِهِ فَتَعَالَ فَادْخُلْ مِنْهُ . وَلَا بُدَّ مِنْ تَقْدِيْرِ مَا ذَكَرْنَاهُ أَنَّ كُلَّ مُنَادٍ يَعْتَقِدُ ذٰلِكَ الْبَابَ أَفْضَلَ مِنْ غَيْرِهِ . شرح النووي على مسلم ( المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج ) ج۷ ص ۱۱۶ كِتَابُ الزَّكَاةِ باب فضل من ضم إلى الصدقة غيرها من أنواع البر .

۲ . امام بخاري رحمه الله په جهاد کې د مال خرج کولو په فضيلت باندې مستقل باب قائم کړی " بَابُ فَضْلِ النَّفَقَةِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ " ( باب دی په بيان د فضيلت د خرچ کولو د الله ﷻ په لار کې ) . (۱)

او ددې باب د لاندې يې دا حديث مبارک راوړی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل :

مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ دَعَاهُ خَزَنَةُ الْجَنَّةِ ، كُلُّ خَزَنَةِ بَابٍ : أَيْ فُلُ ! هَلُمَّ .

څوک چې د الله ﷻ په لار کې جوړه شيان ( يعنی د يو نوعې دوه شيان ) خرچ کړي نو د ( قيامت په ورځ ) د جنت ساتونکې فرښتې به دا رابلي ، د هرې دَروازې پهره دار به ده ته دا آواز کوي : اې فلانکيه ! دلته راشه ( په دې دروازه باندې جنت ته داخل شه ) .

حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه اوفرمايل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! ذَاكَ الَّذِيْ لَا تَوٰى عَلَيْهِ .

اې د الله رسوله ! دا هغه کس دی چې دده د پاره ضائع والې او هلاکت نشته ( ده هيڅ تاوان ندې کړی ) .

نبي کريم صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل :

إِنِّيْ لَأَرْجُوْ أَنْ تَكُوْنَ مِنْهُمْ .

زه دا اُميد لرم چې ته به هم د هغوی نه يې ( يعنی د هغوی سره به ملګرې يې ) . (۲)

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ فَضْلِ النَّفَقَةِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ .

(۲) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ دَعَاهُ خَزَنَةُ الْجَنَّةِ ، كُلُّ خَزَنَةِ بَابٍ : أَيْ فُلُ ! هَلُمَّ " . قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ رضي الله عنه : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! ذَاكَ الَّذِيْ لَا تَوٰى عَلَيْهِ . فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنِّيْ لَأَرْجُوْ أَنْ تَكُوْنَ مِنْهُمْ » . صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ فَضْلِ النَّفَقَةِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ رقم الحديث ۲۸۴۱ ، و رقم الحديث ۳۲۱۶ ، صحيح مسلم كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ مَنْ جَمَعَ الصَّدَقَةَ وَأَعْمَالَ الْبِرِّ رقم الحديث ۸۶ (۱۰۲۷) .

بلکه په جهاد کې معمولي څيز خرچ کولو سره انسان د جنت مستحق ګرځي . (۱)

## په جهاد کې مال خرچ کول ډير بهتر دي

د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

أَفْضَلُ دِيْنَارٍ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ دِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى عِيَالِهِ . وَ دِيْنَارٌ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ عَلَى دَابَّتِهِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . وَ دِيْنَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى أَصْحَابِهِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ..... (۲)

ډير بهترين دِينار چې انسان يې خرچ کوي دا هغه دينار دی چې انسان يې په خپل اهل و عيال باندې خرچ کوي ، او هغه دِينار دی چې انسان يې د الله ﷻ په لاره ( جهاد ) کې په خپل څاروي باندې خرچ کوي ، او هغه دِينار دی چې انسان يې د الله ﷻ په لاره ( جهاد ) په خپلو ملګرو ( مجاهدينو ) باندې خرچ کوي .

**فائده** : ددې حديث نه معلومه شوه چې کوم څاروې انسان د جهاد د پاره ساتلې وي په هغې باندې خرچ کول او په مجاهدينو باندې خرچ کول ډير افضل دي .

## مجاهدينو سره مدد کوونکي ته د جهاد ثواب ملاويږي

څوک چې د مجاهدينو سره يا د دوی کورنۍ سره مدد اوکړي نو ده ته هم د جهاد ثواب ملاويږي .

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

---

(۱) وَقَدْ رُوِيَ عَنْ كَعْبٍ أَنَّهُ قَالَ : دَخَلَ الْجَنَّةَ رَجُلٌ فِيْ إِبْرَةٍ أَعَارَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . وَدَخَلَتِ امْرَأَةٌ الْجَنَّةَ فِيْ مِسَلَّةٍ أَعَانَتْ بِهَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . مشارع الاشواق ج۱ ص ۲۸۴ الباب التاسع في فضل النفقة في سبيل الله تعالى .

المسلة : بكسر الميم . مخيط ضخم . القاموس ۳ /۳۹۷ .

(۲) صحيح مسلم كِتَاب الزَّكَاةِ بَابُ فَضْلِ النَّفَقَةِ عَلَى الْعِيَالِ وَالْمَمْلُوكِ... رقم الحديث ۳۸ (۹۹۴) ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۲۷٦۰ باب فضل النفقة في سبيل الله ، مسند احمد رقم الحديث ۲۲۴۰٦ ، مشكوة المصابيح باب افضل الصدقة رقم الحديث ۱۹۳۲ (۴) ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۹۵۲ (۲) الترغيب في النفقة على الزوجة والعيال ... ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۷۷۵۷ باب الاختيار في الصدقة التطوع ، و رقم الحديث ۱۵٦۹۸ ، كنز العمال رقم الحديث ۱٦۳۹٦ .

مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَقَدْ غَزَا. وَمَنْ خَلَفَ غَازِيًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ بِخَيْرٍ فَقَدْ غَزَا. (۱)

چا چې د الله ﷻ په لار کې غزا کوونکي ته د جهاد سامان تيار کړو نو دا داسې دی لکه چې ده په خپله جهاد اوکړو ، او چا چې په ښه طريقې سره د يو مجاهد د کور کفالت اوکړو ( يعنی دده د کور ضرورتونه يې پوره کړل ) نو ده ګويا په خپله جهاد اوکړو.

**فائده** : ددې حديث مطلب دادی چې څوک د مجاهد سره مدد اوکړي ، د جنګ يا سفر سامان ورله واخلي ، يا دده د کور ضرورتونه پوره کړي نو داسې کس ته هم حُكمًا د جهاد ثواب ملاويږي ، اګر چې ده په خپله جهاد نه وي کړی. (۲)

## مجاهد سره مدد کوونکي ته دوچند اُجر ملاويږي

د ابوداؤد شريف او مشکوة شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

لِلْغَازِيْ أَجْرُهُ . وَلِلْجَاعِلِ أَجْرُهُ وَأَجْرُ الْغَازِيْ. (۳)

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ فَضْلِ مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا أَوْ خَلَفَهُ بِخَيْرٍ رقم الحديث ۲۸۴۳ ، صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ إِعَانَةِ الغَازِي فِي سَبِيلِ اللهِ بِمَرْكُوبٍ وَغَيْرِهِ، وَخِلَافَتِهِ فِي أَهْلِهِ بِخَيْرٍ رقم الحديث ۱۳۵ ( ۱۸۹۵ ) ، مسند احمد رقم الحديث ۱۷۰۳۵ ، سنن ابي داؤد باب ما يُجزئُ من الغزو رقم الحديث ۲۵۰۹ ، سنن الترمذي باب ماجاء في فضل من جهز غازيًا رقم الحديث ۱۶۲۸ ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۷۹۷ ( ۱۱ ).

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أَجْرِ الْغَازِيْ شَيْئًا . سنن ابن ماجة كِتَابُ الجِهَادِ بَابُ مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا رقم الحديث ۲۷۵۹ قال الالباني: صحيح . مسند احمد رقم الحديث ۱۷۰۳۳ ، و رقم ۲۱۶۷۶ ، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۴۶۳۰ إسناده صحيح على شرط مسلم . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۵۲۷۳ و رقم ۵۲۷۴ ، معجم ابن عساكر رقم الحديث ۵۷۱ ، كنز العمال رقم الحديث ۲۳۶۵۴ .

(۲) ( فَقَدْ غَزَا) أَيْ حُكْمًا . وَحَصَلَ لَهُ ثَوَابُ الْغُزَاةِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۶ / ۲۴۶۰ كتاب الجهاد الفصل الاول في تشريح رقم الحديث ۳۷۹۷ ( ۱۱ ) . / ( فَقَدْ غَزَا) كتب له أجر الغزو و إنْ لم يغز لأنّه ساعد عليه . تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري في تشريح رقم الحديث ۲۸۴۳ .

(۳) سنن ابي داؤد كِتَاب الجِهَادِ بَابُ الرُّخْصَةِ فِي أَخْذِ الْجَعَائِلِ رقم الحديث ۲۵۲۶ قال الالباني : صحيح . مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۴۲ (۵۵) ، مسند احمد رقم الحديث ۶۶۲۴ .

غازي ته به د جهاد خپل أجر ملاويږي ، او جاعل( يعنی د مجاهد سره مدد کوونکي ) ته به د مدد کولو خپل أجر هم ملاويږي او د غازي د جهاد کولو هومره أجر به هم ورته ملاويږي .

## مجاهد سره مدد کوونکی به د قيامت په ورځ د عرش د سيوري لاندې وي

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ أَعَانَ مُجَاهِدًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، أَوْ غَارِمًا فِيْ عُسْرَتِهِ ، أَوْ مُكَاتَبًا فِيْ رَقَبَتِهِ أَظَلَّهُ اللهُ فِيْ ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ . (۱)

چا چې د الله ﷻ په لار کې جهاد کوونکي مجاهد سره مدد اوکړو ، يا يې قرض داري سره په تَنگ دَستی کې مدد اوکړو ، او يا يې مکاتَب سره د هغه په آزادولو کې مدد اوکړو نو الله ﷻ به ده ته ( د قيامت په هغه سخته ورځ کې ) د خپل عرش د سيوري لاندې ځای ورکړي په کومه ورځ چې د الله ﷻ ( د عرش ) د سيوري نه علاوه بل هيڅ ځای کې سيورې نه وي .

## مجاهد سره مدد کول د نفلي حج نه بهتر دی

حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي :

لَأَنْ أُجَهِّزَ سَوْطًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ حَجَّةٍ بَعْدَ حَجَّةِ الْإِسْلَامِ . (۲)

---

(۱) مسند احمد رقم الحديث ۱۵۹۸۷ ، و رقم ۱۵۹۸۶ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۲۲۱۷۶ ، و رقم ۲۳۰۱۸ كِتَابُ الْبُيُوعِ وَالْأَقْضِيَةِ إِلْقَاءُ الْمُعْسِرِ وَالرِّفْقُ بِهِ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۵۵۹۰ ، و رقم ۵۵۹۱ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْمُكَاتَبِ رقم الحديث . وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . و رقم الحديث ۲۴۴۸ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۲۱۶۲۱ ، شعب الايمان رقم ۳۹۷۲ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ۷۲۴۴ ، كنز العمال رقم الحديث ۴۳۲۹۵ .

(۲) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۹۱۵۸ . و رقم الحديث ۸۵۷۵ .

وفي رواية : قَالَ عَبْدُ اللهِ ابْنُ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه : لَأَنْ أُمَتِّعَ بِسَوْطٍ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ حَجَّةٍ فِيْ إِثْرِ حَجَّةٍ . الجهاد لابن المبارک ج۱ ص ۱۶۹ رقم الحديث ۲۲۶ . مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجِهَادِ مَا ذُكِرَ فِيْ فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ۱۹۳۸۸ .

که زه د الله ﷻ په لار کې (مجاهد ته) يوه کوړه (چابک، قمچينه) ورکړم نو دا ماته د فرضي حج نه پس د نفلي حج نه ډيره خوښه ده.

همدارنګې په نورو ډيرو احاديثو کې د مجاهدينو سره د مدد کولو، د دوی د خدمت کولو، د دوی د پاره د خوراک او سورلۍ انتظام کولو ډير اَجرونه ذکر شوي، او ديته بهترينه صدقه ويل شوی. (۱)

## حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په جهاد کې ټول مال، او حضرت عمر رضي الله عنه نيم مال ورکړو

صحابه کرامو رضي الله عنهم به د الله ﷻ په لار کې ډير مال ورکولو، او په دې کې به يې د يو بل نه د زيات ورکولو مُسابَقه کوله (يعنی د يو بل نه به يې د وړاندې کيدو کوشش کولو)، بيا خاصکر د غزوه تبوک په موقع خو صحابه کرامو ډيره غټه قرباني ورکړې وه.

حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د الله ﷻ په لار کې د خپل کور غونډ مال د هر څه سره ورکړو، او حضرت عُمر رضي الله عنه د خپل کور نيم مال ورکړو.

په ابوداؤد شريف، ترمذي شريف او مشکوة شريف کې دا واقعه ذکر ده:

حضرت عمر رضي الله عنه فرمايي چې يو ځل رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته د صدقې کولو حکم اوکړو، په دغه وخت کې د ما سره مال ډيرو، ما د ځان سره وويل:

که چيرته زه د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه نه مخکې کيدې شم نو نن ورځ به زه ورنه مخکې کيږم (ځکه د ما سره مال زيات دی).

نو خپل ټول نيم مال مې راواخيست، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کې مې پيش کړو، نبي عليه السلام رانه پوښتنه اوکړه:

---

(۱) عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ الطَّائِيِّ رضي الله عنه، أَنَّهُ سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: خِدْمَةُ عَبْدٍ فِي سَبِيلِ اللهِ. أَوْ ظِلُّ فُسْطَاطٍ. أَوْ طَرُوقَةُ فَحْلٍ فِي سَبِيلِ اللهِ سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الخِدْمَةِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم ۱۶۲۶ قال الالباني: حسن. المعجم الكبير للطبراني رقم ۲۵۵، المعجم الاوسط رقم الحديث ۳۲۹۶، سنن سعيد بن منصور رقم الحديث ۲۴۰۷ بَابُ الخِدْمَةِ وَمَا جَاءَ فِي عَسْبِ الفَرَسِ.

مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ؟ کور واله ته دې څومره مال پريښود؟

ما ورته وويل: همدومره (نيم مال) مې پريښود.

ددې نه پس حضرت ابوبکر صديق ﷺ خپل ټول مال د ځان سره راوړو، او د نبي عليه السلام په خدمت کې يې پيش کړو، رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه نه پوښتنه اوکړه:

مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ؟ کور واله ته دې څومره مال پريښود؟

هغه ورته وويل: أَبْقَيْتُ لَهُمُ اللهَ وَرَسُوْلَهُ.

ما خپل کور واله د پاره صرف الله ﷻ او د هغه رسول پريښود.

حضرت عمر ﷺ فرمايي چې ما حضرت ابوبکر صديق ﷺ ته وويل:

لَا أُسَابِقُكَ إِلَى شَيْءٍ أَبَدًا.

زه به اوس آئنده د تانه په هيڅ شي کې د مخکې کيدو مقابله اونکړم. (۱)

## حضرت عثمان ﷺ د غزوه تبوک په موقع ډير زيات مال ورکړو

حضرت عثمان رضي الله عنه د غزوه تبوک په موقع زر (۱۰۰۰) دِيناره او شپږ سوه (۶۰۰) اُوښان د سامان سره ډک ورکړل.

د احاديثو په کتابونو کې ددې تذکره داسې شوى:

---

(۱) عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ. عَنْ أَبِيْهِ. قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُوْلُ: أَمَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا أَنْ نَتَصَدَّقَ. فَوَافَقَ ذٰلِكَ مَالًا عِنْدِيْ. فَقُلْتُ: اَلْيَوْمَ أَسْبِقُ أَبَا بَكْرٍ إِنْ سَبَقْتُهُ يَوْمًا. فَجِئْتُ بِنِصْفِ مَالِيْ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ؟». قُلْتُ: مِثْلَهُ. قَالَ: وَأَتَى أَبُوْ بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بِكُلِّ مَا عِنْدَهُ. فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ؟» قَالَ: أَبْقَيْتُ لَهُمُ اللهَ وَرَسُوْلَهُ قُلْتُ: لَا أُسَابِقُكَ إِلَى شَيْءٍ أَبَدًا سنن ابي داؤد كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابٌ فِي الرُّخْصَةِ فِي ذٰلِكَ رقم الحديث ۱۶۷۸. قال الالباني حسن. سنن الترمذي أَبْوَابُ الْمَنَاقِبِ بَابُ مَنَاقِبِ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رقم الحديث ۱۶۷۸، وقال الترمذي هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ مشكوة المصابيح باب مناقب ابي بكر ﷺ الفصل الثاني رقم الحديث ۶۰۳۰، (۱۲)، المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۱۵۱۰، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۷۷۷۴، كنز العمال رقم الحديث ۳۵۶۱۰

۱. حضرت عبدالرحمن بن سَمُرة رضي الله عنه فرمايي چې کله رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د جيشُ العُسرة ( يعنی غزوهٔ تبوک ) د پاره تياري کولو نو حضرت عثمان رضي الله عنه نبي عليه السلام ته راغی ، ( د ګرتې ) په لستونړي کې يې زر ( ۱۰۰۰ ) ديناره راوړل ، او د پيغمبر عليه السلام په غېږ مبارک يې کې کيښودل .

حضرت عبدالرحمن بن سَمُرة ﷺ فرمايي چې ما نبي کريم صلی الله عليه وسلم اوليد چې دا ديناريې په خپله غېږه مبارکه کې آړول راړول ، او دا يې باربار فرمايل :

مَا ضَرَّ عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ الْيَوْمِ .

د نن نه پس به حضرت عثمان ﷺ ته هيڅ عمل ضرر او نه رسوي . (۱)

( يعنی د حضرت عثمان رضي الله عنه ددې مالي مدد په وجه د نن نه پس به ده ته ګناه کول هيڅ ضرر او نه رسوي . (۲) ) .

۲. حضرت عبدالرحمن بن خبّاب ﷺ فرمايي چې زه د نبي عليه السلام مجلس ته حاضر شوم ، هغوی جيش عُسرة (يعنی غزوة تبوک ) د پاره مسلمانانو ته ترغيب ورکول ،

---

(۱) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ ﷺ . قَالَ: جَاءَ عُثْمَانُ ﷺ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَلْفِ دِيْنَارٍ ـ قَالَ الْحَسَنُ بْنُ وَاقِعٍ : وَكَانَ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ مِنْ كِتَابِي : فِي كُمِّهِ ـ حِيْنَ جَهَّزَ جَيْشَ الْعُسْرَةِ فَنَثَرَهَا فِي حِجْرِهِ . قَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ: فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَلِّبُهَا فِي حِجْرِهِ وَيَقُوْلُ: مَا ضَرَّ عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ الْيَوْمِ مَرَّتَيْنِ . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْمَنَاقِبِ بَابٌ فِي مَنَاقِبِ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رقم الحديث ۳۷۰۱ وقال الترمذي : هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هٰذَا الْوَجْهِ . وقال الالباني : حسنٌ . المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۴۵۵۳ وقال الحاکم . هذا حديث صحيح الاسناد و لم يخرجاه ، ووافقه الذهبي ، مشکوة المصابيح كِتَابُ الْمَنَاقِبِ وَالْفَضَائِلِ باب مناقب عثمان الفصل الثاني رقم الحديث ۶۰۷۳(۵) ، فضائل الصحابه لاحمد بن حنبل رقم الحديث ۸۴۶ ، کنزالعمال رقم الحديث ۳۲۸۴۹ .

(۲) (مَا ضَرَّ عُثْمَانَ مَا عَمِلَ ) : فَاعِلُ ضَرَّ . وَالْمَعْنَى لَمْ يَضُرَّ عُثْمَانَ الَّذِي عَمِلَ . أَيْ: مِنَ الذَّنْبِ سَابِقًا وَلَاحِقًا . (بَعْدَ الْيَوْمِ) أَيْ: بَعْدَ عَمَلِهِ الْيَوْمَ ( مَرَّتَيْنِ ) : ظَرْفُ يَقُوْلُ ، وَلَعَلَّ التَّكْرَارَ فِيْهِ وَفِيْمَا قَبْلَهُ لِلْإِشْعَارِ بِعَدَمِ ضَرَرِهِ وَ دَوَامِ نَفْعِهِ فِي الدَّارَيْنِ . وَالْمُرَادُ بِالتَّثْنِيَةِ التَّكْرِيْرُ وَالتَّكْثِيْرُ . وَيُؤَيِّدُهُ أَنَّهُ فِي رِوَايَةِ أَحْمَدَ وَيُرَدِّدُهَا مِرَارًا . مرقاة المفاتيح شرح مشکاة المصابيح ۳۹۲۰/۹ بَابُ مَنَاقِبِ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ في تشريح حديث ۶۰۷۳ .

حضرت عثمان رضي الله عنه پاڅید او وې فرمایل:

يَا رَسُوْلَ اللهِ! عَلَيَّ مِائَةُ بَعِيْرٍ بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ.

اې د الله رسوله! زه به د الله ﷻ په لار کې سل (۱۰۰) اوښان د زین او کجاوو (یعنی د ټول سامان) سره ورکړم.

رسول الله ﷺ خلقو ته بیا ترغیب ورکړو (چې د جهاد د پاره تیاري اوکړئ، او مالي مدد اوکړئ) نو حضرت عثمان رضي الله عنه بیا پاڅید او وې فرمایل:

يَا رَسُوْلَ اللهِ! عَلَيَّ مِائَتَا بَعِيْرٍ بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ.

اې د الله رسوله! په ما باندې لازم دي چې زه به (نور) دوه سوه (۲۰۰) اوښان د الله ﷻ په لار کې د ټول سامان سره ورکوم.

نبي عليه السلام بیا خلقو ته ترغیب ورکړو، نو حضرت عثمان رضي الله عنه په دریم ځل باندې پاڅید او وې فرمایل:

يَا رَسُوْلَ اللهِ! عَلَيَّ ثَلَاثُ مِائَةِ بَعِيْرٍ بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ.

اې د الله رسوله! زه به (نور) درې سوه (۳۰۰) اوښان د الله ﷻ په لار کې د ټول سامان سره ورکړم.

حضرت عبد الرحمن بن خبّاب رضي الله عنه فرمايي چې ما رسول الله صلی الله علیه وسلم اولید چې د ممبر نه راښکته کیدو او دا يې فرمایل:

مَا عَلَى عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ هٰذِهِ. مَا عَلَى عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ هٰذِهِ.

ددې (مدد کولو) نه پس چې حضرت عثمان رضي الله عنه هر عمل اوکړي نو ده ته به هیڅ ضرر نه رسي. ددې (مدد کولو) نه پس چې حضرت عثمان رضي الله عنه هر عمل اوکړي نو ده ته به هیڅ ضرر نه رسي. (۱)

---

(۱) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ خَبَّابٍ رضي الله عنه. قَالَ: شَهِدْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَحُثُّ عَلَى جَيْشِ الْعُسْرَةِ فَقَامَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ رضي الله عنه فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! عَلَيَّ مِائَةُ بَعِيْرٍ بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ. ثُمَّ حَضَّ عَلَى الْجَيْشِ فَقَامَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ رضي الله عنه فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! عَلَيَّ مِائَتَا بَعِيْرٍ بِأَحْلَاسِهَا ← ← ← ← ← ←

يعنی ددې مدد کولو نه پس چې حضرت عثمان ﷺ په غونډ عُمر کې هر قسمه عمل کوي هيڅ ضرر به ورته نه رسيږي، ځکه په دې سره دده ټېر شوي ګناهونه معاف شو، او آئنده به هم ده ته د هيڅ عمل نقصان نه وي.

په دې حديث کې ذکر شو چې حضرت عثمان ﷺ مجموعه شپږ سوه (٦٠٠) اُوښان د ټول سامان سره په جهاد کې ورکړل. (١)

په بعضې رواياتو کې راځي چې نهه نيم سوه (٩٥٠) اُوښان او پنځوس (٥٠) آسونه يې ورکړل. او په ځنې رواياتو کې ددينه زيات تعداد هم ذکر شوی. (٢)

او په ځنې رواياتو کې د درې سوه (٣٠٠) اوښانو تذکره شوی. (٣)

---

←←←← وَأَقْتَابِهَا فِي سَبِيلِ اللهِ . ثُمَّ حَضَّ عَلَى الْجَيْشِ فَقَامَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ ﷺ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! عَلَيَّ ثَلَاثُ مِائَةِ بَعِيرٍ بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا فِي سَبِيلِ اللهِ . فَأَنَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْزِلُ عَنِ الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَقُولُ: « مَا عَلَى عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ هٰذِهِ . مَا عَلَى عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ هٰذِهِ » . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْمَنَاقِبِ بَابٌ فِي مَنَاقِبِ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رقم الحديث ٣٧٠٠ . مشكوة المصابيح كِتَابُ الْمَنَاقِبِ وَالْفَضَائِلِ باب مناقب عثمان الفصل الثاني رقم الحديث ٦٠٧٢(٣) ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ١٢٨٥ ، فضائل الصحابة لاحمد بن حنبل رقم الحديث ٨٢٢ ، معرفة الصحابة لابي نعيم رقم الحديث ٤٦٤٣ ، اسد الغابة ج٣ ص ٣٣٧ رقم الحديث ٣٢٨٨ ، معجم الصحابة لابي قانع رقم الحديث ٦١٧ ، معجم الصحابة للبغوي رقم الحديث ١٧١٣ ، و رقم الحديث ١٩١٠ .

(١) فَالْتَزَمَ عُثْمَانُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي كُلِّ مَرْتَبَةٍ بِحُكْمِ رُتْبَةِ الْمَقَامِ . فَفِي الْمَقَامِ الْأَوَّلِ ضَمِنَ مِائَةً وَاحِدَةً . وَفِي الثَّانِي مِائَتَيْنِ . وَفِي الثَّالِثِ ثَلَاثَ مِائَةٍ . فَالْمَجْمُوعُ سِتُّمِائَةٍ . وَسَيَأْتِي لَهُ مِنَ الزِّيَادَةِ . مرقاة المفاتيح ٣٩٢٠/٩ بَابُ مَنَاقِبِ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ في تشريح حديث ٦٠٧٢.

(٢) وجهز (عثمان ﷺ) جيش العسرة بتسعمائة وخمسين بعيرا، و خمسين فرسا. وجيش العسرة كَانَ فِي غزوة تبوك. / وَعن قَتَادَة، قَالَ: حمل عُثْمَان فِي جيش العسرة على ألف بعير وسبعين فرسا. الاستيعاب في معرفة الأصحاب ١٠٤٠/٣ عثمان بن عفان رضي الله عنه ، مشارع الاشواق ج١ ص ٢٨٢ .

(٣) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ خَبَّابٍ السُّلَمِيِّ ﷺ . قَالَ: خَطَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَثَّ عَلَى جَيْشِ الْعُسْرَةِ . فَقَالَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ ﷺ عَلَيَّ مِائَةُ بَعِيرٍ بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا قَالَ. ثُمَّ حَثَّ . فَقَالَ عُثْمَانُ ﷺ عَلَيَّ مِائَةٌ أُخْرَى بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا . قَالَ: ثُمَّ نَزَلَ مِرْقَاةً مِنَ الْمِنْبَرِ ثُمَّ حَثَّ . ←←←←←←←←←

• **په غزوه تبوک کې سختي** : غزوه تبوک ته جيشُ العسرة ( د تنګۍ لښکر ) هم ويلې شي ، ځکه په دې وخت کې سخته ګرمي او قحط سالي وه . (۱)

د څلويښتو ( ۴۰ ) ورځو لرې سفر ؤ ، په مدينه منوّره کې چې د ټول کال د پاره کوم فصلونه ( قجورې وغيره ) وو هغه ټول تيار وو ، د مسلمانانو تعداد ديرش زره ( ۳۰۰۰۰ ) ؤ ، په بعضې رواياتو کې د دينه زيات تعداد هم راغلی ، بل طرف ته د کافرانو تعداد د يو نيم لاکه ( ۱۵۰۰۰۰ ) نه هم زيات ؤ ، د مسلمانانو سره سورلۍ هم کمې وې ، نو نبي عليه السلام صحابه کرامو ته باربار د الله ﷻ په لار کې د مال خرچ کولو ترغيب ورکولو .

حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د خپل کور ټول مال راوړو ، حضرت عُمر رضي الله عنه د خپل کور نيم مال راوړو ، حضرت عثمان رضي الله عنه نبي عليه السلام ته زر ( ۱۰۰۰ ) دِيناره راوړل ، شپږ سوه ( ۶۰۰ ) اُوښان يې د سامان سره ډک راوړل .

په يو روايت کې راځي چې حضرت عثمان رضي الله عنه د غونډ لښکر د دريمې حصې اخراجات ځانله په خپله ذمه باندې اخيستي وو ، د لس زره ( ۱۰۰۰۰ ) پياده فوج د پاره يې سامان برابر کړو ، زر ( ۱۰۰۰ ) اُوښان يې راوستل ، او اَويا ( ۷۰ ) يې اَسونه راوستل . (۲)

په ځنې رواياتو کې تعداد مختلف راغلی ، ملا علي قاري رحمه الله په "مرقاة" کې مختلف روايتونه رانقل کړي او بيا يې په کې تطبيق هم کړی : چې اول حضرت عثمان رضي الله عنه درې سوه اُوښان د سامان سره ډک ورکړل ، هرکله چې دا اوکتل چې دا کافي نه شو نو بيا

---

←←← فَقَالَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ رضي الله عنه : عَلَيَّ مِائَةٌ أُخْرٰى بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا . قَالَ : فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ بِيَدِهٖ هٰكَذَا يُحَرِّكُهَا ( وَأَخْرَجَ عَبْدُ الصَّمَدِ يَدَهُ كَالْمُتَعَجِّبِ ) « مَا عَلٰى عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ هٰذَا » .
مسند احمد رقم الحديث ۱۶۶۹۶ ، الجهاد لابن ابي العاصم رقم الحديث ۷۷ ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۳۹۴۰ .

(۱) وَسُمِّيَتْ جَيْشَ الْعُسْرَةِ لِأَنَّهَا كَانَتْ فِيْ زَمَانِ اشْتِدَادِ الْحَرِّ وَالْقَحْطِ وَقِلَّةِ الزَّادِ وَالْمَاءِ وَالْمَرْكَبِ بِحَيْثُ يَعْسُرُ عَلَيْهِمُ الْخُرُوْجُ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيْغُ قُلُوْبُ فَرِيْقٍ مِنْهُمْ لَمَّا كَانَتِ الْمُنَاهَضَةُ إِلٰى عَدُوٍّ جَمِّ الْعَدَدِ شَدِيْدِ الْبَأْسِ بِالنِّسْبَةِ إِلَى الْمُسْلِمِيْنَ مَعَ كَثْرَتِهِمْ حِيْنَئِذٍ . مرقاة المفاتيح ۳۹۱۹/۹ بَابُ مَنَاقِبِ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ في تشريح حديث ۶۰۷۲ .

(۲) خلفاء راشدين از شاه معين الدين ندوي ص ۱۶۲ ، بحواله مستدرک حاکم ج۳ . هکذا اخرجه احمد ، کذا في البداية .

يې نور اُوښان، آسونه او دِيناره هم ورکړل . (۱)

## حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷛ د الله ﷻ په لار کې ډير مال ورکړو

حضرت عبدالرحمن عوف ﷛ به خپل ډير مال د الله ﷻ په لار کې خرچ کولو ، ددې په باره کې درته د دوی يو څو واقعات نقل کوم :

۱. يو ځل يې د نبي عليه السلام په زمانه کې نيم مال " څلور زره (۴۰۰۰) دِيناره" ورکړل ، بيا يې څلويښت زره ( ۴۰۰۰۰ ) دِيناره صدقه کړل ، بيا يې پنځه سوه (۵۰۰) آسونه د الله ﷻ په لار " جهاد " کې ورکړل ، بيا يې يو نيم زر (۱۵۰۰) سوَرلی د الله ﷻ په لار کې ورکړی . دده اکثر مال به د تجارت وُ . (۲)

۲. حضرت عروة بن زبير ﷛ فرمايي :

أَوْصٰى عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ ﷛ بِخَمْسِيْنَ أَلْفَ دِيْنَارٍ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . (۳)

حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷛ د الله ﷻ په لار کې د پنځوس زره (۵۰۰۰۰) دِيناره ورکولو وصيت کړې وُ .

---

(۱) ملا علي قاري رحمه الله د مختلف روايتونو نقل کولو نه روستو فرمايي : وَهٰذِهِ الْإِخْتِلَافَاتُ فِي الرِّوَايَاتِ قَدْ تُوْهِمُ التَّضَادَّ بَيْنَهُنَّ . وَالْجَمْعُ مُمْكِنٌ بِأَنْ يَكُوْنَ عُثْمَانُ ﷛ دَفَعَ ثَلَاثَمِائَةِ بَعِيْرٍ بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا عَلٰى مَا تَضَمَّنَهُ الْحَدِيْثُ السَّابِقُ . ثُمَّ جَاءَ بِالْأَلْفِ لِأَجْلِ الْمُؤَنِ الَّتِيْ لَا بُدَّ لِلْمُسَافِرِ مِنْهَا . ثُمَّ لَمَّا اطَّلَعَ عَلٰى أَنَّ ذٰلِكَ لَايَكْفِيْ زَادَ فِي الْإِبِلِ وَأَرْدَفَ بِالْخَيْلِ تَتْمِيْمًا لِلْأَلْفِ . ثُمَّ لَمَّا لَمْ يَكْتَفِ بِذٰلِكَ تَمَّمَ الْأَلْفَ أَبْعِرَةً وَزَادَ عِشْرِيْنَ فَرَسًا عَلٰى تِلْكَ الْخَمْسِيْنَ . وَبَعَثَ بِعَشَرَةِ آلَافِ دِيْنَارٍ لِلْمُؤَنِ . مرقاة المفاتيح ۳۹۲۱/۹ بَابُ مَنَاقِبِ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ في تشريح حديث ۶۰۷۳ .

(۲) عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ : تَصَدَّقَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ ﷛ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَطْرِ مَالِهِ أَرْبَعَةَ آلَافٍ . ثُمَّ تَصَدَّقَ بِأَرْبَعِيْنَ أَلْفَ دِيْنَارٍ . ثُمَّ حَمَلَ عَلٰى خَمْسِ مِائَةِ فَرَسٍ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . ثُمَّ حَمَلَ عَلٰى أَلْفٍ وَخَمْسِ مِائَةِ رَاحِلَةٍ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . وَكَانَ عَامَّةُ مَالِهِ مِنَ التِّجَارَةِ . أَخْرَجَهُ فِي الصَّفْوَةِ . مرقاة المفاتيح ۳۹۵۹/۹ كِتَابُ الْمَنَاقِبِ وَالْفَضَائِلِ بَابُ مَنَاقِبِ الْعَشَرَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ الْفَصْلُ الثَّالِثُ في تشريح حديث ۶۱۳۰ (۲۳) .

(۳) أَخْرَجَهُ الْفَضَائِلِيُّ . مرقاة المفاتيح ۳۹۵۹/۹ كِتَابُ الْمَنَاقِبِ وَالْفَضَائِلِ بَابُ مَنَاقِبِ الْعَشَرَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ الْفَصْلُ الثَّالِثُ في تشريح حديث ۶۱۳۰ (۲۳) . و اخرجه ابن عساكر و غيره ، مشارع الاشواق ج۱ ص ۲۸۳ .

## ۳ په حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ باندې د الله ﷻ د طرفه سلام او د جنت زيرې

حضرت عبد الله بن عباس ﷺ فرمايي چې يو ځل حضرت عبد الرحمن بن عوف ﷺ بيمار شو نو ده وصيت اوكړو چې زما د غونډ مال دريمه حصه صدقه كړئ.

بيا دا ددې بيمارۍ نه روغ شو نو د خپل ټول مال دريمه حصه يې په خپل لاس باندې صدقه كړو ، بيا يې اوفرمايل :

يَا أَصْحَابَ رَسُوْلِ اللهِ ! كُلُّ مَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ بَدْرٍ لَهُ عَلَيَّ أَرْبَعُ مِائَةِ دِيْنَارٍ.

اې د رسول الله صلى الله عليه وسلم اَصحابو ! چا چې په غزوه بدر كې شِركت كړې وي زه به هغه ته څلور سوه ( ۴۰۰ ) دِيناره وركوم.

بَدري صحابه كرام ده ته ورغلل ، حضرت عثمان ﷺ هم په دې خلقو كې ورغى ، چا دده نه پوښتنه اوكړه : آيا ته مالدار نه يې ( چې هغه ته ورځى ) ؟ ده ورته وويل :

دا خو د عبدالرحمن بن عوف ﷺ د طرفه عطيه ( صِله رَحمي ) ده ، صدقه نده ، لهذا دا حلال مال دى ( نو ځكه ورځم ) .

نو حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ په دې ورځ باندې يو نيم لاكهـ ( ۱۵۰۰۰۰ ) دِيناره صدقه كړل .

كله چې په ده باندې شپه راغله نو دا په خپل كور كې كيناست ، د خپل ټول مال يې په مهاجرينو او اَنصارو باندې د تقسيمولو متعلق يو خط اوليكل ، تر دې پورې چې ده په دې خط كې دا هم اوليكل :

زما په بدن باندې چې دا كوم قميص دى دا د فلانكي د پاره دى ، زما دا پګړى ( پټكې ) د فلاني د پاره دى ، لږ مال يې هم پرې نخود ، بلكه د ټول مال په باره كې يې دا اوليكل چې دا د فلانكي فلانكي د پاره دى .

( شپه تېره شوه ) كله چې ده د رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې د سهر مونځ اوكړو نو حضرت جبريل عليه السلام راغى او نبي عليه السلام ته يې اوفرمايل :

اې محمد ( صَلَّىٰ اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ) ! الله تعالى فرمايي : ته زما د طرفه په عبدالرحمن بن عوف باندې سلام اووايه ، د هغه نه هغه خط قبول کړه ، بيا يې واپس هم هغه ته ورکړه ، او ورته اووايه چې الله تعالى ستا صدقه قبوله کړه ، هغه د الله او د هغه د رسول وکيل دی ، هغه دې په خپل مال کې هغه شان تصرّف کوي کوم چې يې مخکې کولو :

وَلَا حِسَابَ عَلَيْهِ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ .

د هغه سره به هيڅ حساب نه وي ، او هغه ته د جنت زيرې ورکړه ۰ (۱)

( **نوټ** د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه د سخاوت څه واقعات ددې (اصلاحي مذاکل تقريرونه) کتاب په دريم جلد صفحه ۲۳۵ کې هم تفصيلا ذکر دي . ابوالشمس عفي عنه )

## ابن سهل رَحِمَهُ اللهُ په جهاد کې لس لکه ( ۱۰۰۰۰۰۰ ) ديناره ورکړل

علامه قرطبي رحمه الله ليکلي چې ابن سهل رحمه الله يو مالدار کس ؤ ، هغه يو ځل په جهاد کې لس لکه ( ۱۰۰۰۰۰۰ ) ديناره ورکړل ، او بيا يې اوفرمايل :

لَوْ كَانَ لِيْ ضِعْفُ ذٰلِكَ لَأَنْفَقْتُهُ .

---

(۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ : مَرِضَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ رضي الله عنه فَأَوْصٰى بِثُلُثِ مَالِهِ . فَصَحَّ فَتَصَدَّقَ بِذٰلِكَ بِيَدِ نَفْسِهِ ثُمَّ قَالَ : يَا أَصْحَابَ رَسُوْلِ اللهِ كُلُّ مَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ بَدْرٍ لَهُ عَلَيَّ أَرْبَعُ مِائَةِ دِيْنَارٍ . فَقَامَ عُثْمَانُ رضي الله عنه وَذَهَبَ مَعَ النَّاسِ . فَقِيْلَ لَهُ : يَا أَبَا عَمْرٍو لَسْتَ غَنِيًّا ؟ قَالَ : هٰذِهِ وَصْلَةٌ مِنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ لَاصَدَقَةٌ ، وَهُوَ مِنْ مَالٍ حَلَالٍ . فَتَصَدَّقَ عَلَيْهِمْ فِيْ ذٰلِكَ الْيَوْمِ مِائَةً وَخَمْسِيْنَ أَلْفَ دِيْنَارٍ . فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ اللَّيْلُ جَلَسَ فِيْ بَيْتِهِ . وَكَتَبَ جَرِيْدَةً بِتَفْرِيْقِ جَمِيْعِ الْمَالِ عَلَى الْمُهَاجِرِيْنَ وَالْأَنْصَارِ حَتّٰى كَتَبَ أَنَّ قَمِيْصَهُ الَّذِيْ عَلٰى بَدَنِهِ لِفُلَانٍ وَعِمَامَتَهُ لِفُلَانٍ ، وَلَمْ يَتْرُكْ شَيْئًا مِنْ مَالِهِ إِلَّا كَتَبَهُ لِلْفُقَرَاءِ . فَلَمَّا صَلَّى الصُّبْحَ خَلْفَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَبَطَ جِبْرِيْلُ وَقَالَ : يَا مُحَمَّدُ إِنَّ اللهَ تَعَالٰى يَقُوْلُ : أَقْرِئْ مِنِّيْ عَلٰى عَبْدِ الرَّحْمٰنِ السَّلَامَ وَاقْبَلْ مِنْهُ الْجَرِيْدَةَ ثُمَّ رُدَّهَا عَلَيْهِ وَقُلْ لَهُ قَدْ قَبِلَ اللهُ صَدَقَتَكَ وَهُوَ وَكِيْلُ اللهِ وَوَكِيْلُ رَسُوْلِهِ . فَلْيَصْنَعْ فِيْ مَالِهِ مَا شَاءَ وَلْيَتَصَرَّفْ فِيْهِ كَمَا كَانَ يَتَصَرَّفُ قَبْلَ يَوْمٍ . وَلَا حِسَابَ عَلَيْهِ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ . أَخْرَجَهُ الْمُلَّا فِيْ سِيْرَتِهِ
وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ بُرْقَانَ قَالَ : بَلَغَنِيْ أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ عَوْفٍ رضي الله عنه أَعْتَقَ ثَلَاثِيْنَ أَلْفًا . أَخْرَجَهُ صَاحِبُ الصَّفْوَةِ
مرقاة المفاتيح ۳۹۵۹/۹ كِتَابُ الْمَنَاقِبِ وَالْفَضَائِلِ بَابُ مَنَاقِبِ الْعَشَرَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ الْفَصْلُ الثَّالِثُ في تشريح حديث ۶۱۳۰ (۲۳) .

که چیرته ما سره ددې په دوچنده وی نو ما به هغه ټول هم په جهاد کې مصرف کړي وی. (۱)

**فائده** د لس لکه (۱۰۰۰۰۰۰) دیناره نن صبا په کروړونو روپۍ جوړیږي، خو د هغې خلقو د جهاد سره دومره مینه وه چې خپل مال به یې په جهاد کې خاص د الله ﷻ د رضا د پاره خرچ کول.

## د جهاد په چانده کې زنانهٔ خپل ویښتان ورکړل

د اسلافو د جهاد سره دومره مینه وه چې په خپله به یې جهاد هم کولو، او ورسره ورسره به یې د مال اکثره حصه هم په جهاد کې خرچ کوله.

بلکه ډیرې داسې زنانه هم تیرې شوي چې د هغوی خاوندان، بچي او د خاندان ټول خلق په جهاد کې شهیدان شوي، خپل ټول مال یې په جهاد کې ورکړی، تر دې چې د خپل سَر ویښتان یې هم د جهاد په چانده کې ورکړي، ددې د پاره چې مجاهدین ورنه د آسونو د پاره واګې جوړې کړي.

مشهوره واقعه ده چې ابو قدامه شامي رحمه الله ته یوې زنانه خپل ویښتان راوړي وو او د جهاد په چانده کې یې ورکړل چې یو مجاهد ورنه د آس د پاره واګې جوړې کړي.

( **نوټ**: دا ډیره د عبرت نه ډکه، ژړوونکې واقعه ده، ددې (اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه) کتاب په دولسم جلد کې په صفحه ۵۹ باندې په تفصیل سره ذکر ده، که د مُقرّر سره وخت زیات وي نو دا واقعه دې هلته اوګوري او دلته په دې موقع دې بیان کړي. ابوالشمس عفي عنه )

## زمونږ اسلافو به د خپل ځان په نسبت بل ته ترجیح ورکوله

که مونږ د خپلو اَسلافو حالت اوګورو نو په هغوی کې به هر کس دا کوشش کولو چې په مجاهدینو باندې خرچ اوکړي، او د هغوی خدمت اوکړي.

---

(۱) وذكر القرطبي في تاريخه أن ذا الرياستين بن سهل أنفق في سبيل الله ألف ألف دينار. وقال: لَوْ كَانَ لِيْ ضِعْفُ ذٰلِكَ لَأَنْفَقْتُهُ. مشارع الاشواق ج۱ ص ۲۸۴ الباب التاسع في فضل النفقة في سبيل الله تعالى.

که نور وَس به یې نه کیدلو نو په جهاد کې به چې ورسره کوم ملګری شریک ؤ هغه ته به یې د خپل ځان په نسبت ترجیح ورکوله . تر دې چې د زَنکدن په حالت کې به یو کس ته د اُوبو سخت ضرورت ؤ او ده ته به اُوبه ور اُورسیدی خو چې ده به محسوسه کړه چې زما بل ملګري ته د اُوبو سخت ضرورت دی نو ده به د خپل ځان په نسبت هغه ته ترجیح ورکړه ، او اُوبه به یې هغه ته ور اُولیږلی .

ددې په باره کې درته یوه واقعه ذکر کوم ، دا واقعه په شعب الایمان ، کتاب الجهاد د ابن مبارک ، احیاء العلوم ، او تفسیرِ قرطبي کې ذکر ده :

حضرت ابن جهم ﷺ فرمایي چې زه د یَرموک په جهاد کې را اُووتم ، خپل د تره ځوي مې تلاش کولو ، ما سره د اُوبو مشک ( یا لوخې ) ؤ ، ما د ځان سره وویل :

إِنْ كَانَ بِهِ رَمَقٌ سَقَيْتُهُ مِنَ الْمَاءِ ، وَمَسَحْتُ بِهِ وَجْهَهُ .

که چیرته په هغه کې ساه وي نو زه به په هغه باندې اُوبه اُوڅکم ، او په مخ باندې به ورله اُوبه واچوم . ( ځکه زَخمي ته د اُوبو سخت ضرورت وي ) .

پس ما هغه په داسې حالت کې پروت اولید چې سخت زخمي شوې ؤ ، او د زَنکدن آخِري حالت یې ؤ ، ما ورته وویل :

أَسْقِيكَ ؟ آیا اُوبه درباندې اُوڅکم ؟

هغه راته په اِشارې سره وویل : آو . (کله چې ما اُوبه هغه ته وَروړی ) نو ناڅاپه یو بل کس آه اوکړو ( هغه هم سخت زخمي شوې ؤ ، او د زَنکدن آخِري حالت یې ؤ ) ، ماته خپل د تره ځوي اِشاره اوکړه چې اُوبه هغه له وَروړه ، زه چې هغه ته ورغلم نو هغه هشام بن العاص ﷺ ؤ ، ما هغه ته وویل : أَسْقِيكَ ؟ اُوبه درباندې اُوڅکم ؟

په دې وخت کې ده د یو بل زخمي مجاهد آه واورید ( هغه هم سخت زخمي ؤ او د زنکدن آخري حالت یې ؤ ) هشام بن العاص ﷺ ماته اشاره اوکړه چې اُوبه هغه ته وَروړه .

فَجِئْتُهُ فَإِذَا هُوَ قَدْ مَاتَ . فَرَجَعْتُ إِلَى هِشَامٍ فَإِذَا هُوَ قَدْ مَاتَ . فَرَجَعْتُ إِلَى ابْنِ عَمِّي فَإِذَا هُوَ قَدْ مَاتَ .

کله چې زه دې دریم کس ته راغلم نو دا شهید شوی وُ ، پس زه هشام ته واپس راغلم نو دا هم شهید شوی وُ ، بیا زه خپل د تره ځوي ته راغلم نو دا هم شهید شوی وُ . (۱)

سبحان الله . زخمي ته د زَنکدن په وخت کې د اُوبو سخت ضرورت وي خو دوی په دې وخت کې هم د خپل ځان په نسبت بل ته ترجیح ورکړه ، دیته اعلیٰ درجه ایثار او همدردي وایي .

## د قدرت باوجود په جهاد کې د خرچ نه کوونکو د پاره وعید

چې کله په جهاد کې د مال لپولو ضرورت وي نو په صاحبِ استطاعت باندې دا لازم دي چې په جهاد کې خپل مال خرچ کړي ، ځکه که څوک د قدرت باوجود خپل مال خرچ نه کړي نو د داسې کس د پاره په شریعت کې سخت وعیدونه هم ذکر شوي :

الله تعالیٰ فرمایي :

﴿ وَأَنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ ۛ وَأَحْسِنُوا ۛ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴾ . (۲)

ترجمه : او تاسو د الله تعالیٰ په لار (جهاد کې مال) خرچ کوئ ، په خپلو لاسونو باندې ځان هلاکت ته مه غورځوئ ، او نیکي کوئ ، بیشکه الله تعالیٰ نیکي کوونکي خلق خوښوي .

(۱) عَنْ أَبِي جَهْمِ بْنِ حُذَيْفَةَ الْعَدَوِيِّ . قَالَ : اِنْطَلَقْتُ يَوْمَ الْيَرْمُوكِ أَطْلُبُ ابْنَ عَمِّي ، وَمَعِي شَنَّةٌ مِنْ مَاءٍ . أَوْ إِنَاءٍ . فَقُلْتُ : إِنْ كَانَ بِهِ رَمَقٌ سَقَيْتُهُ مِنَ الْمَاءِ ، وَمَسَحْتُ بِهِ وَجْهَهُ . فَإِذَا أَنَا بِهِ يَنْشَغُ . فَقُلْتُ : أَسْقِيكَ ؟ فَأَشَارَ : أَيْ نَعَمْ . فَإِذَا رَجُلٌ يَقُولُ : آهِ . فَأَشَارَ ابْنُ عَمِّي أَنْ انْطَلِقْ بِهِ إِلَيْهِ . فَإِذَا هُوَ هِشَامُ بْنُ الْعَاصِ أَخُو عَمْرٍو . فَأَتَيْتُهُ فَقُلْتُ : أَسْقِيكَ ؟ فَسَمِعَ آخَرَ فَقَالَ : آهِ . فَأَشَارَ هِشَامٌ : أَنْ انْطَلِقْ بِهِ إِلَيْهِ . فَجِئْتُهُ فَإِذَا هُوَ قَدْ مَاتَ . فَرَجَعْتُ إِلَى هِشَامٍ فَإِذَا هُوَ قَدْ مَاتَ . فَرَجَعْتُ إِلَى ابْنِ عَمِّي فَإِذَا هُوَ قَدْ مَاتَ . شعب الايمان رقم الحديث ۳۲۰۸ الزكوة الصدق من كسب طيب ، الجهاد لابن المبارک ج۱ ص۹۷ رقم الحديث ۱۱۶ ، احياء علوم الدين ج۳ ص ۳۴۶ كتاب ذم البخل و ذم حب المال بيان الإيثار و فضله ، تفسير القرطبي ج۱۸ ص ۲۸ ، فضل الجهاد لاحمد بن عبدالواحد المقدسي ج۱ ص۱۸۵ رقم الحديث ۳۴ هوان الدنيا على الشهيد ، حيوة الصحابة .

(۲) البقرة آية ۱۹۵ .

## د مذکوره آيت په باره کې علمي تحقيق :

۱ . امام بخاري رحمه الله د حضرت حذيفة رضي الله عنه نه د دې آيت متعلق نقل کړي :

نَزَلَتْ فِي النَّفَقَةِ . (۱)

دا آيت د الله ﷻ په لار کې د خرچ کولو متعلق نازل شوی دی .

يعنې تاسو د الله ﷻ په لار کې خرچ کوئ او جهاد کول مه پرېږدئ ځکه دا به ستاسو د هلاکت سبب اوګرځي . (۲)

۲ . د حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه نه هم دا نقل دي چې دا آيت د جهاد پرېښودونکو خلقو په باره کې نازل شوی ، چې څوک جهاد پرېږدي نو هغوی په خپلو لاسونو باندې ځان په هلاکت کې غورځوي . (۳)

---

(۱) عَنْ حُذَيْفَةَ رضي الله عنه { وَأَنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ } قَالَ : « نَزَلَتْ فِي النَّفَقَةِ » . صحيح البخاري رقم الحديث ۴۵۱۶ كِتَابُ تَفْسِيرِ الْقُرْآنِ بَابُ قَوْلِهِ { وَأَنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ . تفسير الخازن ( لباب التاويل في معاني التنزيل ) ج۱ ص۱۲۳ البقرة في تفسير آية ۱۹۵ . تفسير القرطبي ج۲ ص۳۶۱ البقرة آية ۱۹۵ .

(۲) ( فِي النَّفَقَةِ ) أي في ترك النفقة في سبيل الله تعالى والمعنى لا تتركوا الإنفاق في سبيل الخير والجهاد فيؤدي ذلك بكم إلى الهلاك . تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري .

(۳) وَرَوَى يَزِيدُ بْنُ أَبِي حَبِيبٍ عَنْ أَسْلَمَ أَبِي عِمْرَانَ قَالَ : غَزَوْنَا الْقُسْطَنْطِينِيَّةَ ، وَعَلَى الْجَمَاعَةِ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ الْوَلِيدِ ، وَالرُّومُ مُلْصِقُو ظُهُورِهِمْ بِحَائِطِ الْمَدِينَةِ ، فَحَمَلَ رَجُلٌ عَلَى الْعَدُوِّ . فَقَالَ النَّاسُ : مَهْ مَهْ . لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ . يُلْقِي بِيَدَيْهِ إِلَى التَّهْلُكَةِ . فَقَالَ أَبُو أَيُّوبَ رضي الله عنه : سُبْحَانَ اللهِ . أُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ فِينَا مَعَاشِرَ الْأَنْصَارِ لَمَّا نَصَرَ اللهُ نَبِيَّهُ وَأَظْهَرَ دِينَهُ قُلْنَا : هَلُمَّ نُقِيمُ فِي أَمْوَالِنَا وَنُصْلِحُهَا . فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ : ﴿ وَأَنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللهِ ﴾ الآية . وَالْإِلْقَاءُ بِالْيَدِ إِلَى التَّهْلُكَةِ أَنْ نُقِيمَ فِي أَمْوَالِنَا وَنُصْلِحَهَا وَنَدَعَ الْجِهَادَ . فَلَمْ يَزَلْ أَبُو أَيُّوبَ رضي الله عنه مُجَاهِدًا فِي سَبِيلِ اللهِ حَتَّى دُفِنَ بِالْقُسْطَنْطِينِيَّةِ . فَقَبْرُهُ هُنَاكَ . فَأَخْبَرَنَا أَبُو أَيُّوبَ رضي الله عنه أَنَّ الْإِلْقَاءَ بِالْيَدِ إِلَى التَّهْلُكَةِ هُوَ تَرْكُ الْجِهَادِ فِي سَبِيلِ اللهِ ، وَأَنَّ الْآيَةَ نَزَلَتْ فِي ذٰلِكَ . وَرُوِيَ مِثْلُهُ عَنْ حُذَيْفَةَ وَالْحَسَنِ وَقَتَادَةَ وَمُجَاهِدٍ وَالضَّحَّاكِ رحمهم الله . تفسير القرطبي ( الجامع لاحكام القرآن ) ج۲ ص۳۶۱ البقرة في تفسير آية ۱۹۵ .

۳ . د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه د دې آيت متعلق نقل دي چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم خلقو ته جهاد ته د وتلو حُکم اوکړو نو مديني منوّرې ته چې کوم باندچيان راغلي وو په هغوی کې بعضو وويل : مونږ د جهاد د پاره څنګه تياري اوکړو ؟ قسَم په الله د مونږ سره خو نه د سفرخرچه شته او نه راباندې څوک خوراک کوي.

نو په دې سره دا آيت نازل شو : وَاَنۡفِقُوۡا فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ وَلَا تُلۡقُوۡا بِاَیۡدِیۡکُمۡ اِلَی التَّهۡلُکَةِ.

يعنی اې مالدارو ! تاسو د الله ﷻ په لار ( جهاد ) کې ( په غريبانانو مجاهدينو باندې ) خرچ کوئ ، او تاسو خپل لاسونه د صدقې کولو نه مه بندوئ ، ګني هلاک به شی.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د قول مطلب دادی چې اې مالدارو ! تاسو غريبو مجاهدينو باندې خرچ کولو نه لاس مه بندوئ ( د دوی سره ضرور مدد کوئ ) ځکه که دوی د جهاد نه پاتې شي نو په تاسو باندې به دښمن غالب شي او هلاک به مو کړي ( دا ګويا تاسو په خپله باندې خپل ځان په هلاکت کې واچول). (۱)

٤ . په تفسيرِ خازن کې د " فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ " ترجمه په جهاد سره شوی ( يعنی تاسو په جهاد کې خرچ کوئ ) ، او دليل يې دا بيان کړی چې کله الله تعالی د جهاد حُکم اوکړو نو اوس په جهاد کې د مال خرچ کولو ضرورت وي نو ځکه الله تعالی په جهاد کې د مال خرچ کولو حکم هم ( په " وَاَنۡفِقُوۡا فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ " سره ) اوکړو.

بيا فرمايي : اګر چې په ټولو دِيني کارونو کې خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره مال خرچ کولو ته اِنفاق وايي خو چې کله دغه شان مطلق ( وَاَنۡفِقُوۡا فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ ) ذکر شي نو د دينه

(۱) قَالَ ابۡنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنۡهُمَا أَنَّ رَسُوۡلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ لَمَّا أَمَرَ النَّاسَ بِالۡخُرُوۡجِ إِلَى الۡجِهَادِ قَامَ إِلَيۡهِ أُنَاسٌ مِنَ الۡأَعۡرَابِ حَاضِرِيۡنَ بِالۡمَدِيۡنَةِ فَقَالُوۡا : بِمَاذَا نَتَجَهَّزُ ؟ فَوَاللهِ مَا لَنَا زَادٌ وَلَا يُطۡعِمُنَا أَحَدٌ . فَنَزَلَ قَوۡلُهُ تَعَالَى : " وَأَنۡفِقُوۡا فِيۡ سَبِيۡلِ اللهِ " يَعۡنِيۡ تَصَدَّقُوۡا يَا أَهۡلَ الۡمَيۡسَرَةِ فِيۡ سَبِيۡلِ اللهِ . يَعۡنِيۡ فِيۡ طَاعَةِ اللهِ . " وَلَا تُلۡقُوۡا بِأَيۡدِيۡكُمۡ إِلَى التَّهۡلُكَةِ " يَعۡنِيۡ وَلَا تُمۡسِكُوۡا بِأَيۡدِيۡكُمۡ عَنِ الصَّدَقَةِ فَتَهۡلِكُوۡا وَهٰكَذَا قَالَ مُقَاتِلٌ . وَمَعۡنَى ابۡنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنۡهُمَا : وَلَا تُمۡسِكُوۡا عَنِ الصَّدَقَةِ فَتَهۡلِكُوۡا ، أَيۡ لَا تُمۡسِكُوۡا عَنِ النَّفَقَةِ عَلَى الضُّعَفَاءِ ، فَإِنَّهُمۡ إِذَا تَخَلَّفُوۡا عَنۡكُمۡ غَلَبَكُمُ الۡعَدُوُّ فَتَهۡلِكُوۡا . تفسير القرطبي ج۲ ص۳۶۲ البقرة في تفسير آية ۱۹۵ .

به مراد جهاد وي .

بيا لږ روستو د دې آيت په باره کې فرمايي :

ومَعْنَى الآيَةِ النَّهْيُ عَنْ تَرْكِ الإِنْفَاقِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ لِأَنَّهُ سَبَبُ الإِهْلَاكِ .

د آيت مطلب دا دی چې په دې آيت کې الله تعالی خلق په جهاد کې د خرچ نه کولو نه منع کړي دي ( يعنی په جهاد کې ضرور خپل مال لږوئ او خرچ کول مه بندوئ ) ، ځکه په جهاد کې خرچ نه کول په زوره خپل ځان هلاکول دي . (۱)

۵ . په تفسير قرطبي کې هم په دې آيت کې د " فِيْ سَبِيْلِ اللهِ " ترجمه په جهاد سره شوی . (۲)

امام قرطبيؒ دا هم ذکر کړي چې حضرت حذيفة ﷺ، حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، عِکرمهؒ ، مجاهدؒ او جمهور علماؤ د " وَلَا تُلْقُوْا بِأَيْدِيْكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ " مطلب دا بيان کړی : چې تاسو په خپلو لاسونو باندې ځان هلاکت ته مه غورځوئ ، هغه داسې چې په جهاد کې خپل مال نه خرچ کوی ، او په ( خرچ کولو سره ) د فقر نه ويرېږی . داسې کس ته چې څوک په جهاد کې د خرچ کولو د پاره اووايي نو دا ورته وايي :

لَيْسَ عِنْدِيْ مَا أُنْفِقُهُ .

د ما سره خو داسې څه نشته چې زه يې خرچ کړم .

( حالانکه دا د بُخل په وجه مال نه خرچ کوي ، نو دا دده د هلاکت سبب ګرځي ) .

---

(۱) ( وَأَنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ) يعني به الجهاد . وذلك أنّ الله تعالى لمّا أمر بالجهاد والاشتغال به يحتاج إلى الإنفاق فأمر به. والإنفاق هو صرف المال في وجوه المصالح الدّينيّة كالإنفاق في الحجّ والعمرة وصلة الرحم والصدقة وفي الجهاد وتجهيز الغزاة وعلى النفس والعيال وغير ذلك ممّا فيه قربة لله تعالى لأنّ كلّ ذلك ممّا هو في سبيل الله لكن إطلاق هذه اللفظة ينصرف إلى الجهاد ..... ومَعْنَى الآيَةِ النَّهْيُ عَنْ تَرْكِ الإِنْفَاقِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ لِأَنَّهُ سَبَبُ الإِهْلَاكِ . تفسير الخازن ( لباب التاويل في معاني التنزيل ) ج۱ ص۱۲۳ البقرة في تفسير آية ۱۹۵ .

(۲) ( فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ) هُنَا : الجِهَادُ . وَاللَّفْظُ يَتَنَاوَلُ بَعْدُ جَمِيْعَ سُبُلِهِ تفسير القرطبي ج۲ ص۳٦۲ البقرة في تفسير آية ۱۹۵ .

او همدا مطلب امام بخاري رحمه الله هم اخيستی.(۱)

۶. ددې آيت په تفسير کې مفتي شفيع رحمه الله په " معارف القرآن " کې ليکلي چې په دې آيت کې په مسلمانانو باندې دا لازم کړې شوي چې د ضرورت په وخت په جهاد کې خپل مالونه خرچ کړي.

فقهاء کرامو ددې آيت نه دا حُکم هم ثابت کړی چې په مسلمانانو باندې د فرضي زکوة نه علاوه په نورو ځايونو کې هم خپل مالونه خرچ کول فرض دي، خو په دغه ځايونو کې د زکوة په شان هر وخت خرچ کول او معلوم نِصاب نشته بلکه د ضرورت په مقدار خرچ کول فرض دي.

لهذا که په جهاد کې د مال لږولو ضرورت وُ نو په هر مسلمان باندې د ضرورت (او اِستعداد) موافق په جهاد کې مال لږول فرض دي، خو که ضرورت نه وُ نو بيا فرض ندي.(۲)

۷. علامه شبير احمد عثماني رَحِمَهُ اللهُ په " تفسير عثماني " کې ددې آيت مطلب دا بيان کړی: او تاسو د الله ﷻ په اِطاعت (جهاد وغيره) کې خپل مال خرچ کړئ، او خپل ځان په هلاکت کې مه آچوئ.

(چې جهاد هم نه کوئ او په جهاد کې خپل مال هم نه خرچ کوئ، ځکه په دې جهاد نه کولو او په جهاد کې خرچ نه کولو سره به بيا تاسو کمزوري شئ او دشمن به قوي شي).(۳)

---

(۱) قَالَ حُذَيْفَةُ بْنُ الْيَمَانِ وَابْنُ عَبَّاسٍ وَعِكْرِمَةُ وَعَطَاءٌ وَمُجَاهِدٌ وَجُمْهُورُ النَّاسِ: اَلْمَعْنٰى لَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ بِأَنْ تَتْرُكُوا النَّفَقَةَ فِيْ سَبِيلِ اللهِ وَتَخَافُوا الْعَيْلَةَ، فَيَقُوْلُ الرَّجُلُ: لَيْسَ عِنْدِيْ مَا أُنْفِقُهُ. وَإِلٰى هٰذَا الْمَعْنٰى ذَهَبَ الْبُخَارِيُّ إِذْ لَمْ يَذْكُرْ غَيْرَهُ. تفسير القرطبي ج۲ ص۳۶۲ البقرة في تفسير آية ۱۹۵.

همداسې روايت امام بهيقي رحمه الله په السنن الکبرٰی کې هم نقل کړی: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، فِيْ قَوْلِهِ: {وَأَنْفِقُوا فِيْ سَبِيلِ اللهِ} الآية. قَالَ: يَقُوْلُ: لَا يَقُوْلَنَّ أَحَدُكُمْ لَا أَجِدُ شَيْئًا. إِنْ لَمْ يَجِدْ إِلَّا مِشْقَصًا فَلْيَجْهَزْ بِهِ فِيْ سَبِيلِ اللهِ {وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ}. السنن الکبری رقم ۱۷۹۲۴ کتاب السير.

(۲) معارف القرآن سورة البقرة في تشريح آية ۱۹۵.

(۳) تفسير عثماني سورة البقرة ۱۹۵.

# د الله ﷻ په لار ( جهاد ) کې خرچ نه کولو باندې توبيخ

۱. څوک چې د قدرت باوجود د الله ﷻ په لاره " جهاد " کې خرچ نه کوي نو د داسې خلقو د پاره په قرآن کريم کې توبيخ ذکر شوی. الله تعالی فرمايي:

﴿ وَمَا لَكُمْ أَلَّا تُنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ . (۱)

ترجمه: او دا په تاسو څه شوي چې تاسو د الله ﷻ په لار کې خرچ نه کوئ ؟ او د آسمانونو او زمکې ميراث صرف د الله د پاره دی. (دا هر څه صرف هغه ته پاتې دي).

علامه قرطبي رحمه الله د دې آيت مطلب دا بيان کړی:

( اې خلقو ! ) دا تاسو څه شي د الله ﷻ په لار کې د خرچ کولو نه منع کړي يئ ؟ حالانکه تاسو به ( آخر هم ) وفات کيږئ، خپل مالونه به شاته پريږدئ، دا ټول به الله ﷻ ته پاتې کيږي: فَمَعْنَى الْكَلَامِ التَّوْبِيخُ عَلَى عَدَمِ الْإِنْفَاقِ .

پس د دې آيت معنیٰ (او مطلب) د الله ﷻ په لار کې مال نه خرچ کولو باندې توبيخ دی. (۲)

۲. د قرآن کريم په يو بل آيت کې هم د الله ﷻ په لار کې خرچ نه کولو باندې سخت وعيد بيان شوی، الله تعالی فرمايي:

﴿ وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ۝ يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ ﴾ . (۳)

---

(۱) الحديد آية ۱۰.

(۲) ( وَمَا لَكُمْ أَلَّا تُنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ) أَيُّ شَيْءٍ يَمْنَعُكُمْ مِنَ الْإِنْفَاقِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَفِيمَا يُقَرِّبُكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ وَأَنْتُمْ تَمُوتُونَ وَتُخَلِّفُونَ أَمْوَالَكُمْ وَهِيَ صَائِرَةٌ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى. فَمَعْنَى الْكَلَامِ التَّوْبِيخُ عَلَى عَدَمِ الْإِنْفَاقِ. تفسير القرطبي ( الجامع لأحكام القرآن ) ج۱۷ ص۲۳۹ سورة الحديد في تفسير آية ۱۰.

(۳) التوبة آية ۳۴، ۳۵.

ترجمه: او څوک چې سره زَر او سپین زَر ذخیره کوي او د الله ﷻ په لاره کې يې نه خرچ کوي پس (اې پيغمبره!) ته دوی ته د دَرد ناک عذاب زيرې ورکړه، په کومه ورځ چې به دا مال (او خزانې) د جهنم په اُور کې ګرمولې شي. بيا به په دې سره د دوی تَندي، د دوی اَړخونه او د دوی شاګانې داغلې شي (او دا به ورته ويلې شي) چې دا هغه خزانې دي چې تاسو د خپل ځان دپاره جمع کړې وی، پس اوڅکئ تاسو مزه د هغه څه چې تاسو به جمع کول.

## مجاهدینو سره د مدد نه کولو په وجه په سخت مصیبت کې ګرفتار کیدل

د ابوداؤد شريف او ابن ماجه شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

مَنْ لَمْ يَغْزُ أَوْ يُجَهِّزْ غَازِيًا، أَوْ يَخْلُفْ غَازِيًا فِي أَهْلِهِ بِخَيْرٍ أَصَابَهُ اللهُ بِقَارِعَةٍ قَبْلَ يَوْمِ الْقِيَامَةِ. (١)

څوک چې په خپله جهاد اونکړي، نه مجاهد ته د جهاد د پاره اَسباب برابر کړي، او نه د مجاهد د کور خبر خبر واخلي (يعنی د مجاهد د کور صحيح نګراني اونکړي، او مدد ورسره اونکړي) نو الله ﷻ به دا د قيامت نه مخکې په سخت مصيبت کې ګرفتار کړي. (٢)

**فائده**: ددې حديث نه معلومه شوه چې هر مسلمان ته پکار دي چې په جهاد کې څه نا څه برخه ضرور واخلي: په خپله په جهاد کې شرکت اوکړي، او که د جنګ طاقت يې نه وي نو بيا دې د مجاهدينو د پاره اَسحله او ضروري سامان واخلي، او که دا طاقت يې هم نه وي نو د مجاهدينو کورنۍ سره دې مدد اوکړي، ځکه که دا يو هم اونکړي نو الله ﷻ به داسې کس په سخت عذاب او مصيبت کې ګرفتار کړي.

---

(١) سنن ابي داؤد ه كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ كَرَاهِيَةِ تَرْكِ الْغَزْوِ رقم الحديث ٢٥٠٣ قال الالباني: حسنٌ. سنن ابن ماجة كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ التَّغْلِيظِ فِي تَرْكِ الْجِهَادِ رقم الحديث ٢٧٦٢، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٧٧٤٧، السنن الصغير للبيهقي رقم الحديث ٢٧٨٥، السنن الكبرى للبيهقي رقم ١٧٩٤٢، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ٣٨٢٠ (٢٣)، صحيح الترغيب والترهيب ١٣٩١ (٣) الترهيب من ان يموت الانسان ولم يغز ولم ينو الغزو.

(٢) (أَصَابَهُ اللهُ بِقَارِعَةٍ): أَيْ بِشِدَّةٍ مِنَ الشَّدَائِدِ، وَالْبَاءُ فِيهِ لِلتَّعْدِيَةِ، أَيْ: بِبَلِيَّةٍ تَقْرَعُهُ وَتُهْلِكُهُ وَتَصْرَعُهُ وَتَدُقُّهُ، وَلِذَا سُمِّيَتِ الْقِيَامَةُ بِالْقَارِعَةِ. مرقاة المفاتيح ٢٤٧٧/٦ كتاب الجهاد الفصل الثاني.

# د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا را اُووته چې جهاد د اسلام اَهم رُکن دی ، ددې درې ( ۳ ) اَقسام دي ، يو قِسم په کې جهاد بِالمال هم دی ، که يو کس په خپله جهاد ته نشي تللی نو بيا په کار ده چې د مجاهدينو سره مدد اوکړي ، د هغوی د پاره اَسلحه او نور ضروري سامان واخلي ، ځکه په قرآن کريم او احاديثو کې ددې ډير فضيلت بيان شوی :

په جهاد کې يو روپۍ خرچ کولو په عِوض کې انسان ته يو په اُووه سوه ( ۷۰۰ ) چَنده اَجر ملاويږي ، په ځنې احاديثو کې د يو روپۍ په عِوض کې يو په اُووه لکه ( ۷۰۰۰۰۰ ) چَنده ثواب هم راغلی ، او په ځنې احاديثو کې بې حِسابه اجر ذکر شوی .

په جان و مال سره جهاد کولو ته بهترين تجارت ويل شوی ، انسان ته به ددې پوره اَجر ورکولې شي .

څوک چې په جهاد کې د يوې نَوعې جوړه شيان ورکړي ( لکه دوه اُوښان ، يا دوه اَسونه ، يا دوه دِرهمه ، يا دوه دِيناره ) نو داسې کس د جنت مستحق کرځي ، داسې کس ته به د قيامت په ورځ د جنت د هرې دروازې نه دا آواز کولې شي چې : اې فلانکيه ! ته په دې دروازه باندې جنت ته داخل شه .

څوک چې د مجاهدينو سره يا د دوی کورنۍ سره مدد اوکړي نو داسې کس ته هم د جهاد ثواب ملاويږي ، داسې کس به د قيامت په هغه سخته ورځ باندې د عرش د سيوري لاندې وي ، مجاهدينو سره مدد کول د نفلي حج نه بهتر دی .

دغه وجه ده چې صحابه کرامو او زمونږ نورو اَسلافو به د خپل مال اکثره حصه په جهاد کې خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره خرچ کوله ، تر دې چې زَنانهٔ د جهاد په چانده کې د خپل سَر ويښتان ورکړي ددې د پاره چې مجاهدين ورنه خپلو آسونو د پاره واګې جوړې کړي .

زمونږ اسلافو به په هره موقع باندې د خپل ځان په نسبت بل ته ترجيح ورکوله ، حتّی چې که د زنکدن په حالت کې به ورته د اُوبو سخت ضرورت وُ خو بيا به يې هم د ځان نه مخکې بل مجاهد ته ورليږلې .

او کله چې په جهاد کې د مال خرچ کولو ضرورت راشي او صاحبِ استطاعت خلق بیا هم خپل مال په کې خرچ نکړي نو دداسې خلقو د پاره په قرآن کریم او احادیثو کې سخت وعید او توبیخ ذکر شوی ، داسې خلق په خپل لاس باندې خپل ځان په هلاکت کې غورځوي ، او داسې خلق به په سخت مصیبت کې گرفتاریږي .

## دُعا

الله ربّ العزت دې مونږ ټولو ته دا توفیق راکړي چې خاص د هغه د رَضا د پاره په جان و مال سره جهاد اوکړو ، د مجاهدینو او د هغوی کورنۍ سره هر قِسمه مدد اوکړو .

آمِیْن یَارَبَّ العَالَمِیْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِیْنَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ ﴾ الزمر آیة ۳.

# جهاد خاص د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رَضا د پاره کول او مالِ غنیمت کښې د خِیانت نه ځان ساتل

تالیف

اَبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُ الْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# جهاد د الله جَلَّ جَلَالُهُ د رضا د پاره کول . او خيانت نه ځان ساتل

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نَبِيَّ بَعْدَهُ ، وَلَا رَسُوْلَ بَعْدَهُ ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ أَجْمَعِيْنَ ، وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهُ وَتَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ،

أَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ : ﴿ أَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ ﴾ .(۱)

وَقَالَ تَعَالٰى : ﴿ وَمَنْ يَّغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ﴾ .(۲)

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ . (۳)

وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : إِنَّ رِجَالًا يَتَخَوَّضُوْنَ فِيْ مَالِ اللّٰهِ بِغَيْرِ حَقٍّ فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ .(۴)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ .

---

(۱) الزمر آية ۳ .

وَقَالَ تَعَالٰى : ﴿ وَمَا أُمِرُوْا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ﴾ . البينة آية ۵ .

(۲) آل عمران آية ۱۶۱ .

(۳) پوره حديث داسي دى : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوٰى . فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلٰى دُنْيَا يُصِيْبُهَا ، أَوْ إِلٰى امْرَأَةٍ يَنْكِحُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلٰى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ . صحيح البخاري بَابُ بَدْءِ الْوَحْيِ كَيْفَ كَانَ بَدْءُ الْوَحْيِ إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ رقم الحديث ۱ ، صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ قَوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ رقم الحديث ۱۵۵ ( ۱۹۰۷ ) ، سنن ابي داؤد كِتَابُ الطَّلَاقِ بَابُ فِيْمَا عُنِيَ بِهٖ الطَّلَاقُ وَالنِّيَّاتُ رقم الحديث ۲۲۰۱ .

(۴) صحيح البخاري كِتَابُ فَرْضِ الْخُمُسِ بَابُ قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى : {فَأَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُوْلِ} رقم الحديث ۳۱۱۸ ، مشكوة المصابيح رقم الحديث ۳۷۴۶ (۱) كتاب الإمارة والقضاء باب رزق الولاة و هداياهم الفصل الاول . و رقم الحديث ۳۹۹۵ (۱۱) كتاب الجهاد بَابُ قِسْمَةِ الْغَنَائِمِ وَالْغُلُوْلِ فِيْهَا الفصل الأول ، مسند احمد رقم الحديث ۲۷۳۱۸.

# تمهيدي خبره

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! جهاد د اسلام اَهم حُکم دی ، په قرآن کريم او احاديثو مبارکهؤ کې د جهاد ډير فضائل ، فوائد او حِکمتونه بيان شوي ، خو دا فضائل به هغه چاته ملاويږي چې هغه خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره جهاد اوکړي ، د رِيا ، شهرت او ځان ښودنې د پاره جهاد اونکړي ، همدارنګې په جهاد کې په مالِ غنيمت کې خيانت هم اونکړي .

ځکه د چا مقصد چې په جهاد کې رِيا او شُهرت وي ، يا په مالِ غنيمت کې خيانت اوکړي نو داسې کس ته د جهاد هيڅ ثواب نه ملاويږي ، بلکه اُلټه به د رِيا او خيانت په وجه ګناهګار وي .

نن به اِن شاء الله زه تاسو ته په دې موضوع باندې خبره کوم چې جهاد خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره په کار دی ، او په مالِ غنيمت کې د خيانت نه ځان ساتل په کار دي .

## هغه عمل مقبول دی کوم چې خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره شوې وي

د انسان په نېکو اعمالو کې صرف هغه عمل مقبول دی کوم چې خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره شوې وي ، ربِ کريم فرمايي : ﴿ أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ ﴾ .(۱)

ترجمه : خبردار ، عبادت خالصه د الله د پاره دی .

## د اعمالو ثواب په نيت باندې موقوف دی

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ . (۲)

---

(۱) الزمر آية ۳ . / وَقَالَ تَعَالَى : ﴿ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ﴾ . البينة آية ۵ .

(۲) صحيح البخاري بَابُ بَدْءِ الْوَحْيِ كَيْفَ كَانَ بَدْءُ الْوَحْيِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ رقم الحديث ۱ . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ قَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ رقم الحديث ۱۵۵ (۱۹۰۷) ، سنن ابی داؤد كِتَابُ الطَّلَاقِ بَابُ فِيمَا عُنِيَ بِهِ الطَّلَاقُ وَالنِّيَّاتُ . رقم الحديث ۲۲۰۱ .

بيشكه د اعمالو ( د ثواب ) دارو مدار په نيتونو باندې ( موقوف ) دى.

لهذا په كوم عمل كې چې نيت صحيح وي صرف په هغې باندې به انسان ته ثواب ملاويږي ، او په كوم عمل كې چې نيت خالص د الله ﷻ رضا نه وي بلكه ريا په كې وي نو په دا سې عمل باندې انسان ته هيڅ ثواب نه ملاويږي .

## چې د دين د سَربُلندۍ د پاره جهاد كوي نو دا د الله ﷻ په لار كې دى

څوک چې ددې د پاره جهاد كوي چې د الله ﷻ دِين اُوچت ( سَرلوړې ) شي نو دا كس د الله ﷻ په لار كې دى ، داسې جهاد مقبول دى.

په بخاري شريف او مسلم شريف كې دا حديث ذكر دى : يو اعرابي نبي عليه السلام ته راغى او وې ويل : اې د الله رسوله ! يو كس جهاد د مالِ غنيمت حاصلولو د پاره كوي ، بل كس جهاد د خپل شُهرت د پاره كوي ، بل كس جهاد ددې د پاره كوي چې خلقو ته دده شجاعت ښكاره شي نو په دوى كې كوم كس د الله ﷻ په لار كې دى ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : مَنْ قَاتَلَ لِتَكُوْنَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ .

څوک چې ددې د پاره جهاد كوي چې د الله ﷻ دِين اُوچت ( سَرلوړې ) شي نو دا كس د الله ﷻ په لار كې دى. (۱)

## چې څوک په جهاد سره خالص د دُنيوي سامان حاصلولو اِراده لري نو هغه ته د جهاد ثواب نه ملاويږي

دا بوداؤد شريف حديث دى ، حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي چې يو سړي نبي عليه السلام

---

(۱) عَنْ أَبِيْ مُوْسٰى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . قَالَ . جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقَالَ : اَلرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلْمَغْنَمِ. وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلذِّكْرِ. وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُرٰى مَكَانُهُ . فَمَنْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ؟ قَالَ : « مَنْ قَاتَلَ لِتَكُوْنَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ » . صحيح البخاري رقم الحديث ۲۸۱۰ كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ مَنْ قَاتَلَ لِتَكُوْنَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا ، و رقم الحديث ۳۱۲۶ كِتَابُ فَرْضِ الْخُمُسِ بَابُ مَنْ قَاتَلَ لِلْمَغْنَمِ . هَلْ يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِهِ ؟ . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ مَنْ قَاتَلَ لِتَكُوْنَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ رقم الحديث ۱۴۹ ( ۱۹۰۴ ) .

ته عرض اوكړو :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! رَجُلٌ يُرِيْدُ الجِهَادَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، وَهُوَ يَبْتَغِيْ عَرَضًا مِنْ عَرَضِ الدُّنْيَا .

اې د الله رسوله ! يو كس د الله ﷻ په لار كې د جهاد كولو اِراده لري حالانكه هغه په دې جهاد سره دُنيوي مال و آسباب هم طلب كوي ( نو دده څه حُكم دى ؟ )

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل :

لَا أَجْرَ لَهُ . دده د پاره د جهاد هيڅ اَجر نشته .

خلقو ته دا خبره ډيره ګرانه ( او سخته ) معلومه شوه ، دې سړي ته يې وويل چې ته رسولُ الله ﷺ ته واپس ورشه ، د هغه نه دا پوښتنه بيا اوكړه ، كيدې شي تا هغه په دې سوال باندې پوره نه وي پوهه كړى .

نو دا سړى راغى او دوباره يې د نبي عليه السلام نه همدا پوښتنه اوكړه :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! رَجُلٌ يُرِيْدُ الجِهَادَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، وَهُوَ يَبْتَغِيْ عَرَضًا مِنْ عَرَضِ الدُّنْيَا .

اې د الله رسوله ! يو كس د الله ﷻ په لار كې د جهاد كولو اِراده لري حالانكه هغه په دې جهاد سره دُنيوي مال و آسباب هم طلب كوي ( نو دده څه حُكم دى ؟ )

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل :

لَا أَجْرَ لَهُ . دده د پاره ( ددې جهاد ) هيڅ اَجر نشته .

خلقو بيا دې سړي ته وويل چې ته لاړ شه او د نبي ﷺ نه په دريم ځل دا پوښتنه اوكړه .

نو دا سړى راغى او په دريم ځل يې د پيغمبر عليه السلام نه همدغه پوښتنه اوكړه ، نبي عليه السلام په دريم ځل هم همدا جواب وركړو چې :

لَا أَجْرَ لَهُ . ده ته ددې جهاد هيڅ اَجر نشته . (١)

---

(١) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه ، أَنَّ رَجُلًا قَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! رَجُلٌ يُرِيْدُ الجِهَادَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، وَهُوَ يَبْتَغِيْ عَرَضًا مِنْ عَرَضِ الدُّنْيَا . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَا أَجْرَ لَهُ » . فَأَعْظَمَ ذٰلِكَ النَّاسُ ، وَقَالُوْا لِلرَّجُلِ : عُدْ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَعَلَّكَ لَمْ تُفَهِّمْهُ . فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! رَجُلٌ يُرِيْدُ الجِهَادَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، وَهُوَ يَبْتَغِيْ عَرَضًا مِنْ عَرَضِ الدُّنْيَا . فَقَالَ : « لَا أَجْرَ لَهُ » . فَقَالُوْا : لِلرَّجُلِ عُدْ ←←←←←←←←←←

همدا مضمون په يو بل حديث کې هم ذکر دی چې څوک د ريا او شهرت د پاره جهاد کوي نو هغه ته هيڅ اَجر نه ملاويږي. (۱)

ډير داسې واقعات شته چې په هغې کې دا ذکر دي چې مجاهد په جهاد کې خالص د څه دُنيوي څيز حاصلولو نيت کړې وي نو بيا ورته په خوب کې تَنبيه ورکړې شوې ده. او ددې نيت نه منع کړې شوې دی. (۲)

---

←←← لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ لَهُ الثَّالِثَةَ. فَقَالَ لَهُ: « لَا أَجْرَ لَهُ ». سنن ابي داؤد كتاب الجِهَادِ بَابٌ فِي مَنْ يَغْزُو وَيَلْتَمِسُ الدُّنْيَا رقم الحديث ۲۵۱۶ ، قال الالباني: هذا حديث حسنٌ. صحيح ابن حبان محقق رقم الحديث ۴٦۳۷ ، كنزالعمال رقم الحديث ۱۱۳٦۸ ، الجهاد لابن المبارک رقم الحديث ۲۲۷ ، مسند احمد رقم الحديث ۷۹۰۰ ، ورقم الحديث ۸۷۹۳ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۴۳٦ وقال الحاكم هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه الذهبي ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۸۵۵۱ ، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۸۴۵ (۵۸).

(۱) عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رضي الله عنه عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: اَلْغَزْوُ غَزْوَانِ: فَأَمَّا مَنِ ابْتَغَى وَجْهَ اللهِ. وَأَطَاعَ الْإِمَامَ. وَأَنْفَقَ الْكَرِيْمَةَ. وَيَاسَرَ الشَّرِيْكَ. وَاجْتَنَبَ الْفَسَادَ فَإِنَّ نَوْمَهُ وَنُبْهَهُ أَجْرٌ كُلُّهُ. وَأَمَّا مَنْ غَزَا فَخْرًا وَرِيَاءً وَسُمْعَةً. وَعَصَى الْإِمَامَ. وَأَفْسَدَ فِي الْأَرْضِ فَإِنَّهُ لَمْ يَرْجِعْ بِالْكَفَافِ. سنن ابي داؤد كتاب الجِهَادِ بَابٌ فِي مَنْ يَغْزُو وَيَلْتَمِسُ الدُّنْيَا رقم الحديث ۲۵۱۵ ، قال الالباني: حسنٌ. المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۴۳۵ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه الذهبي. مسند احمد رقم الحديث ۲۲۰۴۲ ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۸۴٦ (۵۹) ، سنن النسائي رقم الحديث ۳۱۸۸.

(۲) امام غزالي رحمه الله په " إحياء العلوم " کې دا واقعه رانقل کړی: ويروى عن بعضهم قال غزوتُ في البحر فعرض بعضنا مخلاة. فقلتُ أشتريها فأنتفعُ بها في غزوي. فإذا دخلت مدينة كذا بعتها فربحت فيها فاشتريتها. فرأيتُ تلك الليلة في النوم كأن شخصين قد نزلا من السماء. فقال أحدهما لصاحبه اكتب الغزاة فأملي عليه خرج فلان متنزهًا وفلان مرائياً وفلان تاجراً وفلان في سبيل الله. ثم نظر إليّ وقال اكتب فلان خرج تاجرًا. فقلتُ الله الله في أمري ما خرجت أتجر وما معي تجارة أتجر فيها ما خرجت إلا للغزو. فقال يا شيخ! قد اشتريتَ أمس مخلاة تريد أن تربح فيها. فبكيتُ وقلتُ لا تكتبوني تاجرًا. فنظر إلى صاحبه وقال ما ترى؟ فقال اكتب: خرج فلانٌ غازيًا إلا أنه اشترى في طريقه مخلاة ليربح فيها حتى يحكم الله عز وجل فيه بما يرى. احياء علوم الدين ج ۴ ص ۳۷۸ كتاب النية والإخلاص والصدق الباب الثاني في الإخلاص وفضيلته وحقيقته ودرجاته طبع دار المعرفة بيروت

# شهرت حاصلولو د پاره جهاد کوونکي ته هيڅ اجر نه ملاويږي

۱ . د نسائي شريف حديث دی ، حضرت ابو امامة باهلي رضي الله عنه فرمايي چې يو کس نبي عليه السلام ته راغی ، او دا پوښتنه يې اوکړه :

أَرَأَيْتَ رَجُلًا غَزَا يَلْتَمِسُ الْأَجْرَ وَالذِّكْرَ، مَالَهُ؟

ماته د هغه کس په باره کې خبر راکړه چې هغه جهاد کوي او په دې جهاد سره اَجر او شهرت طلب کوي نو دده د پاره څه دي ؟

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته اوفرمايل : لَا شَيْءَ لَهُ . دده د پاره هيڅ اَجر نشته .

دې سړي څلور ځله پوښتنه درې پیرې اوکړه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم به ورته همدا جواب ورکول : لَا شَيْءَ لَهُ . دده د پاره هيڅ اَجر نشته .

بيا نبي عليه السلام اوفرمايل : إِنَّ اللهَ لَا يَقْبَلُ مِنَ الْعَمَلِ إِلَّا مَا كَانَ لَهُ خَالِصًا، وَابْتُغِيَ بِهِ وَجْهُهُ .

بیشکه الله جل جلاله صرف هغه عمل قبلوي کوم چې خالص د هغه د رضا د پاره شوې وي .(۱)

۲ . همدا سې پوښتنه د حضرت عبادة بن صامت رضي الله عنه نه هم يو کس کړې وه ، او هغه هم ورته همدا جواب ورکړې وُ .(۲)

(۱) عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ رضي الله عنه . قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقَالَ : أَرَأَيْتَ رَجُلًا غَزَا يَلْتَمِسُ الْأَجْرَ وَالذِّكْرَ . مَالَهُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَا شَيْءَ لَهُ » فَأَعَادَهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ، يَقُولُ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَا شَيْءَ لَهُ » ثُمَّ قَالَ : « إِنَّ اللهَ لَا يَقْبَلُ مِنَ الْعَمَلِ إِلَّا مَا كَانَ لَهُ خَالِصًا ، وَابْتُغِيَ بِهِ وَجْهُهُ » . سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ مَنْ غَزَا يَلْتَمِسُ الْأَجْرَ وَالذِّكْرَ رقم الحديث ۳۱۴۰ قال الالباني: حسن صحيح . صحيح الترهيب والترهيب رقم الحديث ۱۳۳۱ (۴) الترغيب في اخلاص النية في الجهاد ... اسد الغابة ج۴ ص ۲۱۱ لاحق بن حميرة الباهلي ، قال الحافظ في الفتح ۶/۳۵ اسناده جيد ، و حسنه الحافظ العراقي في تخريج الاحياء ، معرفة الصحابة لابي نعيم رقم الحديث ۶۵۸۷ ، المعجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۴۵۸ رقم الحديث ۲۰۷۱ .

(۲) قَالَ رَجُلٌ لِعُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضي الله عنه : أُقَاتِلُ بِسَيْفِي فِي سَبِيلِ اللهِ أُرِيدُ بِهِ وَجْهَ اللهِ تَعَالَى وَمَحْمَدَةَ النَّاسِ . قَالَ : لَا شَيْءَ لَكَ . فَسَأَلَهُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ . كُلُّ ذٰلِكَ يَقُولُ : لَا شَيْءَ لَكَ . ثُمَّ قَالَ فِي الثَّالِثَةِ : إِنَّ اللهَ يَقُولُ : أَنَا أَغْنَى الْأَغْنِيَاءِ عَنِ الشِّرْكِ ... الحديث . نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم صلى الله عليه وسلم ج ۱۰ ص ۴۵۶۳ الرياء .

۳ . د حضرت عُمر رضي الله عنه نه هم نقل دي چې څوک د ريا او شهرت د پاره جهاد کوي هغه ته به اَجر نه ملاويږي ، او کوم کس چې په جهاد کې د الله ﷻ د رضا د پاره شهيد شي نو صحيح شهيد همدا دی . (۱)

او په جهاد کې د شهادت په وجه هغه انسان دجنت مستحق کرځي چې هغه خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره جهاد کړې وي او شهيد شوې وي . (۲)

## شهرت او رِيا کارۍ د پاره جهاد کوونکی به په اوّلني درې کسانو کې پَرمخ جهنم ته غورځولې شي

کوم کس چې جهاد صرف د خپل شجاعت ښکاره کولو او رِيا کارۍ د پاره کوي تر دې چې شهيد هم شي خو بيا به هم ده ته ددې اَجر نه ملاويږي ، بلکه جهنم ته چې د ټولو نه مخکې کوم کسان پَرمخ غورځولې شي په هغې کې به يو دغه کس هم وي کوم چې صرف د

(۱) پوره حديث داسې دی : عَنِ الزُّهْرِيِّ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رضي الله عنه خَرَجَ عَلَى مَجْلِسٍ فِي مَسْجِدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَهُمْ يَتَذَاكَرُوْنَ سَرِيَّةً هَلَكَتْ فِي سَبِيْلِ اللهِ ، فَيَقُوْلُ بَعْضُهُمْ : هُمْ عُمَّالُ اللهِ ، هَلَكُوْا فِي سَبِيْلِهِ ، فَقَدْ وَجَبَ أَوْ وَقَعَ أَجْرُهُمْ عَلَى اللهِ ، وَيَقُوْلُ قَائِلٌ : اَللهُ أَعْلَمُ بِهِمْ ، لَهُمْ مَا احْتَسَبُوْا . فَلَمَّا رَآهُمْ عُمَرُ رضي الله عنه قَالَ لَهُمْ : مَا كُنْتُمْ تَتَحَدَّثُوْنَ ؟ قَالُوْا : كُنَّا نَتَحَدَّثُ فِي هٰذِهِ السَّرِيَّةِ ، فَيَقُوْلُ قَائِلٌ كَذَا ، وَيَقُوْلُ قَائِلٌ كَذَا ، فَقَالَ عُمَرُ رضي الله عنه : وَاللهِ إِنَّ مِنَ النَّاسِ نَاسًا يُقَاتِلُوْنَ ابْتِغَاءَ الدُّنْيَا ، وَ إِنَّ مِنَ النَّاسِ نَاسًا يُقَاتِلُوْنَ رِيَاءً وَسُمْعَةً ، وَ إِنَّ مِنَ النَّاسِ نَاسًا يُقَاتِلُوْنَ إِنْ دَهَمَهُمُ الْقِتَالُ ، وَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ إِلَّا إِيَّاهُ ، وَ إِنَّ مِنَ النَّاسِ نَاسًا يُقَاتِلُوْنَ ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللهِ ، أُولٰئِكَ الشُّهَدَاءُ ، وَكُلُّ امْرِئٍ مِنْهُمْ يُبْعَثُ عَلَى الَّذِيْ يَمُوْتُ عَلَيْهِ ، وَ إِنَّهَا وَاللهِ مَا تَدْرِيْ نَفْسٌ مَا هُوَ مَفْعُوْلٌ بِهَا ، لَيْسَ هٰذَا الرَّجُلُ الَّذِيْ قَدْ تَبَيَّنَ لَنَا أَنَّهُ قَدْ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ . الجهاد لابن المبارک ج۱ ص۳۳ رقم الحديث ۱۰ ، و رواه الحاکم في المستدرک ۲ /۱۰۲ الجهاد ، مشارع الاشواق الى مصارع العشاق ج۲ ص۶۰۳ .

(۲) عَنْ مُرَّةَ قَالَ : ذَكَرُوْا عِنْدَ عَبْدِ اللهِ قَوْمًا قُتِلُوْا فِي سَبِيْلِ اللهِ ، فَقَالَ : إِنَّهُ لَيْسَ عَلَى مَا تَذْهَبُوْنَ وَتَرَوْنَ أَنَّهُ إِذَا الْتَقَى الزَّحْفَانِ نَزَلَتِ الْمَلَائِكَةُ ، فَتَكْتُبُ النَّاسَ عَلَى مَنَازِلِهِمْ ، فُلَانٌ يُقَاتِلُ لِلدُّنْيَا ، وَفُلَانٌ يُقَاتِلُ لِلْمُلْكِ ، وَفُلَانٌ يُقَاتِلُ لِلذِّكْرِ ، وَنَحْوُ هٰذَا ، وَفُلَانٌ يُقَاتِلُ يُرِيْدُ وَجْهَ اللهِ ، فَمَنْ قُتِلَ يُرِيْدُ وَجْهَ اللهِ فَذٰلِكَ فِي الْجَنَّةِ . الجهاد لابن المبارک ج۱ ص۳۲ رقم الحديث ۹ .

رِيا کارۍ او ځان خودنې د پاره جهاد کړې وي. ددې په باره کې درته دوه احاديث رانقل کوم:

۱. د مسلم شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

د قيامت په ورځ د ټولو نه مخکې چې د کومو خلقو خلاف جهنم ته د تللو فيصله کولې شي په هغې کې به اولنې هغه کس وي چې (په ميدانِ جنګ کې) شهيد شوې وي.

دا شهيد به د الله ﷻ د وړاندې راوستې شي، الله تعالی به ده ته د هر هر نعمت اظهار اوفرمايي (چې ما تاته دا دا نعمتونه درکړي وو)، هغه به هر نعمت اوپيژني (او ددې اقرار به اوکړي). بيا به الله تعالی ورته اوفرمايي:

فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا؟ تا په دې نعمتونو کې څه څه کړي وو؟ (او د کومو مقاصدو د پاره دې استعمال کړي وو؟)

دا به ورته اووايي: (ما آخري عمل دا کړې ؤ چې) ما ستاد رَضا د پاره جهاد اوکړو تر دې پورې چې زه شهيد شوم (او خپل قيمتي رُوح مې ستا په لار کې قُرباني کړو).
الله تعالی به ورته اوفرمايي:

كَذَبْتَ، وَلٰكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ: جَرِيْءٌ، فَقَدْ قِيْلَ.

تا دروغ ووېل، تا خو ددې د پاره جهاد کړې ؤ چې تاته بَهادر ووېلې شي، او دا تاته په دُنيا کې ويل شوي وو (لهذا ستا مقصد حاصل شوې دی).

بيا به د الله ﷻ د طرفه ده په باره کې حُکم اوکړې شي، دا به پَرمخې رابښکلې شي او جهنم ته به اُوغورځولې شي.

دويم به هغه کس وي چې هغه عِلم حاصل کړې وي، بيا يې بَل ته خودلې وي، او قرآن کريم يې هم لوستلې وي. دا به هم د الله ﷻ د وړاندې پيش کړې شي، الله تعالی به ده ته هم خپل ورکړي نعمتونه وريا د کړي، دا به هم د هغې اِقرار اوکړي، بيا به ورنه پوښتنه اوکړي:

فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا؟ تا په دې نِعمتونو کې څه څه کارونه کړي وو؟ (او څنګه دې استعمال کړي وو؟)

دا به ورته اووايي:

تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَأْتُ فِيْكَ الْقُرْآنَ .

ما عِلم حاصل کړې وُ ، بيا مې نورو ته اُوخود ، او خالصه ستا د رَضا د پاره مې قرآن مجيد لوستلې (او حاصل کړې) وُ .

الله تعالى به ورته اوفرمايي :

كَذَبْتَ . وَلٰكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ : عَالِمٌ ، وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ : هُوَ قَارِئٌ ، فَقَدْ قِيْلَ .

تا دروغ وويل ، تا خو عِلم ددې د پاره زده کړې وُ چې خلق درته عالِم اووايي ، او قرآن کريم دې ددې د پاره لوستلې ( او حاصل کړې ) وُ چې خلق درته قاري اووايي ، او دا تاته (په دُنيا کې ) ويل شوي (لهذا ستا مقصد حاصل شوې دی) .

بيا به د الله ﷻ د طرفه دده په باره کې هم حُکم اوشي ، دا به هم پَرمخې راښکلې جهنم ته اوغورځولې شي .

دريم به هغه کس وي چې په هغه باندې الله ﷻ په دُنيا کې فراخي راوستې وه ، او هر قِسم مال يې ورکړې وُ ، دا به هم د الله ﷻ د وړاندې راوستې شي ، الله ﷻ به ده ته هم خپل نِعمتونه ورياد کړي (چې ما تاته دا دا نِعمتونه درکړي وو) ، دا به د ټولو اِقرار وکړي ، بيا به الله ﷻ ورته اوفرمايي :

فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا ؟ تا په دې نِعمتونو کې څه کړي وو ؟ ( او څنګه دې استعمال کړي وو ؟)

دا به ورته اووايي :

مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيْلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيْهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ فِيْهَا لَكَ .

اې الله ! په کومو ځايونو کې چې مال خرچ کول تاته خوښ وو په هغه ټولو ځايونو کې ما خپل مال صرف ستا د رَضا د پاره خرچ کړې وُ .

الله تعالى به ورته اوفرمايي :

كَذَبْتَ ، وَلٰكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ : هُوَ جَوَادٌ ، فَقَدْ قِيْلَ .

تا دروغ وويل ، دا کارونه خو تا ددې د پاره کړي وو چې خلق درته سخي ووايي ، او دا (په دُنيا کې ) تاته ويل شوي ( لهذا ستا مقصد هم حاصل شوی ) .

بيا به دده په باره کې حکم اوشي . او دا به هم پرمخې رابنکلې شي . او جهنم ته به
اوغورځولې شي . (۱)

۲. همداسې يو حديث په ترمذي شريف کې هم ذکر دی :

مشهور تابعي " حضرت شُفَيّ الأصبحي رحمه الله " مدينې منوّرې ته راغی نو يو کس يې اوليد چې ډير خلق ورنه ګېر چاپېره راجمع وو ، ده پوښتنه اوکړه :

مَنْ هٰذَا؟ دا کس څوک دی ؟ خلقو ورته وويل : دا حضرت ابو هريرة ﷺ دی .

حضرت شُفَيّ رحمه الله فرمايي چې زه ده ته ورنزدې شوم تر دې پورې چې دده مخې ته کيناستم ، ده خلقو ته احاديث بيانول ، کله چې چپ شو نو ما ورته وويل :

زه د تا نه د فلاني فلاني حق په واسطه دا سوال کوم چې ته به ماته داسې حديث بيانوې چې هغه تا د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه آوريدلې وي ، تا په هغې باندې ځان ښه پوهه کړې وي او ښه درته معلوم وي .

حضرت ابو هريرة ﷺ اوفرمايل :

---

(۱) عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ . قَالَ: تَفَرَّقَ النَّاسُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ . فَقَالَ لَهُ نَاتِلُ أَهْلِ الشَّامِ : أَيُّهَا الشَّيْخُ ! حَدِّثْنَا حَدِيثًا سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قَالَ : نَعَمْ . سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَيْهِ رَجُلٌ اُسْتُشْهِدَ . فَأُتِيَ بِهِ . فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا . قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا ؟ قَالَ : قَاتَلْتُ فِيكَ حَتَّى اسْتُشْهِدْتُ . قَالَ : كَذَبْتَ وَلٰكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ : جَرِيْءٌ . فَقَدْ قِيلَ . ثُمَّ أُمِرَ بِهِ . فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ . وَرَجُلٌ تَعَلَّمَ الْعِلْمَ . وَعَلَّمَهُ وَقَرَأَ الْقُرْآنَ . فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ . فَعَرَفَهَا . قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا ؟ قَالَ : تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ . وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَأْتُ فِيكَ الْقُرْآنَ . قَالَ : كَذَبْتَ . وَلٰكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ : عَالِمٌ . وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ : هُوَ قَارِئٌ . فَقَدْ قِيلَ . ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ . وَرَجُلٌ وَسَّعَ اللهُ عَلَيْهِ . وَأَعْطَاهُ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ كُلِّهِ . فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ . فَعَرَفَهَا . قَالَ : فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا ؟ قَالَ : مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ فِيهَا لَكَ . قَالَ : كَذَبْتَ . وَلٰكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ : هُوَ جَوَادٌ . فَقَدْ قِيلَ . ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ . ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ . صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ مَنْ قَاتَلَ لِلرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ اسْتَحَقَّ النَّارَ رقم الحديث ۱۵۲ (۱۹۰۵) ، و رواه احمد في مسنده ، والنسائي رقم الحديث ۳۱۳۷ مَنْ قَاتَلَ لِيُقَالَ فلانٌ جَرِيْءٌ ، كنز العمال رقم الحديث ۷۴۷۱ .

أَفْعَلُ، لَأُحَدِّثَنَّكَ حَدِيثًا حَدَّثَنِيهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم عَقَلْتُهُ وَعَلِمْتُهُ

زه به تاته خامخا داسې حديث بيانوم چې هغه ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم بيان کړې دی ، زه وربانديې ښه پوه شوې يم او ښه راته معلوم دی .

دې نه پس حضرت ابوهريرة رضي الله عنه په ژړا شو ، يوه چغه يې اووهله او بې هوشه شو . مونږ انتظار اوکړو ، بيا حضرت ابوهرة رضي الله عنه په هوش کې راغی او وې فرمايل :

لَأُحَدِّثَنَّكَ حَدِيثًا حَدَّثَنِيهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هٰذَا الْبَيْتِ مَا مَعَنَا أَحَدٌ غَيْرِي وَغَيْرُهُ .

زه به تاته خامخا داسې يو حديث بيانوم چې هغه ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې کور کې بيان کړی ، هاغه وخت د مونږ سره زما او د نبي عليه السلام نه علاوه بل هيڅوک نه ؤ .

حضرت ابوهريرة رضي الله عنه ( دا وويل ) بيا په ژړا شو ، داسې سخت بې هوشه شو چې قريبُ الموت شو . کله چې په هوش کې راغی نو خپل مخ يې اُوچ ( او صفا ) کړو او وې فرمايل :

أَفْعَلُ، لَأُحَدِّثَنَّكَ حَدِيثًا حَدَّثَنِيهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا وَهُوَ فِي هٰذَا الْبَيْتِ مَا مَعَنَا أَحَدٌ غَيْرِي وَغَيْرُهُ .

زه به تاته خامخا داسې حديث بيانوم چې هغه ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم بيان کړې دی ، زه او هغه په دې کور کې موجود وو ، د مونږ سره د ما او هغه نه علاوه بل هيڅوک نه ؤ .

حضرت ابوهريرة رضي الله عنه بيا چغه اُووهله ، په ژړا شو ، سخت بې هوشه شو ، بيا پَرمخې په زمکه رااُوغورځيد .

حضرت شُفَیّ رحمه الله فرمايي چې ما ډير وخت حضرت ابوهريرة رضي الله عنه نيولې ؤ ، ورته ناست ووم ، بيا کله چې په هوش کې راغی نو راته وې فرمايل :

ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم دا حديث بيان کړې دی چې کله الله تعالى د قيامت په ورځ د بندګانو په مينځ کې د فيصلې د پاره توَجّه اوفرمايي په دې وخت کې به هر اُمت د سختې يَرې د وجې نه په زَنګونانو ( ګونډو ) باندې پريوتې وي نو د ټولو نه اول به درې

کسان را اُوبللې شي :

يو هغه کس چې قرآن کريم يې ياد کړې وي ( يعنی د قرآن کريم حافِظ ) . دويم هغه کس چې د الله تعالی په لار کې شهيد شوې وي ، او دريم مالدار کس .

( د ټولو نه اول ) الله تعالی به قاري ته اوفرمايي :

أَلَمْ أُعَلِّمْكَ مَا أَنْزَلْتُ عَلَى رَسُولِي ؟

آيا ما تاته هغه قرآن کريم نهٔ زده کړی کوم چې ما په خپل رسول باندې نازل کړې ؤ ؟

قاري به ورته اووايي : بَلَى يَا رَبِّ . آو ، اې ربه ( تا راته زده کړې ؤ ) .

الله تعالی به ورته اوفرمايي : تا چې څه زده کړي وو په هغې دې څومره عمل کړې ؤ ؟

قاري به ورته اووايي : ما به شپه او ورځ د دې تلاوت کولو .

الله ﷻ به ورته اوفرمايي : كَذَبْتَ . تا دروغ وويل .

فرښتې به هم ورته ( په يو آواز سره ) ووايي : كَذَبْتَ . تا دروغ وويل .

الله تعالی به ورته اوفرمايي : بَلْ أَرَدْتَ أَنْ يُقَالَ : " إِنَّ فُلَانًا قَارِئٌ " فَقَدْ قِيلَ ذَاكَ .

بلکې ستا ( د قرآن کريم يادولو نه ) اِراده دا وه چې خلق ( ستا په باره کې ) دا اُووايي چې " فلانکې قاري دی " ، او دا تاته په دُنيا کې ويل شوي دي .

بيا به مالدار کس راوستې شي ، الله تعالی به ورته اوفرمايي :

أَلَمْ أُوَسِّعْ عَلَيْكَ حَتَّى لَمْ أَدَعْكَ تَحْتَاجُ إِلَى أَحَدٍ ؟

آيا ما په تا باندې د مال دومره فراخي نه وه راوستې چې ته ما په دُنيا کې هيچا ته نه وې محتاج کړی ؟

دا به ورته اووايي : بَلَى يَا رَبِّ . آو ، اې ربه ( تا ماته ډير مال راکړې ؤ ) .

الله تعالی به ورته اوفرمايي : فَمَاذَا عَمِلْتَ فِيمَا آتَيْتُكَ ؟

ما چې تاته کوم مال درکړې ؤ تا په هغې کې څه کارونه کړي وو ؟

دا به ورته ووايي : ما په کې صِله رحمي کوله او صدقات مې ورکول .

الله تعالی به ورته اوفرمايي : كَذَبْتَ . تا دروغ وويل .

فرښتې به هم ورته اُووايي : تا دروغ وويل.

الله ﷻ به ورته اوفرمايي بَلْ أَرَدْتَ أَنْ يُقَالَ "فُلَانٌ جَوَادٌ" فَقَدْ قِيلَ ذَاكَ

بلکې ستا اِراده دا وه چې ستا په باره کې دا وويلې شي چې " فلانکې ډېر سخي دی " او دا خبره تاته په دُنيا کې ويل شوې ده.

بيا به شهيد راوستې شي، الله تعالى به ده ته اوفرمايي :

فِيْ مَاذَا قُتِلْتَ؟ ته په څه شي کې وژل شوې وی؟

دا به ورته اووايي : ماته ستا په لار کې دجهاد حُکم کړې شوې وُ نو ما ستا په لار کې جهاد اوکړو تر دې چې زه شهيد شوم.

الله تعالى به ورته اوفرمايي : كَذَبْتَ. تا دروغ وويل.

فرښتې به هم ورته اووايي : تا دروغ وويل.

الله ﷻ به ورته اوفرمايي : بَلْ أَرَدْتَ أَنْ يُقَالَ: "فُلَانٌ جَرِيْءٌ" فَقَدْ قِيلَ ذَاكَ.

بلکې ستا اِراده دا وه چې ستا په باره کې دا وويل شي چې " فلانکې لوي بهادر دی " او دا تاته په دُنيا کې ويل شوي دي.

حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي چې بيا رسول الله ﷺ زما په زَنګونانو باندې لاس مبارک اووهل او وې فرمايل :

يَا أَبَا هُرَيْرَةَ ! أُولٰئِكَ الثَّلَاثَةُ أَوَّلُ خَلْقِ اللهِ تُسَعَّرُ بِهِمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.

اې ابوهريرة ! دا درې ( قاري، مالدار او شهيد ) اولني هغه کسان دي چې د قيامت په ورځ به په دوی باندې د جهنم اُور تيزولې شي.

( يعنى اول به دا درې کسان جهنم ته غورځولې شي کومو چې د رِيا او ځان خودنې د پاره عمل کړې وي، حضرت شُفي رحمه الله چې د حضرت ابوهريرة ﷺ نه دا حديث واوريد نو )

بيا حضرت شُفي رحمه الله حضرت معاويه ﷺ ته ورغی او هغه ته يې د حضرت ابوهريرة ﷺ ددې حديث تذکره اوکړه. حضرت معاويه ﷺ ورته اوفرمايل :

قَدْ فُعِلَ بِهٰؤُلَاءِ هٰذَا فَكَيْفَ بِمَنْ بَقِيَ مِنَ النَّاسِ؟

چې کله ددې درې کسانو ( حافظ قرآن، مالدار او شهيد ) سره دا معامله اوکړې شي نو د باقي خلقو به څه حال وي ؟

بيا حضرت معاويه ﷺ دومره ډير اوژړل چې مونږ دا ګمان اوکړو چې ګني دا وفات کيږي ... بيا حضرت معاويه ﷺ په هوش کې راغی ، خپل مخ يې اُوچ ( او صفا ) کړو او وې فرمايل : الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ رينښتيا ويلي دي ( حضرت معاويه ﷺ دا آيت تلاوت کړو : )

﴿مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَ زِيْنَتَهَا نُوَفِّ اِلَيْهِمْ اَعْمَالَهُمْ فِيْهَا وَهُمْ فِيْهَا لَا يُبْخَسُوْنَ . اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا النَّارُ ۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوْا فِيْهَا وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ .(۱)

ترجمه : څوک چې ( په خپلو نېکو اعمالو سره ) صرف د دُنيا ژوند او ددې ښائست ( لکه مشهورتيا وغيره ) اِراده لري نو مونږ به دوی ته په همدې دُنيا کې د دوی د عملونو پوره بدله ورکړو ، او دوی ته به په دُنيا کې کم نشي ورکولی ، همدا هغه خلق دي چې دوی د پاره په آخرت کې ( د جهنم ) د اُور نه علاوه بل هيڅ نشته ، او دوی چې په دې دُنيا کې کوم نېک کارونه کړي وو هغه ټول بَرباد ( ضائع ) شو ، او دوی چې کوم کارونه کول هغه ټول باطل شول. (۲)

---

(۱) سورة هود آية ۱۵ : ۱٦ .

(۲) عَنْ شُفَيٍّ الْأَصْبَحِيِّ أَنَّهُ دَخَلَ الْمَدِيْنَةَ. فَإِذَا هُوَ بِرَجُلٍ قَدِ اجْتَمَعَ عَلَيْهِ النَّاسُ . فَقَالَ: مَنْ هٰذَا؟ فَقَالُوْا: أَبُوْ هُرَيْرَةَ ﷺ . فَدَنَوْتُ مِنْهُ حَتّٰى قَعَدْتُ بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُوَ يُحَدِّثُ النَّاسَ . فَلَمَّا سَكَتَ وَخَلَا قُلْتُ لَهُ : أَسْأَلُكَ بِحَقٍّ وَبِحَقٍّ لَمَا حَدَّثْتَنِيْ حَدِيْثًا سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَقَلْتَهُ وَعَلِمْتَهُ . فَقَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ ﷺ : أَفْعَلُ. لَأُحَدِّثَنَّكَ حَدِيْثًا حَدَّثَنِيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَقَلْتُهُ وَعَلِمْتُهُ . ثُمَّ نَشَغَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ ﷺ نَشْغَةً فَمَكَثْنَا قَلِيْلًا . ثُمَّ أَفَاقَ . فَقَالَ : لَأُحَدِّثَنَّكَ حَدِيْثًا حَدَّثَنِيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ هٰذَا الْبَيْتِ مَا مَعَنَا أَحَدٌ غَيْرِيْ وَغَيْرُهُ . ثُمَّ نَشَغَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ ﷺ نَشْغَةً شَدِيْدَةً . ثُمَّ أَفَاقَ فَمَسَحَ وَجْهَهُ فَقَالَ : أَفْعَلُ. لَأُحَدِّثَنَّكَ حَدِيْثًا حَدَّثَنِيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا وَهُوَ فِيْ هٰذَا الْبَيْتِ مَا مَعَنَا أَحَدٌ غَيْرِيْ وَغَيْرُهُ . ثُمَّ نَشَغَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ ﷺ نَشْغَةً شَدِيْدَةً . ثُمَّ مَالَ خَارًّا عَلٰى وَجْهِهِ فَأَسْنَدْتُهُ عَلَيَّ طَوِيْلًا ←←←←←←←

**فائده**: په دې حديث کې د درې (۳) أعمالو ذکر اوشو: ۱. په جهاد کې شهيد کيدل. ۲. د عِلم زده کړه بيا بل ته خودل، او د قرآن کريم په لوستلو او حاصلولو کې مشغوله کيدل. ۳. د خېر په کارونو کې خپل مال خرچ کول.

اوس که چيرته دا کارونه خالصه د الله ﷻ د رَضا د پاره وي نو بې د شک و شبهې نه دا د جنت حاصلولو بهترين ذرائع دي، ليکن که چيرته په دې کې د الله ﷻ رَضا نه وي، بلکه

---

←←← ثُمَّ أَفَاقَ فَقَالَ. حَدَّثَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ يَنْزِلُ إِلَى الْعِبَادِ لِيَقْضِيَ بَيْنَهُمْ وَكُلُّ أُمَّةٍ جَاثِيَةٌ. فَأَوَّلُ مَنْ يَدْعُو بِهِ رَجُلٌ جَمَعَ الْقُرْآنَ. وَرَجُلٌ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ. وَرَجُلٌ كَثِيرُ الْمَالِ. فَيَقُولُ اللهُ لِلْقَارِئِ: أَلَمْ أُعَلِّمْكَ مَا أَنْزَلْتُ عَلَى رَسُولِي؟ قَالَ: بَلَى يَا رَبِّ. قَالَ: فَمَاذَا عَمِلْتَ فِيمَا عُلِّمْتَ؟ قَالَ: كُنْتُ أَقُومُ بِهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ؟ فَيَقُولُ اللهُ لَهُ: كَذَبْتَ. وَتَقُولُ لَهُ الْمَلَائِكَةُ: كَذَبْتَ. وَيَقُولُ اللهُ: بَلْ أَرَدْتَ أَنْ يُقَالَ: "إِنَّ فُلَانًا قَارِئٌ" فَقَدْ قِيلَ ذَاكَ. وَيُؤْتَى بِصَاحِبِ الْمَالِ. فَيَقُولُ اللهُ لَهُ: أَلَمْ أُوَسِّعْ عَلَيْكَ حَتَّى لَمْ أَدَعْكَ تَحْتَاجُ إِلَى أَحَدٍ؟ قَالَ: بَلَى يَا رَبِّ. قَالَ: فَمَاذَا عَمِلْتَ فِيمَا آتَيْتُكَ؟ قَالَ: كُنْتُ أَصِلُ الرَّحِمَ وَأَتَصَدَّقُ. فَيَقُولُ اللهُ لَهُ: كَذَبْتَ. وَتَقُولُ لَهُ الْمَلَائِكَةُ: كَذَبْتَ. وَيَقُولُ اللهُ تَعَالَى: بَلْ أَرَدْتَ أَنْ يُقَالَ: "فُلَانٌ جَوَادٌ" فَقَدْ قِيلَ ذَاكَ. وَيُؤْتَى بِالَّذِي قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ. فَيَقُولُ اللهُ لَهُ: فِي مَاذَا قُتِلْتَ؟ فَيَقُولُ: أُمِرْتُ بِالْجِهَادِ فِي سَبِيلِكَ فَقَاتَلْتُ حَتَّى قُتِلْتُ. فَيَقُولُ اللهُ تَعَالَى لَهُ: كَذَبْتَ. وَتَقُولُ لَهُ الْمَلَائِكَةُ: كَذَبْتَ. وَيَقُولُ اللهُ: بَلْ أَرَدْتَ أَنْ يُقَالَ: "فُلَانٌ جَرِيءٌ" فَقَدْ قِيلَ ذَاكَ. ثُمَّ ضَرَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رُكْبَتِي. فَقَالَ: يَا أَبَا هُرَيْرَةَ! أُولَئِكَ الثَّلَاثَةُ أَوَّلُ خَلْقِ اللهِ تُسَعَّرُ بِهِمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. وَقَالَ الْوَلِيدُ أَبُو عُثْمَانَ: فَأَخْبَرَنِي عُقْبَةُ بْنُ مُسْلِمٍ أَنَّ شُفَيًّا هُوَ الَّذِي دَخَلَ عَلَى مُعَاوِيَةَ فَأَخْبَرَهُ بِهَذَا. قَالَ أَبُو عُثْمَانَ: وَحَدَّثَنِي الْعَلَاءُ بْنُ أَبِي حَكِيمٍ أَنَّهُ كَانَ سَيَّافًا لِمُعَاوِيَةَ فَدَخَلَ عَلَيْهِ رَجُلٌ. فَأَخْبَرَهُ بِهَذَا عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه. فَقَالَ مُعَاوِيَةُ: قَدْ فُعِلَ بِهَؤُلَاءِ هَذَا فَكَيْفَ بِمَنْ بَقِيَ مِنَ النَّاسِ؟ ثُمَّ بَكَى مُعَاوِيَةُ بُكَاءً شَدِيدًا حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ هَالِكٌ. وَقُلْنَا قَدْ جَاءَنَا هَذَا الرَّجُلُ بِشَرٍّ. ثُمَّ أَفَاقَ مُعَاوِيَةُ وَمَسَحَ عَنْ وَجْهِهِ، وَقَالَ: صَدَقَ اللهُ وَرَسُولُهُ ﴿مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ. أُولَئِكَ الَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ إِلَّا النَّارُ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا فِيهَا وَبَاطِلٌ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾. سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي الرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ رقم الحديث ۲۳۸۲، قال الالباني: صحيح. صحيح ابن حبان بَابُ الْإِخْلَاصِ وَأَعْمَالِ السِّرِّ ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ مَنْ رَاءَى فِي عَمَلِهِ يَكُونُ فِي الْقِيَامَةِ مِنْ أَوَّلِ مَنْ يَدْخُلُ النَّارَ نَعُوذُ بِاللهِ مِنْهَا رقم الحديث ۴۰۷، السنن الكبرى للنسائي ۱۱۸۲۴، شعب الايمان رقم الحديث ٦٣٨٨، شرح السنة للبغوي رقم ۴۱۴۳، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۲۲ الترهيب من الرياء

رِياء کاري، شهرت، يا څه دُنيوي فائده مقصود وي نو بيا ددې داسې سخته سزا ده چې د قيامت په ورځ به د نورو گناهگارانو نه مخکې د دوی د پاره جهنم ته د تللو فيصله کولې شي، او پر مخې به جهنم ته غورځولې شي. اَللّٰهُمَّ احْفَظْنَا.

ددې حديث د وجې علماء کرامو ليکلي چې په نيکو کارونو کې د اِخلاص او د الله ﷻ د رَضا نيت کول واجب دی، الله تعالى فرمايي:

﴿ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ﴾. (۱)

ترجمه: او دوی ته خو صرف حکم ددې شوې وُ چې دوی دې د الله عبادت کوي. خالِص کوونکي د هغه د پاره بندگي ( يعنی دين دې هم خالِص د هغه مَني، او په اِخلاص دې عبادت کوي ).

همدغه رنگې ددې پاس حديث په رڼا کې د رِياء حُرمت او ددې سخته سزا هم معلومه شوه. (۲)

# په جهاد کې مختلف قِسمه نِيتونه او د هر قِسم حُکم

په جهاد کې خلق مختلف قِسمه نِيتونه کوي، زه به درته د هر قِسم حُکم بيان کړم، ددې د پاره چې تاسو ته معلومه شي چې کوم قِسم نيت معتبر دی او کوم قِسم معتبر ندی؟

د هر قِسمه نيت متعلق په احاديثو کې تفصيلي تذکره شته خو زه به درته صرف اِجمالي اَقسام بيان کړم:

۱. بعضې خلق په جهاد کې خاص د الله ﷻ د رَضا نيت کوي، د دُنيا يا آخرت هيڅ بدله يې مقصود نه وي، بلکه صرف او صرف د الله ربّ العزت رَضا يې مقصود وي.

---

(۱) البينة آية ۵.

(۲) قوله صلى الله عليه وسلم في الغازي والعالم والجواد وعقابهم على فعلهم ذلك لغير الله وإدخالهم النار دليل على تغليظ تحريم الرياء وشدة عقوبته وعلى الحث على وجوب الإخلاص في الأعمال كما قال الله تعالى {وما أمروا إلا ليعبدوا الله مخلصين له الدين} . وفيه أن العمومات الواردة في فضل الجهاد إنما هي لمن أراد الله تعالى بذلك مخلصا . وكذلك الثناء على العلماء وعلى المنفقين في وجوه الخيرات كله محمول على من فعل ذلك لله تعالى مخلصا . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم.

نو ددې حُکم دادی چې دا اَعلیٰ قِسمه نيت دی ، بغير د شک و شبهې نه داسې کس په دُنيا او آخرت دواړو کې کامياب دی .

۲ . بعضې خلق د اسلامي غيرت او اِعلاء کلمة الله د پاره جهاد کوي ، مقصد يې دا وي چې په دې سره اسلام او مسلمانانو ته عزت ملاوْ شي ، کُفر او کافران ذليله شي .

نو ددې حُکم دادی چې دا هم د اول په شان اَعلیٰ قِسمه نيت دی ، داسې کس هم بغير د شک و شبهې نه په دواړه جهانه کامياب دی .

۳ . بعضې خلق په جهاد کې دا نيت کوي چې ددې په عِوض کې راته جنت ، حُورې ، غِلمان ، او ثوابونه ملاوْ شي ، او د جهنم نه راته نِجات ملاوْ شي ، ددينه علاوه يې بل هيڅ نيت نه وي ، دا نيت اکثره خلق کوي .

ددې حُکم دادی چې دا نيت هم صحيح دی ، داسې کس هم په دواړه جهانه کامياب دی ، الله ﷻ به ده ته ددې په عِوض کې جنتونه او ثوابونه ورکړي .(۱)

البته ددې دريم قِسم نيت نه اوّلني دوه قِسمه نيتونه ډير بهتر دي .

۴ . بعضې خلق جهاد ددې د پاره کوي چې کافرانو په مسلمانانو باندې حمله کړې وي او دا کس صرف د خپل ځان نه د دِفاع د پاره جهاد کوي ، بل هيڅ نيت يې نه وي .

نو ددې حُکم هم د دريم قِسم په شان دی چې دا نيت هم صحيح دی ، داسې کس هم په

---

(۱) ومما يدل على ذلک ترغيب الله في الجنّة لمن جاهد في سبيله کقوله تعالى : ﴿ إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ﴾ . التوبة آية ۱۱۱ . وقوله تعالى : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ۝ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ۝ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴾ . الصف آية ۱۰ تا ۱۲ . والآيات في ذلک کثيرة . وکذلک رسولُ الله صلى الله عليه وسلم حضّ على الجهاد ووعد عليه بالجنة کقوله : مَنْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَوَاقَ نَاقَةٍ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ وقوله : .... أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَيُدْخِلَكُمُ الْجَنَّةَ ؟ أُغْزُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ . الى غير ذلک من الاحاديث . مشارع الاشواق الى مصارع العشاق ج ۲ ص ۶۱۳ .

دواړه جهانه باندې کامياب دی ، که داسې کس وفات شي نو دا به شهيد وي .(۱)

**۵** . بعضې خلق جهاد ته صرف ددې د پاره ځي چې د مجاهدينو جماعت ډېر شي ، بل هيڅ قِسمه نيت يې نه وي .

ددې حُکم دادی چې دا نيت هم صحيح دی ، که داسې کس په جهاد کې وفات شي نو دا به شهيد وي ، ځکه څوک چې د يو قوم جماعت زيات کړي نو دا به د هم هغوی نه شمارېږي .

**٦** . بعضې خلق په جهاد کې د الله ﷻ د رَضا او مالِ غنيمت حاصلولو دواړو نيت کوي ، په دې قِسمه نيت کې اګر چې د علماؤ اختلاف شته :

بعضې علماء وايي چې دا نيت فاسد دی ځکه ده په کې د الله ﷻ د رَضا سره سره د دُنيا اِراده هم کړې .

ليکن صحيح قول دادی چې دا نيت هم صحيح دی ، که داسې کس په جهاد کې وفات شي نو دا به هم شهيد وي .

امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ په " احياء العلوم " کې او امام قرطبي رَحِمَهُ اللهُ په " تفسير قرطبي " کې ددې نيت په صحيح والي باندې ډېر دلائل د قرآن کريم او احاديثو نه راجمع کړي دي . او په کومو احاديثو کې چې ذکر دي :

" چې کوم کس په جهاد کې د دُنيا حاصلولو اِراده اوکړي نو هغه ته هيڅ اَجر نه ملاوېږي "

نو د هغې نه هغه کس مراد دی چې په جهاد کولو سره خالصه د دُنيا حاصلولو اِراده لري د الله ﷻ د رَضا نيت يې په کې بالکل نه وي ، او چې د چا د الله ﷻ د رَضا نيت سره سره د مالِ غنيمت نيت هم وي نو دا نيت صحيح دی .

اګر چې په جهاد کې د داسې نيت کولو ثواب د اوّلني درې قِسمه نيتونو نه کم دی .

**۷** . بعضې خلق په جهاد کې خالصه د دُنيا او غنيمت حاصلولو نيت کوي ، د الله ﷻ د رَضا او ثواب نيت يې په کې بالکل نه وي .

---

(۱) ځکه کوم کس چې د قطاع طريقو په مقابله کې خپله دِفاع کوي او د قطاع طريقو د لاسه مړ شي نو دا شهيد دی نو چې د کافرانو په مقابله کې په خپله دِفاع کې وفات شي نو دا خو به په طريقِ اَولی شهيد وي .

نو ددې حُکم دادی چې داسې کس ته د جهاد هيڅ ثواب نه ملاوېږي، که داسې کس په جهاد کې مړ شي نو اګر چې په ظاهره يې حُکم د شهيدانو دی خو په حقيقت کې شهيد ندی. (۱)

**۸** . بعضې خلق خالصه د ريا ، شهرت او ځان خودنې د پاره جهاد کوي ، مقصد يې دا وي چې خلق راته بهادر اووايي، په زړه کې يې د الله ﷻ د رَضا او ثواب هيڅ نيت نه وي.

نو ددې قِسم حُکم دادی چې داسې کس ته د جهاد هيڅ ثواب نه ملاوېږي ، که داسې کس په جهاد کې مړ شي نو دا د الله ﷻ په نزد شهيد ندی، د داسې کس په باره کې راغلي چې دا به په اوّلني درې کسانو کې پَرمخ جهنم ته غورځولې شي . (۲)

ځکه دده مقصد په جهاد سره رِيا ده ، او رِيا ته په احاديثو کې شرکِ خَفي ويل شوی، ددې سخته سزا ذکر شوی. (۳)

لهذا په جهاد کې خالصه د الله ﷻ د رَضا نيت په کار دی.

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه ، أَنَّ رَجُلًا قَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ ! رَجُلٌ يُرِيدُ الجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَهُوَ يَبْتَغِي عَرَضًا مِنْ عَرَضِ الدُّنْيَا . فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « لَا أَجْرَ لَهُ ». فَأَعْظَمَ ذٰلِكَ النَّاسُ ، وَقَالُوا لِلرَّجُلِ : عُدْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَعَلَّكَ لَمْ تُفَهِّمْهُ . فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ ! رَجُلٌ يُرِيدُ الجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَهُوَ يَبْتَغِي عَرَضًا مِنْ عَرَضِ الدُّنْيَا . فَقَالَ : « لَا أَجْرَ لَهُ ». فَقَالُوا: لِلرَّجُلِ عُدْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ لَهُ الثَّالِثَةَ . فَقَالَ لَهُ : « لَا أَجْرَ لَهُ » . سنن ابي داؤد كِتَابُ الجِهَادِ بَابٌ فِي مَنْ يَغْزُو وَيَلْتَمِسُ الدُّنْيَا رقم الحديث ۲۵۱۶ ، قال الالباني: هذا حديث حسنٌ . المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۲۴۳۶ وقال الحاکم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ، ووافقه الذهبي .

(۲) لکه يو څو صفحې مخکې چې د مسلم شريف او ترمذي شريف احاديث په تفصيل سره تېر شو : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَيْهِ رَجُلٌ اُسْتُشْهِدَ . فَأُتِيَ بِهِ . فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا . قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا ؟ قَالَ : قَاتَلْتُ فِيكَ حَتَّى اسْتُشْهِدْتُ . قَالَ : كَذَبْتَ وَلٰكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ: جَرِيءٌ . فَقَدْ قِيلَ . ثُمَّ أُمِرَ بِهِ . فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ..... صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ مَنْ قَاتَلَ لِلرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ اسْتَحَقَّ النَّارَ رقم الحديث ۱۵۲ (۱۹۰۵)

(۳) **نوټ** : ددې هر قِسمه نيت پوره تفصيل او دلائل په مشارع الاشواق ج۲ صفحه ۶۱۲ نه تر صفحه ۶۳۵ پورې ذکر دي . ما درته خلاصه د څه اِضافې سره رانقل کړه. ابوالشمس علي عنه

# په مالِ غنيمت کې خيانت کول ګناه کبيره ده

محترمو مسلمانانو وروڼو ! په جهاد کې چې مجاهدينو ته کوم مالِ غنيمت په لاس باندې ورشي نو د تقسيم نه پس ددې استعمالول صرف دې اُمت ته حلال شوي .(۱)

ددينه مخکې اُمتونو د پاره مالِ غنيمت استعمالولو حلال نه وُ ، هغوی ته به چې په جهاد کې کوم غنيمت حاصل شو نو هغه به يې په يو ځای کې راجمع کړو ، د آسمان نه به اور راغی او دا به يې اُوسوزول ، خو چونکه دا اُمتِ محمّدي کمزورې دی نو الله تعالی دوی ته دا حلال کړو .(۲)

البته په مالِ غنيمت کې خيانت کول ( يعنی د تقسيم نه مخکې د غنيمت نه څه اخيستل يا پټول ) ګناهِ کبيره او حرام دي .

مالِ غنيمت ته په عربۍ کې غُلُول وايي .(۳)

امام ذهبي رَحِمَهُ اللهُ په " الکبائر " کې په مالِ غنيمت کې خيانت کول مستقله ګناهِ کبيره

---

(۱) عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رضي الله عنه . عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « إِنَّ اللهَ فَضَّلَنِي عَلَى الْأَنْبِيَاءِ » . أَوْ قَالَ : « أُمَّتِي عَلَى الْأُمَمِ، وَأَحَلَّ لَنَا الْغَنَائِمَ » . سنن الترمذي أَبْوَابُ السِّيَرِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْغَنِيمَةِ رقم الحديث ۱۵۵۳ قال الالباني: صحيح . مشكوة المصابيح كتاب الجِهَاد بَابُ قِسْمَةِ الْغَنَائِمِ وَالْغُلُولِ فِيهَا رقم الحديث ۴۰۰۱ (۱۷) الفصل الثالي . مسند احمد رقم الحديث ۲۲۱۳۷ .

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : فَلَمْ تَحِلَّ الْغَنَائِمُ لِأَحَدٍ مِنْ قَبْلِنَا. ذٰلِكَ بِأَنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى رَأَى ضَعْفَنَا وَعَجْزَنَا فَطَيَّبَهَا لَنَا . متفق عليه ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد بَابُ قِسْمَةِ الْغَنَائِمِ وَالْغُلُولِ فِيهَا الْفَصْلُ الأول رقم الحديث ۳۹۸۵(۱) . صحيح مسلم كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ تَحْلِيلِ الْغَنَائِمِ لِهَذِهِ الْأُمَّةِ خَاصَّةً رقم الحديث ۳۲ (۱۷۴۷) .

(۳) الغلول اصطلاحا: قال الكفوي: الغلول الخيانة في بيت مال أو زكاة أو غنيمة . وقيّده أبو عبيدة بالغنيمة فقط . وقال ابن حجر اَلْغُلُولُ ( فِي الْغَنِيمَةِ ) هُوَ اِخْتِصَاصُ أَحَدِ الْغُزَاةِ سَوَاءٌ الْأَمِيرُ وَغَيْرُهُ بِشَيْءٍ مِنْ مَالِ الْغَنِيمَةِ قَبْلَ الْقِسْمَةِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُحْضِرَهُ إِلَى أَمِيرِ الْجُيُوشِ لِيُخَمِّسَهُ وَإِنْ قَلَّ الْمَأْخُوذُ . الزواجر لابن حجر (۲/ ۲۹۳-۲۹۴) نضرة النعيم ج ۱۱ ص ۵۱۳۰ حرف الغين الغلول .

شمار كړى.(١)

په قرآن كريم او احاديثو كې ددې سخته سزا ذكر شوى :

## خيانت شوې ځيز د قيامت په ورځ په خپلو اوږو راوړل . او د خلقو په مينځ كې رسواء كيدل

١ . الله تعالى فرمايي : ﴿ وَمَن يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴾ .(٢)

ترجمه : او ځوک چې خيانت اوكړي نو كوم ځيز يې چې خيانت كړې وي د قيامت په ورځ به هماغه ځيز د ځان سره راوړي ، بيا هر نفس چې كوم عمل كړې وي د هغې پوره بدله به ورته وركړې شي ، او په دوى به ظلم نشي كولى .

كه چا په دُنيا كې د مالِ غنيمت نه حيوان ( غوا ، چيلى ، آس وغيره ) خيانت كړې وي نو د قيامت په ورځ به د ټولو خلقو د وړاندې دا په خپلو اوږو باندې راوړي ، دا ځاروې به آوازونه كوي چې په دې سره به دا خيانت گر د ټولو خلقو د وړاندې رَسوا شي .

همدارنګې كه چا څه كپړې پټې كړې وي نو هغه به هم په خپلو اوږو باندې راوړي چې هغه به خوزيږي او په دې سره به دا په ټول مخلوق كې رَسوا شي .

دا خبره زه د ځان نه نكوم بلكه په صحيح احاديثو كې ذكر ده :

٢ . د بخاري شريف حديث دى ، حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي چې نبي كريم ﷺ مونږ ته د خيانت په باره كې تقرير اوكړو ، خيانت يې ډيره لويه گناه اوګرځوله ، او ددې يې ډيره لويه سزا ذكر كړه ، وې فرمايل :

اې خلقو ! زه دې د قيامت په ورځ په تاسو كې يو كس په داسې حالت كې او نه گورم چې د هغه په څټ باندې چيلى وي رَمبارې وي ، يا يې په څټ باندې آس وي او هغه ځناري ( آوازونه ) كوي ، دا كس به ماته راشي او راته به اووايي :

---

(١) الكبيرة الثانية والعشرون الغلول من الغنيمة ص ٩٢ .

(٢) آل عمران آية ١٦١ .

يَارَسُوْلَ اللهِ ! أَغِثْنِيْ

اې د الله رسوله ! زما مدد اوكړه ( يعني زما شفاعت اوكړه ) .

زه به ورته اووايم : لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ .

زه ستا هيڅ مدد نه شم كولی ، ما خو ( په دُنيا كې ) تاته پيغام دررَسولې وُ . (۱)

د چا په څټ باندې به اوښ وي ، هغه به بَړبَړيږي ( آوازونه به كوي ) ، دا كس به ما ته اووايي : يَارَسُوْلَ اللهِ ! أَغِثْنِيْ . اې د الله رسوله ! زما مدد اوكړه .

زه به ورته ( په جواب كې ) اووايم : لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ .

زه ستا هيڅ مدد نشم كولی ، ما ( په دُنيا كې ) تاته د الله ﷻ حُكم دررَسولې وُ .

د چا په څټ باندې به سره زَر او سپين زر وي ، دا به ماته اووايي :

يَارَسُوْلَ اللهِ ! أَغِثْنِيْ . اې د الله رسوله ! زما مدد اوكړه .

زه به ورته ووايم : لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ .

زه ستا د پاره د هيڅ شي مالِک نه يم ( يعني ستا مدد نشم كولی ) ، ما خو تاته د الله ﷻ حُكم دررَسولې وُ .

يا به د چا په څټ باندې كپړې وي چې خوَزيږي به ، دا كس به ماته اووايي :

يَارَسُوْلَ اللهِ ! أَغِثْنِيْ . اې د الله رسوله ! زما مدد اوكړه .

زه به ورته ووايم :

لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ .

زه ستا د پاره د هيڅ څيز مالک نه يم ، ما خو ( په دُنيا كې ) تاته د الله ﷻ حُكم

---

(۱) ( لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا ) من المغفرة لأن الشفاعة أمرها إلى الله تعالى. تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري.

( لَا أَمْلِكُ ) أَيْ : مِنَ اللهِ ( لَكَ ) أَيْ : لِأَجْلِكَ ( شَيْئًا ) أَيْ : مِنَ الدَّفْعِ وَالنَّفْعِ . وَالْمَعْنٰى لَا أَدْفَعُ عَنْكَ شَيْئًا مِنْ عَذَابِ اللهِ ( قَدْ أَبْلَغْتُكَ ) أَيْ : وَتَبَعَتْ عَلَيْكَ الْحُجَّةُ فِيمَا بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ : { وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِيْنُ } [النور: ۵۴] . مرقاة المفاتيح بَابُ قِسْمَةِ الْغَنَائِمِ وَالْغُلُولِ فِيهَا ۲۵۸۱/۶ في تشريح حديث ۳۹۹۶ .

دررسولېږي.(۱)

په مسلم شريف کې همدا حديث څه تفصيل او اضافې سره ذکر دی.(۲)

## معمولي څيز خيانت کول ډير لوي جرم، او د قيامت په ورځ شرم دی

نبي عليه السلام په يوه موقع باندې د مال غنيمت يو معمولي څيز را واخيست، د دوه گوتو په مينځ کې يې اونيو او صحابه کرامو ته يې اوفرمايل:

يَا أَيُّهَا النَّاسُ! إِنَّ هٰذَا مِنْ غَنَائِمِكُمْ، أَدُّوا الْخَيْطَ وَالْمِخْيَطَ فَمَا فَوْقَ ذٰلِكَ وَمَا دُوْنَ ذٰلِكَ؛ فَإِنَّ الْغُلُوْلَ عَارٌ عَلَى أَهْلِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَشَنَارٌ وَنَارٌ.

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَامَ فِيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ الْغُلُوْلَ فَعَظَّمَهُ وَعَظَّمَ أَمْرَهُ، قَالَ: لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ شَاةٌ لَهَا ثُغَاءٌ، عَلَى رَقَبَتِهِ فَرَسٌ لَهُ حَمْحَمَةٌ، يَقُوْلُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَغِثْنِي. فَأَقُوْلُ: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ. وَعَلَى رَقَبَتِهِ بَعِيْرٌ لَهُ رُغَاءٌ، يَقُوْلُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَغِثْنِي. فَأَقُوْلُ: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ. وَعَلَى رَقَبَتِهِ صَامِتٌ، فَيَقُوْلُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَغِثْنِي. فَأَقُوْلُ: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ. أَوْ عَلَى رَقَبَتِهِ رِقَاعٌ تَخْفِقُ، فَيَقُوْلُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَغِثْنِي. فَأَقُوْلُ: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ. صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ الْغُلُوْلِ رقم الحديث ۳۰۷۳، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۳۳۵۳۰، مسند احمد رقم الحديث ۹۵۰۳، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۴۸۴۸، مشكاة المصابيح بَابُ قِسْمَةِ الْغَنَائِمِ وَالْغُلُوْلِ فِيْهَا رقم الحديث ۳۹۹۶(۱۲).

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ: قَامَ فِيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ، فَذَكَرَ الْغُلُوْلَ، فَعَظَّمَهُ وَعَظَّمَ أَمْرَهُ، ثُمَّ قَالَ: لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيْءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ بَعِيْرٌ لَهُ رُغَاءٌ، يَقُوْلُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَغِثْنِي، فَأَقُوْلُ: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا، قَدْ أَبْلَغْتُكَ. لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيْءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ فَرَسٌ لَهُ حَمْحَمَةٌ، فَيَقُوْلُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَغِثْنِي، فَأَقُوْلُ: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا، قَدْ أَبْلَغْتُكَ. لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيْءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ شَاةٌ لَهَا ثُغَاءٌ، يَقُوْلُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَغِثْنِي، فَأَقُوْلُ: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا قَدْ أَبْلَغْتُكَ. لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيْءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ نَفْسٌ لَهَا صِيَاحٌ، فَيَقُوْلُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَغِثْنِي، فَأَقُوْلُ: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا، قَدْ أَبْلَغْتُكَ. لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيْءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ رِقَاعٌ تَخْفِقُ، فَيَقُوْلُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَغِثْنِي، فَأَقُوْلُ: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا، قَدْ أَبْلَغْتُكَ. لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيْءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ صَامِتٌ، فَيَقُوْلُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَغِثْنِي، فَأَقُوْلُ: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا، قَدْ أَبْلَغْتُكَ. صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ غِلَظِ تَحْرِيْمِ الْغُلُوْلِ رقم الحديث ۲۴(۱۸۳۱).

اې خلقو ! دا ستاسو غنيمت دی ، تاسو د مالِ غنيمت تار او ستن ، د دينه غټ يا ورو کي څيز غنيمت جمع کوونکي ته ورکوئ ( ددې د پاره چې صحيح تقسيم کړې شي ) ، ځکه په مالِ غنيمت کې خيانت کول ددې کس د پاره د قيامت په ورځ شرم ، قباحت او اور دی .(۱)

## په مالِ غنيمت کې د خيانت کولو په وجه د جهنم مستحق کيدل

په مالِ غنيمت کې د خيانت کولو په وجه انسان د جهنم مستحق ګرځي .

د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

إِنَّ رِجَالًا يَتَخَوَّضُونَ فِي مَالِ اللهِ بِغَيْرِ حَقٍّ فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ .(۲)

بيشکه ډير خلق د الله ﷻ په مال ( غنيمت ، زکوة ، خِراج وغيره (۳) ) کې په ناحقه

(۱) عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضي الله عنه ، قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ إِلَى جَنْبِ بَعِيرٍ مِنَ الْمَقَاسِمِ ، ثُمَّ تَنَاوَلَ شَيْئًا مِنَ الْبَعِيرِ ، فَأَخَذَ مِنْهُ قَرَدَةً ، يَعْنِي وَبَرَةً ، فَجَعَلَ بَيْنَ إِصْبَعَيْهِ ، ثُمَّ قَالَ : « يَا أَيُّهَا النَّاسُ ! إِنَّ هٰذَا مِنْ غَنَائِمِكُمْ ، أَدُّوا الْخَيْطَ وَالْمِخْيَطَ فَمَا فَوْقَ ذٰلِكَ وَمَا دُونَ ذٰلِكَ ؛ فَإِنَّ الْغُلُولَ عَارٌ عَلَى أَهْلِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ، وَشَنَارٌ وَنَارٌ . سنن ابن ماجة كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ الْغُلُولِ رقم الحديث ۲۸۵۰ قال الالباني : حسن صحيح ، مسند احمد رقم الحديث ۱۷۱۵۴ ، و رقم الحديث ۲۲۶۹۹ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۴۸۵۵ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ۲۴۲۳ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۴۳۷۰ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۳۱۷۷ . و رقم ۱۸۲۱۹ ، مجمع الزوائد باب ماجاء في الغلول رقم الحديث ۹۷۳۴ . و رقم الحديث ۹۷۳۶ .

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ فَرْضِ الْخُمُسِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {فَأَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ} رقم الحديث ۳۱۱۸ ، مشكوة المصابيح رقم الحديث ۳۷۴۶ (۲ ) كتاب الإمَارَة وَالْقَضَاء باب رزق الوُلاة و هداياهم الفصل الاول . و رقم الحديث ۳۹۹۵ (۱۱) كتاب الجِهَاد بَابُ قِسْمَةِ الْغَنَائِمِ وَالْغُلُولِ فِيهَا الْفَصْلُ الْأَول ، مسند احمد رقم الحديث ۲۷۳۱۸ .

وفي رواية . قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ هٰذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ ، مَنْ أَصَابَهُ بِحَقِّهِ بُورِكَ لَهُ فِيهِ وَرُبَّ مُتَخَوِّضٍ فِيمَا شَاءَتْ بِهِ نَفْسُهُ مِنْ مَالِ اللهِ وَرَسُولِهِ لَيْسَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا النَّارُ . سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ بَابُ مَا جَاءَ فِي أَخْذِ الْمَالِ رقم الحديث ۲۳۷۴ ، وقال الترمذي: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ . مسند احمد رقم الحديث ۲۷۱۲۴ ، صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ۲۸۹۲ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۵۷۸ ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد بَابُ قِسْمَةِ الْغَنَائِمِ وَالْغُلُولِ فِيهَا الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۴۰۱۷(۳۳) .

(۳) (فِي مَالِ اللهِ) أَيْ مَا فِي بَيْتِ الْمَالِ مِنَ الزَّكَاةِ وَالْخَرَاجِ وَالْجِزْيَةِ وَالْغَنِيمَةِ وَغَيْرِهَا . (بِغَيْرِ حَقٍّ) : أَيْ بِغَيْرِ إِذْنٍ مِنَ الْإِمَامِ . فَيَأْخُذُونَ مِنْهُ أَكْثَرَ مِنْ أُجْرَةِ عَمَلِهِمْ وَقَدْرِ اسْتِحْقَاقِهِمْ . مرقاة ۲۴۳۳/۶ رقم الحديث ۳۷۴۶

باندې تصرّف کوي ( يعنى بغير اجازته يې استعمالوي ) پس د دوی د پاره د قيامت په ورځ باندې د جهنم اُور دی .

په صحيح احاديثو کې ډير داسې واقعات ذکر دي چې يو کس د مالِ غنيمت نه څه څيز خيانت کړې وي او نبي عليه السلام د هغه کس متعلق دا خبر ورکړې وي چې زه هغه د دې څيز د خيانت په وجه په جهنم کې ګورم. د دې په باره کې درته يو څو واقعات ذکر کوم :

## د څُغې خيانت کولو په وجه د جهنم مستحق کيدل

۱ . په بخاري شريف کې دا واقعه ذکر ده ، حضرت عبد الله بن عُمر رضي الله عنهما فرمايي چې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په اَسباب ( سامان ) باندې يو کس مقرر وُ ، د هغه نوم کرکرة وُ ، کله چې دې وفات شو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل :

هُوَ فِي النَّارِ . هغه د جهنم په اُور کې دی .

کله چې صحابه کرام د دې کس ليدلو له ورغلل نو د ده سره يې يوه څُغه اُومونده چې ده د مالِ غنيمت نه خيانت کړې وه . (۱)

۲ . د مسلم شريف او مشکوة شريف حديث دی ، د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چې ماته حضرت عُمر رضي الله عنه دا حديث بيان کړی :

کله چې د غزوه خيبر په ورځ د نبي عليه السلام څه صحابه کرام راغلل ، نو خپل مينځ کې يې ويل : فُلَانٌ شَهِيدٌ، فُلَانٌ شَهِيدٌ . فلانکې شهيد شو ، او فلانکې شهيد شو .

( يعنى په دغه ورځ چې کوم کسان شهيدان شوي وو د هغوی نومونه يې اخيستل ) .

تر دې پورې چې دوی په يو سړي باندې تېر شول نو وې ويل :

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنهما قَالَ : كَانَ عَلَى ثَقَلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ كِرْكِرَةُ، فَمَاتَ . فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « هُوَ فِي النَّارِ » . فَذَهَبُوا يَنْظُرُونَ إِلَيْهِ . فَوَجَدُوا عَبَاءَةً قَدْ غَلَّهَا .

صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ القَلِيلِ مِنَ الغُلُولِ رقم الحديث ۳۰۷۴ ، سنن ابن ماجه كِتَابُ الجِهَادِ بَابُ الغُلُولِ رقم الحديث ۲۸۴۹ ، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد بَابُ قِسْمَةِ الغَنَائِمِ وَالغُلُولِ فِيهَا الفَصْلُ الأَوَّلُ رقم الحديث ۳۹۹۸ (۱۲) .

فُلَانٌ شَهِيْدٌ . دا فلاني سړی هم شهيد دی .

رسول الله ﷺ ( دې اوريدو سره ) اوفرمايل :

كَلَّا ، إِنِّيْ رَأَيْتُهُ فِي النَّارِ فِيْ بُرْدَةٍ غَلَّهَا أَوْ عَبَاءَةٍ .

هرګز دا شهيد ندی ، ما دا د جهنم په اور کې ليدلی دی ، ځکه ده د مالِ غنيمت ځوغه (چپن) يا څادر خيانت کړې وُ .

بيا رسولُ الله ﷺ ( حضرت عمر ﷺ ته ) اوفرمايل :

يَا ابْنَ الْخَطَّابِ ! اِذْهَبْ فَنَادِ فِي النَّاسِ ، أَنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُوْنَ .

اې عمر بن الخطاب ! لاړشه او په خلقو کې دا اعلان اوکړه چې جنت ته به (ابتداءً) صرف (کامل) مؤمنان داخليږي .

حضرت عُمر ﷺ فرمايي چې زه را اُووتم ، خلقو ته مې دا اعلان اوکړو :

أَلَا إِنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُوْنَ .

خبردار ، جنت ته به صرف (کامِل) مؤمنان داخليږي . (۱)

**عبرت** : په دې حديث کې په مالِ غنيمت کې خيانت کوونکي د پاره څومره سخت وعيد ، زَجر او رَټنه ذکر شوه چې داسې کس به جنت ته بغير د جهنم سزا خوړولو نه ننځي نه ځي ، بلکه اول به د دې خپل بَدعمل سزا خوري .

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، قَالَ : حَدَّثَنِيْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ﷺ . قَالَ : لَمَّا كَانَ يَوْمُ خَيْبَرَ أَقْبَلَ نَفَرٌ مِنْ صَحَابَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقَالُوْا : فُلَانٌ شَهِيْدٌ ، فُلَانٌ شَهِيْدٌ ، حَتّٰى مَرُّوْا عَلٰى رَجُلٍ ، فَقَالُوْا : فُلَانٌ شَهِيْدٌ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « كَلَّا ، إِنِّيْ رَأَيْتُهُ فِي النَّارِ فِيْ بُرْدَةٍ غَلَّهَا أَوْ عَبَاءَةٍ » ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « يَا ابْنَ الْخَطَّابِ ! اِذْهَبْ فَنَادِ فِي النَّاسِ ، أَنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُوْنَ » . قَالَ فَخَرَجْتُ فَنَادَيْتُ : أَلَا إِنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُوْنَ . صحيح مسلم كِتَابُ الإِيْمَان بَابُ غِلَظِ تَحْرِيْمِ الْغُلُوْلِ ، وَأَنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُوْنَ رقم الحديث ۱۸۲(۱۱۴) ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد بَابُ قِسْمَةِ الْغَنَائِمِ وَالْغُلُوْلِ فِيْهَا الفصل الثالث رقم الحديث ۴۰۳۴ (۵۰) ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۳۶۸۸۵ ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۰۳ ، و رقم ۳۲۸ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۴۸۴۹ ، و رقم ۴۸۵۷ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۸۲۰۴ ، شعب الايمان رقم الحديث ۴۰۲۲ ، كنز العمال رقم الحديث ۱۱۵۹۸ الغلول .

## د ځادر خيانت کولو په وجه د جهنم مستحق کيدل

په بخاري شريف او مسلم شريف کې دا واقعه ذکر ده: حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي چې کله مونږ خيبر فتح کړو نو په هغې کې مونږ سره زر او سپين زر په مال غنيمت کې حاصل نکړل، بلکه په غنيمت کې مو غوا ګانې، اوښان، اسباب او باغونه حاصل کړل.

بيا مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وادي قرٰی ته راغلو، د دوی سره يو غلام وُ، "مِدعَم" نوم يې وُ، دوی ته دا غلام د بني ضِبَاب قبيلې يو کس (رِفاعه بن زيد) په هِبه کې ورکړې وُ، دې غلام د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سورلۍ کجاوه رابنکته کوله چې په دې وخت کې ناڅاپه د نامعلوم طرف نه يو غشې راغی، دا غلام پرې اولګيد او ځای په ځای وفات شو، خلقو وويل: هَنِيْئًا لَهُ الشَّهَادَةُ. ده ته دې شهادت مبارک وي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمايل:

بَلْ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ إِنَّ الشَّمْلَةَ الَّتِيْ أَصَابَهَا يَوْمَ خَيْبَرَ مِنَ الْمَغَانِمِ لَمْ تُصِبْهَا الْمَقَاسِمُ لَتَشْتَعِلُ عَلَيْهِ نَارًا.

بلکه زما دې قسَم وي په هغه ذات باندې چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده، بيشکه کوم ځادر چې ده د خيبر په ورځ د تقسيم نه مخکې د مالِ غنيمت نه اخيستې وُ هماغه ځادر دده د پاره لمبې وهونکې اُور جوړ شوې دی (او دا ورباندې سوَزي).

کله چې يو سړي د نبي عليه السلام نه دا خبره واوريده نو راغی، يوه يا دوه تَسمې يې راوړی او وې ويل: دا ما اخيستې وې. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمايل:

شِرَاكٌ أَوْ شِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ.

(که چيرته دا تا واپس نه وې راوړی نو) دا هم د اُور يوه يا دوه تَسمې دي.(۱)

---

(۱) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، يَقُوْلُ: اِفْتَتَحْنَا خَيْبَرَ، وَلَمْ نَغْنَمْ ذَهَبًا وَلَا فِضَّةً، إِنَّمَا غَنِمْنَا الْبَقَرَ وَالْإِبِلَ وَالْمَتَاعَ وَالْحَوَائِطَ، ثُمَّ انْصَرَفْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى وَادِي الْقُرٰى، وَمَعَهُ عَبْدٌ لَهُ يُقَالُ لَهُ مِدْعَمٌ، أَهْدَاهُ لَهُ أَحَدُ بَنِي الضِّبَابِ، فَبَيْنَمَا هُوَ يَحُطُّ رَحْلَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَهُ سَهْمٌ عَائِرٌ، حَتّٰى أَصَابَ ذٰلِكَ الْعَبْدَ، فَقَالَ النَّاسُ: هَنِيْئًا لَهُ الشَّهَادَةُ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ←←←←

# په مال غنيمت کې خيانت کوونکي باندې پخپله نبي عليه السلام د جنازې مونځ اونکړو

د مشکوٰة شريف او ابوداؤد شريف حديث دی ، چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ملګرو نه يو کس د غزوه خيبر په ورځ وفات شو ، صحابه کرامو رسول الله ﷺ ته ددې تذکره اوکړه ( چې هغه وفات شوی دی ) .

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : صَلُّوْا عَلٰى صَاحِبِكُمْ .

تاسو په خپل ملګري باندې د جنازې مونځ اوکړئ . ( زه وريباندې پخپله د جنازې مونځ نه کوم ) .

دې آوريدو سره د خلقو د مخونو رنګونه ( د يرې د وجې نه ) بدل شو ( چې د څه په وجه نبي عليه السلام په ده باندې د جنازې مونځ نه کوي ؟ ) .

رسول الله ﷺ ورته اوفرمايل :

إِنَّ صَاحِبَكُمْ غَلَّ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ .

( زه وريباندې د جنازې مونځ ددې د وجې نه کوم چې ) بيشکه ستاسو ملګري د الله ﷻ په لار ( يعنى مالِ غنيمت ) کې خيانت کړې دی .

(صحابه کرام فرمايي:) پس مونږ د هغه آسباب اُولټول نو مونږ په هغې کې د يهوديانو

---

←←← « بَلْ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ إِنَّ الشَّمْلَةَ الَّتِيْ أَصَابَهَا يَوْمَ خَيْبَرَ مِنَ الْمَغَانِمِ لَمْ تُصِبْهَا الْمَقَاسِمُ لَتَشْتَعِلُ عَلَيْهِ نَارًا » فَجَاءَ رَجُلٌ حِيْنَ سَمِعَ ذٰلِكَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشِرَاكٍ أَوْ بِشِرَاكَيْنِ . فَقَالَ : هٰذَا شَيْءٌ كُنْتُ أَصَبْتُهُ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « شِرَاكٌ أَوْ شِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ » . صحيح البخاري كِتَابُ الْمَغَازِيْ بَابُ غَزْوَةِ خَيْبَرَ رقم الحديث ۴٢٣۴ ، و رقم الحديث ٦٧٠٧ كِتَابُ الْأَيْمَانِ وَالنُّذُوْرِ بَابٌ: هَلْ يَدْخُلُ فِي الْأَيْمَانِ وَالنُّذُوْرِ الْأَرْضُ، وَالْغَنَمُ، وَالزُّرُوعُ، وَالْأَمْتِعَةُ ، صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيْمَانِ بَابُ غِلَظِ تَحْرِيْمِ الْغُلُوْلِ، وَأَنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُوْنَ رقم الحديث ١٨٣(١١٥) ، سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِيْ تَعْظِيْمِ الْغُلُوْلِ رقم الحديث ٢٧١١ ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد بَابُ قِسْمَةِ الْغَنَائِمِ وَالْغُلُوْلِ فِيْهَا الفصل الاول رقم الحديث ٣٩٩٧(١٣) ، موطا مالک رقم الحديث ٢٥ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۴٨٥١ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٨٢٠٢ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٢٧٢٨ .

د ښځو يو هار اُوموند چې د هغې قيمت د دوه درهمو برابر هم نه وُ. (۱)

## د خیانت کوونکو خلقو په زړونو کې د دُشمن رُعب او يره پيدا کيږي

په کومو خلقو کې چې په مالِ غنيمت کې خيانت كول پيدا شي نو د داسې خلقو په زړونو کې د دُشمن رُعب او يَره پيدا كيږي، په دوی باندې الله ﷻ خپل مدد بَندوي، دوی بیا د دُشمن د وړاندې اِستقامت نشي کولی.

۱. په موطأ امام مالک او مشكوة شريف کې دا حديث ذكر دی، حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي:

مَا ظَهَرَ الْغُلُوْلُ فِيْ قَوْمٍ قَطُّ إِلَّا أُلْقِيَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبُ.

په کوم قوم کې چې په مالِ غنيمت کې خيانت راشي نو د دوی په زړونو کې د دُشمن رُعب اچولې شي. (۲)

۲. د حضرت ابوذر رضي الله عنه نه روايت دی، چې ما د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم نه دا حديث آوريدلی چې فرمايل يې:

إِنْ لَمْ تَغُلَّ أُمَّتِيْ لَمْ يَقُمْ لَهُمْ عَدُوٌّ أَبَدًا.

---

(۱) عَنْ يَزِيْدَ بْنِ خَالِدٍ: أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُوُفِّيَ يَوْمَ خَيْبَرَ، فَذَكَرُوْا ذٰلِكَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: « صَلُّوْا عَلٰى صَاحِبِكُمْ » . فَتَغَيَّرَتْ وُجُوْهُ النَّاسِ لِذٰلِكَ . فَقَالَ: « إِنَّ صَاحِبَكُمْ غَلَّ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ » . فَفَتَّشْنَا مَتَاعَهُ فَوَجَدْنَا خَرَزًا مِنْ خَرَزِ يَهُوْدَ لَا يُسَاوِيْ دِرْهَمَيْنِ . مشكوة المصابيح كتاب الجهاد بَابُ قِسْمَةِ الْغَنَائِمِ وَالْغُلُوْلِ فِيْهَا الفَصْل الثاني رقم الحديث ۴۰۱۱ (۲۷) ، سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِيْ تَعْظِيْمِ الْغُلُوْلِ رقم الحديث ۲۷۱۰ ، موطاء مالک باب ما جاء في الغُلول رقم الحديث ۲۳ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۸۲۰۵ باب الغلول قليله و كثيره حرامٌ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۲۷۲۹ ، بسعون حديثًا في الجهاد ج۱ ص ۷۶ الغلول والتّشديدفيه ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۲۰۹۶ الترهيب من الغلول والتشديد فيه ، تفسير البغوي ج۱ ص ۵۳۰ رقم ۴۷۶ سورة آل عمران في تشريح آية ۱۶۱ .

(۲) موطا الإمام مالک كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْغُلُوْلِ رقم الحديث ۲۶ . مشكوة المصابيح بَابُ تغير النّاس الفَصْل الثّالث رقم الحديث ۵۳۷۰ (۱۱) ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۲۷۱۵ ، تفسير القرطبي ج۷ ص ۱۳۶ .

که چیرته زما اُمت په مالِ غنیمت کښې خیانت اونکړي نو دښمن به هیڅ کله د دوی مخې ته ټینګ او نه دریږي. (۱)

## عامل به هم خیانت نه کوي

څوک چې په یو ځای کښې عامِل مقرر شي (یعنی حکومت ورته په یو ځای کښې څه کار، عُهده یا وظیفه اُوسپاري) او هغه د بیتُ المال نه څه څیز پټ کړي نو دا هم په خیانت کښې راځي، د قیامت په ورځ به دا عامِل همدا څیز راحاضروي، په احادیثو مبارکهٔ کښې د دې تذکره شته. (۲)

همدارنګې که یو عامِل ته خلق د هَدایا (یا تحفو) په نوم باندې څه ورکوي نو دا هم د بیتُ المال حق دی، په بیتُ المال کښې به یې جمع کوي، په بخاري شریف او مسلم شریف کښې څو ځایه د دې متعلق حدیث ذکر دی. (۳)

---

(۱) مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ الجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الغُلُولِ رقم الحديث ۹۷۴۰ وقال الهيثمي: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الأَوْسَطِ وَرِجَالُهُ ثِقَاتٌ. المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۸۱۰۸، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۲۰۹۸ الترهيب من الغلول والتشديد فيه، كنزالعمال رقم الحديث ۱۱۰۴۴، ورقم الحديث ۱۱۰۴۵ الغلول.

(۲) عَنْ عَدِيِّ بْنِ عَمِيرَةَ الكِنْدِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلٍ فَكَتَمَنَا مِخْيَطًا فَمَا فَوْقَهُ كَانَ غُلُولًا يَأْتِي بِهِ يَوْمَ القِيَامَةِ». قَالَ: فَقَامَ إِلَيْهِ رَجُلٌ أَسْوَدُ مِنَ الأَنْصَارِ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، اقْبَلْ عَنِّي عَمَلَكَ، قَالَ: «وَمَا لَكَ؟» قَالَ: سَمِعْتُكَ تَقُولُ كَذَا وَكَذَا، قَالَ: «وَأَنَا أَقُولُهُ الآنَ، مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلٍ فَلْيَجِئْ بِقَلِيلِهِ وَكَثِيرِهِ، فَمَا أُوتِيَ مِنْهُ أَخَذَ، وَمَا نُهِيَ عَنْهُ انْتَهَى». صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ تَحْرِيمِ هَدَايَا العُمَّالِ رقم الحديث ۳۰(۱۸۳۳)، مسند احمد رقم الحديث ۱۷۷۲۳، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۲۱۹۶۳، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۲۵۶، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۷۶۶۲.

(۳) عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ رضي الله عنه قَالَ: اسْتَعْمَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مِنْ بَنِي أَسْدٍ يُقَالُ لَهُ ابْنُ الأُتْبِيَّةِ عَلَى صَدَقَةٍ، فَلَمَّا قَدِمَ قَالَ: هَذَا لَكُمْ وَهَذَا أُهْدِيَ لِي، فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى المِنْبَرِ - قَالَ سُفْيَانُ أَيْضًا فَصَعِدَ المِنْبَرَ - فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ: "مَا بَالُ العَامِلِ نَبْعَثُهُ فَيَأْتِي يَقُولُ: هَذَا لَكَ وَهَذَا لِي، فَهَلَّا جَلَسَ فِي بَيْتِ أَبِيهِ وَأُمِّهِ، فَيَنْظُرُ أَيُهْدَى لَهُ أَمْ لَا؟ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يَأْتِي بِشَيْءٍ إِلَّا جَاءَ بِهِ يَوْمَ القِيَامَةِ يَحْمِلُهُ عَلَى رَقَبَتِهِ، إِنْ كَانَ بَعِيرًا لَهُ رُغَاءٌ، أَوْ بَقَرَةً لَهَا خُوَارٌ، أَوْ شَاةً تَيْعَرُ ←←←←←←←

# په مالِ غنيمت کې د خيانت کوونکي کس حُکم

څوک چې په مالِ غنيمت کې خيانت اوکړي ، او خيانت شوې څيز ورسره اُموندې شي نو په دُنيا کې دده سزا داده چې دا څيز به ورنه واپس واخيستې شي او تعزيرًا به ورته سزا ورکړې شي .(۱)

---

←←← « ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى رَأَيْنَا عُفْرَتَيْ إِبْطَيْهِ » أَلَا هَلْ بَلَّغْتُ " ثَلَاثًا . صحيح البخاري كِتَابُ الأَحْكَامِ بَابُ هَدَايَا العُمَّالِ رقم الحديث ۷۱۷۴ ، و رقم الحديث ۷۱۹۷ بَابُ مُحَاسَبَةِ الإِمَامِ عُمَّالَهُ . و رقم الحديث ۶۹۷۹ كِتَابُ الحِيَلِ بَابُ احْتِيَالِ العَامِلِ لِيُهْدَى لَهُ . و رقم الحديث ۲۵۹۷ كِتَابُ الهِبَةِ وَفَضْلِهَا وَالتَّحْرِيضِ عَلَيْهَا بَابُ مَنْ لَمْ يَقْبَلِ الهَدِيَّةَ لِعِلَّةٍ . صحيح مسلم رقم الحديث ۲۶(۱۸۳۲) كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ تَحْرِيمِ هَدَايَا الْعُمَّالِ ، و رقم الحديث ۲۷(۱۸۳۲) .

وفي رواية : عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ رضي الله عنه، أَنَّهُ أَخْبَرَهُ : أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَعْمَلَ عَامِلًا ، فَجَاءَهُ الْعَامِلُ حِينَ فَرَغَ مِنْ عَمَلِهِ . فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ ! هٰذَا لَكُمْ وَهٰذَا أُهْدِيَ لِي . فَقَالَ لَهُ : « أَفَلَا قَعَدْتَ فِي بَيْتِ أَبِيكَ وَأُمِّكَ . فَنَظَرْتَ أَيُهْدٰى لَكَ أَمْ لَا ؟ » ثُمَّ قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشِيَّةً بَعْدَ الصَّلٰوةِ، فَتَشَهَّدَ وَأَثْنٰى عَلَى اللهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ . ثُمَّ قَالَ : " أَمَّا بَعْدُ، فَمَا بَالُ الْعَامِلِ نَسْتَعْمِلُهُ ، فَيَأْتِينَا فَيَقُولُ : هٰذَا مِنْ عَمَلِكُمْ . وَهٰذَا أُهْدِيَ لِي . أَفَلَا قَعَدَ فِي بَيْتِ أَبِيهِ وَأُمِّهِ فَنَظَرَ : هَلْ يُهْدٰى لَهُ أَمْ لَا ؟ فَوَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَا يَغُلُّ أَحَدُكُمْ مِنْهَا شَيْئًا إِلَّا جَاءَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَحْمِلُهُ عَلٰى عُنُقِهِ، إِنْ كَانَ بَعِيرًا جَاءَ بِهِ لَهُ رُغَاءٌ، وَإِنْ كَانَتْ بَقَرَةً جَاءَ بِهَا لَهَا خُوَارٌ ، وَإِنْ كَانَتْ شَاةً جَاءَ بِهَا تَيْعَرُ، فَقَدْ بَلَّغْتُ " فَقَالَ أَبُو حُمَيْدٍ رضي الله عنه : ثُمَّ رَفَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ حَتّٰى إِنَّا لَنَنْظُرُ إِلٰى عُفْرَةِ إِبْطَيْهِ . صحيح البخاري كِتَابُ الأَيْمَانِ وَالنُّذُورِ بَابٌ: كَيْفَ كَانَتْ يَمِينُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ۶۶۳۶ .

(۱) قال القرطبي رَحِمَهُ اللهُ : فَإِذَا غَلَّ الرَّجُلُ فِي الْمَغْنَمِ وَوُجِدَ أُخِذَ مِنْهُ ، وَأُدِّبَ وَعُوقِبَ بِالتَّعْزِيرِ . وَعِنْدَ مَالِكٍ وَالشَّافِعِيِّ وَأَبِي حَنِيفَةَ وَأَصْحَابِهِمْ وَاللَّيْثِ رحمهم الله : لَا يُحَرَّقُ مَتَاعُهُ . وَقَالَ الشَّافِعِيُّ وَاللَّيْثُ وَدَاوُدُ رحمهم الله : إِنْ كَانَ عَالِمًا بِالنَّهْيِ عُوقِبَ . وَقَالَ الأَوْزَاعِيُّ: يُحَرَّقُ مَتَاعُ الْغَالِّ كُلُّهُ إِلَّا سِلَاحَهُ وَثِيَابَهُ الَّتِي عَلَيْهِ وَسَرْجَهُ، وَلَا تُنْزَعُ مِنْهُ دَابَّتُهُ ، وَلَا يُحَرَّقُ الشَّيْءُ الَّذِي غَلَّ . وَهٰذَا قَوْلُ أَحْمَدَ وَإِسْحَاقَ، وَقَالَهُ الْحَسَنُ، إِلَّا أَنْ يَكُونَ حَيَوَانًا أَوْ مُصْحَفًا . تفسير القرطبي ( الجامع لاحكام القرآن ) ۴/۱۶۸ سورة آل عمران في تشريح آية ۱۶۱ ، نضرة النعيم ۱۱/۵۱۳۲ المنول حكم الغالّ في الدنيا .

## په مالِ غنيمت كې د خيانت كولو نور نقصانات او ضررونه

په مالِ غنيمت كې د خيانت كولو نور ډير اُخروي او دُنيوي نقصانات دي، يو څو په كې دادي:

په مالِ غنيمت كې خيانت كولو سره د انسان اعتماد په خپلو ملګرو كې ختميږي.

په دې سره انسان د جنت نه لرې كيږي.

خيانت كول د منافقانو علامه ده.

په دې سره مصالحِ عامه مُعَطّل كيږي، فقيرانو او مسكينانو ته خپل حق نه ملاويږي كوم چې شريعت دوى ته مقرر كړى.(۱)

## د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا راأووته چې جهاد خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره په كار دى، ځكه په قرآن كريم او احاديثو مباركهؤ كې چې د جهاد كوم فضائل او اَجرونه ذكر شوي نو دا هغه وخت مجاهد ته ملاويږي چې خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره جهاد اوكړي.

او څوک چې په جهاد سره خالِص د دُنيوي سامانِ يا شهرت حاصلولو اِراده لري نو داسې كس ته د جهاد هيڅ ثواب نه ملاويږي، بلكه د شهرت او رِياكارى د پاره جهاد كوونكى به په اَوّلني درې كسانو كې پَرمخ جهنم ته غورځولې شي.

---

(۱) من مضار الغلول: (۱) الغلول من الكبائر الّتي يعاقب عليها في الآخرة أشدّ عقاب حتى ليجيء الغالّ يحمل ما غلّه على ظهره يوم القيامة. (۲) الغالّ عقوبته الفضيحة في الدّنيا والآخرة. (۳) المداراة على الغلول يعاقب عليها بعقوبة الغلول نفسه. (۴) الغلول عار وشنار على صاحبه يوم القيامة. (۵) الغلول يفقد الثقة بأصحابه. وقد حذّرنا المصطفى صلّى الله عليه وسلّم من السّريّة الّتي تكون هذه صفتها (۶) صدقة الغلول مرفوضة لا يقبلها الله عزّ وجلّ. (۷) الغلول يبعد صاحبه من الجنّة. (۸) الغلول علامة من علامات النّفاق. (۹) الغلول يورث الكراهية ويضيع الحقوق. (۱۰) الغلول من بيت المال وأموال الزّكاة يعطّل المصالح العامّة ويفقد الفقراء والمساكين جزءا من حقوقهم الّتي كفلها الشّارع الحكيم. نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم ﷺ ج۱۱ ص ۵۱۲۱ الغلول

همدارنګې په جهاد کې په مالِ غنيمت کې د خيانت نه هم ځان ساتل په کار دي، ځکه په مالِ غنيمت کې خيانت کول ګناهِ کبيره او لوې جُرم دی.

څوک چې څه څيز خيانت کړي نو د قيامت په ورځ به هغه څيز په خپلو اُوږدو باندې راوړي او د مخلوق د وړاندې به رَسوا شي.

په مالِ غنيمت کې د خيانت کولو په وجه انسان د جهنم مستحق ګرځي.

په خيانت کوونکي باندې نبي عليه السلام په خپله د جنازې مونځ ندې کړی.

د خيانت کوونکو خلقو په زړونو کې د دُشمن رُعب او يَره پيدا کيږي، د دينه علاوه د خيانت نور دير دُنيوي او اُخروي نقصانات دي.

## دُعا

الله ربّ العزت دې مونږ ته دا توفيق راکړي چې په صحيح طريقې خاص د هغه د رَضا د پاره جهاد اوکړو، او خالقِ کائنات دې مونږ ټول د هر قِسمه خيانت او حرام مال محفوظ اوساتي.

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَا تَنَازَعُوْا فَتَفْشَلُوْا وَتَذْهَبَ رِيْحُكُمْ وَاصْبِرُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴾

الانفال آیة ۴۶

# په اِجتماعي لحاظ سره د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کیدو اَسباب

تالیف


اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی مردان

# د مُقرِّرینو د پاره راهنمائي :

"په اجتماعي لحاظ سره د مسلمانانو د کمزروی او مغلوب کیدو اَسباب"

دا موضوع اگر چې ډیره اُوږده ده ځکه په دې کې د مسلمانانو د کمزوری او مغلوب کیدو لس (۱۰) آسباب ذکر شوي ، او ورسره د دې علاج هم ذکر شوی .

خو ترتیب مې داسې ورکړی چې که مُقرِّرین حضرات دا ځانته په دوه حصو کې تقسیم کړي نیم تقریر په یوه جُمعه بیان کړي او دا باقي پاتې نیم تقریر په بله جُمعه بیان کړي نو داسې هم صحیح ده ، او که د چا سره وخت زیات وي او غونډې تقرير په یوه جُمعه بیان کړي نو دا هم صحیح ده .

ابوالشمس عفي عنه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# په اجتماعي لحاظ سره د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کیدو أسباب

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الْأَنْبِيَاءِ وَأَشْرَفِ الْمُرْسَلِيْنَ، وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ.

أَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ:

﴿ وَأَطِيْعُوا اللهَ وَرَسُوْلَهُ وَلَا تَنَازَعُوْا فَتَفْشَلُوْا وَتَذْهَبَ رِيْحُكُمْ وَاصْبِرُوْا، إِنَّ اللهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴾.(۱)

وَقَالَ تَعَالٰى: ﴿ وَلَا تَهِنُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴾.(۲)

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِيْنَةِ، وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ، وَرَضِيْتُمْ بِالزَّرْعِ، وَتَرَكْتُمُ الْجِهَادَ سَلَّطَ اللهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا لَا يَنْزِعُهُ حَتّٰى تَرْجِعُوْا إِلٰى دِيْنِكُمْ. (۳)

وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا، وَيَضَعُ بِهِ آخَرِيْنَ. (۴)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمُ.

---

(۱) الانفال آية ۴۶.

(۲) آل عمران آية ۱۳۹.

(۳) سنن ابي داؤد أَبْوَابُ الإِجَارَةِ بَابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ العِينَةِ رقم الحديث ۳۴۶۲ ، قال الالباني: صحيح . السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۰۷۰۳ باب ماورد في كراهية التبايع بالعينة ، كنز العمال كتاب الجهاد الباب الاول في الترغيب فيه رقم الحديث ۱۰۵۰۳ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۳۸۹ (۲) الترهيب من ان يموت الانسان و لم يغز ولم ينو الغزوة ، سلسلة الاحاديث الصحيحة للالباني رقم ۱۱.

(۴) صحيح مسلم كِتَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِينَ وَقَصْرِهَا بَابُ فَضْلِ مَنْ يَقُومُ بِالْقُرْآنِ، وَيُعَلِّمُهُ.. رقم الحديث ۲۶۹(۸۱۷) ، سنن ابن ماجة بَابُ فَضْلِ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ رقم الحديث ۲۱۸ ، مشكوة المصابيح كتاب فضائل القرآن الفصل الاول رقم الحديث ۲۱۱۵(۷) ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۳۲ ، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۷۷۲ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۵۱۲۵ ، شعب الايمان رقم الحديث ۲۲۲۸ .

# ډېر وَسائل او ډېر مُلکونه د مسلمانانو سره دي

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! په دې وخت کې که موږ جُغرافيې لحاظ سره اوگورو نو د مسلمانانو ا ووه پنځوس (۵۷) اسلامي مُلکونه دي چې د نورو ټولو قومونو نه زيات دي ، دوی د دُنيا په داسې ځايونو کې پراته دي چې د دې ځايونو نه ټوله دُنيا کنټرول کيږي .

هوائي ، بحري او بَرّي لارې ټولې د مسلمانانو په ملکونو باندې دي ، که دوی اوغواړي نو په يوه ورځ کې د ټولې دُنيا هوائي او زَميني لارې بندولې شي .

د اِقتصادياتو په اعتبار سره هم مسلمانان په ټوله دُنيا کې مضبوط دي ، ځکه په دې وخت کې د دُنيا لويه سَرمايه تېل ، پټرول ، مَعدنيات او کوئله ده ، او دا ټول شيان په اسلامي ملکونو کې زيات دي .

تېلو ته په عربۍ کې " اَلذَّهَبُ السَّائِل " ( يعنی بهيدونکي سره زَر ) وايي ، دا په دې وخت کې لويه سَرمايه ده ، ځکه ټوله دُنيا په تېلو روانه ده . او پنځه اَويا (۷۵) فيصده تېل د مسلمانانو په ملکونو کې پيدا کيږي ، صرف په سعودي عرب کې نورلس (۱۹) فيصده ( يعنی د دُنيا پنځمه حصه ) تېل پيدا کيږي .

همدارنگې قيمتي مَعدنيات او کوئله هم زياته په اسلامي ملکونو کې پيدا کيږي .

د ټولې دُنيا قوي فوج د اسلامي ملکونو دی چې دوی په يخنۍ ، گرمۍ ، غرونو ، دَښتو او هر ځای کې جنگيدې شي . د کافرانو ملکونو فوج بعضې په يَخنۍ ، بعضې په گرمۍ ، بعضې په غرونو او دَښتو کې جنگ نشي کولی خو د مسلمانانو فوج په هر ځای کې او هر وخت د جنگ کولو طاقت لري .

ددينه علاوه د دُنيا نور وسائل هم د مسلمانانو په ملکونو کې زيات دي . گويا اسلامي ملکونه د ټولې دُنيا د پاره د شاه رگ مثال لري .

# د ډيرو وَسائلو او تعداد باوجود بيا هم مسلمانان کمزوري دي

خلاصه دا چې په مخ د زمکه د مسلمانانو ملکونه او تعداد هم زيات دی ، د جعرافيې په اعتبار سره په اَهمو ځايونو کې هم پراته دي ، او اِقتصادي لحاظ سره هم د ټولې دُنيا نه

قوي دي خو د دې ټولو خبرو باوجود بيا هم اجتماعي لحاظ سره په هر ځای کې مسلمانان ذليل، مغلوب او کمزوري دي، په هر ځای کې وَهل ټکول خوري، اکثره د کافرانو غلامان دي، په هر اسلامي ملک کې خپل مينځي اختلافات روان دي، او د دوی د تباهی سازشونه روان دي.

د مسلمانانو عزت، رُعب او دَبدبه نده پاتې شوی، د دُنيا يو کُفري ملک هم د دوی نه نه ويرېږي، بلکه عالمي سطح باندې مسلمانان يو کمزورې قوم ګڼړلې شي، او دوی پورې استهزاء کولې شي، دغه وجه ده چې کله کافران په ښکاره باندې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سپکاوې کوي، کله د قرآن کريم سپکاوې کوي، او کله د صحابه کرامو رضي الله عنهم سپکاوې کوي.

حالانکه که مونږ په خپل تاريخ باندې نظر واچوو نو مسلمانانو د دُنيا په اکثره حصه باندې حُکمراني کړی، د دُنيا غټ غټ طاقتونه " قيصر و کِسریٰ " يې ختم کړي. په اُوچه، سمندرونو، صحراء او بيابان باندې د دوی کنټرول ؤ، او د کافرانو مضبوط قوتونه د دوی نه ويرېدل.

ليکن افسوس صَد افسوس چې نن مسلمانان يو کمزورې قوّت ګڼړلې شي، ډير اِسلامي مُلکونه د محکومۍ او غلامۍ ژوند تېروي، د کافرانو يو ملک هم د دوی نه نه ويرېږي.

کاش، چې مسلمانانو ته دا معلومه وی چې آخر هغه کوم اَسباب دي چې د هغې په وجه مسلمانان ورځ په ورځ د ترقۍ په ځای تنزّل طرف ته روان دي، د عزت په ځای ذِلت طرف ته روان دي، او د اِقتدار په ځای محکومۍ طرف ته روان دي.

# په مسلمانانو باندې ذِلت مسلط کيدل د دوی د خپلو اعمالو په وجه دی

الله ﷻ په بندګانو کې په هيچا باندې ظلم نه کوي. (۱)

(۱) ﴿ فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنبِهِ ۖ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُم مَّنْ أَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْأَرْضَ وَمِنْهُم مَّنْ أَغْرَقْنَا ۚ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴾ العنکبوت آية ۴۰.

﴿ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللَّهُ وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴾ النحل آية ۳۳.

د هیځ قوم حالت تر هغې پورې نه بدلوي چې تر څو پورې هغوی په خپله خپل حالت نه وي بدل کړی. په قرآن کريم کې ذکر دي:

﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ ﴾ .(١)

ترجمه: بیشکه الله تعالی د يو قوم (ښه) حالت نه بدلوي تر دې پورې چې دوی بدل کړي څه چې د دوی په زړونو کې دي.

(يعنی الله ﷻ د يو قوم ښه حالت نه بدلوي تر څو پورې چې هغوی خپل حالت پخپله نه وي بدل کړی، او په ځان کې يې په خپله تبديلي نه وي راوستی).

نو په مسلمانانو باندې چې په دې وخت کې اجتماعي لحاظ سره دا کوم کمزورې حالت راغلی دی دا په خپله د دوی د بدو اعمالو په وجه دی، الله ربّ العزت فرمايي:

﴿ وَمَا أَصَابَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَن كَثِيرٍ ﴾.(٢)

ترجمه: او تاسو ته چې کوم مصيبت دررسي، نو د خپل عمل د لاسه به دَررسي، او ډير ګناهونه خو درته الله ﷻ معاف کوي.

## د مسلمانانو د ذلت او کمزورۍ اَسباب:

په عالمي سطح باندې د مسلمانانو د ذِلت او کمزورۍ څه اسباب دي چې د هغې په وجه مسلمانان د کافرانو په مقابله کې مغلوبه او ذليل دي.

په نن موضوع کې به اِنْ شَاءَ الله زه تاسو ته د قرآن کريم او احاديثو په رَڼا کې اول دغه اسباب اِجمالاً او بيا تفصيلاً بيانوم، بيا به په آخر کې درته د دې علاج هم ذکر کوم.

د مسلمانانو د کمزورۍ اسباب اِجمالاً دادي: ١. د اِسلام او قرآن کريم نه لرې والې ٢. بې اتفاقي. ٣. جهاد پريخودل ۴. د دُنيا حِرص او لالچ ۵. بَدکِرداري او بَد اَخلاقي ٦. بې حيايي او عياشي ٧. کبيره ګناهونه کول ٨. په هر کار کې د کافرانو سره مشابهت کول. ٩. اسلامي خلافت نه موجوديدل ١٠. دِين او سياست جدا جدا ګڼل.

---

(١) الرعد آية ١١.

(٢) الشورى آية ٣٠.

اوس د رته دديٍ هر سبب پوره تفصيل بيانوم :

## د مسلمانانو د کمزورئ اول سبب :

# " د اسلام او قرآن نه لرې والي "

په عالمي سطح باندې د مسلمانانو د ذلت او کمزورئ يو سبب دا دی چې مسلمانان په کاملې طريقې سره په اسلامي احکاماتو باندې عمل نه کوي.

که مونږ په خپل اسلامي تاريخ باندې نظر واچوو نو دا به راته واضحه شي چې الله تعالی صحابه کرامو رضي الله عنهم ته د تعداد او وسائلو کم والي باوجود چې بيا هم عزت او غلبه ورکړې وه نو دا يې صرف په اسلامي احکاماتو باندې د عمل کولو په وجه ورکړې وه.

که اوس هم مسلمانان په اسلام باندې پوره عمل اوکړي نو الله تعالی به ورته بيا هم د اول په شان غلبه او عزت ورکړي، په دوی باندې بيا کافران هيڅ کله نشي غالب کيدی.

ربِ کائنات فرمايي : ﴿ وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾.(۱)

ترجمه : او تاسو مه سستېږئ او مه غمجَن کېږئ، او هم تاسو به غالِب يَی که چيرته تاسو رينښتيني مؤمنان يَی.

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ ﴾. (۲)

ترجمه : اې مؤمنانو ! که چيرته تاسو د الله (د دِين) مدد اوکړئ نو هغه به ستاسو مدد اوکړي او (د دښمنانو په مقابله کې) ستاسو خپې به مضبوطې کړي.

او دا يقيني خبره ده چې کله د مسلمانانو سره د الله ﷻ مدد ملګرې شي نو بيا د دُنيا هيڅ کافر په دوی باندې نشي غالب کيدی.

الله ربّ العزت فرمايي : ﴿ إِن يَنصُرْكُمُ اللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ﴾. (۳)

---

(۱) آل عمران آية ۱۳۹.

(۲) محمد آية ۷.

(۳) آل عمران آية ۱٦۰.

ترجمه : كه چيرته الله تعالى ستاسو مدد اوكړي نو بيا هيڅوك په تاسو باندې غالِب كيدونكې نشته.

د اوّلني دوَر مسلمانانو سره نه جديد اَسلحه وه، نه ورسره پوره وسائل وو، نه ورسره زيات مال و دولتۇ، نه ورسره پټرول او معدنيات وو، او نه ورسره غټې لښكرې وې. خو بيا هم په هر ځاى كې غالِب وو او د كافرانو غټو غټو لښكرو ته يې شكست وركړېۇ:

درې سوه او ديارلس (۳۱۳) صحابه كرامو زرو (۱۰۰۰) مُسلّح او تجرِبه كار كافرانو ته شكست وركړى.

په بعضې ځاى كې درې زره (۳۰۰۰) مسلمانانو د كافرانو دوه لكه (۲۰۰۰۰۰) مُسلّح فوج ته شكست وركړى.

ددې اصل وجه همدا وه چې هغه مسلمانانو په اسلامي احكاماتو باندې پوره طريقې سره عمل كولو، او د اسلام هر حُكم يې بغير د چُون و چرا منل.

الله جلّ جلاله فرمايي: ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَاۗفَّةً ﴾. (۱)

ترجمه: اې مؤمنانو! تاسو په اسلام كې پوره پوره داخل شئ.

## د اسلام متعلق د حضرت عُمر ﷺ وينا

په شپاړسمه (۱٦) هجرى كې چې كله د حضرت ابوعُبيده بن جراح ﷺ په مشرى كې د مسلمانانو لښكر فلسطين ته اورسيد، عيسايان په بيتُ المقدس كې قعله بَند شو، د مسلمانانو لښكر د دوى محاصره اوكړه، په دې وخت كې عيسايانو د صُلحې پيش كش اوكړو، د صُلحې په شرطونو كې دوى يو شرط دا هم اولېږل:

چې مونږ به تاسو ته فلسطين بغير د جنګ نه پرېږدو خو شرط دادى چې ستاسو اميرالمؤمنين " حضرت عُمر ﷺ " به په خپله دلته راځي، او عهد نامه به ليكي.

حضرت ابوعبيده بن جراح ﷺ ددې خبر حضرت عُمر ﷺ ته وركړو، حضرت عُمر رضي الله عنه د صحابه كرامو سره مشوره اوكړو، آخر د ډيرو مصروفياتو او اوږد مزل باوجود فورًا فلسطين ته روان شو.

---

(۱) البقرة آية ۲۰۸.

( ځکه د جهاد مقصد خو صرف وینه تویول ندي ، بلکه د جهاد مقصد دادی چې اِعلاءِ كلمةُ الله اوشي ، فِتنه ختمه شي ، او په دُنیا کې عدل و انصاف قائم شي ) .

حضرت عُمر رضي الله عنه سره یو اُوبښ وُ ، او یو ورسره غلام ( خادِم ) وُ ، کله چې دوی د مدینې منوّرې نه بهر اُووتل نو ده خپل غلام ته ووېل :

مونږ دوه کسان یو او سوَرلي راسره یو اُوبښ دی ، که تر آخِره زه په دې باندې سوریم او ته راسره پیاده روان یې نو دا به زه په تا باندې ظلم کوونکې شم ، او که ته تر آخره په دې اُوبښ باندې کینې او زه درسره پیاده روان یم نو بیا به ته په ما باندې ظلم کوونکې شې ، او که ما او تا دواړه په دې اُوبښ باندې کینو نو مونږ به دد دې څاروي مَلا ماته کړو ، لهذا ما او تا به نمبر په نمبر په دې باندې سوَرېږو .

نو ترتیب یې داسې مقرر کړو چې یو ځل به حضرت عُمر رضي الله عنه په اُوبښ باندې کیناست او غلام به د اُوبښ مهار نیولې وُ ، بیا به غلام په اُوبښ باندې کیناست او دوی به د اُوبښ مهار نیولې وُ ، بیا به دواړه تر یو ځایه پیاده روان وو او اُوبښ به همداسې خالي روان وُ . په همدې اَنداز باندې دوی د مدینې منوّرې نه تر شام پورې دا سفر اوکړو .

کله چې شام ته اُورسیدل او د مسلمانانو لښکر سره ملاوُ شو نو چونکه دده په کُرته (لباس) کې پیوندونه لیدلي وو نو حضرت ابوعبیده بن جراح رضي الله عنه ده ته اوویل :

اې امیرُالمؤمنین ! دلته به ستاسو د عیسایانو د فوج مشرانو او غټو مذهبي خلقو سره ملاقات کیږي ، ددې ځای خلق ډیر مالدار دي ، که دوی تاسو په دې پیوند لباس کې اوګوري نو هسې نه چې تاسو ته په سپَک نظر اوګوري ، لهذا تاسو دا لباس بدل کړئ .

حضرت عُمر رضي الله عنه ورته اوفرمایل : اې ابوعبیده ! کاش ، دا خبره د تا نه علاوه بل چا کړې وی او تا نه وې کړی .

( ځکه تا ته خو د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم صُحبت نصیب شوی او د هغوی د طرفه درته ددې اُمت د " اَمِین " لقب ملاوُ شوی ) .

بیا حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمایل :

إِنَّا كُنَّا أَذَلَّ قَوْمٍ فَأَعَزَّنَا اللهُ بِالْإِسْلَامِ فَمَهْمَا نَطْلُبُ الْعِزَّةَ بِغَيْرِ مَا أَعَزَّنَا اللهُ بِهِ أَذَلَّنَا اللهُ .

مونږ خو ډير ذليل قوم وو ، پس الله تعالی مونږ ته د اسلام په وجه عزت راکړو ، او س که چيرته مونږ د اسلام نه علاوه په بل شي کې عزت طلب کوو نو الله تعالی به مونږ ذليل کړي . (۱)

همدغه شان واقعه په " المستدرک على الصحيحين ، شعب الايمان " او نورو ډيرو د احاديثو په کتابونو کې هم ذکر ده . (۲)

---

(۱) خطبات شيخ بوري ج۱ ص۱۳۲ ، لدای ممبر ومحراب ج۱ ص۱۵۷ .

(۲) عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ، قَالَ: خَرَجَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رضي الله عنه إِلَى الشَّامِ ، وَمَعَنَا أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ رضي الله عنه فَأَتَوْا عَلَى مَخَاضَةٍ وَعُمَرُ عَلَى نَاقَةٍ لَهُ فَنَزَلَ عَنْهَا وَخَلَعَ خُفَّيْهِ فَوَضَعَهُمَا عَلَى عَاتِقِهِ ، وَأَخَذَ بِزِمَامِ نَاقَتِهِ فَخَاضَ بِهَا الْمَخَاضَةَ . فَقَالَ أَبُو عُبَيْدَةَ : يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ ! أَنْتَ تَفْعَلُ هٰذَا، تَخْلَعُ خُفَّيْكَ وَتَضَعُهُمَا عَلَى عَاتِقِكَ. وَتَأْخُذُ بِزِمَامِ نَاقَتِكَ، وَتَخُوضُ بِهَا الْمَخَاضَةَ ؟ مَا يَسُرُّنِي أَنَّ أَهْلَ الْبَلَدِ اسْتَشْرَفُوكَ . فَقَالَ عُمَرُ: « أَوَّهْ لَمْ يَقُلْ ذَا غَيْرُكَ أَبَا عُبَيْدَةَ جَعَلْتُهُ نَكَالًا لِأُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا كُنَّا أَذَلَّ قَوْمٍ فَأَعَزَّنَا اللهُ بِالْإِسْلَامِ فَمَهْمَا نَطْلُبُ الْعِزَّةَ بِغَيْرِ مَا أَعَزَّنَا اللهُ بِهِ أَذَلَّنَا اللهُ » . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الإِيمَانِ رقم الحديث ۲۰۷. وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . ووافقه الذهبي . شعب الايمان رقم ۷۸۴۷ حسن الخلق ، الترغيب والترهيب رقم ۲۸۹۳ (۴) كتاب الأدب وغيره الترغيب في التواضع والترهيب من الكبر والعجب والافتخار .

وفي رواية : عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ، قَالَ : لَمَّا قَدِمَ عُمَرُ الشَّامَ لَقِيَهُ الْجُنُودُ وَعَلَيْهِ إِزَارٌ وَخُفَّانِ وَعِمَامَةٌ وَهُوَ آخِذٌ بِرَأْسِ بَعِيرِهِ يَخُوضُ الْمَاءَ . فَقَالَ لَهُ يَعْنِي قَائِلٌ : يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ ! تَلْقَاكَ الْجُنُودُ وَبَطَارِقَةُ الشَّامِ وَأَنْتَ عَلَى حَالِكَ هٰذَا ؟ فَقَالَ عُمَرُ: « إِنَّا قَوْمٌ أَعَزَّنَا اللهُ بِالْإِسْلَامِ. فَلَنْ نَبْتَغِيَ الْعِزَّةَ بِغَيْرِهِ . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الإِيمَانِ رقم الحديث ۲۰۸ ، الزهد لهناد بن السري ۴۱۷/۲ بَابُ التَّوَاضُعِ .

وفي رواية : عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ : أَنَّ عُمَرَ رضي الله عنه انْتَهَى إِلَى مَخَاضٍ بِالشَّامِ. فَنَزَعَ خُفَّيْهِ . فَأَخَذَ أَحَدَهُمَا بِيَدِهِ، وَأَخَذَ بِخِطَامِ رَاحِلَتِهِ ، وَخَاضَ الْمَاءَ . فَجَعَلُوا يَنْظُرُونَ إِلَيْهِ. وَجَاءَهُ أَبُو عُبَيْدَةَ . فَقَالَ : صَنَعْتَ الْيَوْمَ صَنِيعًا عَظِيمًا عِنْدَ أَهْلِ الْأَرْضِ . صَنَعْتَ كَذَا وَكَذَا . فَصَكَّ فِي صَدْرِهِ . ثُمَّ قَالَ : أَوَّهْ لَوْ فَعَلَ ذٰلِكَ غَيْرُكَ أَبَا عُبَيْدَةَ. إِنَّكُمْ كُنْتُمْ أَذَلَّ النَّاسِ ، وَأَحْقَرَ النَّاسِ . فَأَعَزَّكُمُ اللهُ بِالدِّينِ، مَهْمَا تَطْلُبُونَ الْعِزَّ بِغَيْرِهِ أَذَلَّكُمُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ . الزهد لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۱۶۶ رقم الحديث ۱۱۷ . حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ۴۷/۱ ذِكْرُ أَهْلِ الصُّفَّةِ ، الزهد والرقائق لابن المبارک رقم الحديث ۵۸۴ ، الزهد لابي داود السجستاني رقم الحديث ۶۶ . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم ۴۴۸۱ كِتَابُ مَعْرِفَةِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَمِنْ مَنَاقِبِ أَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضي الله عنه .

**عبرت:** د حضرت عُمر رضي الله عنه په دې خبره کې ډیر لوي عبرت پروت دی چې د مسلمانانو د عزت ، اِقتدار ، رُعب ، غلبې او فتوحاتو سبب اسلام دی ، اوس که مسلمانان د اسلام نه علاوه په بل شي کې خپل عزت لټوي نو الله ﷻ به یې ذلیله کړي.

اګر چې د دُنیا نور قومونه به خپل عزت په نورو شیانو کې ګوري خو لیکن د مسلمانانو عزت صرف او صرف په اسلام او اسلامي احکاماتو باندې پوره طریقې سره عمل کولو کې دی.

## د صحابه کرامو په کپړو ( جامو ) کې پېوَندونه وو خو بیا هم کافران ورنه یریدل

که مونږ د صحابه کرامو حالات اوګورو نو د هغوی په کپړو ( جامو ) کې پېوَندونه وو ، د قچورو د پوستکو نه جوړې شوې څپلې به یې اغوستی ، په اَسونو ، اُوښانو او قچورو به یې سوَرلي کوله خو بیا هم د هغوی دومره ډیر رُعب وُ چې کافران به ورنه یَریدل ، او د دُنیا غټ غټ طاقتونه ورته نشو ټینګیدی.

لیکن نن د مسلمانانو لباس هم قیمتي دی ، څپلې یې هم قیمتي دي ، د سوَرلۍ د پاره ورسره قیمتي قیمتي ګاډي هم شته لیکن بیا هم د دُنیا یو کافر هم ورنه نه ویریږي ، دا ځکه چې د عزت کوم څیز وُ هغه مونږ پریخی.

## د حضرت عُمر ﷺ په لیدلو سره د رُوم په قاصد باندې یَره راتلل

مولانا رُوم رَحِمَهُ اللّٰه په " مَثنوي " کې دا واقعه ذکر کړی:

د قیصرِ رُوم سفیر چې کله تُحفې او هدایا د ځان سره راواخیستی او مدینې منوّرې ته رَاغی ، نو په مدینه منوّره کې یې د مسلمانانو نه پوښتنه اوکړه چې ستاسو د بادشاه محل چیرته دی؟

مدینې واله ورته وویل: زمونږ د بادشاه محل نشته ، البته د هغه محل د هغه پاک رُوح دی چې د الله ﷻ سره د تعلق او د هغه د تجَلّیاتو په وجه منوّر کیږي چې د دې په وجه هغه د ټولې دُنیا د شاهي مَحلاتو نه مُستغني دی ، او که چیرته ته زمونږ د امیرُ المؤمنین سره ملاویدل غواړې نو هغه به تاته د مدینې منوّرې په قبرستان کې ملاؤ شي.

د رُوم دا قاصِد چې کله قبرستان ته ورغی نو وې لیدل چې حضرت عمر ﷺ خپل قمیص ویستلی ، صرف تهبَند یې اچولې وُ او په زمکه اُوده وُ . نه ورسره تخت و تاج وُ ، نه ورسره فوجونه وو ، او نه ورسره حفاظتي کس وُ .

کله چې ددې رُوم قاصِد نظر په حضرت عُمر ﷺ باندې اُولګېد نو د سخت رُعب او هَیبت په وجه په لړزېدو شو .

ده د ځان سره ویل : ما خو لوي لوي بادشاهان لیدلي ، او تر ډیرې مودې پورې د بادشاهانو سره په مجلس کې پاتې شوې یم ، لیکن زه د یو بادشاه نه هم نه یم یریدلی . دا څه وجه ده چې ددې تاټ لباس واله کس د وجې زما وجود د سختې یَرې د وجې داسې لړزیږي چې که ماته همداسې نور اُووه ( ۷ ) وجودونه راکړې شي خو بیا به هم دا رُعب برداشت نکړې شم ، حالانکه دده سره خو اَسلحه او فوجونه هم نشته .

بیا دې قاصِد په خپل زړه کې وویل : دا رُعب اصلاً ددې پیوَندونو کپړو واله کس خپل ندی ، بلکه په حقیقت کې ددې کس زړه د الله ﷻ د قُرب او معیّتِ خاصه په وجه مُشرّف دی ، نو دا په حقیقت کې د مَعیتِ الٰهي رُعب او جلال دی چې ددې کس په مخ باندې ښکاري .

بیا د رُوم دا قاصِد د حضرت عُمر ﷺ د مجلس نه دومره مُتأثر شو چې اسلام یې راوړو .

مولانا رُوم رَحِمَهُ اللَّهُ ددې واقعې ذکر کولو نه پس لیکلي چې د چا په زړه کې تقوٰی او د الله ﷻ نه یَره وي ، او په اسلام باندې پوره عمل کوي نو په ټولو مخلوقاتو باندې به دده رُعب وي . (۱)

**فائده** : ددې واقعې نه معلومه شوه چې څوک په اسلام باندې او د قرآن کریم په احکاماتو باندې عمل کوي نو الله ﷻ به دوی ته عزت نصیبه کوي ، او د کافرانو په زړونو کې به د دوی رُعب او دَبدبه وي ، اګر چې د دوی لباس کمزورې وي .

# د ترک راجه اقرار

په يوه زمانه کې په کابل باندې د ترک راجه حکومت ؤ ، دې راجه به هر کال حضرت معاوية رضي الله عنه ته لس لکه ( ۱۰۰۰۰۰۰ ) درهمه خراج ورکول.

د حضرت معاويه ﷺ د زمانه خلافت نه پس دې راجه دا خِراج ورکول بَند کړل . کله چې د هغه وخت د مسلمانانو د بادشاه د طرفه ده ته د خِراج اخيستلو د پاره قاصِد ورغی او دده نه يې د خِراج اخيستلو مطالبه اوکړه ، نو راجه ورته ووېل :

په تاسو کې هغه خلق څه شو چې مخکې به دلته راتلل ؟ د هغوی خېټې به د اُولږې برداشت کولو په وجه کمزورې وې ، په بدن باندې به يې پېوَند شوې کپړې ( جامې ) وې ، او د قجورو د پوستکو نه جوړې شوې څپلې به يې اَچولې وې

قاصد ورته ووېل : هغه خلق د دُنيا نه تللي دي اوس مونږ د هغوی نائبين يو .

راجه ورته ووېل : مونږ چونکه د هغوی نه يريدو نو ځکه مو خِراج ورکول ، اوس مونږ د تاسو نه هيڅ کله نه ويرېږو لهذا مونږ تاسو ته خِراج نه درکوو ، ستاسو چې څه خوَښه وي هغه اوکړئ اَو ځئ .

**عبرت** : دا راجه چې د مخکيني مسلمانانو نه يريدو نو ددې وجه دا وه چې اگر چې د هغوی لباس به کمزورې ؤ ، خو په اسلام باندې بَرقرار وو ، اِيمانونه يې مضبوط وو ، په خپل مينځ کې يې اتفاق و اتحاد ؤ نو ځکه يې په کافرانو باندې رُعب ؤ ، خو چې کله روستو د مسلمانانو اِيمانونه کمزوري شو ، او په اسلام باندې يې پوره عمل پاتې نه شو نو هغه رُعب او دَبدبه يې ختمه شوه .

# چې کله په زړه کې رُوحاني طاقت وي نو بيا د لږو مسلمانانو په مقابله کې ډير کافران هم نشي ټينګيدی

چې کله د مسلمانانو زړونه د اِيماني او رُوحاني طاقت په وجه مُنَوّر وي ، او د اسلام په ټولو احکاماتو باندې پوره عمل کوي ، نو ددې په وجه د دوی په زړونو کې داسې شجاعت او بهادري پيدا کيږي چې بيا د لږو مسلمانانو په مقابله کې ډير کافران هم نشي ټينګيدی ، اگر چې د مسلمانانو سره به وسائل کم وي او د کافرانو سره به زيات وي خو بيا به هم

وړاندې مسلمانان په هر ځای کې غالب وي. او ددې عمَلي نمونې هم د مونږ سره شته:
حضرت خالد بن وليد ﷺ د شپيته (٦٠) مجاهدينو سره د رُوميانو شپيته زره (٦٠٠٠٠) مُسلّح فوجيانو ته عبرت ناک شکست ورکړې وُ.

## د حضرت جعفر طيار ﷺ بهادري

يو ځل حضرت جعفر طيّار ﷺ يوائې د کافرانو په يوه قلعه باندې په ډيرې بهادرۍ سره داسې سخته حمله اوکړه چې د قلعې واله خلقو د يَرې نه دروازه بنده کړه، او هيڅوک يې مقابلې ته رااُو نه وَت.

د کافرانو بادشاه د خپل وزير سره مشوره اوکړه چې اوس څه تدبير په کار دى؟
وزير ورته وويل: ددې تدبير صرف دادى چې ته د جنګ نه تېر شې او ددې بهادر کس د وړاندې خپله اَسلحه کيږدې.

بادشاه ورته وويل: دا خو صرف يو کس دى نو مونږ ټول څنګه ده ته تسليم شو؟
وزير ورته وويل: اې بادشاه! ته ديته مه ګوره چې دا يو کس دى بلکه ته خپل ددې قلعې خلقو ته اوګوره چې د ګيدړانو غوندې يې خپل سرونه ښکته کړي، دا اګر چې ځانله يو کس دى ليکن ته دده هِمت او بهادرۍ ته اوګوره چې زمونږ د مُسلّح فوج مخې ته ثابِت قدمه ولاړ دى، او فاتحانه اَندازکې داسې اعلانِ جنګ کوي ګويا چې د مشرق او مغرب ټول فوجونه دده سره دي، هغه ځانله د لکونو انسانانو په شان دى.
اې بادشاه! آيا ته نه ګورې چې زمونږ د قلعې نه کوم فوجي د هغه مقابلې ته ورځي هغه يې وژني، او ټول د هغه مخې ته مړه پراته دي.
اې بادشاه! ته د خپل فوج ډيروالي ته مه ګوره ځکه د ډيروالي اعتبار نشته، بلکه اصل څيز بهادري او د زړه قوّت دى، او دا په دې کس کې ډير زيات دى.
او دا نعمت انسان ته هله حاصليږي چې کله خپل ځان د ګناهونو نه ساتي، په زړه کې يې د الله ﷻ محبت وي، او په اسلامي شريعت باندې پوره برابر وي.
اې بادشاه! ته دا نِعمت د کُفر په حالت کې هيڅ کله نشي حاصلولى، لهذا ستا د پاره ددينه علاوه بله هيڅ لاره نشته چې ته دې يو مسلمان ته تسليم شې، او ده ته د قلعې دروازه

کلاوْ کړي .(۱)

## د يو څيز په ډيرو باندې د غالب کيدو مثالونه

په هر ځای کې ډيروالي ته اعتبار نشته ، ځکه ډير داسې مثالونه شته چې هلته يو څيز په ډيرو باندې غالبه شوې وي ، او د يو په مقابله کې ډيرو شکست خوړلې وي .

صرف ستاسو د پوهې د پاره درته يو څو مثالونه پيش کوم چې په دې سره به دا خبره ستاسو په ذِهن کې په آسانه راشي :

**اول مثال :** بې شماره ستوري راختلي وي خو چې کله يو نمر را اُوخيجي نو دا ټول غائب شي .

**دويم مثال :** په ځنګل کې په زرهاوْ د غټو غټو ښکرونو واله قوي قوي ځناور اُوسيږي ، خو دا ټول د يو زمري په مقابله کې هيڅ حيثيت نه لري ، همدا يو زمري په دوی باندې حمله کوي او په ټولو باندې غالبه کيږي .

**دريم مثال :** په زرهاوْ مَنګکان د يوې کمزورې پيشو مقابلې ته نشي ټينګيدی .

اګر چې عقل دا وايي چې که په زرهاوْ تکړه مَنګکان راجمع شي او دا ټول په يوې کمزورې پيشو باندې حمله اوکړي ، ددې پيشو هر هر اندام سل سل مَنګکان ټينګ اونيسي نو عقل وايي چې دوی دې کامياب شي ، ليکن مونږ ګورو چې کله په زرهاوْ مَنګکانو باندې يوه کمزورې پيشو را اُووځي او صرف يو " مياوْ " ورباندې اوکړي نو ټول د يَرې نه اُوتختي ، د مياوْ په آوريدلو سره ټول د پيشو د غاښونو او پَنجې تصوَر اوکړي نو بيا هيڅ کله هلته نشي ټيګيدی .

**څلورم مثال :** ګډې او چيلۍ اګر چې ډيرې زياتې وي خو د قصاب د يوې چړې د وړاندې ددې د ډيروالي هيڅ حيثيت نشته .

ددې مثالونو نه صرف دومره خبره واضحه شوه چې په هر ځای کې ډيروالي ته اِعتبار نه وي ، کله به يو څيز په ډيرو باندې غالبه کيږي .

همدغه شان چې کله د يو مسلمان په زړه کې رُوحاني طاقت وي ، په قرآن کريم او احاديثو

---

(۱) مثنوي مولانا رُوم .

باندې عمل کوي، او په شريعت باندې پوره قائم وي نو الله ﷻ به دې يو کس ته په ډيرو باندې غلبه ورکوي.

## د مسلمانانو د کاميابۍ د پاره حقيقي ايمان ضروري دی

خو ددې د پاره دا ضروري ده چې د مسلمان په زړه کې به حقيقي اِيمان وي، صرف د خُلې مسلماني مراد نده، ځکه ډير مسلمانان داسې دي چې ځانته په خُله باندې مسلمانان وايي خو د مسلمانۍ صفات په کې نه وي:

مونځ نه کوي، روژې نه نيسي، زکوة نه ورکوي، د طاقت باوجود حج نه کوي، دروغ وايي، غِيبت کوي، غلا او ډاکې کوي، خيانت کوي، حرام مال خوري، سودي کاروبار کوي، رِشوت اخلي، او شراب څکي، بلکه ډيرو ته په کې کليمه هم نه ورځي، نو داسې مسلمانانو ته به الله ﷻ د کافرانو په مقابله کې څنګه فتح ورکړي؟

## د اِيماني طاقت په وجه قوّت پيدا کيږي

البته چې کله د مسلمانانو په زړونو کې حقيقي اِيمان راشي نو ددې په وجه د دوی په زړونو کې رُوحاني قوّت پيدا کيږي، بيا دوی د کافرانو نه هيڅ کله نه ويريږي، که کافران دوی ته هر څومره دَهمکيانې ورکړي خو دوی په خپل اِيمان باندې نور هم مضبوطيږي.

او ددې د مونږ سره ډير مثالونه هم شته:

**اول مثال: د جادوګرو قوي ايمان:** د حضرت موسی عليه السلام مقابلې ته د مصر جادوګر راجمع شوي وو خو چې کله ورته الله ﷻ د مُعجزې په ليدلو سره اِيمان نصيبه کړو نو بيا فرعون ورته سختې دَهمکيانې ورکړې چې زه به ستاسو لاسونه او خپې کټ کړم، د قجورو په ډَډونو پورې به مو سُولۍ کړم، او سخت عذاب به درکړم.(۱)

جادوګرو اګر چې لږ وخت مخکې اِيمان راوړې وُ خو اِيمان يې داسې مضبوط وُ چې د

---

(۱) الله ﷻ ددې خبرې بيان داسې کړی، ﴿فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ هَارُونَ وَمُوسَىٰ ۝ قَالَ آمَنتُمْ لَهُ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۖ فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَافٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي جُذُوعِ النَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَا أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَىٰ﴾. طه آية ۷۰، ۷۱.

فرعون د خبرو نه او نه يريدل ، او صفا جواب يې ورکړو :

﴿ لَن نُّؤْثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَاءَنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالَّذِي فَطَرَنَا ۖ فَاقْضِ مَا أَنتَ قَاضٍ ۖ إِنَّمَا تَقْضِي هَٰذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ﴾ (۱)

ترجمه : مونږ به هيڅ کله تاته ترجيح درنکړو په هغه واضحه دليلونو باندې کوم چې مونږ ته راغلي دي ، او ( مونږ به تاته ترجيح درنکړو ) په هغه ذات باندې چې هغه مونږ پيدا کړي يو ، پس ته چې څه فيصله کول غواړې هغه اوکړه ، بيشکه ته خو (صرف) د دُنيا د ژوند متعلق فيصله کولې شې .

( يعنې ته به صرف زمونږ ژوند ختم کړې ، حالانکه مونږ د شهادت آروز لرو ، او د تا نه نه ويريږو ) .

**دوېم مثال : د فاطمة بنت خطاب رضي الله عنها قوي ايمان :** د حضرت عُمر رضي الله عنه خور " فاطمة بنت خطاب رضي الله عنها " به د خپل ورور د وړاندې په اَدب ولاړه وه ، دده به يې دير تعظيم کولو ، خو چې کله دې ايمان راوړو ، او په دې وخت کې تر اوسه حضرت عُمر رضي الله عنه ايمان نهٔ راوړې ، دا چې د خپلې خور د اِيمان نه خبر شو نو د خور کور ته راغې ، خپل اَوخې يې هم اووهل ، دا خور يې د خپل خاوند د خلاصولو د پاره راغله نو حضرت عُمر رضي الله عنه دا هم دومره تېزه په څپيړه باندې اووهله چې د مخ نه يې وينه روانه شوه ، چونکه ددې په زړه کې اِيماني طاقت وُ نو وورور ته يې وويل :

يَا عُمَرُ ! إِنْ كَانَ الْحَقُّ فِي غَيْرِ دِيْنِكَ ؟ أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

اې عمر ! که چيرته حق ستا د دين نه علاوه په بل دين کې وي نو آيا بيا به هم نشې قبلولې ؟ دايې وويل او بيا يې کلِمه شهادت وويله . (۲)

---

(۱) طه آية ۷۲ .

(۲) اخرجه ابن سعد ۳ / ۱۹۱ عن انس ، كذا في العيني ۸ / ۶۸ ، وذكره ابن اسحاق بهذا السياق مطوّلاً كما في البداية ۳ / ۸۱ ، حياة الصحابة لمولانا محمد يوسف الكاندهلوي ج۱ ص ۲۷۶ تحمل سعيد بن جبير و زوجته فاطمة اخت عمر رضي الله عنهما الشدائد .

په يو روايت کې راځي چې کله حضرت عمر ﷺ کور ته داخل شو نو دده سره په لاس کې څه شي وُ په هغې باندې يې د خور سر ووهل، هغه په ژړا شوه او وې ويل:

يَا ابْنَ الْخَطَّابِ ! اِصْنَعْ مَا كُنْتَ صَانِعًا فَقَدْ اَسْلَمْتُ.

اې عمر بن الخطاب ! ته چې څه کولې شې هغه اوکړه ما ايمان راوړې دی.

دا يې وويل او روانه شوه. (۱)

**دريم مثال : د حضرت بلال ﷺ قوي ايمان :** حضرت بلال حبشي ﷺ غلام وُ ، د خپل مالک هره خبره به يې منله، خو چې کله يې اسلام راوړو نو خپل مالک به ډير زيات وَهل ، او ورته ويل به يې چې د اِيمان نه واوړه، خو ده به خبره نه منله او همدا به يې ويل : اَحَد اَحَد . الله ﷻ يو دی، الله ﷻ يو دی ( د هغه سره شريک نشته ).

دوی به ورباندې په وهلو ستړي شو خو دا به د اِيمان نه نه اَوړيدو، دا مالک يې حيران وُ چې دا په ده باندې څه اوشو ؟ ده خو مخکې زما هره خبره منله او اوس چې ورته وايم چې د اِيمان نه واوړه نو نه اَوړي.

قدرمنو ! دا ټول اِيماني طاقت وُ ، چې کله د چا په زړه کې حقيقي اِيمان راشي نو بيا د کافرانو هيڅ پرواه نه ساتي.

زمونږ اَسلاف چې دومره بهادر او په هر ځای کې غالِب وو نو ددې وجه همدا وه چې اِيمانونه يې مضبوط وو ، د قرآن کريم سره يې تعلق وُ ، په شريعت باندې پوره پابند وو نو د دشمن غټ لښکر به د لږو مسلمانانو مقابله نشوه کولی.

دأردو ژبې يو شاعر وايي :

تمہاری قوم کی تو ہے بنا ہی دین و ایمان پر ☆ تمہاری زندگی موقوف ہے تعمیل قرآن پر

تمہاری فتحیابی منحصر ہے فضلِ یزدان پر ☆ نہ قوت پر، نہ شوکت پر، نہ کثرت پر، نہ سامان پر

---

(۱) حياة الصحابه لمولانا محمد يوسف کاندهلوي رحمه الله ج۱ ص ۲۷۹ ، وسيرة ابن هشام ج ۱۰ ص ۳۴۲ ، طبقات الصحابه ، تاريخ طبري .

**نوټ** : دا واقعه په پوره تفصيل سره ددې " اِصْلَاحِيْ مُذَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنَه " کتاب په پنځم جلد کې د صفحه ۱۹۲ نه تر د صفحه ۱۹۴ پورې ذکر ده. ابوالشمس علي عنه

# تر څو پورې چې په مسلمانانو کې پخپله ديني کمزوري نه وي نو د غير مسلمو سازشونه ورته نقصان نه نشي رسولی

دا يقيني خبره ده چې غير مُسلمه د هميشه نه دا کوشش کوي چې مسلمانان کامياب نشي او ددې د پاره شپه او ورځ مختلف قسمه سازشونه کوي او مسلمانانو ته نقصان رسوي ، د همدې د وجې نه خو بعضې اسلامي تحريکونه هم نه کاميابيږي.

ليکن که چيرته مسلمانان په خپل اسلام باندې مُستَحکم وي ، ايماني قوت يې مضبوط وي ، او څه دِيني کمزوري په کې نه وي نو بيا هيڅ کله د کافرانو سازشونه نشي کاميابيدی.

د کافرانو سازشونه خو د نبي عليه السلام د زمانې نه همداسې راروان دي ، تر اوسه داسې زمانه نده تېره شوی چې هغه د کافرانو د سازشونو نه خالي وي ، او دا سلسله به همداسې تر قيامته پورې جاري وي.

ځکه الله تعالى د حضرت آدم عليه السلام نه مخکې ابليس پيدا کړې دی نو دا توقع ممکن نده چې سازشونه به بند شي.

خو تر څو پورې چې اُمتِ مسلمه په خپل اِسلام او اِيمان باندې مضبوط وي ، انفرادي او اِجتماعي طريقې سره د مسلمانانو اِصلاح شوې وي نو د غير مسلمو سازشونه به دوی ته هيڅ نقصان او نه رسوي.

په مونږ مسلمانانو کې غټه بيماري داده چې د خپلې ناکامۍ او کمزورۍ پړه د غيرمسلمو په سازشونو اچوو خو په خپله په اسلام باندې مضبوط نه يو ، د خپل ځان اِصلاح نه کوو ، او د خپل ځان نه دِيني کمزورياني نه اُوباسو.

الله تعالى په واضحې طريقې سره فرمايلي دي :

﴿ يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ ﴾ . (١)

ترجمه : اې مؤمنانو ! که چيرته تاسو د الله ( د دِين ) مدد اوکړی نو هغه به ستاسو مدد اوکړي او ستاسو خپې به ( د دښمنانو په مقابله کې ) مضبوطې کړي.

---

(١) محمد آية ٧.

په دې آيت کې الله تعالى د مسلمانانو مدد او فتحه په دې باندې مشروط کړې چې تاسو د الله ﷻ د دِين مدد اوکړئ ، او الله طرف ته رجوع اوکړئ .

بهر حال ، تر څو پورې چې مسلمانان اول اِنفرادي طريقې سره او بيا اجتماعي طريقې سره خپل ځان اِصلاح نکړي او په اسلام باندې پوره عمل اونکړي نو تر هغې پورې به په خپلو کوششونو کې کامياب نشي .

ډير داسې اسلامي تنظيمونه شته چې هغوی د اسلامي نِظام نافذولو د پاره ډيرې قربانيانې ورکوي خو بيا هم دا تنظيمونه نه کامياب‌يږي ، ددې يوه وجه دا هم ده چې په دوی کې دِيني کوتاهي راشي مثلا خپل مينځي جګړې او بې اِتفاقي په کې پيدا شي ، يا په اسلامي احکاماتو باندې عمل پرېږدي نو ځکه ناکام شي .

## نن صبا د مسلمانانو د ذلت وجه '' د قرآن کريم نه لرې والې دی ''

نن صبا چې مسلمانان په هر ځای کې ذليله او کمزوري دي نو ددې اَصل وجه دا هم ده چې د دوی د قرآن کريم سره هغه تعلق نه دې پاتې شوی کوم چې د صحابه کرامو رضي الله عنهم او اَسلافو ورسره وُ :

مسلمانان ددې د زده کولو ، په دې باندې د پوهيدلو ، او ددې په اَحکاماتو باندې د عمل کولو کوشش نه کوي نو ځکه د قرآن کريم د اَنواراتو او برکاتو نه محروم دي .

که مسلمانان بيا هم هماغه شان عزت او کاميابي حاصلول غواړي نو ددې واحِده لاره داده چې د قرآن کريم سره تعلق پيدا کړي ، دا د خپل ځان د پاره مُقتداء اُوګرځوي، او ددې په اَحکاماتو باندې عمل اوکړي نو الله ﷻ به دوی ته بيا غلبه ورکړي .

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا، وَيَضَعُ بِهِ آخَرِيْنَ .(۱)

(۱) صحيح مسلم كِتَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِينَ وَقَصْرِهَا بَابُ فَضْلِ مَنْ يَقُومُ بِالْقُرْآنِ، وَيُعَلِّمُهُ.. رقم الحديث ۲٦۹(۸۱۷) ، سنن ابن ماجة بَابُ فَضْلِ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ رقم الحديث ۲۱۸ ، مشكوة المصابيح كتاب فضائل القرآن الفصل الاول رقم الحديث ۲۱۱۵(۷) ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۳۲ ، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۷۷۲ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۵۱۲۵ ، شعب الايمان رقم الحديث ۲۴۲۸ .

يقيناً الله تعالى د دې کتاب ( قرآن کريم ) په وجه ډير قومونه اوچتوي ، او ډير قومونه په دې باندې ښکته راغورځوي ( او ذليله کوي ) .

يعنى دا د الله ﷻ فيصله ده چې کوم قومونه په قرآن کريم باندې عمل اوکړي ، دا د ژوند په هره مرحله کې د خپل ځان د پاره راهنما اوګرځوي ، او د دې سره تعلق پيدا کړي نو الله رب العزت داسې قومونو ته په دُنيا کې سَرلَندي ، ترقي ، او عِزت ورکوي ، او په آخرت کې يې په خپلو خاصو بندګانو کې شاملوي .

او کوم قومونه چې د قرآن کريم نه اِعراض اوکړي ، د دې په مُقتضيَاتو باندې عمل اونکړي ، او دا د خپل ځان د پاره راهنما او نه ګرځوي نو الله رب العزت داسې قومونه ذليله کوي ، او ښکته يې راغورځوي . (۱)

په دې حديث کې نبي کريم ﷺ د قومونو د عُروج او زَوال سبب خودلى دى .

او دا يقيني خبره ده چې کله هم مسلمانانو قرآن کريم د خپل ځان د پاره دَستورِ حيات ګرځولى ، او په دې يې عمل کړى نو دوى په دُنيا کې غالبه او کامياب وو .

او چې د کله نه هم دوى قرآن کريم پريخى ، او د غير مُسلمو تابعداري يې شروع کړى نو دوى ذليله شوي ، او د يهودو او نصارىٰ غلامان جوړ شوي :

دا مضمون د قرآن کريم د دې آيت نه هم معلوميږي ، الله تعالى فرمايي :

﴿ يُضِلُّ بِهِ كَثِيرًا وَيَهْدِي بِهِ كَثِيرًا وَمَا يُضِلُّ بِهِ إِلَّا الْفَاسِقِينَ ﴾ . (۲)

---

(۱) ( يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ ) . أَيْ بِالْإِيمَانِ بِهِ وَتَعْظِيمِ شَأْنِهِ وَالْعَمَلِ بِهِ . وَالْمُرَادُ بِالْكِتَابِ الْقُرْآنُ الْبَالِغُ فِي الشَّرَفِ وَظُهُورِ الْبُرْهَانِ مَبْلَغًا لَمْ يَبْلُغْهُ غَيْرُهُ مِنَ الْكُتُبِ الْمُنَزَّلَةِ عَلَى الرُّسُلِ الْمُتَقَدِّمَةِ . ( أَقْوَامًا ) أَيْ دَرَجَةَ جَمَاعَاتٍ كَثِيرَةٍ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ بِأَنْ يُحْيِيَهُمْ حَيَاةً طَيِّبَةً فِي الدُّنْيَا وَيَجْعَلَهُمْ مِنَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِمْ فِي الْعُقْبَى ( وَيَضَعُ بِهِ آخَرِينَ ) أَيِ الَّذِينَ كَانُوا عَلَى خِلَافِ ذٰلِكَ مِنْ مَرَاتِبِ الْكَامِلِينَ إِلَى أَسْفَلِ السَّافِلِينَ . قَالَ تَعَالَى { يُضِلُّ بِهِ كَثِيرًا وَيَهْدِي بِهِ كَثِيرًا } [ البقرة آية ۲٦ ] فَهُوَ مَاءٌ لِلْمَحْبُوبِينَ دِمَاءٌ لِلْمَحْجُوبِينَ . وَقَالَ عَزَّ وَجَلَّ { وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ الظَّالِمِينَ إِلَّا خَسَارًا } [ الإسراء آية ۸۲ ] قَالَ الطِّيبِيُّ : فَمَنْ قَرَأَهُ وَعَمِلَ بِهِ مُخْلِصًا رَفَعَهُ اللهُ ، وَمَنْ قَرَأَهُ مُرَائِيًا غَيْرَ عَامِلٍ بِهِ وَضَعَهُ اللهُ . مرقاة المفاتيح ۱۲۵۷/۴ كِتَابُ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ في شرح حديث ۲۱۱۵ .

(۲) البقرة آية ۲٦ .

ترجمه: الله تعالى په دې (قرآن کريم کې مثالونو بيانولو) سره ډير خلق ګمراه کوي،
او ډيرو ته په دې سره هدايت کوي، او نه ګمراه کوي په دې سره مګر فاسقان خلق.
د اردو ژبې يو شاعر وايي:

*وه زمانه ميں معزز تھے مسلماں ہوکر ☆ ہم خوار ہوکر تارکِ قرآں ہوکر*

د فارسي ژبې شاعر وايي:

*گر ہمی خواہی مسلمان زيستن ☆ نيست ممکن جز بہ قرآں زيستن*

بزرګانو يوه عجيبه خبره ليکلې:

إِنْ أَرَدْتَ أَنْ تَعْرِفَ قَدْرَكَ عِنْدَ اللهِ فَانْظُرْ إِلَى قَدْرِ الْقُرْآنِ عِنْدَكَ.

که چيرته ته غواړې چې د الله ﷻ په نزد خپل مقام معلوم کړې نو ته اوګوره چې ستا په زړه کې د قرآن کريم څه مقام دی؟

يعنى که چيرته د يو انسان په زړه کې د قرآن کريم قدر و عظمت زيات وي نو دا انسان به هم د الله ربّ العزت په نزد قدَرمن او مُعزز وي، او که چيرته دده په زړه کې د قرآن کريم سره هيڅ مينه نه وي نو دده مقام به هم د الله ﷻ په نزد همداسې وي.

په صحابه کرامو رضي الله عنهم کې ډير داسې شخصيات وو چې هغوی ته الله ﷻ د اِسلام او قرآن په وجه داسې مقام ورکړې ؤ کوم چې دوی ته مخکې نه ؤ حاصل.

## د حضرت عمر رضي الله عنه واقعه

يو ځل حضرت عمر رضي الله عنه په خپل دَورِ خلافت کې د خپل فوج سره په سفر روان ؤ، د مکې معظمې په يو غر باندې تېريدو، د غرمې وخت ؤ، سخته ګرمي وه، په يو ځای کې اُودريد، او لاندې وادۍ طرف ته يې کتل.

چونکه دې اميرُ المؤمنين ؤ، دده په اُودريدو سره ټول فوج هم ولاړ ؤ، ده ډير وخت ښکته وادۍ طرف ته کتل، آخر يو کس ورنه پوښتنه اوکړه:

اې اميرُ المؤمنين! خير خو دی؟ تاسو څه شی ګورې؟ ستاسو د وجې نه غونډ لښکر ولاړ دی، او سخته ګرمي ده.

حضرت عمر ﷺ ورته اوفرمايل: چې کله زه هلک ووم او ما اِسلام نه ؤ راوړی نو ما به

دې وادۍ ته اوښان د څريدلو د پاره راوستل ، ليکن ماته به د اوښانو څرولو طريقه هم نه راتله ، کله به چې ما اوښان کور ته واپس بوتلل او زما پلار " خطاب " به دا همداسې اوږي اوليدل نو زه به يې اوڼلم ، او راته به يې وويل : اې عمر ! چې کله تاته د اوښانو څرولو چَل نه درځي نو ته به آئنده کامياب ژوند څنگه تېر کړې ؟

حضرت عمر ﷺ دې فوج ته وويل : چې زه هاغه وخت رايادوم چې کله ماته د اوښانو څرولو طريقه هم نه راتلله ، ليکن اوس الله ربّ العزت د اِسلام او قرآن په وجه اميرُ المؤمنين جوړ کړم .

## د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ قول

امام مالک رحمه الله فرمايي : لَا يَصْلُحُ آخِرُ هٰذِهِ الْأُمَّةِ إِلَّا بِمَا صَلَحَ بِهِ أَوَّلُهَا . (۱)

ددې اُمت د آخِري خلقو اِصلاح به صرف په هغه څيز باندې کيږي په کوم باندې چې ددې اُمت د اوّلو خلقو اِصلاح شوې وه .

يعنی ددې اُمت اوّلو خلقو ته چې د کوم څيز په وجه ترقي ملاوْ شوې وه او د دوی اِصلاح پرې شوې وه نو په هم هغې به ددې اُمت آخِري خلقو ته هم ترقي ملاوېږي ، او هغه په قرآن کريم باندې عمل کول دي .

پس کوم قوم چې په قرآن کريم باندې ځان پوهه کړي ، او ددې په احکاماتو باندې عمل اوکړي نو الله ﷻ به دې قوم ته ترقي ورکړي .

قرآن کريم خو د عربو باندچيان او شپونکيان داسې درجې ته اورسول چې د ټولې دُنيا د پاره يې په سياست او د ژوند په هر اړخ کې اِمامان جوړ کړل .

ډېره د افسوس خبره داده چې د خلقو سره د اَخبار کتلو وخت شته ، د فَرضي اَفسانو او دروغو واقعاتو کتلو وخت شته ، د فحَش فِلمونو کتلو وخت شته ، ټوله ورځ د دوستانو سره د گپ شپ لړولو وخت شته ، د فېس بک او اِنټرنټ استعمالولو وخت شته ، د ميډيکل اِنجينئرِنګ او کمپيوټر زده کولو وخت شته ، د اَعلی اَعلی دُنيوي تعليمونو کولو وخت شته خو افسوس صَد افسوس چې د مسلمان سره د قرآن کريم زده کولو ،

---

(۱) شرح کتاب التوحيد من صحيح البخاري لعبد الله بن محمد الغنيمان ۱۷۳/۲ . تفسير المنار ۳۲۶/۱۰ .

ددې د تلاوت کولو او په دې باندې د عمل کولو وخت نشته. وَإِلَى اللهِ الْمُشْتَكَى

## د قرآن کريم په وجه په دُنيا کې تبديلي راځي

که چيرته مونږ د قرآن کريم سره صحيح تعلق جوړ کړو، ددې آحکامات زده کړو، په دې باندې عمل اوکړو او بل ته يې هم اُورسوو نو په دې سره به زمونږ ژوند مکمل بدل شي. او چې کله په مونږ کې تبديلي راشي نو خامخا په ټول جهان کې به تبديلي راځي او زمونږ ذِلت به په عزت باندې بدل شي.

وجه داده چې قرآن کريم داسې کتاب دی که چيرته مونږ دا خپل قائِد او منو نو ټوله دُنيا به مونږ قائِدين اُومني.

**د اول سبب خلاصه** : ددې اول سبب خلاصه دااُووته چې کله هم مسلمانانو په اسلامي احکاماتو باندې عمل کړی نو په ټوله دُنيا باندې غالب وو، خو چې د کله نه يې په اسلام او قرآن باندې عمل پريخي نو د هماغې وخت نه را په ديخوا ورځ په ورځ ذِلت طرف ته راروان دي.

ځکه کاميابي په جديد وَسائلو او نوې ټِکنالوجۍ باندې نده، بلکه کاميابي په قرآن کريم باندې عمل کولو او الله تعالى سره تعلق جوړولو کې ده.

غټه د افسوس خبره داده چې نن هم د مسلمانانو سره د ژوند تيرولو هماغه بهترين قانون "قرآن کريم" موجود دی د کوم په وجه چې د عربو شپونکيان او باندچيان د دُنيا حکمرانان جوړ شوي وو خو ليکن ددې باوجود نن صبا مسلمانان د انګريزانو په جوړ کړي قانون باندې عمل کوي، او خپل ځان نه جوړ شوي رَسم و رِواج باندې فخر کوي.

که نن يو ځل بيا مسلمانان په صحيح طريقې سره په اسلام او د قرآن کريم په احکامو باندې عمل شروع کړي نو د هماغه مخکيني په شان به الله ﷻ ورته فتح او کاميابي ورکړي. ځکه د مسلمانانو د کاميابۍ دارومدار په دِين باندې عمل کولو کې دی،

لکه څرنګې چې د شاتو (ګبين) سره خوږوالي لازم دی او د ګل سره خوشبو لازم ده نو همدغه شان په دِين باندې عمل کول سره کاميابي لازم ده، په اسلامي شريعت باندې د عمل کولو نه بغير مسلمان هيڅ کله نشي کاميابيدی.

# د مسلمانانو د كمزورۍ دويم سبب : " بې اتفاقي "

د مسلمانانو د كمزورۍ دويم غټ سبب " بې اِتفاقي " ده ، مسلمانان په ورو ورو ډلو او جماعتونو كې تقسيم شوي ، د تَعَصّب او عَصَبيت په وجه د يو بل د ختمولو كوشش كوي ، په يو بل باندې د كُفر فتوې لګوي ، او په ورو ورو خبرو باندې د يو بل وينې تويوي .

نن صبا چې په اسلامي ملكونو كې څومره جَنګونه او قتلِ عام روان دى دا ټول د مسلمانانو د بې اِتفاقۍ په وجه روان دى .

او كافران هم دا كوشش كوي چې مسلمانان په خپل مينځ كې بې اِتفاقه كړي ، ځكه دوى د مسلمانانو د بې اِتفاقۍ نه خپله فائده اُوچتوي ، او خپلو مذموم مقاصدو ته ځان په آسانه رَسوي .

## په قرآن كريم كې مسلمانانو ته د اِتفاق حُكم شوى. او د بې اِتفاقۍ نه منع شوي

حالانكه په قرآن كريم كې الله تعالى مسلمانانو ته د اِتفاق و اِتحاد حكم كړى ، د بې اِتفاقۍ نه يې منع كړي او دا يې ورته واضحه كړى چې په خپل مينځي جګړو او بې اِتفاقۍ سره مسلمانان بُزدِله كيږي او قوّت يې ختميږي .

ربِّ كريم فرمايي :

﴿ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴾ . (۱)

ترجمه : او ( اې مؤمنانو ! ) تاسو د الله او د هغه د رسول حُكم اُومنئ ، او د يو بل سره جګړې مه كوئ ، ګني بُزدِله به شى او ستاسو رُعب به ختم شي ، او صبر كوئ ، بيشكه الله تعالى د صبر كوونكو سره ( ملګرې ) دى .

بل ځاى فرمايي :

﴿ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ﴾ . (۲)

---

(۱) الانفال آية ۴۶ .

(۲) آل عمران آية ۱۰۳ .

ترجمه: او تاسو ټول د الله رَسی ( دِين، قرآن (١) ) مضبوط ونيسئ، او مه جدا کيږئ. ( يعنی په جدا جدا ډلو کې مه تقسيمږئ ).

په دې آيت کې مسلمانانو ته د اتفاق حُکم شوی او د بې اتفاقۍ نه منع شوې. (٢)

**د امام قرطبي رَحِمَهُ اللهُ وينا** امام قرطبي رَحِمَهُ اللهُ د مذکوره آيت په تشريح کې ليکلي:

إِنَّ اللهَ تَعَالَى يَأْمُرُ بِالْأُلْفَةِ وَيَنْهَى عَنِ الْفُرْقَةِ. فَإِنَّ الْفُرْقَةَ هَلَكَةٌ وَالْجَمَاعَةَ نَجَاةٌ.

بيشکه الله تعالی ( په دې آيت کې ) د اتفاق حُکم کوي او د بې اتفاقۍ نه منع کوي، ځکه په بې اتفاقۍ کې د مسلمانانو هلاکت دی، او په اتفاق کې نجات دی. (٣)

**د علامه ابن کثير رَحِمَهُ اللهُ وينا** علامه ابن کثير رحمه الله ذکر کړي چې په دې آيت کې الله تعالی د اتفاق حُکم کړی او د بې اتفاقۍ نه يې منع کړې، همدارنګې په ډيرو احاديثو مبارکه ؤ کې هم مسلمانانو ته د اتفاق و اتحاد حُکم شوی او د بې اتفاقۍ نه منع شوې، همدارنګې الله تعالی مسلمانانو ته دا ضمانت ورکړی چې د اتفاق په وجه به دوی د خطاء نه محفوظ وي او د بې اتفاقۍ او اختلاف په وجه په مسلمانانو کې د خطائې خطره ده. (٤)

---

(١) { بِحَبْلِ الله } أَيْ دِينِهِ. تفسير الجلالين آل عمران آية ١٠٣.

قَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ رضي الله عنه: حَبْلُ اللهِ الْقُرْآنُ .... قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ هُوَ حَبْلُ اللهِ. الجامع لأحكام القرآن (تفسير القرطبي) ١٥٩/٤ آل عمران آية ١٠٣. وهكذا في تفسير الخازن ج١ ص ٢٧٧ آل عمران آية ١٠٣.

(٢) قَالَ الشَّيْخُ أَحْمَدُ شَاكِرٍ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ﴾ أَمَرَهُمْ بِالْجَمَاعَةِ. وَنَهَاهُمْ عَنِ التَّفَرُّقِ. وَقَدْ وَرَدَتِ الْأَحَادِيثُ الْمُتَعَدِّدَةُ بِالنَّهْيِ عَنِ التَّفَرُّقِ، وَالْأَمْرِ بِالْاِجْتِمَاعِ وَالْاِئْتِلَافِ. انظر عمدة التفسير لأحمد شاكر ١٦/٣. نضرة النعيم ج٢ ص ٤٢ الاجتماع.

(٣) الجامع لأحكام القرآن (تفسير القرطبي) ١٥٩/٤ آل عمران آية ١٠٣.

(٤) وَقَوْلُهُ: ﴿ وَلَا تَفَرَّقُوا ﴾ أَمَرَهُمْ بِالْجَمَاعَةِ وَنَهَاهُمْ عَنِ التَّفْرِقَةِ. وَقَدْ وَرَدَتِ الْأَحَادِيثُ الْمُتَعَدِّدَةُ بِالنَّهْيِ عَنِ التَّفَرُّقِ، وَالْأَمْرِ بِالْاِجْتِمَاعِ وَالْاِئْتِلَافِ، كَمَا فِي صَحِيحِ مُسْلِمٍ: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللهَ يَرْضَى لَكُمْ ثَلَاثًا، وَيَكْرَهُ لَكُمْ ثَلَاثًا، فَيَرْضَى لَكُمْ: أَنْ تَعْبُدُوهُ، وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا، وَأَنْ تَعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا، وَيَكْرَهُ لَكُمْ: قِيلَ وَقَالَ، وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ ←←←←

همدارنګې ابوحيان رحمه الله په " تفسير بحرمحيط " کې هم دا خبره ذکر کړې چې په دې آيت کې مسلمانان د ډلو او اختلافاتو نه منع شوي. (۱)

## په اجتهادي او فروعي مسائلو کې د علماؤ اختلاف مذموم ندی

په دې ځای کې ضِمنًا په دې خبره باندې ځان پوهه کړئ چې د مسلمانانو هغه اختلاف ممنوع دی چې د کوم په وجه بې اِتفاقي پیدا کيږي، د جګړې او فساد سبب ګرځي.

په اِجتهادي او فروعي مسائلو کې د علماؤ اختلاف ممنوع او مذموم ندی، ځکه د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه هم په اِجتهادي او فروعي مسائلو کې اختلاف نقل دی، بلکه داسې اختلاف رَحمت دی، ځکه په دې سره مسلمانانو ته آساني پیدا کيږي.

د قرآن کريم په دې آيت ﴿وَلَا تَفَرَّقُوا﴾ کې ددې اجتهادي او فروعي مسائلو کې د اختلاف نه منع ندہ راغلی. (۲)

←←← وَإِضَاعَةِ الْمَالِ. صحيح مسلم كِتَابُ الْأَقْضِيَةِ بَابُ النَّهْيِ عَنْ كَثْرَةِ الْمَسَائِلِ مِنْ غَيْرِ حَاجَةٍ رقم ۱۰ (۱۷۱۵).

وَقَدْ ضُمِنَتْ لَهُمُ الْعِصْمَةُ عِنْدَ اِتِّفَاقِهِمْ مِنَ الْخَطَإِ. كَمَا وَرَدَتْ بِذٰلِكَ الْأَحَادِيْثُ الْمُتَعَدِّدَةُ أَيْضًا، وَخِيْفَ عَلَيْهِمُ الْإِفْتِرَاقُ وَالْإِخْتِلَافُ، وَقَدْ وَقَعَ ذٰلِكَ فِيْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ فَافْتَرَقُوْا عَلٰى ثَلَاثٍ وَسَبْعِيْنَ فِرْقَةً. مِنْهَا فِرْقَةٌ نَاجِيَةٌ إِلَى الْجَنَّةِ وَمُسَلَّمَةٌ مِنْ عَذَابِ النَّارِ، وَهُمُ الَّذِيْنَ عَلٰى مَا كَانَ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ. تفسير ابن كثير ۷۷/۲ آل عمران آية ۱۰۳.

(۱) ﴿وَلَا تَفَرَّقُوا﴾ نُهُوْا عَنِ التَّفَرُّقِ فِي الدِّيْنِ وَالْإِخْتِلَافِ فِيْهِ كَمَا اخْتَلَفَ الْيَهُوْدُ وَالنَّصَارٰى. وَقِيْلَ: عَنِ الْمُخَاصَمَةِ وَالْمُعَادَاةِ الَّتِيْ كَانُوْا عَلَيْهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ. وَقِيْلَ: عَنْ إِحْدَاثِ مَا يُوْجِبُ التَّفَرُّقَ وَيَزُوْلُ مَعَهُ الْإِجْتِمَاعُ. البحر المحيط في التفسير ۲۸٦/۳ آل عمران آية ۱۰۳.

(۲) قال القرطبي رَحِمَهُ اللهُ: . وَلَيْسَ فِيْهِ دَلِيْلٌ عَلٰى تَحْرِيْمِ الْإِخْتِلَافِ فِي الْفُرُوْعِ، فَإِنَّ ذٰلِكَ لَيْسَ اخْتِلَافًا إِذِ الْإِخْتِلَافُ مَا يَتَعَذَّرُ مَعَهُ الْإِئْتِلَافُ وَالْجَمْعُ، وَأَمَّا حُكْمُ مَسَائِلِ الْإِجْتِهَادِ فَإِنَّ الْإِخْتِلَافَ فِيْهَا بِسَبَبِ اسْتِخْرَاجِ الْفَرَائِضِ وَدَقَائِقِ مَعَانِي الشَّرْعِ، وَمَا زَالَتِ الصَّحَابَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ يَخْتَلِفُوْنَ فِيْ أَحْكَامِ الْحَوَادِثِ، وَهُمْ مَعَ ذٰلِكَ مُتَآلِفُوْنَ. وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (اِخْتِلَافُ أُمَّتِيْ رَحْمَةٌ) وَإِنَّمَا مَنَعَ اللهُ اخْتِلَافًا هُوَ سَبَبُ الْفَسَادِ. الجامع لأحكام القرآن (تفسير القرطبي) ۱۵۹/۴ آل عمران آية ۱۰۳.

البته په فروعي مسائلو کې داسې اختلاف کول چې دا د فساد او جګړو سبب اوګرځي، يا په يو بل باندې د کُفر او شِرک فتوی لږوي نو دا يقينًا چې ممنوع دی، په دې سره اُمتِ مسلمه کمزورې کيږي، او د مسلمانانو قوّت ختميږي.

نن صبا ډير اختلافات د نفس پرَستۍ، ضد، عِناد او حسَد په وجه پيدا کيږي.

اکثره خلق دا کوشش کوي چې زه او زما جماعت مشهور شي، ماته عزت ملاوْ شي، زما په دُنيا کې يو نوم لاړ شي، دغه وجه ده چې داسې خلقو ته که په بل جانِب کې حق معلوم شي خو بيا هم دوی د ضد او عِناد په وجه حق نه مني، په خپله خبره باندې کلَک ولاړ وي، او د شريعت د پاره د خپل رَسم و رِواج نه نه تيريږي.

بعضې خلق ډير تَنګ نَظَره وي، بل څوک په خپله مقابله کې نه برداشت کوي، او بعضې خلق د قوميت او لِسانيت په وجه داسې په تَعَصّب کې مبتلاء وي چې په خپل قوم، خپله قبيله او خپله ژبه باندې فخر کوي او د نورو قومونو او نورو ژبو واله خلقو ته سپَک ګوري چې ددې په وجه هم اختلافات پيدا کيږي.

حالانکه شريعت د قوميت يا لِسانيت په بُنياد باندې د اختلاف کولو نه سخته منع کړې، د داسې اختلافاتو په وجه مسلمانان په خپل مينځ کې بې اِتفاقه کيږي، د دوی قوّت ختميږي، کافران په مسلمانانو باندې زورَور کيږي او د مسلمانانو په ملکونو باندې قبضې کوي.

## مسلمانان په خپل مينځ کې سره ورونه دي

اسلامي شريعت هيڅ کله مسلمانان په قوميت، وَطنيت او ژبه باندې نه جدا کوي، بلکه که يو کس هر قِسمه ژبه وايي، د هرې قبيلې سره تعلق لري، او د هر مُلک وي خو چې مسلمان وي نو دا د بل مسلمان ورور دی.

۱. الله تعالی فرمايي: ﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ ﴾.(۱)

ترجمه: بيشکه مؤمنان (د يو بل) ورونړه دي.

۲. د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

---

(۱) الحجرات آية ۱۰.

اَلْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يُسْلِمُهُ . (۱)

هر مسلمان د بل مسلمان ( دِيني ) ورور دی ، نه به ورباندې ظلم کوي ، او نه به يې دُشمن ته پرېږدي .

# ټول مؤمنان په منزله د يو جسَد دي

۱ . د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

مَثَلُ الْمُؤْمِنِيْنَ فِيْ تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى . (۲)

د مؤمنانو مثال د يو بل سره په محبت ، رَحم او مهربانۍ کې د يو بدن په شان دی ، چې کله د بدن په يو آندام باندې دَرد وي نو د بدن نور آندامونه يو بل ته شِرکت ورکوي .

همداسې حديث په بخاري شريف کې هم ذکر دی . (۳)

**د حديث تشريح** : د حديث مطلب دادی چې ټول مؤمنان په منزله د يو جِسم دي ، لکه څرنګې چې د بدن يو آندام ته تکليف وي نو د وجود نور ټول آندامونه ورسره په دې تکليف کې شريک وي ، نو همدغه رنګې د مؤمنانو شان هم په کار دی : چې کله په يو کس باندې

---

(۱) پوره حديث داسې دی : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَلْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يُسْلِمُهُ ، وَمَنْ كَانَ فِيْ حَاجَةِ أَخِيْهِ كَانَ اللهُ فِيْ حَاجَتِهِ . وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ . وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . صحيح البخاري رقم الحديث ۲۴۴۲ كِتَابُ الْمَظَالِمِ وَالْغَصْبِ بَابٌ: لَا يَظْلِمُ الْمُسْلِمُ الْمُسْلِمَ وَلَا يُسْلِمُهُ . و رقم الحديث ۶۹۵۱ كِتَابُ الْإِكْرَاهِ ، صحيح مسلم رقم الحديث ۵۸(۲۵۸۰) كتاب الْبِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ تَحْرِيْمِ الظُّلْمِ ، و رقم الحديث ۳۲(۲۵۶۴) بَابُ تَحْرِيْمِ ظُلْمِ الْمُسْلِمِ ، وَخَذْلِهِ...

(۲) صحيح مسلم كتاب الْبِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ تَرَاحُمِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَتَعَاطُفِهِمْ وَتَعَاضُدِهِمْ رقم الحديث ۶۶ (۲۵۸۶) . مسند احمد رقم الحديث ۱۸۳۷۳ ، شعب الايمان رقم الحديث ۷۲۰۳ ، و رقم الحديث ۱۰۶۲۷ ، كنزالعمال رقم الحديث ۷۳۷ ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۳۴۵۹ .

(۳) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : تَرَى الْمُؤْمِنِيْنَ فِيْ تَرَاحُمِهِمْ وَتَوَادِّهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ كَمَثَلِ الْجَسَدِ ، إِذَا اشْتَكَى عُضْوًا تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ جَسَدِهِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى . صحيح البخاري كِتَابُ الْأَدَبِ بَابُ رَحْمَةِ النَّاسِ وَالْبَهَائِمِ رقم الحديث ۶۰۱۱ ، مشكوة المصابيح باب الشفقة والرحمة على الخلق الفصل الاول رقم الحديث ۴۹۵۳(۷).

څه مصيبت راشي نو په کار ده چې ټول مسلمانان دده سره په دې غم کې شريک شي او ددې مصيبت د لرې کولو کوشش اوکړي . (۱)

۲ . همدا مضمون په يو بل حديث کې هم ذکر شوی ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

اَلْمُسْلِمُوْنَ كَرَجُلٍ وَاحِدٍ، إِنِ اشْتَكَى عَيْنُهُ اِشْتَكَى كُلُّهُ، وَإِنِ اشْتَكَى رَأْسُهُ اِشْتَكَى كُلُّهُ . (۲)

ټول مسلمانان ( د يو الله ، يو رسول او يو دين منلو په وجه ) د سړي په شان دي ، که چيرته دده سترګه خوږيږي نو ټول بدن يې بې قراره وي ، او که سَر يې خوږيږي نو ټول بدن يې په تکليف کې وي .

۳ . په يو بل حديث کې ذکر دي ، نبي عليه السلام فرمايي :

اَلْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا .

يو مؤمن د بل مؤمن د پاره د آبادۍ په شان دی چې ددې آبادۍ بعضې حصه بعضو نورو حصو لره مضبوطوي .

راوي د حديث وايي : وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ

يعنې نبي عليه السلام د يو لاس ګوتې په بل لاس کې ورکړې . (۳)

---

(۱) ملاعلي قاري رحمه الله په " مرقاة " کې د مذکوره حديث د تشريح نه پس فرمايي : فَالْمَعْنٰى: أَنَّهُ كَمَا أَنَّ عِنْدَ تَأَلُّمِ بَعْضِ أَعْضَاءِ الْجَسَدِ يَسْرِيْ ذٰلِكَ إِلٰى كُلِّهِ . كَذٰلِكَ الْمُؤْمِنُوْنَ كَنَفْسٍ وَاحِدَةٍ إِذَا أَصَابَ وَاحِدًا مِنْهُمْ مُصِيْبَةٌ يَنْبَغِيْ أَنْ يَغْتَمَّ جَمِيْعُهُمْ وَيَهْتَمُّوْا بِإِزَالَتِهَا عَنْهُ . مرقاة المفاتيح ۳۱۰۲/۷ بَابُ الشَّفَقَةِ وَالرَّحْمَةِ عَلَى الْخَلْقِ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ۴۹۵۳ (۷) .

(۲) صحيح مسلم كتاب الْبِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ تَرَاحُمِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَتَعَاطُفِهِمْ وَتَعَاضُدِهِمْ رقم الحديث ۶۷ (۲۵۸۶) ،

(۳) عَنْ أَبِيْ مُوْسَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « اَلْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا » وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ . صحيح البخاري كِتَابُ الْمَظَالِمِ وَالْغَصْبِ بَابُ نَصْرِ الْمَظْلُوْمِ رقم الحديث ۲۴۴۶ ، و رقم الحديث ۴۸۱ كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ تَشْبِيْكِ الْأَصَابِعِ فِي الْمَسْجِدِ وَغَيْرِهِ ، و رقم الحديث ۶۰۲۶ كِتَابُ الْأَدَبِ بَابُ تَعَاوُنِ الْمُؤْمِنِيْنَ بَعْضِهِمْ بَعْضًا . صحيح مسلم كتاب الْبِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ تَرَاحُمِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَتَعَاطُفِهِمْ وَتَعَاضُدِهِمْ رقم الحديث ۶۵(۲۵۸۵) . مشكوة المصابيح بَابُ الشَّفَقَةِ وَالرَّحْمَةِ عَلَى الْخَلْقِ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ۴۹۵۵ (۹) . سنن الترمذي باب ماجاء في شفقة المسلم على المسلم رقم الحديث ۱۹۲۸ .

**د حديث تشريح :** د حديث مطلب دادی چې مسلمان به په دِيني يا دُنيوي کارونو کې د يو بل په اِمداد سره قوّت حاصلوي ( قوي کس به کمزوری مضبوطوي ) چې دا به يو غټ قوت جوړ شي . (۱)

نبي عليه السلام اول د مؤمن تشبيه د يو مکان سره ورکړه چې د دې ټولې حصې د يو بل سره يو ځای وي او مکان يې مضبوط کړی وي ، دغه شان مسلمانان به هم مُتفِق وي او يو بل به مضبوطوي .

بيا پيغمبر عليه السلام د زيات وضاحت د پاره د يو لاس ګوتې په بل لاس کې ورکړې او صحابه کرامو ته يې دا اُوخوده چې که مسلمانان د يو بل سره دغه شان مُتحِد شي او د يو بل سره مدد اوکړي نو ټول اُمتِ مسلمه به يو مضبوط طاقت جوړ شي . (۲)

يو عالم ليکلي چې که په مشرق کې په يو مسلمان باندې ظلم کيږي او د مغرب مسلمانان ورباندې خفه نشي نو د دوی اِيمان کامل ندی .

د فارسي ژبې يو شاعر وايي :

*بنی آدم اعضائے یکدیگرند ☆ کہ در آفرینش زیک گوہر اند*

*چو عضوے بدرد آورد روزگار ☆ دگر عضوہا را نماند قرار*

## مختلف قومونه او مختلفې قبيلې جوړيدل صرف د تعارُف ذريعه ده

ژبه صرف د بيان ذريعه ده ، او قوميت صرف د پيژندلو ذريعه ده ، د دې په وجه به مسلمانانو په خپل مينځ کې نه بې اتفاقه کيږي . الله تعالى فرمايي :

﴿ يَاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّاُنْثٰى وَجَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّقَبَآىِٕلَ لِتَعَارَفُوْا ؕ اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ ﴾ . (۳)

---

(۱) وَحَاصِلُ مَعْنَاهُ أَنَّ الْمُؤْمِنَ لَا يَتَقَوّىٰ فِي أَمْرِ دِيْنِهِ أَوْ دُنْيَاهُ إِلَّا بِمَعُوْنَةِ أَخِيْهِ، كَمَا أَنَّ بَعْضَ الْبِنَاءِ يُقَوِّيْ بَعْضَهُ . مرقاة المفاتيح ۳۱۰۲/۷ بَابُ الشَّفَقَةِ وَالرَّحْمَةِ عَلَى الْخَلْقِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ۴۹۵۵ (۹) .

(۲) مظاهر حق .

(۳) الحجرات آية ۱۳ . مشكاة المصابيح بَابُ الشَّفَقَةِ وَالرَّحْمَةِ عَلَى الْخَلْقِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم الحديث ۴۹۵۴ (۸) .

اې خلقو ! مونږ تاسو د يو سړي ( حضرت آدم عليه السلام ) او يوې ښځې ( حضرت حواء رضي الله عنها ) نه پيدا کړي يئ ، او مونږ ستاسو مختلف قومونه او قبيلې جوړې کړي دي ددې د پاره چې تاسو يو بل اُوپيژنئ ، بيشکه په تاسو کې ډير مُعزّز د الله ﷻ په نزد باندې هغه کس دی چې هغه په تاسو کې ډير مُتّقي ( پرهيزګار ) وي .

ددې آيت نه معلومه شوه چې د خلقو مختلف قومونه او مختلف قبيلې جوړيدلو اصل مقصد تعارُف دی ، يعنی چې دا خلق په دې سره يو بل اُوپيژني چې "دا د فلانکي قوم او فلانکي قبيلې دی " . خاندانونه او قبيلې د فخر او شرافت ذريعه نده ، بلکه د شرافت ذريعه تقوٰی ده ، په چا کې چې څومره ډيره تقوٰی وی همدومره به دا د الله ﷻ په نزد ډير مُعزّز وي .

لهذا که يو کس پښتون وي ، فارسيوان وي ، پنجابي وي ، يا د بلې ژبې واله وي خو چې مسلمان وي نو دا ټول په خپل مينځ کې سره ورونه دي .

## د ژبو او رَنګونو اختلاف د الله ﷻ د معرفت ذريعه ده

ډير خلق بعضې ژبو ته او بعضې تور رَنګه خلقو ته سپک ګوري او خندا ورپورې کوي، حالانکه ژبو ته سپک کتل ، يا بعضې تور رَنګه قومونو واله خلقو ته سپک کتلو کې د کُفر خطره ده . ځکه دا مختلف ژبې او مختلف رنګونو واله خلق الله تعالی پيدا کړي دي ، او دا يې د خپل معرفت ذريعه ګرځولې ده ، چې ددې په ذريعه به خلق الله ﷻ اُوپيژني . الله تعالی فرمايي :

﴿ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ وَاَلْوَانِكُمْ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلْعٰلِمِيْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : او د الله د نخو نه د آسمانونو او زمکې پيدا کول ، او ستاسو د ژبو او رَنګونو اختلاف هم دی ، بيشکه په دې کې د پوهه خلقو د پاره نخې ( او دليلونه ) دي .

لهذا د چا د ژبې پورې خندا کول ، يا د چا د رَنګ پورې خندا کول ګويا د الله ﷻ د نخو

(۱) الروم آية ۲۲ .

سپکاوی کول دي ، او دا سخته ګناه ده ، بلکه د الله ﷻ د نخو نه اِنکار کول خو کُفر دی .

بل دا چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم خو تر قیامته پورې راتلونکو ټولو قومونو او ټولو انسانانو د پاره پیغمبر دی . (۱)

اوس که د هرې ژبې واله کس ایمان راوړي نو هغه به کومه ژبه وایي ؟ هغه به ضرور هماغه د خپل قوم ژبه وایي . لهذا چاته د ژبې یا رَنګ په وجه سپک کتل ندي په کار .

## نن صبا مسلمانان په مختلفو فِرقو تقسیم شوي

ډېره د اَفسوس خبره ده چې نن صبا مسلمانان علاقائي اعتبار سره هم تقسیم شوي ، یا مذهبي اِعتبار سره هم تقسیم شوي ، یا نظریاتي اِعتبار سره هم تقسیم شوي ، په دِین کې مختلفې ورې ورې ډلې جوړې شوي ، دوی په ورو ورو خبرو باندې جګړې کوي ، تر دې چې په یو بل باندې د کُفر فتوی لږوي .

هرې فرقې د خپل تَشَخّص ښکاره کولو د پاره مخصوص جَنډه ، مخصوص نَعره ، مخصوص پګړۍ او مخصوص لباس مقرر کړی ، تر دې چې د هرې فِرقې جُمات د لرې نه پېژندلې شي چې دا د فلانکي فِرقې واله جُمات دی .

حالانکه په شریعت کې مسلمانانو ته د اِتفاق و اتحاد حُکم شوی ، او په ډلو کې د تقسیمېدو نه منع شوې .

## صحابه کرامو رضي الله عنهم به د ورونو په شان ژوند تېرول

د مسلمانانو د وَحدت بُنیاد په وَطنِیَت ، یا قومِیَت یا لِسانِیت باندې ندی بلکه په اسلام باندې دی ، ځکه که په وَطنیت باندې وی نو صحابه کرامو خو د مکې معظمې نه هجرت کړې وُ مدینې منوّرې ته تللي وو ، ځنې صحابه کرام د نورو مختلفو ملکونو او

---

(۱) الله ﷻ نبي علیه السلام ته فرمایي : ﴿ وَأَرْسَلْنٰكَ لِلنَّاسِ رَسُوْلًا ﴾ النساء آیة ۷۹ .

ترجمه : او ( اې پیغمبره ! ) مونږ ته د ټولو خلقو د پاره رسول رالیږلی یې .

بل ځای فرمایي : ﴿ وَمَآ أَرْسَلْنٰكَ إِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا وَّلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴾ . سبا آیة ۲۸

ترجمه : او ( اې پیغمبره ! ) مونږ ته د ټولو خلقو د پاره ( د جنت ) زېرې ورکوونکې او ( د جهنم نه ) وېروونکې رالیږلی یې ، لیکن اکثر خلق نه پوهیږي .

مختلفو قبيلو وو ، د بعضو په کې ژبې هم بدلې وې (۱) خو نبي عليه السلام د صحابه کرامو رضي الله عنهم داسې تربيت اوکړو چې دوی بيا د قوم ، قبيلې ، ژبې او رَنګ هيڅ لحاظ او نه ساتل بلکه ټولو د وروڼو په شان په اتفاق و اتحاد سره ژوند تيرول .

الله ﷻ د صحابه کرامو په باره کې فرمايي :

﴿ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ ﴾ . (۲)

ترجمه : دوی په کافرانو باندې سخت دي ، ( او ) په خپل مينځ کې په يو بل باندې مهربان دي .

د نبي عليه السلام د راتلو نه مخکې په عربو کې سخت اختلافات وو ، په ورو ورو خبرو باندې به يې د يو بل وِينې تويولې ، د غټو غټو قبيلو ډيرې مخکينۍ دُشمنۍ وې خو چې کله دوی اسلام قبول کړو نو ټول اختلافات يې ختم کړل ، او د يو بل ورونه اوګرځيدل .

همدغه شان مونږ ته هم په کار دي چې ټول خپل مينځي اختلاف ختم کړو او اتفاق و اتحاد پيدا کړو . ډيره د اَفسوس خبره ده چې صحابه کرامو خو د اسلام راوړو نه پس د کلونو کلونو اختلافات په يو مِنټ کې ختم کړل ليکن مونږ باوجود ددينه چې د څو څو پُشت نه مسلمانان راروان يو ، او د مسلمان په کور کې پيدا يو خو بيا هم خپل مينځي اختلافات نه ختمو و .

## تر څو پورې چې مسلمانان مُتحد وو تر هغې پورې په ټوله دُنيا باندې غالب وو

تر څو پورې چې مسلمانان مُتّحِد وو نو اګر چې د دوی تعداد کم وُ او وَسائل ورسره نه وو خو بيا هم دوی په ټوله دُنيا باندې غالِب وو . او د کله نه چې دوی بې اِتفاقه شوي نو اوس اګر چې تعداد يې هم زيات دی او وَسائل هم ورسره ډير دي خو بيا هم په ټوله دُنيا کې مغلوبه دي ، او په هر ځای کې د کافرانو د لاسه ذليله کيږي .

---

(۱) د نبي عليه السلام په دَربار کې سلمان فارسي رضي الله عنه وُ ، بلال حبشي رضي الله عنه وُ ، صهيب رُومي رضي الله عنه وُ ، عداس نينوائي رضي الله عنه وُ ، ابوذرغفاري رضي الله عنه وُ ، طفيل دوسي رضي الله عنه وُ ، ابوسفيان اُموي رضي الله عنه وُ ، عدي طائي رضي الله عنه وُ ، ضماد اَزدي رضي الله عنه وُ ، سراقه جعشمي رضي الله عنه وُ ، او د مختلفو علاقو او مختلفو قبيلو صحابه کرام وو .

(۲) الفتح آية ۲۹ .

يو شاعر وايي :

تَأْبَى الرِّمَاحُ إِذَا اجْتَمَعْنَ تَكَسُّرًا ✡ وَإِذَا افْتَرَقْنَ تَكَسَّرَتْ أَفْرَادًا

يعنی نېزې چې کله يو ځای وي نو دا نه ماتېږي خو چې کله جدا شي نو ځانله ځانله بيا ماتېږي . (۱)

همدغه شان چې کله مسلمانان متّفق وي نو د دوی قوّت زيات وي دوی ته شکست ورکول گران دي خو چې کله بې اتفاقه شي نو ځان له ځان بيا ورباندې د هر کافر زور رسي.

# د مسلمانانو د بې اتفاقۍ او اختلاف په وجه لوي لوي حکومتونه د دوی د قبضې نه وتل

مسلمانانو په ډېر کم تعداد او کمو وسائلو ډېر لوي لوي مُلکونه فتح کړي وو ( لکه : أندلس ، بغداد ، سمرقند ، بخارا وغيره ) ، او په سوونو کلونو يې ورباندې حکومت کړې وُ خو چې کله دوی په خپل مينځ کې بې اتفاقه شو ، خپل مينځي اختلافات په کې راپيدا شو ، په وړو وړو فروعي مسائلو کې يې په يو بل باندې د کُفر فتوې اولږولی ، او د يو بل د ختمولو کوشش يې شروع کړو نو د ډېر تعداد او ډېرو وسائلو باوجود بيا هم دا حکومتونه د دوی د قبضې نه اووتل ، او په لکونو مسلمانان په کې شهيدان شول .

عيسايانو په مُنظّم سازش سره مسلمانان د وړو وړو غير ضروري مسائلو په وجه بې اتفاقه کړل ، د مسلمانانو قوّت يې ختم کړو او بيا يې ورنه په ملکونو باندې قبضې اوکړې.

يو نمونه درته بيانوم :

## د أصحابِ کهف د سپي رَنګ په باره کې تپوس ، او مسلمانان په خپل مينځ کې جنګول

يو مالدار عيسائي سردار د مسلمانانو د بې اتفاقه کولو د پاره دا طريقه اوکړه چې دا د مسلمانانو يو عالِم ته راغی ، ده ته يې په هَديه کې ډېرې تُحفې او آشرفۍ ورکړې ، او ددې عالم د عِلم يې ډېر صفت اوکړو ، بيا يې دې عالِم ته ووېل :

(۱) لغرة النعيم ج ۲ ص ۵۰ الأجتماع .

جناب ! یوه ډیره اَهمه مسئله ده چې تر اوسه پورې هیڅ عالِم نده حل کړی ، زما اُمید دی چې دا مسئله به همدا ته حل کړی ، هغه مسئله داده چې :
د اصحابِ کهف د سپي رَنګ څنګه وُ ؟

دا اګرچې بې فائدې پوښتنه ده او په کتابونو کې د اصحابِ کهف د سپي د رنګ هیڅ ذکر ندې شوی ، خو چونکه دې عیسائي سردار ددې عالِم ډیر صفت بیان کړې وُ او ډیرې تُحفې او اَشرفۍ یې ورکړې وی نو ځکه دې عالِم چې کیدل خوَښ نکړل او په اَټکل یې ورته د ځان نه جواب ورکړو چې : د اصحابِ کهف د سپي رَنګ سپین وُ .

عیسائي سردار ددې جواب په اَوریدو ډیر خوشحاله شو ، ددې عالِم یې ډیر صفت اوکړو چې تر اوسه دا مسئله هیچا نه وه حل کړی صرف تا حل کړه .

بیا یې دې عالِم ته وویل : مولانا صاحب ! ډیر مسلمانان ددې اَهمې مسئلې نه خبر ندي لهذا ته دا مهرباني اوکړه چې په آئنده جُمعه کې په ممبر باندې دا مسئله بیان کړه .

دې عالِم ورته وویل : صحیح ده زه به یې ضرور بیان کړم ځکه زمونږ کار همدا حق بیانول دي .

ددینه پس دا عیسائي سردار ددې ښاریو بل غټ عالِم ته ورغی ، هغه ته یې هم ډیرې تُحفې او اَشرفۍ وَروړی ، او د هغه د عِلم یې ډیر صفت اوکړو ، بیا یې د هغه نه هم همدغه پوښتنه اوکړه چې : د اصحابِ کهف د سپي رَنګ څنګه وُ ؟

هغه ورته هم په اَټکل باندې وویل : د هغه رَنګ تور وُ .

عیسائي سردار دده هم ډیر تعریف اوکړو چې تا داسې مسئله حل کړه چې تر اوسه دا هیچا نه وه حل کړی .

بیا دې عیسائي ددې عالِم نه هم دا مطالبه اوکړه چې :
مولانا صاحب ! تاسو مهرباني اوکړئ او آئنده جُمعه په ممبر باندې خلقو ته دا مسئله بیان کړئ چې نور خلق هم ددې اَهمې مسئلې نه خبر شي .

دې عالِم ورته تسلي ورکړه چې زه به دا مسئله آئنده جُمعه ضرور بیان کړم .

آئنده جُمعه دې دواړو علماؤ خلقو ته دا بې فائدې مسئله بیان کړه ، دې یو عالِم د ځان نه جوړ کړې شوي دلائلو سره دا ثابته کړه چې د اصحابِ کهف د سپي رَنګ سپین وُ ، او دې

بل عالِم هم د ځان نه جوړ کړې شوي دلائلو سره دا ثابته کړه چې د اصحابِ کهف د سپي رَنګ تور وُ. حالانکه په اسلامي شريعت کې د اصحابِ کهف د سپي رنګ متعلق هيڅ تذکره نشته، دوی د ځان نه دلائل جوړ کړل.

د جُمعې د مانځه نه پس چې کله ددې دواړو جُماتونو مُقتديان په يو چوک کې سره يو ځای شو نو د يو جُمات واله خلقو وويل:

نن زمونږ اِمام داسې يوه مسئله بيان کړه چې په سوونو کلونو تېريدو باوجود هيچا نه وه بيان کړې، هغه دا چې: د اصحابِ کهف د سپي رنګ سپين وُ.

ددې بل جُمات واله خلقو ورته وويل: ستاسو امام غلطه مسئله بيان کړې بلکه د هغه رنګ تور وُ، ځکه نن زمونږ عالِم هم مونږ ته همدا مسئله بيان کړه او هغه وويل چې: اصحاب کهف د سپي رنګ تور وُ.

هره ډَله په خپله خبره باندې ټينګه ولاړه وه، خبره همداسې غځېده تر دې چې يو بل ته يې سختې خبرې هم اوکړې.

بيا خبره مناظرې ته اُورسيده، علماؤ په خپل مينځ کې په دې باندې مناظرې شروع کړې، هر عالِم به د خپل ځان نه دلائل بيانول، آخر دا چې دواړو ډَلو په يو بل باندې د کُفر فتوی اولږولی:

يوې ډَلې وويل: څوک چې دا وايي چې د اصحابِ کهف د سپي رنګ تور وُ نو د هغوی پسې مونځ نه کيږي. بلې ډَلې وويل: څوک چې دا وايي چې د اصحابِ کهف د سپي رنګ سپين وُ نو د هغوی پسې مونځ نه کيږي.

نو په دې وړه فضول خبره باندې د عيسايانو د سازش په وجه غټ اختلاف پيدا شو، مسلمانان بې اِتفاقه شو، د دوی رُعب ختم شو، او کافرانو په آسانۍ سره د مسلمانانو په ملکونو باندې قبضه اوکړه.

دا خو ما درته صرف يوه نمونه پيش کړه، همدغه شان نور بې شماره مسائل داسې دي چې د هغې په وجه مسلمانان د غير مسلمو د سازش په وجه بې اتفاقه شوي وو. (۱)

# د مسلمانانو د بې اِتفاقۍ په وجه آته سوه (۸۰۰) کاله پس د اندلس حکومت د دوی د قبضې نه اووَت

د اُندلس فتح کول : د مسلمانانو مشهور اسلامي جَرنېل " طارق بن زياد رَحِمَهُ اللّٰهُ " د اُووه زره (۷۰۰۰) کسانو سره اُندلس ته په کِشتيو کې د حملې د پاره روان شو ، کله چې د اُندلس په جنوبي طرف کې د سمندر په غاړه باندې د کِشتيو نه کوز شو نو د ټولو نه اول طارق بن زياد د بهادرۍ دا کار اوکړو چې په کومو کشتيو کې راغلي وو هغه ټولې کشتۍ يې د ساحل په غاړه باندې اُوسوزولې .

دا کار اګر چې په ظاهره باندې نا آشنا معلومېږي ، خو که په ژوَر نظر ورته اوکتلې شي نو دا د طارق بن زياد په پوره بهادرۍ باندې دلالت کوي ، ځکه ده په دې کار سره خپل فوج ته دا اُوخودله چې : اوس دوباره زمونږ شاته د تللو لار وَرکه شوه ، شاته سمندر دی او مخې ته د دُشمن فوج دی ، لهذا ښه په زړوَرتيا سره جهاد اوکړئ .

د طارق بن زياد د فوج سره يو آس هم نهٔ ؤ ، د دوی په مقابله کې د لرزيق باچا په مشرۍ کې د عيسايانو يو لک (۱۰۰۰۰۰) قوي فوج ؤ .

د عيسايانو د لښکر سره هر قِسمه اَسلحې ، د هاتيانو په شان غټ غټ آسونه ورسره وو ، د لښکر ډيرو خلقو زغرې اچولې وې ، او د عيسايانو تجربه کار جَنګي قومندانان هم ټول راغلي وو ، په ظاهره باندې داسې معلوميده چې مسلمانان به د عيسايانو د دې دومره لوي لښکر مقابله اونکړې شي ، خو چې کله جنګ شروع شو نو مسلمانانو داسې په بهادرۍ باندې حمله اوکړه چې د عيسايانو ټول لښکر يې تَس نَس کړو ، ډير يې په کې اُووژل ، څه اُوتختيدل او مسلمانانو ته ډير مالِ غنيمت په لاس باندې ورغی .

دا د شوال د مياشتې پنځم تاريخ او دوه نوي هجري کال ؤ ( ۵ شوال ۹۲ هـ ) ، مسلمانانو په ټول اُندلس باندې اسلامي حکومت قائم کړو . بيا طارق بن زياد پيش قدمي اوکړه او د عيسايانو نور ملکونه يې هم فتح کړل .

اُندلس واپس د قبضې نه وَتل : په اُندلس باندې مسلمانانو څه د پاسه آته سوه (۸۰۰) کاله کامياب حکومت اوکړو ، خو چې کله په مسلمانانو کې بې اِتفاقي پيدا شوه ،

د عیسایانو خوشحالولو د پاره یې د یو بل وینې توی کړی ، د قرآن کریم په احکامانو باندې یې عمل پرېخود ، او مختلف قسمه ګناهونه یې شروع کړل نو په دولسم تاریخ د ربیع الاول اته سوه اوه نوي هجري ( ۱۲ ربیع الاول ۸۹۷ هـ ) کې څه د پاسه اته سوه کاله پس عیسایانو دوباره د مسلمانانو نه دا ملک واخیست . اکثره مسلمانان یې په کې شهیدان کړل ، څه یې او سوزول ، څه یې په دَریاب کې ډوب کړل ، او څه غرونو ته اوتختیدل

دا غټ مصیبت چې په مسلمانانو باندې راغی نو دا صرف او صرف د بې اِتفاقۍ او په شریعت باندې د عمل نه کول په وجه وربانديې راغی .

## د مسلمانانو د بې اِتفاقۍ په وجه په بغداد کې یو کروړ او شپږ لکه (۱۰۶۰۰۰۰۰) مسلمانان شهیدان شو

په بغداد باندې د مسلمانانو مضبوط حکومت ؤ ، دا د مسلمانانو یو غټ عِلمي مرکز ؤ ، په دې ځای کې لوي لوي فقهاء او مُحدِّثین پیدا شوي ، دلته په مختلفو علومو باندې غټ غټ کتابونه لیکل شوي ، او د هر قِسمه علومو غټې غټې کتب خانې وې .

خو چې کله په مسلمانانو کې بې اِتفاقي پیدا شوه ، د بغداد خلیفه " مستعصم بِالله " سره خپل وزیر " ابن علقمي " غداري اوکړه ، ابن علقمي په پټه باندې د تاتاریانو سردار " هلاکو خان " سره خط و کِتابت شروع کړو ، او هلاکو خان ته یې ترغیب ورکول چې ته په بغداد باندې حمله اوکړه زه به درسره ملګرې یم .

( دا اوږده واقعه ده ، د تاریخ په کتابونو کې په تفصیل سره ذکر ده . (۱) )

کله چې هلاکو خان په بغداد باندې حمله اوکړه نو په بغداد کې یې یو کروړ او شپږ لکه (۱۰۶۰۰۰۰۰) مسلمانان شهیدان کړل ، تاتاریانو په بغداد کې داسې قتلِ عام شروع کړو چې یو مسلمان یې هم پرې نه خود ، صرف یو څو هغه کسان ورنه ژوندي پاتې شو چې هغه په کوهیانو یا بل محفوظ ځای کې پټ شوي وو ، ددینه علاوه نور ټول مسلمانان یې شهیدان کړل ، تردې چې زَنانه ، ماشومان او بوداګان یې هم پرې نه خودل . د دَریائې دَجله اوبه څو ورځې د شهیدانو په وینو باندې سرې وې .

---

(۱) ددې واقعې څه تفصیل د مولانا اکبر شاه نجیب آبادي په کتاب " تاریخ اسلام " کې هم شته . ابوالشمس علي عنه

بیا تاتاریانو د بغداد شاهي کتب خانې او نورو ټولو کتب خانو نه اسلامي کتابونه راجمع کړل او ټول يې په دریائې دَجله کې اوغورځول چې په دې سره په دَریاب کې یو بَند جوړ شو ، بیا اُوبو په قلاره قلاره دا ټول کتابونه وې وړل.

دا دومره ډېر قلمي کتابونه وو چې د دَریائې دَجله اُوبه څو ورځې د کتابونو د سیاهۍ په وجه تکې توري وې.

بیا د هلاکو خان فوج د بغداد شاهي محلونه لوټ کړل ، او ټول يې وران کړل ، دوی په بغداد کې داسې تباهي اوکړه چې په تاریخ کې د دې بل مثال نشته.

دا غټ مصیبت په مسلمانانو باندې ځکه راغی چې مسلمانان په دې وخت کې په خپل مینځ کې بې اِتفاقه وو او د یو بل د ختمولو سازشونه يې کول.

د مسلمانانو د بې اتفاقۍ اندازه تاسو ددینه اُولګوئ چې کله تاتاریانو د مسلمانانو قتلِ عام کولو نو علامه ابن تیمیه رحمه الله مسلمانانو ته ترغیب ورکړو چې د تاتاریانو خلاف جهاد اوکړئ ، نو په دې وخت کې هم بعضې بَدبخته علماء داسې وو چې د هغوی په دې کې اختلاف وُ چې : آیا د تاتاریانو سره جهاد کول جائز دی او که نه ؟

عجیبه داده چې تاتاریانو ټول مسلمانان وژل خو دا بعضې علماء بیا هم په دې کې مختلف وو چې آیا د دوی سره جهاد جائز دی او که نه ؟ د همدې بې اتفاقۍ په وجه خو بغداد د دوی د قبضې نه لاړ.

## د مسلمانانو د اختلاف په وجه نور ملکونه د قبضې نه وَتل

د اُندلس او بغداد په شان نور ډېر ملکونه هم د مسلمانانو د بې اِتفاقۍ په وجه د دوی د قبضې نه وتلي دي.

سمَرقند او بُخارٰی د علم غټ غټ مرکزونه وو ، مشهوره خبره ده چې کافران ښار ته د قبضې د پاره نزدې رارسیدلي وو خو بیا هم د مسلمانانو په خپل مینځ کې په دې خبره باند اختلاف وُ چې آیا په کاڼي باندې اِستنجاء جائز ده او که نه ؟

همدارنګې په هندوستان کې زر ( ۱۰۰۰ ) کاله د مسلمانانو حکومت وُ خو لیکن د مسلمانانو د بې اتفاقۍ او خپل مینځي اختلافاتو په وجه دا د مسلمانانو د قبضې نه اُووت او اَنګریزانو وریاندې خپل حکومت قائم کړو.

بهر حال، کله چې په مسلمانانو کې اتفاق وي او په خپل دِين باندې مضبوط ولاړ وي نو د دوی قوّت او عزت به برقرار وي ، په کافرانو باندې به د مسلمانانو رُعب وي ، هيڅ کافر به دا تصوّر نشي کولی چې په مسلمانانو باندې حمله اوکړي .

خو دا هله چې په مسلمانانو کې فِکري ، معاشي ، معاشرتي او سياسي وَحدت پيدا شي.

اوس فِکري وَحدت په قرآن کريم سره پيدا کيږي ځکه په قرآن کريم ويلو سره به د ټولو نظريه يوه شي .

معاشيَ وحدت په زکوة ، خيرات او صدقاتو ورکولو سره پيدا کيږي ، ځکه هيچا ته به د اُولږې تکليف نه ري ، او د يو بل سره به يې محبت وي .

معاشرتي وَحدت په اجتماعي اعمالو اداء کولو سره پيدا کيږي ، لکه مونځ وغيره ، ځکه په دې کې غريب او مالدار ټول په يو صَف کې ولاړ وي .

سياسي وحدت په دې پيدا کيږي چې هر کس دا سوچ اوکړي چې په ټوله دُنيا کې اسلام سَرلوړی شي ( اِعْلَاءِ کَلِمَةُ الله اوشي ) او د کُفر جَرړه ختمه شي .

## د اَوّلني اسلامي حکومتونو د کاميابۍ راز

په اَوّلني اسلامي حکومتونو کې يو څو خصوصيات داسې وو چې د هغې په وجه دوی په ټوله دُنيا باندې غالبه وو :

۱ . هغوی د اسلامي شريعت سره ډير مضبوط تعلق وُ ، په هره موقع به يې د قرآن کريم او احاديثو حُکم ته ترجيح ورکوله ، د غير مُسلمو نِظامونو ته يې نه کتل ، بلکه هميشه به يې د قرآن کريم په حُکم باندې نظر وُ .

۲ . بادشاه به د مسلمانانو د ذِي رَای خلقو په مشوره باندې مقرر کيدو ، ميراثي حکومت نه وُ .

۳ . بادشاه به د امير او غريب ټولو سره يو شان معامله کوله ، او په غونډ مُلک کې به يې عدل جاري کړې وُ .

۴ . مسلمان بادشاه به د انسانيت صحيح خېرخواه وُ ، خپلو ذاتي مفاداتو ته به يې ترجيح نه ورکوله .

۵ . مسلمان بادشاه به ځان صرف د عربو بادشاه نه ګنړلو بلکه هغه به ځان د الله او

رسول خليفه گنړلو ، په مخ د زمکه يې د الله ﷻ او رسول ﷺ احکامات جاري کړي وو.

**د دويم سبب خلاصه:** د دويم سبب خلاصه دا را اُووته چې مسلمانانو ته په کار دي چې په خپل مينځ کې اتفاق و اتحاد پيدا کړي ، د اختلافاتو او جګړو نه ځان اوساتي ، ځکه په بې اتفاقۍ سره د مسلمانانو قوّت ختميږي ، او مسلمانان د کافرانو په مقابله کې مغلوبه کيږي

# د مسلمانانو د ذِلّت او کمزورۍ دريم سبب :

# " جهاد پريخودل "

د مسلمانانو د ذِلّت ،کمزورۍ او مغلوب کيدو دريم غټ سبب " جهاد پريخودل " دي.

د مسلمانانو عزت خو په جهاد کې وُ ، په کافرانو باندې د مسلمانانو رُعب د جهاد په وجه وُ، تر څو پورې چې مسلمانانو جهاد کول نو کافران به ورنه يريدل او په ټوله دُنيا غالب وو.

خو چې د کله نه مسلمانانو د کافرانو خلاف جهاد پريخې دی ، د دُنيا په عيش و عشرت کې اخته شوي او د مرګ نه يې يَره پيدا شوی نو بُزدلي په کې پيدا شوی او ورځ په ورځ تَنزّل طرف ته روان دي.

د ابوداؤد شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ، وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ، وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ ، وَتَرَكْتُمُ الْجِهَادَ سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا لَا يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ . (۱)

کله چې تاسو د عَيْنَې بيع کوی (۲) ، د غواګانو لکۍ اونيسی ، په کروَنده خوشحاله شی

(۱) سنن ابي داؤد أَبْوَابُ الإِجَارَةِ بَابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ العِينَةِ رقم الحديث ۳۴۶۲ ، قال الالباني: صحيح . السنن الکبری للبيهقي رقم الحديث ۱۰۷۰۳ باب ماورد في كراهية التبايع بالعينة ، كنزالعمال كتاب الجهاد الباب الاول في الترغيب فيه رقم الحديث ۱۰۵۰۳ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۳۸۹ (۲) الترهيب من ان يموت الانسان و لم يغز ولم ينو الغزوة ، سلسلة الاحاديث الصحيحة للالباني رقم ۱۱ .

(۲) د عَيْنَة تعريف دادی چې يو کس د بل چا نه څه شيز په معلومو روپو سره د يوې معلومې نيټې پورې واخلي هغه ته يې تر اوسه روپۍ نه وي ورکړي د نيټې راتلو نه مخکې مخکې همدا شيز په هماغه کس باندې د هغې نه په کم قيمت خرڅ کړي. نو دا بيعه ناجائز ده. وَالعِينَةُ بِفَتْحِ العَيْنِ المُهْمَلَةِ وَسُكُونِ اليَاءِ ←←←←←←←←

او جهاد پريږدئ نو الله تعالی به په تاسو باندې ذِلت مسلّط کړي ، دا ذِلت به د تاسو نه تر هغه وخته پورې نه لرې کيږي تر دې چې تاسو خپل دِين ته واپس راشئ ( يعنې جهاد شروع کړئ ) .

**عبرت** : په دې حديث کې ذکر شو چې په جهاد پريخودو سره په مسلمانانو باندې اجتماعي ذِلت مسلّط کيږي . او بيا د حديث په آخري جُمله کې سخت وعيد ذکر شو چې د جهاد نه مخ اړول ګويا د دِين نه وتل دي ځکه خو نبي عليه السلام اوفرمايل چې دا ذِلت به په تاسو باندې تر هاغه وخته پورې وي تر دې چې تاسو خپل دِين ته واپس راشئ او جهاد شروع کړئ . (۱)

## جهاد د اسلام اَهم حُکم دی

جهاد د اسلام په اَحکاماتو کې يو اَهم حُکم دی ، لکه څرنګې چې مونځ ، روژه ، زکوة، او حج فرض دي نو همدغه شان جهاد هم فرض دی ( اګرچې په بعضې صورتونو کې فرضِ عَين دی او بعضې صورتونو کې فرضِ کفايه دی (۲)) . د دينه مُنکِر کافر دی .

په جهاد کې د اسلام قوّت او باقي والې پروت دی . په مدينه منوّره کې چې د قرآن کريم کومه حصه نازله شوی په هغې کې په لوي مقدار سره د جهاد فضائلِ ، مسائلِ ، احکامات او اِعلانات موجود دي .

رسول الله ﷺ د مدينې منوّرې اکثره ژوند په جهاد کې تېر کړی ، په اُووه ويشت (۲۷) غزاګانو کې يې په خپله شرکت کړی ، او پنځه پنځوس (۵۵) جهادونو ته

←←← تَحْتَهَا نُقْطَتَانِ وَفَتْحِ النُّونِ هُوَ أَنْ يَبِيْعَ مِنْ رَجُلٍ سِلْعَةً بِثَمَنٍ مَعْلُومٍ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى ثُمَّ يَشْتَرِيْهَا مِنْهُ بِأَقَلَّ مِنَ الثَّمَنِ الَّذِيْ بَاعَهَا . مرقاة ج۵ ص ۱۹۲۰ ، تفسير قرطبي ج۲ ص ۵۹ البقرة آية ۱۰۴ .

(۱) ودلّ قوله ﷺ " حَتّٰى تَرْجِعُوْا إِلٰى دِيْنِكُمْ " على أنّ ترک الجهاد والإعراض عنه والسكون الى الدنيا خروج عن الدّين ومفارقة له وكفى به ذنبًا وإثمًا مبينًا . مشارع الاشواق ج ۱ ص ۱۰۷ .

(۲) وفي الهندية : عَامَّةُ الْمَشَايِخِ رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى قَالُوْا : اَلْجِهَادُ فَرْضٌ عَلٰى كُلِّ حَالٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَبْلَ النَّفِيْرِ فَرْضُ كِفَايَةٍ وَبَعْدَ النَّفِيْرِ فَرْضُ عَيْنٍ ، وَهُوَ الصَّحِيْحُ . الفتاوى الهندية ۳/۱۸۸ ، كِتَابُ السِّيَرِ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ

يې صحابه كرام ليږلي دي، نو په لس (۱۰) كاله مدني دوَر كې نبي عليه السلام بالواسطه او بِلاواسطه دوه اَتيا (۸۲) جهادونه كړي، ګويا په هر كال كې اته (۸) جهادونه راغلل پيغمبر عليه السلام په خپله په جهاد كې زخمي شوى، په خپل لاس مبارک باندې يې كافر (اُبيّ بن خلف) په نېزه وهلى او هغه يې مردار كړى.

تر دې چې نبي عليه السلام په مرضُ الوفات كې هم د جهاد عمل جاري ساتلى، يعنى د وفات كېدو نه يو څو ورځې مخكې يې لښكر د جهاد د پاره تيار كړو، او په خپل لاس مبارک باندې يې جَنډه حضرت اُسامه بن زيد ﷺ ته وركړه او دا يې د غونډ لښكر امير مقرر كړو.

همدا رنګې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د صحابه كرامو رضي الله عنهم داسې تربيت كړې وُ چې د دوى د وفات نه پس صحابه كرامو عمَلي طريقې سره په سوونو جهادونه اوكړل، او د اسلام جَنډه يې په ټوله دُنيا باندې اُوچته كړه، داسې مُلک نشته چې هلته د دِين د سَرِبُلندۍ د پاره وِينه نه وي توَى شوي.

# د قدرت باوجود جهاد نه كولو سزاګانې

كله چې جهاد فرضِ عين شي او د قدرت باوجود څوک جهاد نه كوي نو د داسې كس د پاره په قرآن كريم كې سخت وعيدونه ذكر شوى.(۱)

همدا رنګې په احاديثو مباركه وُ كې هم د داسې كس د پاره سختې سزاګانې ذكر شوي.(۲)

---

(۱) قَالَ اللهُ تَعَالٰى ﴿ قُلْ إِنْ كَانَ اٰبَآؤُكُمْ وَاَبْنَآؤُكُمْ وَاِخْوَانُكُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيْرَتُكُمْ وَاَمْوَالُ اقْتَرَفْتُمُوْهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ اَحَبَّ اِلَيْكُمْ مِّنَ اللهِ وَرَسُوْلِهٖ وَجِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللهُ بِاَمْرِهٖ ۗ وَاللهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴾ التوبة آية ۲۴.

وَقَالَ تَعَالٰى ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَا لَكُمْ اِذَا قِيْلَ لَكُمُ انْفِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ اثَّاقَلْتُمْ اِلَى الْاَرْضِ ۗ اَرَضِيْتُمْ بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مِنَ الْاٰخِرَةِ ۚ فَمَا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا قَلِيْلٌ ۞ اِلَّا تَنْفِرُوْا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ وَّيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوْهُ شَيْـًٔا ۗ وَاللهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴾. التوبة آية ۳۸، ۳۹.

(۲) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهٖ نَفْسَهُ مَاتَ عَلٰى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ.
صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ ذَمِّ مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ نَفْسَهُ بِالغَزْوِ رقم الحديث ۱۵۸ (۱۹۱۰) ←←←

(( **نوټ** : د جهاد اَهمیت ، او فضائلو متعلق تفصیلي بحث ددې ( اِصْلَاحِيْ مُدَلَّل تَقْرِيْرُوْنه ) کتاب په دولسم جلد کې تېر شوی. ابوالشمس علي عنه ))

## د مسلمانانو د کمزروی او مغلوب کیدو څلورم سبب :

## " د دُنیا حِرص "

د مسلمانانو د کمزوری یو سبب دا هم دی چې په دوی کې د مال و دولت ډېرولو دومره حِرص پیدا شوی چې ددې په وجه دوی د حلال و حرام ، جائز و ناجائز هیڅ تمییز نه کوي ، بلکه هر کس دا کوشش کوي چې دُنیا ډېره کړي : که دا په سُود او رِشوت سره وي، یا غلا او دُهوکې سره وي ، یا د یتیم مال قبض کولو سره وي ، یا د بیتُ المال نه غلا کول وي ، یا په نورو ناجائزو طریقو سره وي .

یا چې کله مال و دولت زیات شي او ددې محبت یې په زړه کې ننوځي نو انسان په مختلف قِسمه ګناهونو او خراب کارونو کې مبتلاء شي : د روپو د پاره یو بل قتلوي ، د عیاشی اَسباب ځانته برابروي ، شراب څکي ، آخِر په زِنا کې هم اَخته شي ، چې دا ټول کارونه د اُمتِ مسلمه د پاره د ذِلت او هلاکت اَسباب دي .

## د دُنیا سره محبت د مسلمانانو د ذلت سبب دی

چې کله د مسلمانانو په زړونو کې د دُنیا سره محبت پیدا شي ، او ددې په وجه یې د مرګ نه یَره پیدا شي نو په دې سره مسلمانان بُزدِله کیږي او کافران وړاندې په آسانه غالبه کیږي

---

←←←← سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ كَرَاهِيَةِ تَرْكِ الْغَزْوِ رقم الحديث ۲۵۰۲ ، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ۳۸۱۳ .

وَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ لَمْ يَغْزُ أَوْ يُجَهِّزْ غَازِيًا . أَوْ يَخْلُفْ غَازِيًا فِيْ أَهْلِهِ بِخَيْرٍ أَصَابَهُ اللهُ بِقَارِعَةٍ قَبْلَ يَوْمِ الْقِيَامَةِ . سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ كَرَاهِيَةِ تَرْكِ الْغَزْوِ رقم الحديث ۲۵۰۳ قال الالباني: حسنٌ . سنن ابن ماجة كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ التَّغْلِيظِ فِيْ تَرْكِ الْجِهَادِ رقم الحديث ۲۷۶۲ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۷۷۴۷ ، السنن الصغير للبيهقي رقم الحديث ۲۷۸۵ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۷۹۴۲ ، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۲۰ (۲۲) .

د ابوداؤد شريف او مشکوٰة شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم (صحابه کرامو ته) اوفرمايل :

يُوْشِكُ الْأُمَمُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَى الْأَكَلَةُ إِلَى قَصْعَتِهَا .

داسې يوه زمانه راتلونکې ده چې د کافرانو (او ګمراهانو) ډلې به تاسو سره د جنګ کولو او ستاسو د شان و شوکت ختمولو د پاره به په خپل مينځ کې يو بل داسې رابلي لکه څرنګې چې په دسترخوان باندې ناست خلق يو بل د خوراک کاسې طرف ته رابلي .

يو صحابي پوښتنه اوکړه : وَمِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ ؟

(د کافرانو زمونږ خلاف راجمع کيدل او په مونږ غالِب کيدل) دا به په دې وخت کې زمونږ د تعداد د کموالي په وجه وي ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

بَلْ أَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ كَثِيْرٌ ، وَلٰكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ ، وَلَيَنْزَعَنَّ اللهُ مِنْ صُدُوْرِ عَدُوِّكُمُ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ ، وَلَيَقْذِفَنَّ اللهُ فِيْ قُلُوْبِكُمُ الْوَهْنَ .

(ستاسو تعداد به کم نه وي) بلکه په دغه وخت کې به ستاسو تعداد زيات وي خو ليکن ستاسو مثال به د اُوبو د زګ په شان وي کوم چې د سيلاب د پاسه وي (يعنی په تاسو کې به بهادري او قوّت نه وي) ، بيشکه الله تعالی به ستاسو د دُشمنانو د زړونو نه ستاسو يَره (او رُعب) اُوباسي (هغوی به د تاسو نه نه يَرېږي) ، او الله تعالی به ستاسو په زړونو کې کمزوري (سستي) پيدا کړي .

يو صحابي پوښتنه اوکړه : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! وَمَا الْوَهْنُ ؟

اې د الله رسوله ! (زمونږ) د دې کمزورۍ سبب به څه شی وي ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : حُبُّ الدُّنْيَا ، وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ .

د دُنيا محبت او مرګ بَد ګڼړل . (۱)

(۱) عَنْ ثَوْبَانَ رضي الله عنه ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « يُوْشِكُ الْأُمَمُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَى الْأَكَلَةُ إِلَى قَصْعَتِهَا » ، فَقَالَ قَائِلٌ : وَمِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ ؟ قَالَ : « بَلْ أَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ كَثِيْرٌ . ←←←←

**د حديث تشريح** : د حديث خلاصه داده : نبي عليه السلام اوفرمايل چې لکه ځرنګې خلق په دستر خوان باندې جمع وي او يو بل په کاسو کې موجود خوراک طرف ته رابلي ، او دوی ټول په آسانۍ سره د هرې کاسې نه خوراک کولې شي نو همدغه شان د دُنيا کافران به هم ستاسو د مقابلې د پاره راجمع شي ، يو بل به ستاسو په هلاکت باندې راپاروي ، آخِر به هغوی تاسو هلاک کړي ، ستاسو مالونه او جائيداد به په آسانۍ سره قبضه کړي ، هر کافر چې کله هم اوغواړي ستاسو مال و أسباب به لوټ کولې شي .

يو صحابي چې کله پوښتنه اوکړه : چې آيا په دغه وخت کې به زمونږ تعداد کم وي چې کافران به زمونږ د ختمولو د پاره راجمع کيږي ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : چې ستاسو تعداد به ښه ډير وي ليکن ستاسو مثال به د أوبو د زګ په شان وي ( په تاسو کې به د کافرانو په مقابله کې هيڅ بهادري نه وي ) ، الله ﷻ به د کافرانو د سينو نه ستاسو رُعب او دَبدبه لرې کړي ، هغوی به د تاسو نه نه ويريږي ، بلکه الله ﷻ به ستاسو په زړونو کې کمزوري او سستي واچوي .

کله چې صحابي د نبي عليه السلام نه پوښتنه اوکړه چې ددې کمزورۍ سبب به څه وي ؟ نو پيغمبر عليه السلام ورته د کمزورۍ دوه (۲) سببونه بيان کړل :

اول د دُنيا محبت . او دويم مرګ ناخوښه ګڼړل .

يعنی کله چې مسلمانان د دُنيا ژوند غوره أوګڼړي او د مرګ نه يې نفرت پيدا شي ( د کافرانو په مقابله کې د شهادت جَذبه او نه لري ) نو په دې سره په دوی کې بُزدِلي پيدا کيږي ، او کافران ورباندې غالبه کيږي . (۱)

←←← وَلَكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ ، وَلَيَنْزَعَنَّ اللهُ مِنْ صُدُورِ عَدُوِّكُمُ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ ، وَلَيَقْذِفَنَّ اللهُ فِي قُلُوبِكُمُ الْوَهْنَ » . فَقَالَ قَائِلٌ : يَا رَسُولَ اللهِ ! وَمَا الْوَهْنُ ؟ قَالَ : « حُبُّ الدُّنْيَا ، وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ » . سنن ابي داؤد كِتَاب المَلَاحِمِ بَابٌ فِي تَدَاعِي الأُمَمِ عَلَى الإِسْلَامِ رقم الحديث ۴۲۹۷ قال الالباني: صحيح . مشكوة المصابيح باب تغير الناس الفصل الثاني رقم الحديث ۵۳۶۹(۱۰) ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۳۷۲۴۷ ، مسند احمد رقم الحديث ۲۲۳۹۷ ، شعب الايمان رقم الحديث ۹۸۸۷ ، كنز العمال ۳۰۹۱۶ .

(۱) ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې ددې حديث تشريح همداسې کړی .

# دُنيا ته راغب کيدل هلاکت دی

کله چې انسان د دُنيا داسې عاشِق او حريص جوړ شي چې ددې په زياتولو کې د يو بل نه د مخکې کيدو کوشش کوي، ددې د محبت په وجه د حلال و حرام تميز نه کوي، د يو بل سره پرې جګړې او ډُهوکې کوي، او د غريبانانو حقوق نه اداء کوي نو داسې دُنيا د انسان د پاره د هلاکت سبب ګرځي.

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، په يوه موقع باندې رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته اوفرمايل:

... فَوَاللهِ لَا الْفَقْرَ أَخْشَى عَلَيْكُمْ، وَلٰكِنْ أَخْشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تُبْسَطَ عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا كَمَا بُسِطَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، فَتَنَافَسُوهَا كَمَا تَنَافَسُوهَا، وَتُهْلِكَكُمْ كَمَا أَهْلَكَتْهُمْ.

... قسَم په الله، زه په تاسو باندې د فقر په وجه نه ويريږم، بلکه زه په تاسو باندې ددې د وجې ويريږم چې په تاسو باندې به دُنيا داسې فراخه کړې شي لکه څرنګې چې په مخکيني خلقو باندې فراخه کړې شوې وه، نو تاسو به په دې کې د حَد نه زيات رَغبت (او مِينه) اوکړی لکه څرنګې چې مخکيني خلقو د دُنيا سره د حَد نه زيات رغبت کړې وُ، نو بيا به دا دُنيا تاسو داسې هلاک کړي لکه څرنګې يې چې مخکيني خلق تباه کړي وو.(۱)

**د حديث تشريح**: نبي عليه السلام په قسَم سره دا خبره اوکړه چې زه په تاسو باندې د فقر د وجې نه ويريږم (يعنی ما سره ستاسو د فقر يَره نشته، ځکه په فقيرۍ کې اکثره د انسان دِين سالِم وي) بلکه زه دير ددې نه ويريږم چې په تاسو باندې به د دُنيا داسې فراخي اوکړې شي لکه څرنګې چې په مخکيني خلقو باندې کړې شوې وه، پس تاسو به ددې دُنيا سره داسې مِينه اوکړی لکه څرنګې چې مخکيني خلقو کړې وه (هغوی د دُنيا سره د محبت په وجه د غريبانانو سره مدد اونکړو. دُنيا په وجه يې خپل مينځې جګړې اوکړی، او د يو

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الجِزْيَةِ بَابُ الجِزْيَةِ وَالمُوَادَعَةِ مَعَ أَهْلِ الحَرْبِ رقم الحديث ۳۱۵۸، و رقم الحديث ۴۰۱۵ كِتَابُ المَغَازِي، و رقم الحديث ۶۴۲۵ كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ مَا يُحْذَرُ مِنْ زَهَرَةِ الدُّنْيَا وَالتَّنَافُسِ فِيهَا، صحيح مسلم كِتَابُ الزُّهْدِ وَالرَّقَائِقِ رقم الحديث ۶ (۲۹۶۱)، مشكوة المصابيح كتاب الرقاق الفصل الاول رقم الحديث ۵۱۶۳(۹)، سنن ابن ماجة باب فتنة المال رقم الحديث ۳۹۹۷، مسند احمد رقم الحديث ۱۷۲۳۴.

بل نه یې د مخکې کیدلو کوشش کولو ) نو ددې په وجه هغوی هلاک شو ، نو که تاسو دیته همدغه شان مبتلا او کړو نو تاسو به هم هلاک شئ.(۱)

# په قرآن کریم او احادیثو کې د دُنیا حقیقت

حالانکه که مونږ په قرآن کریم او احادیثو کې د دُنیا حقیقت او ګورو نو دا به راته معلومه شي چې کله د دُنیا محبت د انسان زړه ته داخل شي او ددې په وجه شرعي احکام پریږدي نو دا بیا د انسان د هلاکت سبب ګرځي.

د یو څو آیتونو او احادیثو په ذریعه درته د دُنیا حقیقت واضح کوم :

۱. الله تعالی فرمایي : ﴿ أَلْهَىٰكُمُ التَّكَاثُرُ ، حَتَّىٰ زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ﴾.(۲)

ترجمه : د مال ډیرولو حِرص تاسو غافله کړي یَئ تر دې چې تاسو قبرونو ته اُورسیدئ.

۲. مال و دولت خو په دُنیا کې د انسان د پاره آزمېښت دی ، چې آیا ددې د محبت په وجه دا شرعي احکامات پریږدي او که نه ؟

الله ﷻ فرمایي :﴿ وَاعْلَمُوٓا أَنَّمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَأَوْلَٰدُكُمْ فِتْنَةٌ وَأَنَّ اللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴾.(۳)

ترجمه : او پوهه شئ چې بیشکه ستاسو مالونه او ستاسو اَولاد ( په حقیقت کې ) آزمېښت دی ، او د الله سره ډیر لوي اَجر دی.

په حدیث کې هم مال ته آزمېښت ویل شوی ، د ترمذي شریف حدیث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : إِنَّ لِكُلِّ أُمَّةٍ فِتْنَةً وَفِتْنَةُ أُمَّتِي الْمَالُ .(۴)

---

(۱) فَالْمَعْنَى كَمَا قَالَ الطِّيبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : تَرْغَبُونَ فِيهَا فَتَشْتَغِلُونَ بِجَمْعِهَا ، وَتَحْرِصُونَ عَلَى إِمْسَاكِهَا ، فَتَطْغَوْنَ بِهَا فَتَهْلَكُونَ بِهَا . مرقاة المفاتيح ۳۲۳۳/۸ في تشريح حديث ۵۱۶۳ كتاب الرقاق .

(۲) التكاثر آية ۱ ، ۲ .

(۳) الانفال آية ۲۸ .

(۴) سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ فِتْنَةَ هَذِهِ الأُمَّةِ فِي المَالِ رقم الحديث ۲۳۳۶ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ . قال الالباني : صحيح . السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۱۱۷۹۵ ، مشكوة المصابيح كتاب الرقاق الفصل الثاني ، كنز العمال رقم الحديث ۶۱۰۶ .

بیشکه د هر اُمت د پاره یوه فِتنه ( آزمېښت ) وي، او زما د اُمت د آزمېښت څیز مال و دولت دی.

یعنی په مال سره ددې اُمت آزمېښت او امتحان کولې شي چې د مال باوجود دوی په شریعت باندې مستقیم پاتې کیږي که نه ؟

۳. د قرآن کریم په یو بل آیت کې د مال او اَولاد حقیقت په دې الفاظو ذکر شوی:

﴿ وَمَآ اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ بِالَّتِيْ تُقَرِّبُكُمْ عِنْدَنَا زُلْفٰٓى اِلَّا مَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوْا وَهُمْ فِى الْغُرُفٰتِ اٰمِنُوْنَ ﴾. (۱)

ترجمه: او ستاسو مالونه او ستاسو اولاد داسې ندي چې تاسو مونږ ته په قُربت کې نزدې کړي، مګر څوک چې ایمان راوړي او نیک عمل اوکړي نو دوی ته به د خپل عمل دوچنده بدله وي، او دوی به (د جنت) په بالا خانو کې په اَمن و امان سره وي.

په قرآن کریم کې مال و اَولاد، بیبیانو، سرو زَرو او سپینو زرو ته د دُنیا د ژوند سامان ویل شوی. (۲)

٤. همدارنګې که په احادیثو مبارکه وُ کې د دُنیا حقیقت اوکتلې شي نو دا د الله ﷻ په نزد باندې د ماشي د وَزر هومره حیثیت هم نه لري، رسولُ الله ﷺ فرمایي:

لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوْضَةٍ مَا سَقٰى كَافِرًا مِنْهَا شَرْبَةَ مَاءٍ. (۳)

(۱) السبا آیة ۳۷.

(۲) الله تعالى فرمايي: ﴿ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِيْنَ وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْاَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَاللهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الْمَاٰبِ ﴾. آل عمران آیة ۱۴.
په یو بل آیت کې هم همدا مضمون بیان شوی، الله تعالى فرمايي: ﴿ اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ وَّزِيْنَةٌ وَّتَفَاخُرٌۢ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِى الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ ﴾. الحديد آیة ۲۰.

(۳) سنن الترمذي أبواب الزهد باب ما جاء في هوان الدنيا على الله عز وجل رقم الحديث ۲۳۲۰ قال الالباني: هذا حديث صحيح. سنن ابن ماجة كتاب الزهد باب مثل الدنيا رقم الحديث ۴۱۱۰، مشكوة المصابيح كتاب الرقاق الفصل الثاني رقم الحديث ۵۱۷۷ (۲۳).

که چیرته دُنیا د الله ﷻ په نزد باندې د ماشي د وَزر هومره برابر وی نو کافر ته به یې ددینه د اُوبو یو ګوټ (غړپ) هم نهٔ وَرکَّکلی.

(همدا مضمون په نورو احادیثو کې هم بیان شوی. (۱)).

ددې حدیث نه معلومه شو چې که د الله تعالی په نزد د دُنیا څه قدر و قیمت وی نو بیا به یې کافرانو ته هیڅ کله نه وه ورکړی، حالانکه مال و دولت زیات د کافرانو سره دی.

۵. په قرآن کریم کې هم دې خبرې ته اشاره شوی، الله رب العزت فرمایي:

﴿ وَلَوْلَآ أَن يَكُونَ النَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَن يَكْفُرُ بِٱلرَّحْمَٰنِ لِبُيُوتِهِمْ سُقُفًا مِّن فِضَّةٍ وَمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُونَ ۝ وَلِبُيُوتِهِمْ أَبْوَٰبًا وَسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِـُٔونَ ۝ وَزُخْرُفًا وَإِن كُلُّ ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ ﴾.(۲)

ترجمه: او (د دُنیا دولت او مرتبه د الله تعالی په نزد داسې بې قدره څیز دی چې) که چیرته دا خبره نه وی چې ټول خلق به په یوه طریقه (کافران) شي نو کوم خلق چې د رحمان ذات (الله ﷻ) نه اِنکار کوي مونږ به خامخا د هغوی د کورونو چتونه د سپینو زرو جوړ کړي وی، او په کومو پوړو (آندړپایو) باندې چې دوی پاس چت ته خیجي هغه به مو هم ورله د سپینو زرو جوړې کړې وی، او د دوی د کورونو دروازې او هغه تختونه چې دوی وریاندې تکیه لږوي دا به مو هم ورله د سپینو زرو جوړ کړي وی، او همدا (مذکوره) شیان به مو ورله د سرو زرو نه هم جوړ کړي وی، او دا ټول څیزونه خو صرف د دُنیا د ژوند لږ

---

(۱) وفي رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَوْ عَدَلَتِ الدُّنْيَا عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوْضَةٍ مِنْ خَيْرٍ مَا سَقَى كَافِرًا مِنْهَا شَرْبَةً. شعب الايمان رقم ۹۹۸۷، ورقم الحديث ۹۹۸۶، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۵۹۲۱، كنزالعمال رقم الحديث ۶۲۰۹.

وفي رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا عِنْدَ اللهِ فِي الْخَيْرِ بِمَنْزِلَةِ جَنَاحِ بَعُوْضَةٍ، مَا أَعْطَى مِنْهَا كَافِرًا شَيْئًا. شرح السنة للبغوي كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ هَوَانِ الدُّنْيَا عَلَى اللهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى رقم الحديث ۴۰۲۶، كنزالعمال رقم الحديث ۶۲۰۸.

(۲) الزخرف آية ۳۳ تر ۳۵.

سامان دی، او آخرت خو ستا د رَب په نزد د پرهیزګارانو د پاره دی.

**د آيت خلاصه** : د آيت خلاصه داده چې دا دُنيا د الله ﷻ په نزد هيڅ حيثيت نه لري، ځکه الله ﷻ دا خپلو دشمنانو کافرانو ته هم ډيره ورکړې، او دُشمن ته څوک د قدر څيز نه ورکوي، تر دې چې الله ﷻ دا هم اوفرمايل: که چيرته دا يَره نه وي چې مسلمانان به د دُنيا د حِرص په وجه کُفر قبول کړي نو مونږ به د کافرانو د کورونو چتونه، پونړۍ، دروازې او تختونه د سپينو زرو او سرو زرو نه جوړ کړي وی، خو دا کار مو ځکه اونکړو چې بيا به اکثر مسلمانان د دُنيا د حِرص په وجه ځانونه کافران کړي ددې د پاره چې دوی ته هم دا دُنيا ډيره ملاؤ شي. پس معلومه شوه چې د دُنيا د الله ﷻ په نزد هيڅ قدر نشته. (۱)

٦. د مسلم شريف حديث دی، حضرت جابر بن عبدالله ﷺ فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د مديني منوّرې د بهر اُوچتو علاقو نه په واپسۍ باندې راتلو، په يو بازار باندې تېر شو، خلق (يعنې صحابه کرام) دده سره يو طرف (يا دواړه طرفته) وو، نو د چيلۍ په يو مَر بچي باندې تېر شو چې د هغه غوږونه واړه (يا کټ شوي) وو، نبي عليه السلام د هغې غوږ اونيو او صحابه کرامو ته يې اوفرمايل:

أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنَّ هٰذَا لَهُ بِدِرْهَمٍ؟

په تاسو کې څوک دا خوښوي چې د چيلۍ دا مر بچې په يو دِرهم واخلي؟

صحابه کرامو رضي الله عنهم ورته اوفرمايل: مَا نُحِبُّ أَنَّهُ لَنَا بِشَيْءٍ، وَمَا نَصْنَعُ بِهِ؟

مونږ خو دا د هيڅ شي په عِوض کې اخيستل نه خوښوو، مونږ په دې باندې څه کوو؟

نبي عليه السلام ورته (بيا) اوفرمايل:

أَتُحِبُّونَ أَنَّهُ لَكُمْ؟ آيا دا ستاسو خوښه ده چې دا ستاسو د پاره شي؟

صحابه کرامو رضي الله عنهم ورته اوفرمايل:

وَاللهِ لَوْ كَانَ حَيًّا كَانَ عَيْبًا فِيهِ لِأَنَّهُ أَسَكُّ ، فَكَيْفَ وَهُوَ مَيِّتٌ؟

(۱) معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله مع الاختصار الزخرف آية ۳۳.

قسَم په الله ، که چیرته دا ژوندې وی نو بیا هم په دې کې عیب وُ ، ځکه دده غوږونه واړه دي (یا غوڅ شوي) دي ، او س خو دا مړ شوې دی نو په دې باندې څوک څه شی کوي؟

رسولُ الله ﷺ ورته او فرمایل: فَوَاللهِ لَلدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللهِ مِنْ هٰذَا عَلَيْكُمْ .

قسَم په الله ، د الله ﷻ په نزد باندې دُنیا ددینه هم زیاته ذلیله ده څومره چې تاسو ته دا د چیلی بچې ذلیل دی. (۱)

**فائده:** نبي علیه السلام صحابه کرامو ته د دُنیا حقیقت ښکاره کړو چې دا ددې قابِل نده چې ددې په محبت کې انسان آخِرت هېر کړي ، بلکه د آخرت دائمي ژوند د پاره تیارې په کار دی ، ځکه د هغې نعمتونه هم دائمي دي .

**۷.** د مشکوة شریف او مسلم شریف حدیث دی ، رسولُ الله ﷺ فرمایي :

وَاللهِ مَا الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا مِثْلُ مَا يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ إِصْبَعَهُ فِي الْيَمِّ ، فَلْيَنْظُرْ بِمَ تَرْجِعُ ؟ (۲)

قسَم په الله ، دُنیا د آخرت په مقابله کې داسې مثال لري لکه تاسو کې چې یو کس خپله (د لاس) ګټه په سمندر کې ښکته کړي ، بیا دې اُوګوري چې دا ګټه څومره اُوبه اخیستلو سره راواپس شوه .

---

(۱) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رضي الله عنه ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِالسُّوْقِ ، دَاخِلًا مِنْ بَعْضِ الْعَالِيَةِ ، وَالنَّاسُ كَنَفَتَهُ ، فَمَرَّ بِجَدْيٍ أَسَكَّ مَيِّتٍ ، فَتَنَاوَلَهُ فَأَخَذَ بِأُذُنِهِ ، ثُمَّ قَالَ : « أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنَّ هٰذَا لَهُ بِدِرْهَمٍ ؟ » فَقَالُوْا : مَا نُحِبُّ أَنَّهُ لَنَا بِشَيْءٍ ، وَمَا نَصْنَعُ بِهِ ؟ قَالَ : « أَتُحِبُّوْنَ أَنَّهُ لَكُمْ ؟ » قَالُوْا : وَاللهِ لَوْ كَانَ حَيًّا كَانَ عَيْبًا فِيْهِ لِأَنَّهُ أَسَكُّ ، فَكَيْفَ وَهُوَ مَيِّتٌ ؟ فَقَالَ : « فَوَاللهِ لَلدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللهِ مِنْ هٰذَا عَلَيْكُمْ » . صحیح مسلم كِتَابُ الزُّهْدِ وَالرَّقَائِقِ رقم الحدیث ۲ (۲۹۵۷) ، الادب المفرد للبخاري رقم الحدیث ۹۶۲ ، مسند احمد رقم الحدیث ۱۴۹۳۰ ، المعجم الاوسط رقم الحدیث ۲۹۱۳ ، المستدرک علی الصحیحین للحاکم رقم الحدیث ۷۸۴۷ ، مشکوة المصابیح کتاب الرقاق الفصل الاول رقم الحدیث ۵۱۵۷(۳) ، شعب الایمان رقم الحدیث ۹۹۸۴ .

(۲) مشکوة المصابیح کتاب الرقاق الفصل الاول رقم الحدیث ۵۱۵۶(۲) ، صحیح مسلم كتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ فَنَاءِ الدُّنْيَا وَبَيَانِ الْحَشْرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رقم الحدیث ۵۵ (۲۸۵۸) ، مصنف ابن ابي شیبة رقم الحدیث ۳۴۳۰۶ ، مسند احمد رقم الحدیث ۱۸۰۰۹ ، صحیح ابن حبان رقم الحدیث ۴۳۳۰ ، شعب الایمان رقم الحدیث ۹۹۷۵ ، المعجم الکبیر للطبراني رقم الحدیث ۷۱۶ .

**د حديث تشريح :** يعنى د دُنيا نعمتونه او ددې ژوند د آخرت د نعمتونو او د هغې د ژوند په مقابله کې داسې حيثيت لري لکه يو کس چې په سمندر کې خپله د لاس ګته ښکته کړي بيا يې واپس رااُوباسي او ددې سره چې ځومره ګوندوالې يا د اُوبو يو څاڅکې لږيدلې وی دا د دُنيا حيثيت دی .

نبي عليه السلام د خلقو د پوهې د پاره دا مثال ورکړو ګني د دُنيا د نعمتونو حيثيت د آخرت په مقابله کې د دينه هم کم دی ، ځکه د دُنيا نِعمتونه او ددې ژوند مُتناهي (مَحدود) دی ، او د آخرت نِعمتونه او د هغې ژوند غير متناهي دی .

ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ ليکلي : ددې حاصل دادی چې د دُنيا نعمتونه ، تکليفونه ، مال و دولت او دا هر څه زائله کيدونکي دي ، نو انسان ته په کار دي چې ددې په نِعمتونو باندې دُهوکه نشي ، او ددې په سختى کې جَزعه فَزعه اونکړي ، بلکه په هر حالت کې الله ﷻ ته رُجوع اوکړي . (۱)

## د دُنيا حِرص د دِين د پاره نقصاني دی

چې کله په انسان کې د مال و دولت حِرص پيدا شي نو په دې سره دده دِين ته هم سخت نقصان رَسي .

د ترمذي شريف حديث دی ، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

مَا ذِئْبَانِ جَائِعَانِ أُرْسِلَا فِي غَنَمٍ بِأَفْسَدَ لَهَا مِنْ حِرْصِ الْمَرْءِ عَلَى الْمَالِ وَالشَّرَفِ لِدِينِهِ . (۲)

---

(۱) وَحَاصِلُهُ : أَنَّ مِنَحَ الدُّنْيَا وَمِحَنَهَا فِي كَسْبِ الْجَاهِ وَالْمَالِ مِنَ الْأُمُورِ الْفَانِيَةِ السَّرِيعَةِ الزَّوَالِ ، فَلَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ أَنْ يَفْرَحَ وَيَفْتَخِرَ بِسَعَتِهَا ، وَلَا يَجْزَعَ وَيَشْكُوَ مِنْ ضِيقِهَا ، بَلْ يَقُولُ فِي الْحَالَتَيْنِ : « لَا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الْآخِرَةِ » فَإِنَّهُ قَالَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً فِي يَوْمِ الْأَحْزَابِ ، وَأُخْرَى فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَجَمْعِيَّةِ الْأَصْحَابِ .
مرقاة المفاتيح كتاب الرقاق الفصل الاول في تشريح رقم الحديث ٥١٥٦(٢) .

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ۲۳۷٦ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ . مصنف ابي شيبة رقم الحديث ۳۴۳۸۰ ، مسند احمد رقم الحديث ۱۵۷۸۴ ، و رقم الحديث ۱۵۷۹۴ ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۱۱۷۹٦ ، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۳۲۲۸ بابُ ماجاء في الحرص و مايتعلق به ، شعب الايمان رقم الحديث ۹۷۸۳ ، مشكوة المصابيح كتاب الرقاق الفصل الثاني رقم الحديث ٥١٨١(٢٧) .

دوه اورېي لېوان چې د غنمو په رَمه کې پرېخودل شي نو دا دومره نقصان نه کوي څومره چې د مال او جَاه (مرتبې) حِرص د انسان دِين ته نقصان ورکوي.

## په تعميراتو باندې د ضرورت نه زياتې روپۍ لګول صحيح ندي

ډېر داسې خلق شته چې د هغوی په زړونو کې د دُنياوي شيانو سره داسې محبت او حِرص وي چې د ضرورت نه زيات د تعميراتو او بِلډنګونو په ښائست باندې په لکونو او کرُوړونو روپۍ لګوي، ليکن د غريبانانو، يتيمانو او کونډو سره هيڅ مدد نه کوي.

حالانکه په تعميراتو باندې د ضرورت نه زيات خرچ کول د قيامت علامه ګرځول شوی.(۱) او په احاديثو کې د دې مذمّت بيان شوی.(۲)

## دُنيا مکمل پرېخودل مقصود نده

دا ډېره بارِيکه خبره ده، په دې باندې ځان ښه پوه کړئ چې شريعت د انسان نه دا مطالبه

---

(۱) په حديثِ جبريل کې ذکر دي (دا اوږد حديث دی) چې کله نبي عليه السلام د حضرت جبريل عليه السلام نه د قيامت علامې په باره کې پوښتنه اوکړه نو هغه ورته يوه علامه دا هم بيان کړه چې د کمزورې طبقې خلق به غټې غټې آبادۍ جوړوي.

.... فَأَخْبِرْنِي عَنْ أَمَارَتِهَا، قَالَ: أَنْ تَلِدَ الْأَمَةُ رَبَّتَهَا، وَأَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الْعَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ يَتَطَاوَلُونَ فِي الْبُنْيَانِ ... صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ معرفة الإِيمَانِ، وَالإِسْلَامِ، وَالقَدَرِ وَعَلَامَةِ السَّاعَةِ رقم الحديث، ۱ (۸)، سنن ابي داؤد باب في القدر رقم الحديث ۴۶۹۵، سنن الترمذي باب ماجاء في وصف جبريل رقم الحديث ۲۶۱۰، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۶۳ باب في الايمان.

(۲) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا أَرَادَ بِعَبْدٍ هَوَانًا أَنْفَقَ مَالَهُ فِي الْبُنْيَانِ أَوِ الْمَاءِ وَالطِّيْنِ شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۲۳۵ الزهد و قصر الامل.

و قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا لَمْ يُبَارَكْ لِلْعَبْدِ فِي مَالِهِ جَعَلَهُ فِي الْمَاءِ وَالطِّيْنِ. شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۲۳۴.

وقال عليه السلام: مَنْ جَمَعَ الْمَالَ مِنْ غَيْرِ حَقِّهِ سَلَّطَهُ اللهُ عَلَى الْمَاءِ وَالطِّيْنِ. يَعْنِي: الْبِنَاءَ. شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۲۳۳، كنز العمال رقم الحديث ۴۱۵۵۶.

وقال عليه السلام: كُلُّ مَا أَنْفَقَ الْعَبْدُ مِنْ نَفَقَةٍ فَعَلَى اللهِ خَلَفُهَا ضَامِنًا إِلَّا نَفَقَةً فِي بُنْيَانٍ أَوْ مَعْصِيَةٍ. شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۲۲۸.

نه کوي " چې ته مال و دولت او دُنيا ګټل مکمل پرېږده " .

بلکه شريعت مطالبه دا کوي چې : د دُنيا اَسباب استعمالوه ، مال و دولت ګټه خو د دې محبت په زړه کې مه اَچوه او شپه او ورځ د دُنيا په ګټلو کې داسې مه ننوځه چې فرضي عبادات درنه پاتې شي يا درنه آخرت مکمل هېر شي .

شريعت خو په انسان باندې حلال رِزق ګټل فرض کړي ، او د دې يې ډېر فوائد بيان کړي .

په قرآن کريم کې د حلال مال نه تعبير په " فَضْلُ الله " سره شوی .(۱)

ځکه دا دُنيا دارُ الاَسباب ده ، د مال و دولت نه بغير په دې کې د حياء او عزت واله ژوند

---

(۱) ﴿ فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللهِ وَاذْكُرُوا اللهَ كَثِيْرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴾ . سورة الجمعة آية ۱۰ .

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « مَنْ طَلَبَ الدُّنْيَا حَلَالًا اِسْتِعْفَافًا عَنِ الْمَسْأَلَةِ وَسَعْيًا عَلٰى أَهْلِهِ وَتَعَطُّفًا عَلٰى جَارِهِ لَقِيَ اللهَ تَعَالٰى يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَوَجْهُهُ مِثْلُ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ . وَمَنْ طَلَبَ الدُّنْيَا حَلَالًا مُكَاثِرًا مُفَاخِرًا مُرَائِيًا لَقِيَ اللهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ » . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الإِيْمَانِ . وَأَبُو نُعَيْمٍ فِي الْحِلْيَة . مشكاة المصابيح كتاب الرقاق الفصل الثالث رقم الحديث ۵۲۰۷ ( ۵۳ ) ، كنزالعمال رقم الحديث ۹۲۴۷ ، ابن ابي شيبة ۷ / ۱۶ ، و ذكره الزبيدي في الاتحاف ۵ / ۴۱۲ ، نزهة الناظرين كتاب آداب الكسب ص ۳۳۷ .

وقال عليه السلام : اَلدُّنْيَا خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ . مَنِ اكْتَسَبَ فِيْهَا مَالًا مِنْ حِلِّهِ وَأَنْفَقَهُ فِي حَقِّهِ أَثَابَهُ اللهُ عَلَيْهِ وَ أَوْرَدَهُ جَنَّتَهُ .... خرّج البيهقي باسناده عن ابن عمر رضي الله عنهما ، وذكره السيوطي في الجامع الصغير ، و رواه السيوطي في الدر المنثور ۳ / ۲۰۴ ، والزبيدي في الاتحاف ۶ / ۱۲ ، الترغيب والترهيب كتاب البيوع وغيرها الترغيب في الاكتساب بالبيع وغيره جزء ۲ ص ۳۴۸ رقم الحديث ۲۶۷۷ ، كنزالعمال ج۳ ص۱۸۳ رقم الحديث ۶۰۷۶ ، المعجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۴۰۷ ثواب الاكتساب من جهات الحل والعمل باليد .

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : طَلَبُ كَسْبِ الْحَلَالِ فَرِيْضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيْضَةِ . مشكاة المصابيح كِتَابُ الْبُيُوعِ بَابُ الْكَسْبِ وَطَلَبِ الْحَلَالِ الفصل الثالث رقم الحديث ۲۷۸۱ ، السنن الكبرى للبيهقي باب كسب الرجل وعمله بيده رقم ۱۱۶۹۵ ، كنزالعمال كِتَابُ الْبُيُوعِ من قسم الاقوال الباب الأول: في الكسب الفصل الأول : في فضائل الكسب الحلال ج۴ رقم الحديث ۹۲۳۱ ، و رواه البيهقي في شعب الايمان .

**نوټ** : دا آخري حديث اګر چې د سَنَد په اِعتبار سره ضعيف دی ، خو ليکن د ټول اُمت علماء په دې مُتفِق دي چې دا حديث د معنٰی په اِعتبار سره صحيح دی ، او ټولو قبول کړی . اصلاحي خطبات ج ۱۰ ص ۱۸۵ .

تيرول گران دي: د اُولږې ختمولو د پاره حلال خوراک په کار دی، د اُوسيدلو د پاره کور په کار دی، نو خامخا به انسان د حلال رزق گټلو د پاره دُنياوي کاروبار کوي.

په احاديثو مبارکهٔ کې چې د دُنيا کوم مذمت راغلې دی نو د هغې نه مراد دادی چې انسان د دُنيا په محبت کې داسې ډُوب شي چې شپه او ورځ په دې کې آخته وي، فرضي عبادات نه کوي، آخرت يې مکمل هېر کړې وي، او په ناجائز طريقې سره يې گټي. نو بيا يقيني چې په شريعت کې د داسې دُنيا مذمت راغلې دی.

خو که يو کس په حلالې طريقې سره تجارت کوي، يا بل کاروبار کوي، عبادات په خپل وخت باندې پوره اَدا، کوي، مالي حقوق (زکوة وغيره) پوره ورکوي، د آخرت نه غافله نه وي، او د دُنيا سره يې محبت نه وي نو بيا داسې دُنيا صحيح ده.

او دا کيدې هم شي چې انسان يو څيز د ضرورت د پاره استعمالوي خو محبت يې ورسره نه وي.

**د مثال په ذريعه وضاحت**: د دوه مثالونو په ذريعه درته دا خبره واضح کوم:

**اول مثال**: انسان چې کله کور جوړوي نو د بيتُ الخَلاء (ليټرين) جوړول هم ضروري دي، ځکه انسان ته د ورځې څو پېرې بيتُ الخلاء ته د تللو ضرورت وي. خو د بيتُ الخلاء د ضروري کيدلو او استعمالولو باوجود بيا هم څوک د بيتُ الخلاء سره په زړه کې داسې محبت نه ساتي چې ځليريشت (۲۴) گنټې يې په دِماغو کې د همدې سوچ وي، او نه څوک په دې کې تولهٔ ورځ ناست وي، بلکه صرف د ضرورت د پاره يې استعمالوي.

همدغه شان دُنيا هم ده چې د دې وجود هم د انسان د پاره ضروري دی خو د دُنيا سره داسې محبت په کار ندی چې ځليريشت گنټې د انسان په دِماغو کې د دې د گټلو سوچ وي، او د آخرت نه مکمل غافل شي.

**دويم مثال**: مولانا رُوم رحمه الله د دُنيا په باره کې ډير بهترين مثال ذکر کړی چې: دُنيا په شان د اُوبو ده، او انسان په شان د کِشتۍ دی، نو کِشتۍ خو بغير د اُوبو نه نشي چليدی، ځکه د اُوبو وجود د کِشتۍ د پاره ضروري دی، خو دا کِشتۍ به هله کامیابه آخوا غاړې ته رَسي چې دا اُوبه د دې کشتۍ مينځ ته داخل نشي، ځکه که دا اُوبه د دې کِشتۍ مينځ ته داخل شي نو بيا دا کشتۍ ډوبيږي.

همدغه شان انسان هم د دُنياوي اَسبابو نه بغير ژوند نشي تيرولی ، دُنيا او ددې اَسباب استعمالول ضروري دي ، خو دا انسان به هله کامياب وي چې د دُنيا محبت دده زړه ته داخل نشي ، ځکه که د دُنيا محبت دده زړه ته داخل شي او ددې په وجه د انسان نه آخرت هېر شي نو بيا همدا دُنيا دده د پاره د هلاکت ذريعه ده . او بيا همداسې دُنيا ته په قرآن کريم او احاديثو کې مَتَاعُ الغُرُور او فِتنه ويل شوی .

مولانا رُوم رحمه الله دا خبره په دې شعر کې داسې بيان کړی:

آب اندر زیرِ کشتی پُشتی است ☆ آب در کشتی ہلاکِ کشتی است

يعنی اُوبه چې د کِشتۍ لاندې وي نو دا د کشتۍ د پاره مددګارې دي ( کِشتۍ به ګرځي او مخکې به روانه وي ) ، او اُوبه چې په کشتۍ کې داخلې شي نو په دې سره کِشتۍ هلاکيږي .

پس معلومه شوه چې شريعت مونږ ته دا حُکم نه کوي چې مونږ دُنيا او ددې نِعمتونه مکمل پرېږدو ، بلکه په حلالې طريقې سره يې ددې د ګټلو او ددې د استعمالولو حُکم راته راکړی ، خو ورسره ورسره يې دا خبره هم راته واضحه کړی چې دُنيا ستاسو مقصود نده ، بلکه په دې کې د آخرت دائمي ژوند د پاره تيارې په کار دی .

## په دُنيا سره د آخرت ګټلو طريقه

دُنيا داسې استعمالول په کاردي چې دا د انسان د پاره د آخرت ذريعه جوړه شي ، اوس ددې د پاره دوه خبرې ضروري دي :

اول دا چې انسان مال و دولت يا د دُنيا بل څيز حاصلوي نو په حلالې طريقې سره به يې حاصلوي به حرامې طريقې سره به يې نه حاصلوي . لهذا مسلمان به د سُود ، رِشوت ، جو' ی ، دُهوکې ، خِيانت او نورو ناجائزو طريقو سره مال نه حاصلوي .

دويم دا چې دا مال و دولت به په حلالې طريقې سره خرچ کوي . لهذا شريعت چې انسان په کومو ځايونو کې د مال خرچ کولو نه منع کړی په هغې کې به يې نه خرچ کوي .

## په ښه نيت باندې دُنياوي کاروبار کول هم عبادت دی

بلکه که يو کس په ښه نيت باندې دُنياوي کاروبار يا تجارت کوي نو دا هم عبادت دی ،

مثلاً : دا نيت په کښې اوکړي چې :

" زه دا دُنياوي کاروبار يا تجارت ددې د پاره کوم چې په ماباندې د خپلو بچو ، بي بي يا نورو حَق دارانو کوم حقوق دي د هغوی د پاره حلال رِزق راپيدا کوم "

نو په دې سره دده دا دُنيوي کاروبار هم په عبادت باندې بدليږي ، او ده ته ددې په عِوض کښې هم اَجر ملاويږي .

**د صحابهؤ صحيح تربيت** : بهر حال ، نبي عليه السلام د صحابه کرامو په زړونو کښې دا خبره اچولې وه چې دُنيا د ضرورت د پاره استعمالوئ خو ددې سره په زړه کښې مِينه مه ساتئ .

کله چې صحابه کرامو په دې باندې عمل اوکړو نو بيا الله ﷻ ټوله دُنيا د هغوی غلامه کړه ، د قيصر و کِسرٰی په شان غټې غټې طاقتونه د هغوی په خپو کښې پريوتل ، او الله ﷻ دوی ته په ټوله دُنيا باندې غلبه ورکړه .

خو چې کله د روستو خلقو د دُنيا سره محبت او حِرص زيات شو ، په عياشۍ کښې مبتلاء شو او آخرت يې مکمل هېر کړو نو ددې په وجه په کښې بُزدلي پيدا شوه ، او کافران ورباندې غالبه شو .

## د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کيدو پنځم سبب :

## " بَدکِرداري او بَداَخلاقي "

د مسلمانانو د ذِلت او کمزورۍ يو سبب بَدکِرداري او بَداَخلاقي هم ده ، يعنی د مسلمانانو کِردار او اخلاق ډير خراب شوي دي .

د دُنيا ځنې قومونو چې ترقي کړې نو هغوی د مال و دولت او تعداد ډير والي په وجه نده کړې ، بلکه په کِردار او اخلاقو يې کړې .

حقيقت دادی چې زمونږ دُکاندار ، زمونږ تاجِر ، زمونږ سَرکاري خلق ، زمونږ سياست دانان بلکه اکثره هر کسب ګر په دروغ ، دهوکه ، خِيانت او حرام خورۍ کښې مبتلاء دي ، نو ځکه خو ورځ په ورځ تَنزّل طرف ته روان يو .

د مسلمانانو د بَدکِردارۍ يو څو مثالونه درته ذکر کوم چې ددې په ذريعه به درته دا خبره پوره واضحه شي :

مثلاً : د مُلک واکداره خلق رِشوت او په مالِ غنیمت کښې خیانت کوي ، په ناجائزه معامله کښې هم د خپلو خپلوانو طرف داري کوي ، عدل و انصاف نه کوي نو داسې مُلک به څه ترقي اوکړي ؟

یا مثلا د مُلک په ترقۍ کښې د تجارت اَهم کِردار دی ، اوس چې په تاجرانو کښې دُهوکه ، خیانت ، ملاوټ او ذخیره اَندوزي راشي نو په دې سره به مُلک څه ترقي اوکړي ؟

یا مثلاً مسلمانان خپل اسلامي اخلاق پرېږدي ، بلکه په اخلاقو ، اعمالو ، اَفعالو او تعلیم کښې د کافرانو اِتباع کوي نو په دې سره به مسلمانان څه ترقي اوکړي ؟

یا مثلاً چې کله د ګنو ډک ټرک روان وي نو هر کس منډې وَر وهي او ګڼي ورنه رااوباسي ، د پردي مال هیڅ اِحساس ورسره نه وي . یا مثلا د سکولونو او کالجونو بعضې هلکان چې په بازار کښې روان وي ، یا ګاډي ته رااوخیجي او په دې ګاډي کښې زَنانه وي نو دوی دومره خراب حرکتونه کوي چې انسان يې نشي بیانولی ، اوس که همدا طبقه خلق آئنده د مُلک واکداران شي نو دوی به خامخا غونډ مُلک لوټي ، او په ملک کښې به بې حیایي خوَروي .

یا مثلا مخکښې به چې زَنانه د کور نه وتلې نو په حَیاء او پَرده کښې به وتلې ، نن صبا چې زَنانه د کور نه اُوځي نو مکمل د بې حَیایۍ په حالت کښې اُوځي ، اکثر داسې لباس يې اغوستې وي چې د هغې نه لاندې ټول بدن ښکاري ، اوس چې ددې زَنانه ؤ نه کوم بچې پیدا شي نو آیا په دوی کښې به شرم و حیاء او غیرت پیدا شي ؟ هیڅ کله نه .

بلکه زه به دا اُووایم چې مسلمانان د ژوند په هر اَړخ کښې د بَداخلاقۍ او بَدکِردارۍ اِنتهاء ته رسیدلي ، نو دوی به په دُنیا کښې څنګه ترقي اوکړي ؟

حالانکه د مسلمان پیژندګلو به په خوش اَخلاقۍ او ښه کِردار باندې کیدله ، لیکن افسوس چې نن صبا مسلمانان ددې خپلو بدو اخلاقو او بَد کِردار په وجه اسلام په خپله بدناموي .

## د مسلمانانو ترقي په مَادي شیانو کښې نده ، بلکه په شریعت باندې پوره عمل کولو کښې ده

اګر چې نن صبا په دُنیاوي شیانو کښې ډیره ترقي راغلې : نوي نوي سائنسي اِیجادات پیدا شو ، انسان په هوا کښې د جهاز په ذریعه اَلوځي ، سیّارو ته اُوختٍ ، نوي نوي مصنوعات

پیدا شو ، اِنجنیرانو په ډیر مهارت سره اُوچت اُوچت مختلف ډیزائن واله بِلډنګونه جوړ کړل ، په اِلیکټرانک مصنوعاتو کې نوي نوي شیان پیدا شو ، دا ټوله مادي او سائنسي ترقي ده ، دا د انسان د وجود نه علاوه شیان دي ، دا د انسان د پاره خدمت کوونکي دي ، ګویا مونږ داسې ویلې شو چې د انسان د پاره خدمت کوونکي شیانو کې ترقي راغلې ده .

آیا انسان دا سوچ کړی چې زما په ذات کې ترقي راغلې او که نه ؟ نو که مونږ دده بدن ته اوګورو نو لکه څرنګې چې اوّلني انسان ( حضرت آدم علیه السلام ) په سترګو باندې لیدل کول ، په غوږونو باندې یې آوریدل کول ، په خپو باندې یې تلل کول ، په لاسونو باندې یې نیول کول ( وغیره وغیره ) نو همدغه شان خو انسان اوس هم دی ، په دې شیانو کې خو هیڅ ترقي نده راغلې .

لهذا د انسان خپله ترقي په صحیح انسانیت ، ښه اخلاقو او شریعت باندې عمل کولو سره راځي . او په دې کې انسان ډیر شاته پاتې دی نو څه به ترقي اوکړي ؟

**علاج :** پس که مسلمانان دا غواړي چې مونږ بیا ترقي اوکړو نو ددې د پاره دا ضروري ده چې د ټولو نه اول په صحیح طریقې سره د الله ﷻ وحدانیت اُومني ، د هغه سره په ذات او صِفاتو کې بل هیڅوک شریک نه کړي ، د نبي علیه السلام تابعداري اوکړي ، شریعت چې ورته د کومو کارونو حُکم کړی هغه عملي کړي ، د کومو کارونو نه یې چې منع کړې د هغې نه منع شي ، خپل آخلاق او اعمال د قرآن و حدیث سره برابر کړي ، د بَدکِردارۍ ګناهونو او غیرمُسلمو د مخصوصو طریقو نه ځان اوساتي ، چاته په لاس یا ژبه باندې ضرر او نه رَسوي .

د سُود ، رِشوت ، دروغو ، غیبت چُغل خورۍ ، ظلم ، رِکارۍ او حرام مال نه ځان اوساتي ، او د آخرت فِکر اوکړي نو په خپله به مسلمانان ترقي اوکړي ، او د دواړو جهانو کامیابي به ورته ملاؤ شي .

## د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کيدو شپږم سبب:

## " بې حَيايي او عياشي "

د مسلمانانو د کمزورۍ، ذِلت او مغلوب کيدو شپږم سبب دادی چې په دې وخت کې ځنې مسلمانان په بې حَيايۍ او عياشۍ کې مبتلاء دي، چې ددې غلط اَثر په ټوله معاشره باندې خوَريږي.

ډيره د اَفسوس خبره ده چې کله غير مُسلم زمونږ اسلامي ملکونو ته راځي نو په دې نيت باندې راځي چې په څه طريقې سره د مسلمانانو په وَسائلو باندې قبضه اوکړي؟

ليکن چې کله مسلمانان د غير مُسلمو ملکونو ته ځي نو يا خو د عياشۍ، فحاشۍ او زِناکارۍ د پاره ځي، او يا د کافرانو نه په سوال باندې ځنې شيانو غوښتلو د پاره ځي.

بلکه بعضې داسې صرف په نوم مسلمانان هم شته چې هغوی د غير مُسلمو په ملکونو کې د بَدکارۍ او زِناکارۍ اَډې جوړې کړي دي، په خپله هم په عياشۍ کې اَخته دي او د نورو مسلمانانو د فحاشۍ سبب هم جوړيږي.

عيسايان او يهوديان ګيرې خرَوي، پينټ پتلون او ټائي اچوي، په زِنا بې حيايۍ او بدکارۍ کې اَخته دي نو بعضې بې دِينه مسلمانان هم د هغوی په نقشِ قدم باندې روان شو.

حالانکه بې حيائي او زِناکاري داسې بَدترين عمل دی چې دا په کوم قوم کې پيدا شي نو په هغوی باندې د الله ﷻ عذاب نازليږي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

إِذَا ظَهَرَ الزِّنَا وَالرِّبَا فِيْ قَرْيَةٍ فَقَدْ أَحَلُّوْا بِأَنْفُسِهِمْ عَذَابَ اللهِ. (۱)

کله چې په يو کلي کې زِنا او سُود ښکاره شي نو دې خلقو په خپل ځان باندې د الله ﷻ عذاب نازل کړو.

---

(۱) المستدرک علی الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۲۲٦۱ کِتَابُ الْبُيُوعِ. وقال الحاکم. هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه الذهبي. الترغيب والترهيب رقم ۲۸۵٦ الترهيب من الرباء، کنزالعمال رقم الحديث ۱۳۰۰. وفي رواية. قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا ظَهَرَ فِيْ قَوْمٍ الزِّنَا. وَالرِّبَا إِلَّا أَحَلُّوْا بِأَنْفُسِهِمْ عِقَابَ اللهِ. رَوَاهُ أَبُو يَعْلَى. وَإِسْنَادُهُ جَيِّدٌ. مجمع الزوائد ومنبع الفوائد رقم الحديث ٦۵۸۱ كِتَابُ [illegible] بَابُ مَا جَاءَ فِي الرِّبَا.

همدارنګې په بې حَيايۍ او زِنا سره فقيري او عاجزي هم زياتيږي . (۱)

او داسې وَبائي لاعِلاجه بيمارياني هم پيدا کيږي چې د هغې د علاج نه داکټران هم عاجز وي، او ددې سبب په احاديثو کې بې حَيائي خودل شوی . (۲)

## د يو کس د زِنا په وجه په لږ وخت کې د بني اسرائيلو اويا زره (۷۰۰۰۰) کسان د طاعون په بيمارۍ باندې وفات کيدل

د قرآن کريم ددې آيت ﴿ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِيْٓ اٰتَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَاَتْبَعَهُ الشَّيْطٰنُ فَكَانَ مِنَ الْغٰوِيْنَ ﴾ په شانِ نزول کې مفسّرينو د بَلعم بن باعورا واقعه بيان کړې، ( دا واقعه اګر چې اُوږده ده خو زه به يې درته په مختصرو الفاظو کې ذکر کړم : )

بَلعم بن باعورا د بني اِسرائيلو لوي عالِم وُ ، اسمِ اعظم ورته ياد وُ ، مُستجابُ الدّعوات وُ ( يعنې کومه دُعا به يې چې اوکړه هغه به قبليده ) .

د فرعون د غرقيدو او مصر فتح کيدو نه پس چې کله حضرت موسی عليه السلام او بني اسرائيلو ته حُکم اوشو چې تاسو د جبّارين قوم سره جهاد اوکړئ ، نو دوی جبّارينو ته د جهاد د پاره ورغلل ، جبّارينو سره يَره پيدا شوه چې د حضرت موسی عليه السلام په مقابله کې فرعون او د هغه لښکر ټينګ نه شو نو مونږ به څه مقابله اوکړو ؟

نو دوی بَلعم بن باعورا ته راغلل او ورته وې ويل : ته داسې دُعا اوکړه چې الله تعالی موسی ﷺ او د هغه لښکر د مونږ نه واړوي . بلعم ورته وويل :

---

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .... وَإِذَا ظَهَرَ الزِّنَا ظَهَرَ الْفَقْرُ وَالْمَسْكَنَةُ ... مسند البزار المنشور باسم البحر الزخار رقم الحديث ۵۳۸۳ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۳۶۲۸ ، كنز العمال رقم الحديث ۱۲۵۸۱ كتاب الامارة والخلافة .

(۲) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ... لَمْ تَظْهَرِ الْفَاحِشَةُ فِيْ قَوْمٍ قَطُّ إِلَّا ظَهَرَ فِيْهِمُ الطَّاعُوْنُ وَالْأَوْجَاعُ الَّتِيْ لَمْ تَكُنْ فِيْ أَسْلَافِهِمْ .... مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ مَا نُهِيَ عَنْ قَتْلِهِ مِنَ النِّسَاءِ وَغَيْرِ ذٰلِكَ رقم الحديث ۹۶۱۵ . وقال الهيثمي : رَوَاهُ الْبَزَّارُ وَرِجَالُهُ ثِقَاتٌ . صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۷۶۴(۱۱) الترهيب من منع الزكوة وماجاء في زكوة الحلي ، و رقم الحديث ۲۱۸۷(۶) ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۰۴۳ ، كنز العمال رقم الحديث ۴۴۰۱۲ .

وَيلَكُمْ نَبِيُّ اللهِ وَمَعَهُ الْمَلَائِكَةُ وَالْمُؤْمِنُونَ كَيْفَ أَدْعُو عَلَيْهِمْ . وَأَنَا أَعْلَمُ مِنَ اللهِ مَا أَعْلَمُ ، وَ إِنِّي إِنْ فَعَلْتُ هٰذَا ذَهَبَتْ دُنْيَايَ وَآخِرَتِي .

تعجب دی په تاسو باندې ، حضرت موسی علیه السلام خو د الله ﷻ پیغمبر دی ، د هغه سره فرښتې او مؤمنان دي پس زه هغه ته څنګه ښېرې اوکرم ؟ زه هغه پیژنم ( چې پیغمبر دی ) ، پس که چیرته زه هغه ته ښېرې اوکرم نو زما دُنیا او آخرت دواړه به تباه شي ، (لهذا زه دا کار نشم کولی) .

قوم وریاندې ټینګار اوکړو چې ته خامخا حضرت موسی ﷺ او د هغه قوم ته ښېرې اوکړه . ده ورته وویل : ماته لږ وخت راکړئ زه به د خپل رَب نه ( د اِستخارې یا بل عمل سره ) دا معلومه کرم ( چې هغه ته ښېرې کول څنګه دي ؟ ) .

بَلعم بن باعورا به هیڅ کار د استخارې کولو نه بغیر نه کولو ، چې کله به ورته په خوب کې د الله ﷻ د طرفه اِجازت ملاؤ شو نو بیا به یې هغه کار کولو .

پس کله چې بلعم استخاره یا بل عمل اوکړو نو په خوب کې ورته وویل شو :

لَا تَدْعُ عَلَيْهِمْ . ته حضرت موسی ﷺ او د هغه قوم ته ښېرې مه کوه .

ده قوم ته وویل : ما د خپل رَب سره ( د اِستخارې په ذریعه ) مشوره اوکړه نو زه ددې کار نه منع شوم .

بیا دې قوم ده ته غټه دالۍ په هدیه کې راوړه چې دا په حقیقت کې رِشوت ؤ ، ده هغه قبول کړو ، نو قوم وریاندې ټینګار اوکړو چې اوس به ورته ضرور ښېرې کوی .

( په څنې روایتونو کې راځي چې دې قوم ده بي بي ته ډیر مال و دولت ، سره زَر او سپین زَر راوړي وو ، نو ده ته خپلې بي بي هم دا مشوره ورکړه چې هغوی ته ښېرې اوکړه ) .

بهر حال ، کله چې دا د مال و دولت د محبت او بي بي د مشورې مطابق د حضرت موسی علیه السلام او د هغه قوم ته د ښېرو کولو د پاره یو غر طرف ته روان شو چې د هغه ځای نه حضرت موسی ﷺ او د هغه قوم اُوویني او ښېرې ورته اوکړي ، په لاره کې ورته خپله سوَرلۍ څو پیرې کیناسته ، مخکې به نه تلله ، خو ده به اُووهله او مخکې به یې روانه کړه . تردې چې په ده باندې د حُجت پوره کولو د پاره دده سوَرلۍ هم ده ته ګویا شوه او ورته وې ویل

وَيْحَكَ يَا بَلْعَمُ أَيْنَ تَذْهَبُ أَلَا تَرَى الْمَلَائِكَةَ أَمَامِيْ تَرُدُّنِيْ عَنْ وَجْهِيْ هٰذَا؟ أَتَذْهَبُ بِيْ إِلٰى نَبِيِّ اللهِ وَالْمُؤْمِنِيْنَ تَدْعُوْ عَلَيْهِمْ؟

اې بلعم ! په تا باندې تعجب دی ، ته چیرته ځی ؟ آیا ته نه ګوری چې فرښتې زما مخې ته دي ، ما راواپس کوي ، آیا ته دې د پاره مخکې ځی چې د الله پیغمبر او مؤمنانو ته خېرې اوکړی ؟

خو ده د سوَرلۍ دې خبرو هیڅ پرواه اونکړه ، او مخکې لاړ .

کله چې د حُسبان غر ته اُوخت او په هغه ځای کې یې حضرت موسی ﷺ او د هغه قوم ته د خېرو کولو اِراده اوکړه نو کومې خېرې چې ده حضرت موسی علیه السلام او د هغه قوم ته کول غوښتې الله ﷻ په خپل قدرت سره دده ژبه داسې بدله کړه چې دا خېرې یې خپل قوم ته کول شروع کړی . او کومه دُعا به یې چې خپل قوم ته کول غوښته په ژبه باندې به یې هغه دُعا د موسی علیه السلام د قوم د پاره راوتله ( یعنی خپل قوم ته یې خېرې اوکړی او حضرت موسی علیه السلام ته یې دُعا اوکړه ) .

بَلعم ته خپل قوم وویل : يَا بَلْعَمُ ! أَتَدْرِيْ مَاذَا تَصْنَعُ إِنَّمَا تَدْعُوْ لَهُمْ وَتَدْعُوْ عَلَيْنَا ؟

اې بلعم ! آیا ته پوهیږې چې دا ته څه کوی ؟ ته خو موسی ( ﷺ ) او د هغه قوم ته دُعا کوی او مونږ ته خېرې کوی .

ده ورته وویل : په دې کې زه ( اوس ) بې اِختیاره یم ، الله تعالی زما ژبه واړوله ، اوس هغوی ته په خېرو کولو باندې مې ژبه نه چلیږي ( کومې خېرې چې زه هغوی ته کوم هغه مې بې اِختیاره په ژبه باندې ستاسو د پاره رااُووځي ) .

بهر حال ، الله ﷻ بَلعم بن باعورا ته دا سزا ورکړه چې ژبه یې په سینه باندې رازوړنده شوه ( بهر رااُووته ، د سپي په شان ډیر په تکلیف به یې ساه اخیسته ) . (۱)

---

(۱) په قرآن کریم کې الله ﷻ ددې واقعې بیان داسې کړی : ﴿وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِيْٓ اٰتَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطٰنُ فَكَانَ مِنَ الْغٰوِيْنَ ۝ وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنٰهُ بِهَا وَلٰكِنَّهٗٓ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ الْكَلْبِ إِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ ۚ ذٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ﴾ الاعراف آية ۱۷۵ ، ۱۷۶ .

بیا بَلعم بن باعورا خپل قوم ته وویل : اوس خو زما دُنیا او آخرت دواړه تباه و برباد شو (خبرې او دُعا مې نه قبلیږي) خو زه تاسو ته حِیله او چَل ښائم چې د هغې په وجه به تاسو د حضرت موسی ﷺ په قوم باندې غالب شی .

هغه حِیله داده چې تاسو خپلې د قوم جینکۍ سینګار (ښائسته) کړئ ، څه څیزونه د خرڅولو د پاره ورکړئ ، او دا جینکۍ د حضرت موسی ﷺ قوم ته وَراولیږي ، دوی به هلته دا څیزونه خرڅوي خو تاسو خپلو جینکو ته دا حُکم اوکړئ چې که په بني اسرائیلو کې کوم کس تاسو سره زِنا کول غواړي نو دا دې اِنکار نه کوي ، ځکه (زِنا دومره بَدترینه ګناه ده چې) که چیرته په هغوی کې یو کس هم زِنا اوکړي نو ددې په وجه به تاسو په هغوی باندې غالبه شی .

ځکه د زِنا په وجه د الله ﷻ قهر او غضب نازلیږي ، بیا دوی هیڅ کله نشي کامیابیدی .

(د بَلعم بن باعورا دا شیطاني چَل د دوی ذِهنونو ته پریوت) ، پس دوی همدا کار اوکړو (ځواني جینکۍ یې ښائسته کړی ، څه څیزونه یې د خرڅ د پاره ورکړل ، او هغوی ته یې وَراولیږلی) .

د بني اسرائیلو یو غټ سردار په دې چَل کې راګیر شو ، هغه د یوې جینۍ سره د زِنا کولو اِراده اوکړه ، حضرت موسی علیه السلام هغه ډیر منع کړو خو هغه منع نه شو ، هغه کس د جینۍ سره خیمې ته ننوت او زِنا یې اوکړه ، نو الله ﷻ ددې په سزا کې په بني اسرائیلو باندې په همدې وخت کې د طاعون بیماري راوسته .

بیا سمدستي د بني اسرائیلو یو قوي کس راغی دازِنا کار سړی او زِنا کاره ښځه یې دواړه د خیمې نه راأوویستل ، دواړه یې اُووژل ، او د عبرت د پاره یې رازوړند کړل ، او وې ویل : اې الله ! ځوک چې ستا نافرماني کوي مونږ د هغه سره دا عمل کوو . ددینه پس د طاعون بیماري ختمه شوه .

کله چې د طاعون په بیمارۍ کې د وفات شوو خلقو حِساب اوکړې شو نو په دې لږ وخت کې د بني اسرائیلو آویا زره (۷۰۰۰۰) کسان وفات شوي وو .(۱)

(۱) معارف القرآن لمولانا مفتي شفيع رحمه الله مع التغير والإضافة الاعراف آية ۱۷۵ .

دا واقعه په "تفسير بغوي" کې په تفصيل سره ذکر ده.(١)

---

(١) ﴿ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِيَ آتَيْنَاهُ آيَاتِنَا فَانسَلَخَ مِنْهَا ﴾ الآية. اختلفوا فيه، قال ابن عباس رضي الله عنهما: هو بلعم بن باعوراء. وقال مجاهد رحمه الله: بلعام بن باعور. وقال عطية عن ابن عباس: كان من بني إسرائيل. وروي عن علي بن أبي طلحة رضي الله عنه أنه كان من الكنعانيين من مدينة الجبارين. وقال مقاتل: هو من مدينة بلقا.

وكانت قصته على ما ذكره ابن عباس وابن إسحاق والسدي وغيرهم: أن موسى لما قصد حرب الجبارين ونزل أرض بني كنعان من أرض الشام، أتى قوم بلعام إلى بلعم، وكان عنده اسم الله الأعظم فقالوا: إن موسى رجل حديد، ومعه جند كثير، وإنه جاء يخرجنا من بلادنا ويقتلنا ويحلها بني إسرائيل، وأنت رجل مجاب الدعوة، فاخرج فادع الله أن يردهم عنا. فقال لهم: ويلكم نبي الله ومعه الملائكة والمؤمنون كيف أدعو عليهم، وأنا أعلم من الله ما أعلم، وإني إن فعلت هذا ذهبت دنياي وآخرتي. فراجعوه وألحوا عليه فقال: حتى أؤامر ربي، وكان لا يدعو حتى ينظر ما يؤمر به في المنام فآمر في الدعاء عليهم، فقيل له في المنام: لا تدع عليهم. فقال لقومه: إني قد آمرت ربي وإني قد نهيت. فأهدوا إليه هدية فقبلها، ثم راجعوه فقال: حتى أؤامر ربي فآمر، فلم يوح إليه شيء، فقال: قد آمرت فلم يوح إلي شيء. فقالوا: لو كره ربك أن تدعو عليهم لنهاك كما نهاك في المرة الأولى. فلم يزالوا يتضرعون إليه حتى فتنوه فافتتن فركب أتانا له متوجها إلى جبل يطلعه على عسكر بني إسرائيل يقال له حسبان، فلما سار عليها غير كثير ربضت به، فنزل عنها فضربها حتى إذا أذلقها، [قامت فركبها، فلم تسر به كثيرا حتى ربضت، ففعل بها مثل ذلك فقامت فركبها فلم تسر به كثيرا حتى ربضت، وضربها حتى إذا أذلقها] أذن الله لها بالكلام فكلمته حجة عليه، فقالت: ويحك يا بلعم أين تذهب ألا ترى الملائكة أمامي تردني عن وجهي هذا؟ أتذهب بي إلى نبي الله والمؤمنين تدعو عليهم؟ فلم ينزع [ولم يصغ إلى قولها لحكمة أرادها الله به] فخلى الله سبيلها فانطلقت حتى إذا أشرفت به على جبل حسبان جعل يدعو عليهم ولا يدعو بشيء إلا صرف الله به لسانه إلى قومه، ولا يدعو لقومه بخير إلا صرف الله به لسانه إلى بني إسرائيل. فقال له قومه: يا بلعم! أتدري ماذا تصنع إنما تدعو لهم وتدعو علينا؟! فقال: هذا ما لا أملكه، هذا شيء قد غلب الله عليه. فاندلع لسانه فوقع على صدره، فقال لهم: قد ذهبت الآن مني الدنيا والآخرة، فلم يبق إلا المكر والحيلة. ←←←←←

**په مذکوره واقعه کې عبرت:** په دې واقعه کې ډير عبرتونه دي:

يو دا چې د بني اسرائيلو عالِم د دُنيا د محبت په وجه او د الله ﷻ د حُکم خلاف وَرزي په وجه گمراه شو، دُنيا او آخرت دواړه يې تباه شو.

دويم عبرت په کې دادی (د کوم د پاره چې ما دا اوږده واقعه بيان کړه) چې زِنا دومره بَدترينه گناه ده چې دا په کوم قوم کې پيدا شي په هغوی باندې د الله ﷻ قهر او غضب رانازليږي، دا قوم په مختلفو لاَعلاجه بيماريو کې اخته کيږي، د دوی قوّت ختميږي، او کافران په دوی باندې غالبه کيږي.

بهر حال، خبره مې دا شروع کړې وه چې بې حيايي او زِنا کاري ډيره بَدترينه گناه ده، ددې په وجه د الله ﷻ غضب راوريږي، نو بيا به مسلمانان څه ترقي اوکړي؟

---

←←← فَسَأَمْكُرُ لَكُمْ وَأَحْتَالُ جَمِّلُوا النِّسَاءَ وَزَيِّنُوهُنَّ وَأَعْطُوهُنَّ السِّلَعَ، ثُمَّ أَرْسِلُوهُنَّ إِلَى الْعَسْكَرِ يَبِعْنَهَا فِيهِ، وَمُرُوهُنَّ فَلَا تَمْنَعُ امْرَأَةٌ نَفْسَهَا مِنْ رَجُلٍ أَرَادَهَا، فَإِنَّهُمْ إِنْ زَنَا رَجُلٌ وَاحِدٌ مِنْهُمْ كُفِيتُمُوهُمْ. فَفَعَلُوا فَلَمَّا دَخَلَ النِّسَاءُ الْعَسْكَرَ مَرَّتِ امرأة من الكنعانيين اسمها كسبي بِنْتُ صُورَ بِرَجُلٍ مِنْ عُظَمَاءِ بَنِي إِسْرَائِيلَ يُقَالُ لَهُ زَمْرِيُّ بْنُ شَلُومَ رَأْسُ سِبْطِ شَمْعُونَ بن يعقوب. فقام إِلَيْهَا فَأَخَذَ بِيَدِهَا حِينَ أَعْجَبَهُ جَمَالُهَا ثُمَّ أَقْبَلَ بِهَا حَتَّى وَقَفَ بِهَا عَلَى مُوسَى عليه السلام. فَقَالَ: يا موسى! إِنِّي أَظُنُّكَ سَتَقُولُ هٰذِهِ حَرَامٌ عَلَيْكَ؟ قَالَ: أَجَلْ هِيَ حَرَامٌ عليك لا تقربها. قال: فو الله لا أُطِيعُكَ فِي هَذَا، ثُمَّ دَخَلَ بِهَا قُبَّتَهُ فَوَقَعَ عَلَيْهَا. فَأَرْسَلَ اللهُ الطَّاعُونَ عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ فِي الْوَقْتِ، وَكَانَ فِنْحَاصُ بْنُ الْعَيْزَارِ بْنِ هَارُونَ صَاحِبَ أَمْرِ مُوسَى، وَكَانَ رَجُلًا قَدْ أُعْطِيَ بَسْطَةً فِي الْخَلْقِ وَقُوَّةً فِي الْبَطْشِ، وَكَانَ غَائِبًا حِينَ صَنَعَ زَمْرِيُّ بْنُ شَلُومَ مَا صَنَعَ. فَجَاءَ وَالطَّاعُونُ يَجُوسُ بَنِي إِسْرَائِيلَ فَأُخْبِرَ الْخَبَرَ فَأَخَذَ حَرْبَتَهُ وَكَانَتْ مِنْ حَدِيدٍ كُلِّهَا، ثُمَّ دَخَلَ عَلَيْهِمَا الْقُبَّةَ، وَهُمَا مُتَضَاجِعَانِ فَانْتَظَمَهُمَا بِحَرْبَتِهِ، ثُمَّ خَرَجَ بِهِمَا رَافِعَهُمَا إِلَى السَّمَاءِ وَالْحَرْبَةُ قَدْ أَخَذَهَا بِذِرَاعِهِ وَاعْتَمَدَ بِمِرْفَقِهِ عَلَى خَاصِرَتِهِ، وَأَسْنَدَ الْحَرْبَةَ إِلَى لِحْيَتِهِ وَكَانَ بِكْرَ الْعَيْزَارِ، وَجَعَلَ يَقُولُ: اللَّهُمَّ هٰكَذَا نَفْعَلُ بِمَنْ يَعْصِيكَ وَرُفِعَ الطَّاعُونُ، فَحُسِبَ مَنْ هَلَكَ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ فِي الطَّاعُونِ فِيمَا بَيْنَ أَنْ أَصَابَ زَمْرِيُّ الْمَرْأَةَ إِلَى أَنْ قَتَلَهُ فِنْحَاصُ، فَوَجَدُوا قَدْ هَلَكَ مِنْهُمْ سَبْعُونَ أَلْفًا فِي سَاعَةٍ مِنَ النَّهَارِ. تفسير البغوي ج۲ ص۲۲۸ سورة الاعراف في تشريح آية ۱۷۵.

دا واقعه په مختصري طريقې سره په تفسير قرطبي ج۷ ص ۳۱۹ کې هم د مذکوره آيت په شانِ نزول کې ذکر ده.

## د ښځو د آزادۍ خبره د مغربي تهذيب دُهوکه ده

مغربي تهذيب واله کافران د فحاشۍ او زِنا کارۍ خوَرولو د پاره دا آواز پورته کوي چې " ښځو ته دې آزادي ملاوُ شي " . دا اګرچې په ظاهره باندې ښه خبره معلوميږي خو په حقيقت کې دا د دوی غټه دُهوکه ده .

دوی په ميډيا باندې د ښځو مَظلوميت بيانوي ، بيا ورسره هغه ويډيوګانې هم ښايي چې په هغې کې په اَطرافو کې يو څو زَنانه وُ سره ظلم شوې وي ، خلق چې دا ويډيوګانې ګوري نو وايي چې" دا خو يقيني د ښځو سره ظلم دی ، دوی ته دې آزادي ملاوُ شي " ليکن په حقيقت کې دا کافران په دې طريقې سره په مسلمانانو کې فحاشي او زِناکاري خوَرول غواړي ، د دوی اصل مقصد دادی چې زَنانه بې پَردې شي ، او هر سړې ورنه په بازار او هوټلو کې خپل جِنسي خواهش په آسانه پوره کولې شي .

نو په ظاهره باندې د دوی د ښځو د آزادۍ دا نَعره ډيره خوَنده وَره معلوميږي ليکن ددې شاته چې کوم مقاصد پټ دي هغه ډير خطرناک دي ، ځکه دوی چې ښځو ته داکومه آزادي ورکول غواړي ( چې په بازارونو کې بې پَردې اوګرځي ، او څه يې چې زړه غواړي هغه اوکړي ) نو په دې سره خو د مسلمانانو خانداني ژوند تباه کيږي ، بيا به نکاح ته هيڅ ضرورت پاتې نشي ، هر سړې او هره ښځه چې څه وخت اوغواړي او چا سره اوغواړي د يو څو روپو په عِوض کې به خپل خواهش پوره کوي ، حالانکه د نورو ټولو مذهبونو په نسبت اسلامي شريعت ښځو ته ډير حقوق ورکړي ، په ميراث وغيره کې يې خپل حقوق معلوم دي ، د کور شهزادګۍ يې ګرځولی ، د قيمتي ملغلرې په شان يې په پَرده کې محفوظ ساتلې . لهذا د ښځو د آزادۍ په نوم چې کومه نعره اُوچتولې شي دا د دوی دُهوکه ده .

**د مثال په ذريعه وضاحت :** صرف ستاسو د پوهې د پاره درته يو مثال پيش کوم چې دا خبره درته پوره واضحه شي : ددې مثال داسې دی لکه يو شپونکي چې خپلې ګډې د کور په چارديوالۍ کې د لېوانو نه محفوظې کړې وي ، ځکه بهر لېوان تاويږي ، هغوی کوشش کوي چې په څه طريقې سره دا ګډې اوخوري ، ليکن د شپونکي په وجه کور ته نشي ورتللی .

اوس لېوان ددې کور بهر راجمع شي او دا آوازونه اوچتوي چې : دې شپونکي ددې ګډو حقوق غصب کړي ، په کار ده چې ګډو ته آزادي ملاؤ شي ، او د خپلې خوښې آزادانه ژوند تېر کړي .

ګډې چې دا خبرې واوري نو دا هم اووايي چې لېوان خو ښه خبره کوي په کار ده چې مونږ ته آزادي ملاؤ شي . شپونکې ورته ډېر نصيحت اوکړي چې د هغوی خبرې په ظاهره باندې ډېرې ښه معلومېږي خو ددې شاته مقاصد نور دي . ليکن ګډې د شپونکي نصيحت اونه مني .

کله چې دا ګډې د کور نه بهر اُووځي او غر ته لاړې شي نو هلته ورباندې لېوان حمله اوکړي او ټولې ماتې کړي .

دا مې درته صرف يو مثال پيش کړو . همدغه شان د مغربي تهذيب واله هم د ښځو د آزادۍ او حقوقو خبره کوي خو چې کله ښځه بهر بې پَردې رااُووځي او دخپلې خوَښې کارونه شروع کړي نو په دې سره خو ددې حياء او عزت تباه کېږي ، غونډ خانداني ژوند يې تباه کېږي . نو ځکه شريعت حُکم کوي چې ښځې دې په حياء او عزت کې خپل ژوند تېروي .

## د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کيدو اُووم سبب :

## " کبيره ګناهونه کول "

د مسلمانانو د کمزورۍ ، او مغلوبيت اُووم سبب د الله ﷻ نافرماني او کبيره ګناهونه کول دي ، ځکه بعضې ګناهونه داسې دي چې د هغې په وجه انسان د الله ﷻ د لعنت او عذاب مستحق ګرځي .

نو چې کله په يو قوم باندې د الله ﷻ لعنت او عذاب راورېږي نو داسې خلق به څه ترقي اوکړي ؟ دوی سره به الله ﷻ څه مدد اوکړي ؟ او داسې خلقو ته به د کافرانو په مقابله کې څه فتح ملاؤ شي ؟

خامخا به دوی ورځ په ورځ کمزوري او مغلوبه کيږي .

اوس د کومو ګناهونو په وجه چې انسان د الله ﷻ د لعنت او عذاب مستحق ګرځي او په احادیثو کې د هغې تذکره شته نو هغه اګر چې ډیر دي ، خو یو څو غټ په کې دادي :
ظلم ، شراب څکل ، سُودي کاروبار کول ، رشوت اخیستل ، بل ته رشوت ورکول ، د سړو د ښځو سره مشابهت کول ، د ښځو د سړو سره مشابهت کول ، په مړي باندې (په چغو او سُورو سره ) ژړل ، لواطت کول ، او د مور او پلار نافرماني کول .

((( **نوټ** : ددې هرې ګناه متعلق حدیث او د هغې ترجمه ددې " اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه " کتاب په اول جلد کې د صفحه ۱۳۵ نه تر صفحه ۱۴۰ پورې په تفصیل سره ذکر ده ، هلته یې اوګوره .
ابوالشمس عفي عنه )))

## د مسلمانانو د کمزورۍ اتم سبب :
## " په هر کار کې د کافرانو سره مشابهت کول "

د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کیدو اتم سبب دادی چې دوی په هر کار کې د کافرانو سره مشابهت کوي : د هغوی په شان خپل شکل و صورت جوړوي ، د هغوی په شان په عیاشۍ شراب نوشۍ او بَدکارۍ کې ژوند تېروي ، همدارنګې د مسلمانانو بعضې زَنانه د غیر مُسلمو په شان بې پَردګۍ کې ګرځي ، نو ځکه خو ددې په وجه ذلیل او کمزوري شو .

حالانکه زمونږ د مسلمانانو خپل کتاب او خپل پیغمبر شته ، خپلې مذهبي طریقې مو شته ، خپل اسلامي حیثیت مو شته ، خپل ثقافت او تهذیب مو شته .

**اسلام یو کامل دین دی** : اسلام یو کامِل دین او مستقل نظامِ حیات دی ، په دې کې د مسلمانانو د ژوند د هر اړخ د پاره مکمل ضابطهٔ حَیات موجود ده .

په غم ، خوشحالۍ او د ژوند په نورو مَرحلو کې مسلمانان غیر مسلمو ته په هیڅ څیز کې محتاج ندي ، الله تعالی فرمایي :

﴿ اَلْیَوْمَ اَکْمَلْتُ لَکُمْ دِیْنَکُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَیْکُمْ نِعْمَتِیْ وَرَضِیْتُ لَکُمُ الْاِسْلَامَ دِیْنًا ﴾ .(۱)

---

(۱) المائدة آیة ۳ .

ترجمه: نن ورځ ما ستاسو د پاره ستاسو دِين کامِل کړو، په تاسو مې خپل نعمتونه پوره کړل، او ستاسو د پاره مې د اسلام دِين خوښ کړو.

اوس د اِسلام نه علاوه بل دِين مقبول ندی، الله ﷻ فرمايي:

﴿ وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِينَ ﴾.(۱)

ترجمه: او څوک چې د اسلام نه علاوه بل دِين غواړي (او اِختياروي) نو دا به دده نه هيڅ کله قبول نکړې شي، او دې به په آخِرت کې د تاوانيانو (نقصان موندونکو) نه وي.

## کافرانو سره د مشابهت کوونکي کس حَشر به د همدې کافرانو سره وي

څوک چې په دُنيا کې د کافرانو سره د هغوی په مخصوصو اعمالو کې مشابهت کوي نو د قيامت په ورځ به دداسې خلقو حشر د همدې کافرانو سره وي.

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ. (۲)

چا چې د يو قوم سره (د هغوی په مخصوصو اَعمالو کې) مُشابهت اوکړو نو دا به د هماغه خلقو په ډله کې شماريږي (ځکه دده د هغوی په شکل وصورت جوړولو سره د هغوی ډله زياته کړه).

علامه طيبي رحمه الله فرمايي: د مُشابهت نه مراد عام دی که هغه په شکل و صورت جوړولو کې وي، که په اَخلاقو کې وي، او که د دوی په خاصو مذهبي طريقو کې وي.(۳)

الله ربّ العزت فرمايي:

---

(۱) آل عمران آية ۸۵.

(۲) رواه ابوداؤد في كتاب اللباس بابٌ في لُبس الشّهرة رقم الحديث ۴۰۳۱، و رواه احمد في مسنده ۲/ ۵. مشكوة المصابيح كِتَابُ اللِّبَاسِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۴۳۴۷ (۴۴).

ملا علي قاري رحمه الله ددې حديث په تشريح کې ليکلي: (مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ): أَيْ مَنْ شَبَّهَ نَفْسَهُ بِالْكُفَّارِ مَثَلًا فِي اللِّبَاسِ وَغَيْرِهِ، أَوْ بِالْفُسَّاقِ أَوِ الْفُجَّارِ أَوْ بِأَهْلِ التَّصَوُّفِ وَالصُّلَحَاءِ الْأَبْرَارِ. (فَهُوَ مِنْهُمْ): أَيْ فِي الْإِثْمِ وَالْخَيْرِ. مرقاة المفاتيح ۲۷۸۲/۷ كِتَابُ اللِّبَاسِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي

(۳) قَالَ الطِّيبِيُّ: هٰذَا عَامٌّ فِي الْخَلْقِ وَالْخُلُقِ وَالشِّعَارِ. مرقاة المفاتيح ۲۷۸۲/۷ كِتَابُ اللِّبَاسِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي

﴿ يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُوْدَ وَالنَّصٰرٰى اَوْلِيَآءَ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ فَاِنَّهٗ مِنْهُمْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴾. (۱)

ترجمه: اې مؤمنانو ! تاسو يهود او نصارٰى خپل دوستان مه جوړوئ، په دوی کې بعضې د بعضې نورو دوستان دي (يعنې دوی په خپل مينځ کې د يو بل دوستان دي)، او په تاسو کې چې څوک د دوی سره دوستي کوي نو بيشکه دا به د همغوی نه وي (د هغوی په ډله کې به شميرلې شي)، بيشکه الله تعالی ظالم قوم ته هدايت نه کوي.

همدا مضمون په نورو آيتونو کې هم ذکر شوی. (۲)

## د کافرانو سره مُشابهت خطرناک دی

فقهاؤ خو تر دې پورې ليکلي چې که يو سړی قصدًا د کافرانو مُشابهت اِختياروي، د يهودو او عيسايانو طريقې خپلوي، او په دې باندې راضي هم وي نو بيا دا کس کافر دی. او که په دې راضي نه ؤ نو بيا صرف گناهگار دی. د يو څو کتابونو عبارتونه درته نقل کوم:

۱. د احنافو په مشهور کتاب "معين المفتي" کې ذکر دي:

څوک چې قصدًا د کافرانو مُشابهت اِختيار کړي، يا د عيسايانو طريقې خپلې کړي، يا د هغوی د صَليب نَخه په غاړه کې واچوي، يا د مجوسيانو ټوپۍ په سَر کړي نو په دې سره دا سړې کافر کيږي.

البته علامه ابومسعود رحمه الله او حموي رحمه الله ورسره دا قيد لږولی چې که د دې کارونو د کولو سره سره يې د اِسلام د سپکاوي اِراده هم وه نو بيا دا سړې کافر دی، او که

---

(۱) المائده آية ۵۱.

(۲) الله تعالی فرمايي: ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴾. النساء آية ۱۴۴.

بل ځای فرمايي: ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ هُزُوًا وَّلَعِبًا مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ اَوْلِيَآءَ وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴾. المائدة آية ۵۷.

داسلام د سپکاوي اِراده يې نه وه نو بيا ګناهګار دی. (۱)

۲. د حنابلهٔ په کتاب "الإنتصار" کې ذکر دي چې چا د کافرانو طريقه خپله کړه، د هغوی لباس يې واغوست، يا يې د هغوی مخصوص پټه اُوتړله، يا يې صَليب په سينه باندې رازوړَند کړو، نو دا کارونه کول حرام دي، بلکه علماؤ پرې د کفر فتوٰی ورکړې. (۲)

۳. شيخ خليل المالکي رحمه الله په "المختصر" کې ليکلي دي:
مسلمان په هغه وخت کې کافر کيږي چې کله دې (نَعوذُ بالله) حضرت عُزير عليه السلام ته د الله ﷻ ځوي اُووايي، يا نور کُفري الفاظ ووايي، يا داسې کفري کارونه اوکړي چې هغه د کافرانو سره خاص وي، لکهَ دکافرانو مخصوصه پټه زوړَندول، يا د يهودو او عيسايانو خاص ټوپۍ استعمالول. (۳)

## د غير مسلمو طريقو سره محبت په کار ندی

څوک چې د کافرانو مذهبي طريقې خوَښوي، يا د هغوی سره په مخصوص شيانو کې مشابهت کوي، يا د هغوی شکل و شباهَت او د هغوی مخصوص لباس خوښوي، د اسلامي طريقو په ځای باندې د غير مسلمو طريقو ته ترجيح ورکوي نو د داسې کس نه الله ﷻ ناراضه کيږي، بلکه بعضې وخت په دُنيا کې د نورو خلقو د عبرت د پاره ورته سخته سزا هم ورکوي، ددې په باره کې درته د عبرت نه ډکه يوه واقعه بيانوم:

## د مکې مکرمې په قبرستان کې د خَخ شوي عالِم جسَد د فرانس په مقبره کې پيدا کيدل

څوک چې دکافرانو د مخصوصو طريقو سره محبت کوي نو الله ﷻ ته هيڅ ګرانه نده چې دده د مرګ نه پس دده لاش د مسلمانانو د هديرې نه لرې کړي او د کافرانو قبرستان ته يې اُوولي.

(۱) معين المفتي، مکانة اللحية في الاسلام ص ٦٦.
(۲) الانتصار، مکانة اللحية في الاسلام ص ٦٧.
(۳) المختصر للخليل المالکي باب الردّة، مکانة اللحية في الاسلام ص ٦٧.

مولانا اَشرف علي تهانوي رحمه الله ليکلي چې ماته د مولانا فتح محمد صاحب رَحِمَهُ الله د طرفه دا واقعه رارسيدلې، هغه دا واقعه د مکې معظمې يو لوي عالم " شيخ دَهّان رحمه الله " نه اَوريدلې وه.

شيخ دَهّان رَحِمَهُ الله فرمايي چې دلته په مکه معظمه کې يو عالِم وفات شو، خلقو دا د مکې معظمې په يو قبرستان کې دَفن کړو.

(په مکه معظمه کې طريقه داده چې هلته مړې په يو قبر کې دَفن کړې شي نو څه وخت پس دا قبر راسپړلې شي او په دې ځای کې بل مړې خخولې شي).

کله چې څه وخت پس يو بل مړې ددې عالِم په قبر کې خخولې شو نو دده قبر يې رااُوسپړل، نو خلقو اُوليد چې د هغه عالِم په ځای باندې په قبر کې د يوې ښائسته جينۍ لاش پروت وُ، دا جينۍ د ظاهري شکل نه د يُورپي ملکونو معلوميده، خلق حيران شو چې په دې قبر کې خو مخکې مونږ يو عالِم خخ کړې وُ، اوس هغه نشته، د هغه په ځای باندې د جينۍ لاش پروت دی، دا ولې؟

اتفاقًا په دې موجوده خلقو کې د يورپي ملکونو يو مسلمان هم ولاړ وُ چې دلته حج ته راغلې وُ، هغه چې ددې جينۍ شکل اوکتلو نو وې ويل:

زه دا جينۍ پيژنم، دا د فرانس اُوسيدونکې ده، د يو عيسائي لور ده، دا په پټه باندې مسلمانه شوې وه، ډيره دِينداره جينۍ وه، څه دِيني رِسالې يې هم مطالعه کړې وی، څه وخت مخکې دا وفات شوې وه، او خلقو هلته د فرانس په هديره کې خخه کړې وه.

خلقو وويل: ددې جينۍ لاش چې دلته د فرانس د هديرې نه رانقل شوی نو ددې وجه خو ښکاره ده چې دا مسلمانه او دِينداره وه، د اسلامي احکاماتو سره يې مِينه وه، نو ځکه يې الله ﷻ جسَد دلته د مسلمانانو هديرې ته رانقل کړی، ليکن د هغه عالِم لاش څه شو کوم چې مونږ په دې قبر کې خخ کړی وُ؟

دې بعضې خلقو وويل: کيدې شي ددې عالِم لاش فرانس ته ددې جينۍ قبر ته نقل شوې وي.

نو خلقو د يورپ نه راغلي دې مسلمان حاجي ته وويل: د حج کولو نه پس چې کله ته فرانس ته لاړ شې نو هلته د هغه جينۍ قبر رااُوسپړئ، او اُوګورئ چې هلته ددې عالِم لاش

شته او که نه؟

کله چې دا حاجي فرانس ته لاړ او هلته يې ددې جينۍ مور او پلار ته دا خبره اوکړه ( چې ستاسو د لور لاش د مکې معظمې په قبرستان کې د يو عالِم په قبر کې پروت ؤ ) نو دوی سخت حيران شو او وې ويل:

دا څنګه ممکن ده چې مونږ هغه دلته د فرانس په مقبره کې خخه کړې وه او تاسو د هغې لاش د مکې معظمې په قبرستان کې اوليد؟

آخر فيصله په دې باندې اوشوه چې د هغه جينۍ قبر به را اُوسپړو نو پوره حقيقت به ښکاره شي. کله چې ددې جينۍ والدين او نور ډير خلق ددې قبر ته لاړل او قبر يې رااُوسپړل نو واقعي په دې قبر کې د هغه عالم لاش پروت ؤ کوم چې د مکې معظمې په قبرستان کې خخ شوې ؤ، د جينۍ لاش په کې نه ؤ.

شيخ دَهّان رحمه الله فرمايي چې بيا مونږ ته دې يورپي حاجي په څه طريقې سره دا خبر راکړو چې " د هغه عالِم لاش دلته د فرانس په مقبره کې د هغه جينۍ په قبر کې پروت دی"

په دې آوريدو سره د مکې معظمې خلق هم حيران شو، فِکر ورسره پيدا شو چې: د هغې جينۍ لاش دلته د مکې معظمې قبرستان ته د مُنتقل کيدو وجه خو په ظاهره معلومه ده، څکه هغه مسلمانه شوې وه، ډيره دِينداره وه، او د اسلامي طريقو سره يې مِينه وه نو الله ﷻ په خپل قدرت سره د هغې لاش دلته د مسلمانانو هديرې ته رانقل کړو. ليکن حيراتيا په دې ده چې د مسلمان عالِم لاش څنګه د فرانس د کافرانو هديرې ته نقل شوی؟

ټولو خپل مينځ کې وويل چې د انسان صحيح حالت د هغه د کور خلقو نه معلوميدې شي، لهذا د هغه د بي بي نه پوښتنه په کار ده؟

نو دوی د هغه کور ته ورغلل، او د هغه د بي بي نه يې پوښتنه اوکړه:

ستا په خاوند کې د اسلام خلاف څه خبره وه؟

هغې ورته وويل: په هغه کې د اسلام خلاف هيڅ خبره نه وه، هغه ډير مونځ ګزار، تهجد ګزار او د قرآن کريم تلاوت کوونکی ؤ.

دوی ورته وويل: ته لږ سوچ اوکړه. په هغه کې به ضرور څه خبره د اسلام خلاف وه، څکه هغه مونږ دلته د مسلمانانو په مقبره کې خخ کړې ؤ حالانکه د هغه لاش د فرانس

کافرانو په مقبره کې پروت دی.

دې ښځې يې ورته وويل: آو، په هغه کې يوه خبره وه، هغه دا چې: کله به په هغه باندې د جنابت غُسل واوړيد او د غُسل کولو اراده به يې اوکړه نو دا به يې ويل:

" د عيسايانو په مذهب کې دا ډېره بهتره طريقه ده چې د هغوی په نزد باندې غُسلِ جنابت فرض ندی".

خلقو وويل: همدا وجه ده چې هغه ته چونکه د عيسايانو طريقه خوښه وه نو ځکه الله ﷻ د عيسايانو مقبرې ته وَراووېشت. (۱)

**عبرت** محترمو مسلمانانو! تاسو واوريدل چې دغه عالِم اګر چې په ظاهره مسلمان وُ خو په زړه کې يې د عيسايانو طريقې خوښې وې، د کافرانو طريقو ته يې په اسلامي طريقو باندې ترجيح ورکوله، او په زړه کې يې کُفر پټ وُ نو ځکه الله ﷻ د نورو خلقو د عبرت د پاره دده لاش د کافرانو مقبرې ته وَراووېشت.

او هغه جينۍ چونکه مسلمانه وه او اسلامي طريقې يې خوښولې نو ځکه الله ﷻ د هغې لاش د مسلمانانو مقبرې ته رانقل کړو.

خو دا ضروري نده چې د هر چا لاش همدغه شان بل ځای ته نقل شي، بلکه داسې واقعات کله کله د عبرت د پاره راپيښيږي.

(۱) وعظ ذم النسيان مشموله مواعظ اشرفيه مسمى به ذکر و فکر ص ۴۱۵، الله کے نافرمانوں کے عبرت ناک انجام ص ۳۷۱.

## د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کيدو نهم سبب :

## " اسلامي خلافت نه موجوديدل "

د مسلمانانو د کمزورۍ نهم سبب دادی چې په دې وخت کې په دُنيا کې اسلامي خلافت نشته نو ځکه مسلمانان په هر ځای کې مغلوب او کمزوري دي ٠

اسلامي خلافت خو د مسلمانانو د عزت او يو والي نخه وه ، داد مسلمانانو د پاره داسې حيثيت لري لکه د اَولاد د پاره پلار ٠

کله چې اسلامي خلافت وُ نو کافران د مسلمانانو نه ډير يَريدل ، خو چې د کله نه کافرانو دا ختم کړو نو هغې ورځې نه را په ديخوا مسلمانان ورځ په ورځ تنزّل طرف ته روان دي ٠ د اسلامي خلافت د نشتوالي په وجه د څو صَديو نه راپه ديخوا مسلمانان د اسلامي نظام نه محروم دي ، اکثر د اسلامي ملکونو بادشاهان د کافرانو غلامان دي ٠

مخکې به اسلامي ملکونو واله د نورو ملکونو سره مدد کولو ليکن اوس په خپله باندې د سوالګرو په شان د کافرانو نه مدد غواړي ٠

په دې وخت کې په اکثره اسلامي ملکونو کې مغربي جمهوريت دی ، بعضې د دِين نه ناخبره خلق مغربي جمهوريت د اسلامي نظام مُتَبَادِل مني او ددې د جواز د پاره دلائل بيانوي ، حالانکه مغربي جمهوريت هيڅ کله د اسلامي نظام متبادل نشي کيدی ٠ (۱)

چې کله اسلامي خلافت موجود وي نو بيا مسلمانان د سختو سختو فِتنو مقابله په ډيره آسانۍ سره کولې شي ، لکه حضرت ابوبکرصديق ﷺ چې د مختلفو فِتنو مقابله اوکړه او ټولې يې ختمې کړې ٠

علماؤ ليکلي : په مسلمانانو باندې دا واجب دي چې د اسلامي خلافت قائمولو د پاره کوشش اوکړي ، ددې د پاره چې په مخ د زمکه باندې اسلامي نِظام قائم کړي ، حُدود او قِصاص جاري کړي ، د سَرحداتو حفاظت اوکړي ، اسلامي لښکرې مُنظَمې کړي ، ډاکوان او قطّاع طريق ختم کړي ، او د عوامو جګړې ختمې کړي ٠

(۱) د جمهوريت متعلق به ان شاء الله مستقله موضوع ليکم ٠ په هغې کې به د مغربي جمهوريت او نام نِهاد اسلامي جمهوريت متعلق تفصيلي بحث کوم ٠ او ددې پوره حقيقت به درته واضح کوم ٠ ابوالشمس عفي عنه

که مسلمانان د اسلامي خلافت قائمولو کوشش اونکړي نو ټول به ګناهګار وي.(١)

په قرآن کریم کې الله ﷻ د کامل مؤمنانو او نېکو اعمالو کوونکو سره د خِلَافَتْ فِي الْأَرْضِ وعده کړې:

﴿ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْاَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ﴾.(٢)

ترجمه: په تاسو کې چې چا ایمان راوړی او نېک اعمال یې اوکړل نو د دوی سره الله

---

(١) لما قال الامام سعد الدين تفتازاني رَحِمَهُ اللّٰهُ: ثمّ الإجماعُ على ان نصبَ الإمامِ واجبٌ. وإنما الخلاف في أنه يجبُ على الله اوعلى الخلق بدليلٍ سمعيٍّ او عقليٍّ، والمذهبُ أنّه يجبُ على الخلق سمعًا لقوله عليه السلام: مَنْ مَاتَ وَلَمْ يعرفْ إمَامَ زَمَانِهِ فَقَدْ مَاتَ مِيْتَةً جَاهِلِيَّةً. ولأنّ الأمة قد جعلوا اهمّ المهمات بعد وفات النبي صلى الله عليه وسلم نصب الامام حتى قدموه على الدفن. وكذا بعد موت كل امام. ولأنّ كثيرا من الواجبات الشرعية يتوقف عليه. كما اشار اليه بقوله: وَالْمُسْلِمُوْنَ لَا بُدَّ لَهُمْ مِنْ إمَامٍ يَقُوْمُ بِتَنْفِيْذِ أَحْكَامِهِمْ. وَإقَامَةِ حُدُوْدِهِمْ. وَسَدِّ ثُغُوْرِهِمْ. وَتَجْهِيْزِ جُيُوْشِهِمْ. وَأَخْذِ صَدَقَاتِهِمْ. وَقَهْرِ الْمُتَغَلِّبَةِ وَالْمُتَلَصِّصَةِ وَقُطَّاعِ الطَّرِيْقِ. وَإقَامَةِ الْجُمَعِ وَالْأَعْيَادِ. وَقَطْعِ الْمُنَازَعَاتِ الْوَاقِعَةِ بَيْنَ الْعِبَادِ. وَقَبُوْلِ الشَّهَادَاتِ الْقَائِمَةِ عَلَى الْحُقُوْقِ. وَتَزْوِيْجِ الصِّغَارِ وَالصَّغَائِرِ الَّذِيْنَ لَا أوْلِيَاءَ لَهُمْ. وَقِسْمَةِ الْغَنَائِمِ وَنَحْوِ ذٰلِكَ مِنَ الْأُمُوْرِ الَّتِي لَا يَتَولَّاهَا آحَادُ الأُمَّة.... شرح العقائد النسفية ص ١١٠ الخلافة والإمارة، و مثله في احكام السلطانية لابي يعلى ص ١٩ فصول في الامامة.

قال الامام شاه ولي الله محدث الدهلوي رَحِمَهُ اللّٰهُ: إعْلَمْ أنّه يجب أَن يكونَ فِي جَمَاعَةِ الْمُسلمين خَلِيفَةٌ لِمَصَالِح لَا تتمّ إِلَّا بِوُجُوْدِهِ، وَهِيَ كَثِيْرَةٌ جِدًّا، يجمعها صنفان: أَحدهمَا مَا يرجع إِلَى سياسة الْمَدِينَة من ذبّ الجنُوْد الَّتِي تغزوهم وتقهرهم. وكفّ الظَّالِم عَن الْمَظْلُوم. وفصل القضايا. وَغير ذَلِك. وَثَانِيهمَا مَا يرجع إِلَى الْمِلَّة. وَذَلِكَ أَنّ تنويه دين الْإِسْلَام على سَائِر الْأَدْيَان لَا يتَصَوَّر إِلَّا بِأَن يكون فِي الْمُسلمين خَلِيفَة يُنكر على من خرج من الْملَّة. وارتكب مَا نصت على تَحْرِيمه أَو ترك مَا نصت على افتراضه أَشد الانكار. ويذل أهل سَائِر الْأَدْيَان وَيَأْخُذ مِنْهُم الْجِزْيَة عَن يَد وَهُمْ صاغرون. حجة الله البالغة ج٢ ص ٢٢٩ من ابواب سياسة المدن، فتاوی حقانيه ج٢ ص ٢٩٢ كتاب السياسة.

(٢) النور آية ٥٥.

تعالی وعده کړې چې ضرور به دوی ته په زمکه کې خلافت ورکوي لکه څرنګې یې چې ددینه وړاندې خلقو ته خلافت ورکړې وُ.

## یو اعتراض او د هغې جواب

بعضې ناپوهه خلق دا اعتراض کوي چې په دې نوې ټکنالوجۍ زمانه کې اسلامي قانون نشي چلیدی ځکه دا ددې دور سره برابر ندی، او په دې سره خلق د جرمونو نه نه بچ کیږي.

ددې اعتراض جواب دادی چې د قانون خو څه خپې نه وي چې په خپله باندې روان شي، حکومت دې اول دا جاري کړی بیا دې اوګوري چې دا په دې دور کې چلیږي او که نه؟

**اسلام تر قیامته پورې راتلونکو انسانانو د پاره قانون دی** اسلام خو داسې جامع قانون دی چې تر قیامته پورې راتلونکي هره زمانه کې نافذ کیدې شي.

که مونږ د نبي علیه السلام سیرت اوګورو نو کله چې هغوی دُنیا ته تشریف راوړو نو په دغه وخت کې دُنیا د کُفر، شرک او بدو اَعمالو نه ډکه وه، د حرم شریف نه علاوه په نورو ځایونو کې د زناکارۍ او بدکارۍ بازار ګرم وُ، زناکارو ښځو به په کورونو باندې خاص جنډې اودرولې وې چې په دې سره به خلقو پیژندل چې دا د زناکارې ښځې کور دی او هلته به ورتلل، هر طرف ته غلا او ډاکې شروع وې، د بُتانو عبادت به کیدلو، تر دې چې په بیت الله کې درې سوه او شپیته (۳۶۰) بتان ایخي وو.

په دې سختو حالاتو کې نبي علیه السلام شرعي نظام نافذ کړو: د غلو نه یې لاسونه غوڅ کړل، زناکاریې سنګسار کړل، او نورو مُجرمانو ته یې شرعي سزاګانې ورکړې نو په خپله باندې معاشره صحیح شوه.

نو همدغه شان که نن هم په دُنیا کې اسلامي نظام نافذ شي نو په خپله باندې به دا جَرائم ختم شي او د مسلمانانو قوّت به بیا بَرقرار شي.

## په دُنیا کې د انسان د ژوند مقصد "عبادت او خلافت" دی

که مونږ په قرآن کریم او احادیثو باندې نظر واچوو نو دا به راته د رڼا ورځ په شان ښکاره شي چې په دُنیا کې د انسان د ژوند دوه (۲) مقصده دي: یو د الله ﷻ عبادت کول. او دویم په مخ د زمکه باندې اسلامي خلافت قائمول.

اوس ددې دواړو تشريح درته کوم:

**انسان د عبادت د پاره پيدا شوی** الله ﷻ د انسان مقصدِ حيات دا بيان کړی:

﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾ (۱)

ترجمه: او ما ندي پيدا کړي پيريان او انسانان مګر ددې د پاره چې دوی زما عبادت اوکړي

بل ځای فرمايي:

﴿ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ ﴾ (۲)

او ته د خپل رب عبادت کوه تر دې چې تاته مرګ راشي.

(يعنی تر مرګه پورې د الله ﷻ عبادت کوه).

بلکه مخکيني هر پيغمبر ته د الله ﷻ د عبادت حُکم شوی ؤ، الله تعالی فرمايي:

﴿ وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ ﴾ (۳)

ترجمه: د تانه وړاندې چې مونږ هر رسول ليږلی هغه ته مونږ (ضرور) دا وَحی کړی چې: د مانه علاوه بل هيڅوک د عبادت لائق نشته، پس تاسو صرف زما عبادت کوئ.

**انسان د خلافت قائمولو د پاره پيدا شوی** د انسان د ژوند دويم غټ مقصد په مخ د زمکه باندې خِلافت قائمول دي ځکه انسان د الله ﷻ خليفه دی. (۴)

نو چې کله انسان د الله تعالی خليفه شو نو اوس چې کوم کارونه الله ﷻ کوي انسان به هم هغه کارونه کوي (اګرچې د دواړو په کارونو کې په حقيقت کې غټ فرق دی):

الله ﷻ هدايت کوونکی دی نو انسان به هم خلقو ته د نيغې لارې راهنمائي کوي.

---

(۱) الذاريات آية ۵۶.

(۲) الحجر آية ۹۹.

(۳) الانبياء آية ۲۵.

(۴) د حضرت آدم عليه السلام د پيداکولو په وخت الله ﷻ فرښتو ته اوفرمايل: ﴿ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً ﴾. البقرة آية ۳۰.

ترجمه: بيشکه زه په زمکه کې يو خليفه (جانشين او نائب) جوړوونکې يم.

الله ﷻ د ښکو کارونو حُکم کوونکی او د بَدو کارونو نه منع کوونکی دی نو انسان به هم اَمر بِالمَعروف او نَهيِ عَنِ المُنکر کوي .

الله ﷻ مُربّي دی ، د مخلوق تربيت کوي نو انسان به هم د خپلو بچو او مَاتَحتو خلقو تربيت کوي .

الله ﷻ مُدبِّر دی نو انسان به هم تدبير کوي .

الله ﷻ مُوجِد دی نو انسان به هم ورځ په ورځ نوي نوي اِيجادات کوي .

الله ﷻ مُعلِم دی ، ځکه انبياء کرامو ته يې د شريعت تعليم ورکړی نو انسان به هم مُعلِم وي خلقو ته به د دِين تعليم ورکوي .

لهذا د انسان يو مقصد دا دی چې دا به د خلافت په ذريعه د الله ﷻ اَحکام په مخ د زمکه باندې جاري کوي .

خالص د عبادت د پاره خو فرښتې هم کافي وی ، ځکه ځنې فرښتې داسې دي چې د زَرهاؤ کلونو تېرېدو باوجود د قِيام په حالت کې دي ، ځنې د رکوع په حالت کې دي ، ځنې د سجدې په حالت کې دي ، او ځنې مسلسل د الله تعالی حمد و ثناء وايي ، نه ستړې کيږي ، او نه د الله ﷻ نافرماني کوي ، خو ددې باوجود چې الله تعالی انسان پيدا کړو نو دا ځکه چې په فرښتو کې د خلافت صلاحيت نهٔ ؤ . او په انسان کې دا صلاحيت ؤ .

## د خلافت کبری د پاره کوشش په کار دی

انسان په مخ د زمکه د الله ﷻ خليفه دی . (۱)

ليکن په دې خبره ځان پوهه کړئ چې يو د هر انسان د خپل ذات په اعتبار سره خليفه کيدل او د دې تقاضې پوره کول دي . او بل په اِجتماعي طريقې سره په ټوله دُنيا کې اسلامي خلافت قائمول دي . دا دواړه خبرې جدا جدا دي .

د خپل ذات په اعتبار سره د خليفه کيدلو مطلب دا دی چې : انسان د الله تعالی عبادت کوي ، د مخلوقِ خُدا خدمت کوي ، ذِکر و اَذکار کوي ، د مظلومانو سره مدد کوي ، نورو

---

(۱) ﴿ وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً ﴾ البقرة آية ۳۰ .

ته د نېکۍ راهنمائي کوي، جهاد کوي، او یا د شریعت نور اَحکام عملي کوي. د خلافت په دې معنی کې مونږ هریو کس خلیفه یو.

اللہ ربّ العزت فرمايي: ﴿ هُوَ الَّذِیْ جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ فِی الْاَرْضِ ﴾.(۱)

ترجمه: اللہ تعالی هغه ذات دی چې تاسو یې په زمکه کې خلیفه گان جوړ کړي يی.

همدارنګې مونږ مسلمانان په خپل مینځ کې د یو بل خلیفه گان یو: ځوي د پلار خلیفه دی، هغه د خپل پلار خلیفهؤ، او هغه بیا د خپل پلار خلیفهؤ. یا مثلاً د یو پیر ډېر خلیفه گان وي.

د خلافت بل قِسم هغه دی چې مونږ اِجتماعي لحاظ سره په دُنیا کې خلافتِ کُبرٰی قائم کړو. اوس لکه څرنګې چې اِنفرادي لحاظ سره د خلافت تقاضې پوره کول ضروري دي نو همدغه شان اِجتماعي لحاظ سره هم خلافت قائمول ضروري دي، ځکه د خلافتِ کُبرٰی (اِمامتِ کُبرٰی) نه بغیر د اُمتِ مُسلِمه مسائل نه حل کیږي.

نن صبا چې مسلمانان په اجتماعي لحاظ سره کمزوري او ذلیل دي نو د دې یوه وجه دا هم ده چې اسلامي خلافت نشته.

کافرانو ته د اِنفرادي خلافت نه هیڅ یَره نشته، که یو کس ډېر عبادت او آذکار کوي، یا د یو پیر بې شماره خلیفه گان وي او هر یو په عبادت کې مصروف وي نو کافرانو ته د دینه هیڅ یَره نشته، بلکه کافرانو ته یَره د هغه خلیفه نه ده چې هغه د ټولو مسلمانانو اتفاقي خلیفه وي، ځکه چې کله د ټولو مسلمانانو خلیفه یو وي نو په دې سره په مسلمانانو کې اِتفاق او قوّت وي، د دُنیا نور کافران بیا د مسلمانانو مقابله نشي کولی.

کله چې په مخ د زمکه اسلامي خلافت قائم وي نو د اِقدامي جهاد سلسله به جاري وي، په زمکه به اسلامي حُدود نافذ وي، مسلمانان به د ناجائزو کارونو نه منع وي، د دُنیا یو کُفري مُلک به هم دا جُرأت نشي کولی چې په مسلمانانو باندې ظلم اوکړي، یا د اسلامي شعائرو سپکاوې اوکړي.

او چې کله په مخ د زمکه اسلامي خلافت نه وي نو د مسلمانانو اِجتماعي قوّت به ختم وي،

---

(۱) سورة فاطر آية ۳۹. / وقال تعالى: ﴿ وَهُوَ الَّذِیْ جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ الْاَرْضِ ﴾ الانعام آية ۱۶۵.

اسلامي حدود نشي نافذيدی، او اکثره اسلامي بادشاهان به د کافرانو غلامان وي.

تاسو ديته سوچ اوکړئ چې يو کور بغير د سرپرست نه وران وي، يو جُمات بغير د امام نه شاړ وي ليکن اَفسوس صَد اَفسوس چې د څو صديو نه را په ديخوا اُمتِ مُسلمه بغير د اسلامي خليفه نه ژوند تېروي، نو ځکه خو د دومره ذِلت سره مخامخ دی. (۱)

د کله نه چې کافرانو خلافتِ عثماني ختم کړی نو د هغې نه را په ديخوا مسلسل همدا کوشش کوي چې دوباره په دُنيا کې اسلامي خلافت قائم نشي.

## د ايمان کامل والي د پاره عبادت او خلافت دواړه ضروري دي

د اِيمان دوه رُکنونه دي : يو عبادت او بل خلافت.

د انسان اِيمان به هله کامِل کيږي چې که دا يو طرف ته عبادت گُزار وي نو بل طرف ته به خليفه هم وي، په مخ د زمکه به د الله ﷻ اَحکام جاري کوي.

که يو کس څليرېشت (۲۴) گِنټې په عبادت کې مصروف وي خو دده سره د خلافت قائمولو هيڅ غم نه وي نو دده اِيمان کامِل ندی، يا يو کس د خِلافت کارونه کوي خو عبادت نه کوي نو دده اِيمان هم کامِل ندی، دده اِيمان به هله کامِليږي چې دا دواړه خبرې په کې راشي.

## نبي عليه السلام او صحابه کرامو رضي الله عنهم به دا دواړه کارونه کول

نبي عليه السلام به که يو طرف ته د فرضي عباداتو سره سره د شپې دومره ډير تهجد کول چې قدمونه مبارک به يې اُوپړسيدل نو بل طرف ته به يې د خلافت کارونه هم کول: يعنی اسلامي نظام يې نافِذ کړې وُ، جهادونه يې کول، د دُنيا بادشاهانو ته يې خطونه ليږل، سفرونه يې کول، او د مخلوق خدمت يې کولو چې دا ټول د خلافت کارونه دي.

همدا رنگې پيغمبر عليه السلام به که په مسجدِ نبوي کې مونځ او نور عبادات کول نو همدغه شان يې د خلقو فيصلې هم په جُمات کې کولی.

صحابه کرام رضي الله عنهم هم د نبي عليه السلام په نقشِ قدم باندې روان وو: دوی که يو طرف ته په ډيرې عاجزۍ سره عبادت کولو، الله ﷻ ته يې ژړا او زاري کولی نو بل طرف

---

(۱) خطبات شيخ پوري ج۴ ص ۱۳۹.

ته يې جهاد ونه هم کول ، ملکونه يې هم فتح کول ، حکومت يې هم کولو ، او اسلامي نظام يې هم نافذ کړي ؤ .

## د صحابه کرامو رضي الله عنهم د غالب کيدو راز همدا دوه خبرې وې

په فارس باندې چې کله صحابه کرامو حمله اوکړه نو د مسلمانانو ټول تعداد ديرش زره (۳۰۰۰۰) يا درې ديرش زره (۳۳۰۰۰) کسان وو ، د دوی سره جَنګي وَسائل هم کم وو :

د څا سره په لاس کې نېزه وه ، د څا سره په لاس کې توره وه ، د څا سره په لاس کې خَنجر ؤ ، خوراک او لباس هم ورسره پوره نه ؤ .

خو ددې په مقابله کې کې د فارسيانو درې لکه (۳۰۰۰۰۰) لښکرؤ ، د دوی د لښکر مشري مشهور جرنېل " رُستم پهلوان " کوله ، د دوی سره جنګي اَسلحې او نور د خوراک شيان هم فراخه وو .

کله چې جنګ شروع شو نو صحابه کرامو رضي الله عنهم د زمريانو په شان داسې په بهادرۍ سره حمله اوکړه چې د فارسيانو لکونو لښکر د ګيدړانو په شان اُوتختيد .

رُستم پهلوان د فارس ټول جنګي سرداران راجمع کړل او په ډيرې غصې يې ورنه پوښتنه اوکړه چې :

دا څه وجه ده چې زمونږ په لکونو لښکر دی ، هر قِسمه جنګي اَسلحې ورسره شته ، شاته راپسې غونډ قوم ولاړ دی ، نوې نوې فوج او مدد رارسيږي ليکن بيا هم مونږ د عربو باندچيانو د ديرش زره (۳۰۰۰۰) لښکر نه د ګيدړانو په شان را اُوتختيدو ؟ حالانکه د هغوی سره جنګي اَسلحې هم نشته ، د شاته نه ورپسې کومک هم نه رارسيږي ، دا د هغوی مُلک هم ندی خو بيا هم هغوی په مونږ باندې د زمريانو په شان حمله اوکړه او مونږ ته يې شکست راکړو ، ددې څه وجه ده ، د تاسو سره د څه شي کمې دی ؟

ټولو سردارانو ورته ووېل : مونږ به تاته ددې صحيح حقيقت ښکاره کړو خو ته به مونږ ته دا ضمانت راکوې چې مونږ به په دې حقيقت ښکاره کولو باندې نه قتلوې .

رستم پهلوان ورته ووېل : تاسو ماته صحيح حقيقت ښکاره کړئ ، ستاسو سَر ته به اَمان وي

ټولو سردارانو ورته ووېل : اې رُستم ! دا يو موټې عرب به آخر هم ستا په دې ټول مُلک باندې غالبه کيږي ، د دوی حکومت به وريانديې راځي ، او ته به آخر هم د دوی په

مقابله کې مغلوبه کيږي. رستم ورته وويل: دا ولې؟

سردارانو ورته وويل: داځکه چې د دې مسلمانانو عربو شان دادی:

هُمْ بِاللَّيْلِ رُهْبَانٌ ، وَبِالنَّهَارِ فُرْسَانٌ.

دوی ټوله شپه عبادت کوي، او د ورځې ټوله ورځ په آسونو باندې سواره وي جهاد کوي.

يعنې دوی ټوله شپه د الله ﷻ عبادت کوي، الله ﷻ ته ژاړي، زاري کوي، او دا وايي چې اې الله! په مونږ کې طاقت نشته، ته د طاقت واله ذات يې، ته مونږ ته طاقت راکړه. اې الله! مونږ ستا سپاهيان وو که ته مونږ ته فتح راکړې نو مونږ به کامياب شو، او که ته مونږ ته شکست راکړې نو مونږ به شکست خُورده شو.

نو دوی ټوله شپه الله تعالى ته ژاړي او زاري کوي. بيا د ورځې دوی په خپلو آسونو باندې سواره شي، جهاد کوي.

د دوی کيفيت دادی چې دا داسې بزرگ خلق دي چې که دوی چيرته لاړ شي نو هغه ځای آباد شي، دوی د نورو خلقو د لورانو داسې حفاظت کوي لکه يو کس چې د خپلې لور حفاظت کوي.

او اې رُستم! ستا دا لښکر خو شرابيان دي، دوی چې چيرته لاړ شي د هغه ځای د خلقو د لورانو او خورانو بې عزتي کوي، او فساد پيدا کوي. نو د مسلمانانو په لښکر او ستا په لښکر کې ډير غټ فرق دی، د همدې د وجې نه هغوی په هر ځای کې غالب کيږي.

**فائده**: بهر حال، خبره مې دا شروع کړې وه چې د انسان د ژوند دوه مقصده دي: يو عبادت او دويم خلافت.

د ټولو نه لوي عبادت ګزار نبي ﷺ وُ، او د ټولو نه لوي خليفه (د الله ﷻ نائب) هم نبي عليه السلام وُ، نو د دوی اُمت به هم همدغه شان عبادت ګزار او خليفه وي.

لهذا مسلمانانو ته په کار دي چې په مخ د زمکه باندې د اسلامي خلافت قائمولو کوشش اوکړي.

## د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کیدو لسم سبب:

## " دین او سیاست جدا جدا گنړل "

د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کیدو لسم سبب دادی چې ددې دوَر مسلمانان دِین او سیاست جدا جدا گنړي، حالانکه دا دواړه لازِم او مَلزوم دي.

یو وخت داسې وُ چې د مُصَلّي امام سره به دِیني مَنصب هم وُ، او سیاسي مَنصب به هم وُ. د مُصلّي امام به بادشاه هم وُ، قاضي به هم وُ او د فوج مشر به هم وُ، چې ددې په وجه به په شریعت باندې پوره عمل کیدلو او د مسلمانانو اتفاق به بَرقرار وُ.

خو چې د کله نه خلقو دِین او سیاست جدا جدا اُوگنړل نو اُمّتِ مُسلمه ته سخت نقصان اورسید، ځکه د خلقو نظریه دا جوړه شوه چې گني علماء به د خپل مونځ، اَودس، جُمات او مدرسې سره کار لري او حکومتي خلق به د سیاست او مُلک چلولو سره کار لري، دواړه دَلې به د یو بل په کار کې مداخَله نه کوي.

نن صبا غیرمُسلمه او د هغوی نه مُتأثره حکومتي خلق هم دا وایي چې: که علماء انفرادي طریقې سره مونځونه کوي، روژې نیسي، پَگړې تړي، تسبیح اَړوي، پَرتوگ د گیټو نه بَره ساتي، خپلې مدرسې چلوي یا خانقاه گانې چلوي نو ددې سره زمونږ کار نشته خو په حکومتي کارونو کې به گوتې نه وَهي.

نو ددې غلطې نظریې خطرناک اَثرات دا رااُووت چې په دِیني او سیاسي طبقه کې ډیر لرې والې پیدا شو:

ځنې دِیني طبقو واله یا خو د حکومتِ وَقت نه ښکاره مخالفت اوکړو او یا د حکومت نه داسې په ډَډه شو چې خپل دِیني خدمت یې د جُمات، مدرسې او خانقاه پورې محدود کړو.

همدارنگې سیاسي طبقې واله خلق د دِین نه دومره لرې شو چې یا خو د دِین سره په ټَکر کې راغلل او یا د دِین نه مکمل ناخبره پاتې شو.

حالانکه په شریعت، طریقت او سیاست کې تلازم دی. سیاستِ شرعیه د اسلام حصه ده.

اول د سیاست تعریف درته کوم، ددینه به تاسو ته په خپله واضحه شي چې اسلامي سیاست د شریعت حصه ده.

# د سياست تعريف

اَلسِّيَاسَةُ : اَلْقِيَامُ عَلَى الشَّيْءِ بِمَا يُصْلِحُهُ. (۱)

سياست : د يو شي په باره کې داسې تدبير کول چې په هغې سره دد ې شي اِصلاح اوشي.

علماؤ د سياست نور تعريفونه هم کړي . (۲)

د لغت په کتابونو کې چې د سياست کوم تعريفونه شوي د هغې خلاصه داده :

سياست داسې يو فَن دی چې دد ې په ذريعه باندې د مُلک او قوم د بهترۍ سوچ کولې شي. يعنی مُلک او قوم ته داسې مُنَظَّم نِظام برابرولې شي چې په هغې باندې چليدلو سره انسان په دواړه جهانه باندې کامياب شي . (۳)

ګويا سياست حکومت او تدبير ته وايي . (۴)

ليکن نن صبا خلقو د دروغو او دُهوکې په وجه سياست داسې بَدنام کړی چې دوی سياست صرف ديته وايي چې يو کس خپل ځان په دروغه او دُهوکې سره کامياب کړي ، او مقابل کس بَدنام کړي .

---

(۱) لسان العرب ۱۰۸/۶ فصل السين المهملة طبع دار صادر بيروت .

(۲) د يو څو علماؤ د کتابونو نه درته د سياست تعريف رانقل کوم :

علامه ابن نجيم مصري رحمه الله په بحرالرائق کې د سياست تعريف داسې کړی : اَلسِّيَاسَةُ : اَلْقَانُوْنُ الْمَوْضُوْعُ لِرِعَايَةِ الْآدَابِ وَالْمَصَالِحِ وَانْتِظَامِ الْأَمْوَالِ. البحر الرائق شرح کنز الدقائق ۷۶/۵ كِتَابُ السَّرِقَةِ بَابُ قَطْعِ الطَّرِيقِ .

امام غزالي رحمه الله په "احياء العلوم" کې د سياست تعريف داسې کړی : السياسة : استصلاح الخلق وإرشادهم إلى الطريق المستقيم المنجي في الدنيا والآخرة . إحياء علوم الدين ۱۳/۱ كتاب العلم الباب الأول في فضل العلم والتعليم والتعلم وشواهده من النقل والعقل طبع دار المعرفة بيروت .

(۳) اَلسِّيَاسَةُ : اَلْقِيَامُ عَلَى الشَّيْءِ بِمَا يُصْلِحُهُ. والسِّيَاسَةُ : فِعْلُ السَّائِسِ. يُقَالُ: هُوَ يَسُوْسُ الدَّوَابَّ إِذا قَامَ عَلَيْهَا وَرَاضَهَا. وَالْوَالِي يَسُوْسُ رَعِيَّتَه. لسان العرب ۱۰۸/۶ فصل السين المهملة طبع دار صادر بيروت .

سياست : پاس داشتن ملک ، و حکم راندن ( دادن ) بر رعيت . شمس اللغات ص ۳۶۶ . فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۲۸۹ كتاب السياسة .

(۴) فتاوی فريديه ج ۱ ص ۵۵۵ و ص ۵۴۹ كتاب السياسة .

# انبياء كرامو سياست كړی

اسلامي سياست د شريعت حصه ده ، ځكه د اسلامي سياست د پاره الله ﷻ پيغمبران راليږلي دي .

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

كَانَتْ بَنُوْ إِسْرَائِيْلَ تَسُوْسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ ، كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ ، وَ إِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ ... (۱)

د بني اسرائيلو سياست به انبياء كرامو كولو ، چې كله به يو نبي وفات شو نو بل نبي به د هغه قائم مقام شو . ليكن د ما نه پس به بل نبي نه راځي ...

**تشريح** امام نووي رحمه الله د مسلم شريف په شرح كې ددې حديث په تشريح كې ليكلي چې: انبياء كرامو به د بني اسرائيلو د اُمورو داسې اِنتظام كولو لكه څرنګې چې اُمراء او واليان د خپل رَعيت د اُمورو اِنتظام كوي . (۲)

همداسې تشريح ملا علي قاري رحمه الله هم په مرقاة كې كړی . (۳)

---

(۱) پوره حديث داسې دی : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : كَانَتْ بَنُوْ إِسْرَائِيْلَ تَسُوْسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ ، كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ ، وَ إِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ ، وَسَيَكُوْنُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُوْنَ » قَالُوْا : فَمَا تَأْمُرُنَا ؟ قَالَ : « فُوْا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ ، أَعْطُوْهُمْ حَقَّهُمْ ، فَإِنَّ اللهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ » . صحيح البخاري كِتَابُ أَحَادِيثِ الْأَنْبِيَاءِ بَابُ مَا ذُكِرَ عَنْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ رقم الحديث ۳۴۵۵ ، صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ الْأَمْرِ بِالْوَفَاءِ بِبَيْعَةِ الْخُلَفَاءِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ رقم الحديث ۴۴ (۱۸۴۲) ، مسند احمد رقم الحديث ۷۹۶۰ ، سنن ابن ماجة باب الوفاء بالبيعة رقم الحديث ۲۸۷۱ ، مشكوة المصابيح كتاب الامارة والقضاء الفصل الاول رقم الحديث ۳۶۷۵(۱۵) .

(۲) ( كَانَتْ بَنُوْ إِسْرَائِيْلَ تَسُوْسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ ) أَيْ يَتَوَلَّوْنَ أُمُوْرَهُمْ كَمَا تَفْعَلُ الْأُمَرَاءُ وَالْوُلَاةُ بِالرَّعِيَّةِ . وَالسِّيَاسَةُ : اَلْقِيَامُ عَلَى الشَّيْءِ بِمَا يُصْلِحُهُ . شرح النووي على مسلم ( المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج ) ۲۳۱/۱۲ باب وجوب الوفاء ببيعة الخليفة الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ .

(۳) ( كَانَتْ بَنُوْ إِسْرَائِيْلَ تَسُوْسُهُمْ ) أَيْ يَتَوَلَّى أَمْرَهُمْ ( الْأَنْبِيَاءُ ) كَمَا يَفْعَلُ الْأُمَرَاءُ وَالْوُلَاةُ بِالرَّعِيَّةِ ، وَالسِّيَاسَةُ الْقِيَامُ عَلَى الشَّيْءِ بِمَا يُصْلِحُهُ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲۳۹۸/۶ كتاب الامارة والقضاء الفصل الاول في تشريح حديث ۳۶۷۵

# نبي عليه السلام هم سياست او حکومت کړی

نبي عليه السلام په خپله باندې هم سياست او حکومت کړی .

بيا د هغوی نه پس صحابه کرامو ، تابعينو او تبع تابعينو هم سياست کړی ، او په مخ د زمکه کې يې اسلامي نِظام قائم کړی.

همدارنګې په قرآن کريم کې چې نبي عليه السلام ته ددې دُعا ويلو حُکم شوی :

﴿ وَاجْعَلْ لِّيْ مِنْ لَّدُنْكَ سُلْطٰنًا نَّصِيْرًا ﴾. (۱)

ترجمه: او (اې ربه !) ماته د خپل طرف نه غلبه او مدد راکړه.

نو ددې آيت په تفسير کې مُفسّرينو ليکلي چې د "سُلْطٰنًا" نه مراد داسې حکومت او قوّت دی چې د هغې په ذريعه باندې په مخ د زمکه دِين نافِذ کړي ، او اسلامي حُدود قائم کړي. (۲)

علماء چونکه د انبياء کرامو وارِثين دي. (۳)

---

(۱) الاسراء آية ۸۰.

(۲) ﴿ سُلْطٰنًا نَّصِيْرًا ﴾ اِخْتَلَفَ أَهْلُ التَّأْوِيْلِ فِيْ تَأْوِيْلِ ذٰلِكَ. فَقَالَ بَعْضُهُمْ: مَعْنٰى ذٰلِكَ: وَاجْعَلْ لِيْ مُلْكًا نَاصِرًا يَنْصُرُنِيْ عَلٰى مَنْ نَاوَأَنِيْ، وَعِزًّا أُقِيْمُ بِهٖ دِيْنَكَ، وَأَدْفَعُ بِهٖ عَنْهُ مَنْ أَرَادَهُ بِسُوْءٍ . تفسير الطبري (جامع البيان عن تأويل آي القرآن) ۱۵ / ۵۸ سورة الاسراء آية ۸۰.

﴿ وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّيْ جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيْفَةً ﴾ والخليفةُ من يخلف غيره وينوب منابه، والهاء فيه للمبالغة. والمراد به آدم عليه الصلاة والسلام لأنه كان خليفة الله في أرضه، وكذلك كل نبي استخلفهم الله في عمارة الأرض وسياسة النّاس وتكميل نفوسهم وتنفيذ أمره فيهم، لا لحاجة به تعالى إلى من ينوبه، بل لقصور المستخلف عليه عن قبول فيضه، وتلقي أمره بغير وسط . تفسير البيضاوي (انوار التنزيل واسرار التأويل) ۱/ ۶۸ سورة البقرة آية ۳۰.

(۳) إِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ . سنن ابي داؤد كِتَابُ الْعِلْمِ بَابُ الْحَثِّ عَلٰى طَلَبِ الْعِلْمِ رقم الحديث ۳۶۴۱، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۲۲۳ باب فضل العلماء والحثّ على طلب العلم، سنن الترمذي رقم الحديث ۲۶۸۲ باب ما جاء في فضل الفقه على العبادة . صحيح ابن حبان رقم الحديث ۸۸.

لهذا علماء به هم په سياست کې حصه اخلي ، او په مخ د زمکه به د اسلامي قانون نافذولو کوشش کوي ، ځکه د غير اسلامي نظامونو مقابله کولو او اسلامي نظام نافذولو د پاره اقتدار ضروري دی.(۱)

بل دا چې د سياست په ذريعه باندې مسلمانانو ته خلافت نصيبه کيږي او په مخ د زمکه باندې د اسلامي نظام قائمولو موقع ورته برابريږي.

## سياست د دين جُزء دی

نن صبا د عيسايانو او سيکولرز خلقو نظريه داده چې " دين او سياست جدا جدا دي " حالانکه دا نظريه باطله ده ، ځکه علماؤ په دې موضوع باندې مستقل کتابونه ليکلي او دا يې د قرآن کريم او احاديثو نه په مضبوطو دلائلو سره ثابته کړې چې په اسلام او سياست کې سره تلازم دی ، سياست د دين جُزء دی . (۲)

اوس چې کوم خلق سياست د اسلام نه جدا ګڼري نو داسې نظريه ساتل په حقيقت کې د شِرک يو قِسم دی.

---

(۱) فتاوی فریدیه ج ۱ ص ۵٦٦ کتاب السیاسة.

(۲) علامه ابن قيم رحمه الله ليکلي : وَلَا نَقُولُ : إِنَّ السِّيَاسَةَ الْعَادِلَةَ مُخَالِفَةٌ لِلشَّرِيعَةِ الْكَامِلَةِ . بَلْ هِيَ جُزْءٌ مِنْ أَجْزَائِهَا وَبَابٌ مِنْ أَبْوَابِهَا، وَتَسْمِيَتُهَا سِيَاسَةً أَمْرٌ اِصْطِلَاحِيٌّ وَإِلَّا فَإِذَا كَانَتْ عَدْلًا فَهِيَ مِنَ الشَّرْعِ . إعلام الموقعين عن رب العالمين ۲۸۳/۴ الْعَمَلُ بِالسِّيَاسَةِ طبع دار الكتب العلمية بيروت

## آیا زمونږ ضمیر مړ شوی ؟

ډیر د اَفسوس ځای دی چې په دې دوَر کې مسلمانان ورځ په ورځ کمزوري کیږي ، په هر ځای کې د کافرانو د لاسه ذلیله کیږي ، کافران د مسلمانانو په ملکونو باندې قبضې کوي ، بَمبارياني کوي ، بې گناه مسلمانان شهیدانوي ، زمونږ جُماتونه ورانوي ، زمونږ د پیغمبر سپکاوي کوي ، زمونږ د قرآن بې عزتي کوي ، د مسلمانانو زَنانهٔ عزت لوټ کوي ، د فیشن په نوم باندې بې حَیایي خوروي .

آخر دا ولې ؟ آیا په مسلمانانو کې دِیني غیرت ندې پاتې شوی ؟ آیا د مسلمانانو ضمیر دومره مړ شوی چې خپله دِفاع هم نشي کولی ؟ آیا د مسلمانانو طاقت مکمل ختم شوی ؟ اَفسوس صَد اَفسوس د مسلمانانو په حالت باندی .

مسلمانانو ته د غفلت د خوب نه راپېدا ریدل په کار دي ، اِیماني غیرت او بهادري په کار ده ، د کومو اَسبابو په وجه چې مسلمانان کمزوري کیږي هغه اَسباب پریخودل په کار دي ، او د کومو اَسبابو په وجه چې مسلمانان ترقي کوي هغه خپلول په کار دي .

## د ذلت او کمزورۍ نه د بچ کیدو طریقې

که مسلمانان دا غواړي چې زمونږ دا ذِلت او کمزوري ختمه شي او د مخکیني په شان بیا یو مضبوط قوّت جوړ شي نو په کار ده چې په یو څو خبرو باندې عمل اوکړي :

په اسلام کې پوره داخل شي او د شریعت ټول احکامات بغیر د چُون و چرا اُومني ، د قرآن کریم سره مضبوط تعلق پیدا کړي ، په خپل مینځ کې اتفاق و اتحاد پیدا کړي ، د کافرانو خلاف د جهاد دا اَهمه فریضه دوباره راژوندۍ کړي ، د دُنیا حِرص او لالچ د زړه نه اُوباسي ، خپل اَخلاق او کِردار صحیح کړي ، د بې حیایۍ او عیاشۍ نه ځان اوساتي ، کبیره گناهونه پرېږدي ، د کافرانو سره د هغوی په مخصوصو شیانو کې مشابهت پرېږدي ، د اسلامي خلافت قائمولو کوشش اوکړي ، او د اسلامي نِظام نافذولو د پاره په اسلامي سیاست کې بَرخه واخلي .

## د خپل ځان اِصلاح کول ، او الله ﷻ طرف ته رُجوع کول

همدارنګې که مونږ مسلمانان د خپل ځان اِصلاح اوکړو ، او الله ﷻ طرف ته رجوع اوکړو

نو الله تعالی به زمونږ دا ذلّت او کمزوري ختمه کړي ، او دوباره به غلبه راکړي .

ددې خبرې لږ تفصيل درته کوم :

د ظاهري اَسبابو استعمالولو باوجود دا ضروري ده چې مونږ مسلمانان اول خپل ځان اِصلاح کړو ، ځکه د خپل ځان اِصلاح په باره کې په قرآن کريم او احاديثو کې هم تاکيد راغلی . (۱)

نن صبا د هر چا په خُله باندې دا خبره شته چې مسلمانان کمزوري دي ليکن هيچا د خپل ځان په باره کې دا سوچ ندې کړی چې آيا زما اصلاح شوی او که نه ؟ هر کس په بل کې عيبونه رااُوباسي خو د خپل ځان فِکر ورسره نشته .

د اِصلاح نه مراد دادی چې د مسلمان عبادات ، معاملات ، اَخلاق او معاشرت د شريعت موافق شي .

---

(۱) ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ . المائدة آية ۱۰۵ .

عَنْ أَبِي أُمَيَّةَ الشَّعْبَانِيِّ، قَالَ : أَتَيْتُ أَبَا ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيَّ. فَقُلْتُ لَهُ : كَيْفَ تَصْنَعُ بِهَذِهِ الْآيَةِ ؟ قَالَ : أَيَّةُ آيَةٍ؟ قُلْتُ : قَوْلُهُ تَعَالَى : { يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ } قَالَ : أَمَا وَاللَّهِ لَقَدْ سَأَلْتَ عَنْهَا خَبِيرًا. سَأَلْتُ عَنْهَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: « بَلِ ائْتَمِرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَتَنَاهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ. حَتَّى إِذَا رَأَيْتَ شُحًّا مُطَاعًا، وَهَوًى مُتَّبَعًا، وَدُنْيَا مُؤْثَرَةً ، وَإِعْجَابَ كُلِّ ذِي رَأْيٍ بِرَأْيِهِ فَعَلَيْكَ بِخَاصَّةِ نَفْسِكَ وَدَعِ الْعَوَامَّ. فَإِنَّ مِنْ وَرَائِكُمْ أَيَّامًا الصَّبْرُ فِيهِنَّ مِثْلُ الْقَبْضِ عَلَى الْجَمْرِ. لِلْعَامِلِ فِيهِنَّ مِثْلُ أَجْرِ خَمْسِينَ رَجُلًا يَعْمَلُونَ مِثْلَ عَمَلِكُمْ » قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ : وَزَادَنِي غَيْرُ عُتْبَةَ قِيلَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ ا أَجْرُ خَمْسِينَ رَجُلًا مِنَّا أَوْ مِنْهُمْ. قَالَ: « بَلْ أَجْرُ خَمْسِينَ رَجُلًا مِنْكُمْ »: سنن الترمذي رقم الحديث ۳۰۵۸ أَبْوَابُ تَفْسِيرِ الْقُرْآنِ بَابٌ: وَمِنْ سُورَةِ الْمَائِدَةِ ، وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. سنن ابي داؤد كِتَاب الْمَلَاحِمِ بَابُ الْأَمْرِ وَالنَّهْيِ رقم الحديث ۴۳۴۱ ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۴۰۱۴ باب قوله تعالى : يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنفُسَكُمْ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم ورقم الحديث ۷۹۱۲ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه الذهبي. السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۲۰۱۹۳، شعب الايمان رقم الحديث ۷۱۴۷ ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۴۱۵۶ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۵۸۷ .

صرف عبادات دِين ندی ، بلکه معاملات ، اَخلاق او معاشرت هم د دِين حصه ده ، د دې ټولو واړو شعبو اِصلاح په کار ده.

که مونږ خپله معاشره اوګورو نو هر طرف ته په ښکاره باندې ګناهونه کيږي ، په غم او ښادۍ کې شرعي احکامات ماتيږي ، هر طرف ته د بې حَيايۍ بازار ګرم دی ، سُود رِشوت او حرام خُوري عام ده ، دروغ غيبت چُغل خوري او دُهوکه کمال ګڼړلې شي ، حقوق الله او حقوق العباد پائمال کولې شي ، اسلامي طريقې پريخودلې شي او د غير مُسلمو مشابهت کولې شي ، د نبي عليه السلام سُنت پريخودلې شي او خلافِ شرعه رسمونو ته ترجيح ورکولې شي. حالانکه اسلام يو کامِل دِين دی ، په دې کې د مسلمانانو د پاره د ژوند په هر ميدان کې پوره هدايت موجود دی ، او د الله او رسول په احکاماتو باندې عمل کولو سره انسان ته د دواړو جهانو د کاميابۍ وعده شوې.

ليکن افسوس چې مونږ مسلمانانو د خپل ځان د اِصلاح فکر پريخی او په هيڅ وخت کې الله ﷻ طرف ته نه راجع کيږو ، نو په داسې حالت کې به الله ﷻ په مونږ باندې څه رَحم اوکړي ؟ او مونږ به څنګه د دې ذِلت او کمزورۍ نه اُوباسي ؟

لهذا اول د خپل ځان اِصلاح په کار ده او الله ﷻ طرف ته راجع کيدل په کار دي ، ځکه که زمونږ اصلاح اوشوه نو الله ربّ العزت به خامخا مونږ ته فتح او نصرت راکوي.

## په اِستغفار سره ګناهونه ختميدل ، او عذاب دفع کيدل

نن صبا چې مسلمانان دا په کوم مشکل حالت کې ګېر دي د دينه د وتلو د پاره يو علاج دا هم دی چې په اخلاص باندې توبه اُوباسي او اِستغفار اووايي ، ځکه په توبه او اِستغفار سره د انسان مخکيني ګناهونه ختميږي ، او د الله ﷻ عذاب دفع کيږي ، نو خامخا به انسان د الله تعالى د رحمت مستحق ګرځي.

په قرآن کريم او احاديثو مبارکه ؤ کې د توبې او اِستغفار ډير فوائد بيان شوي :

په قرآن کريم کې د اِستغفار په فوائدو کې دا هم ذکر شوي چې د دې په وجه الله ﷻ د انسان ګناهونه معاف کوي ، خپل رحمت پرې نازلوي. مال و اولاد ، ځامن او باغونه ورته

ورکوي. (۱)

د استغفار په وجه انسان د الله ﷻ د عذاب نه محفوظه کيږي . (۲)

لهذا انسان ته په کار دي چې په اخلاص باندې توبه اُوباسي او په ژبه باندې استغفار وايي ، ځکه څوک چې په اخلاص باندې توبه اُوباسي نو د خپل ځای نه پاڅيدو نه مخکې مخکې الله ربّ العزت ورته ګناهونه معاف کړي . (۳)

تربه ديته وايي چې انسان په تېرو ګناهونو باندې پښيمانه شي ، په ژبه باندې استغفار وايي ، او آئنده د پاره دا پَخه اِراده اوکړي چې زه به بيا د الله ﷻ نافرماني نه کوم . (۴)

**مُجَرَّبه دُعا** بزرګانو په تجربې سره دا ثابته کړې چې که يو کس د سخت مصيبت په وخت هغه دُعا اووايي کومه چې حضرت يونس عليه السلام د ماهي په خېټه کې په سختو تيارو کې ويلې وه او هغه ته الله ﷻ د هغه مصيبت نه نِجات ورکړې وُ ، نو الله ﷻ به

---

(۱) ﴿ فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ۝ يُرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا ۝ وَّيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ جَنّٰتٍ وَّيَجْعَلْ لَّكُمْ اَنْهٰرًا ﴾ سورة نوح آية ۱۰ تا ۱۲ .

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا ۭ عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ﴾ . التحريم آية ۸ .

(۲) ﴿ وَمَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴾ . الانفال آية ۳۳ .

(۳) قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ . سنن ابن ماجة كِتَابُ الزُّهْدِ بَابُ ذِكْرِ التَّوْبَةِ رقم الحديث ۴۲۵۰ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۰۲۸۱ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۲۰۵۶۱ ، ورقم الحديث ۲۰۵۲ ، شعب الايمان رقم الحديث ۶۷۸۰ ، شرح السنّة للبغوي باب التوبة .

(۴) قَالَ الطِّيْبِيُّ : وَالتَّوْبَةُ فِي الشَّرْعِ تَرْكُ الذَّنْبِ لِقُبْحِهِ ، وَالنَّدَمُ عَلَى مَا فَرَّطَ مِنْهُ ، وَالْعَزِيْمَةُ عَلَى تَرْكِ الْمُعَاوَدَةِ وَتَدَارُكِ مَا أَمْكَنَهُ أَنْ يَتَدَارَكَ مِنَ الْأَعْمَالِ بِالْإِعَادَةِ . هٰذَا كَلَامُ الرَّاغِبِ ، وَ زَادَ النَّوَوِيُّ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَقَالَ : إِنْ كَانَ الذَّنْبُ مُتَعَلِّقًا بِبَنِيْ آدَمَ فَلَهَا شَرْطٌ آخَرُ ، وَهُوَ رَدُّ الْمَظْلَمَةِ إِلَى صَاحِبِهَا أَوْ تَحْصِيْلُ الْبَرَاءَةِ مِنْهُ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۶۰۹/۴ كِتَابُ أَسْمَاءِ اللّٰهِ تَعَالَى بَابُ الْإِسْتِغْفَارِ وَالتَّوْبَةِ في تشريح رقم الحديث ۲۳۲۳ .

اَلتَّوْبَةُ : تَرْكُ الذَّنْبِ وَالنَّدَمُ عَلَى فِعْلِهِ وَالْعَزْمُ عَلَى عَدَمِ الْعَوْدِ وَ رَدُّ الْمَظْلِمَةِ إِنْ كَانَتْ ، أَوْ طَلَبُ الْبَرَاءَةِ مِنْ صَاحِبِهَا ، وَأَدَاءُ مَا ضَيَّعَ مِنَ الْفَرَائِضِ . تكملة فتح الملهم ج۵ ص۵.

دې كس ته هم د مشكلاتو او مصيبتونو نه نجات وركړي.

هغه دُعا داده: ﴿ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾.(۱)

## د هر مصيبت او تكليف دَفع كولو د پاره مونځ ته رُجوع كول

كله چې په مسلمان باندې څه تكليف يا مصيبت راشي نو په كار ده چې د فرضي مونځونو اَداء كولو سره سره نفلي مانځه طرف ته هم متوجّه شي، ځكه نبي كريم صلى الله عليه وسلم به هم د هر مصيبت او پريشانۍ په وخت مانځه ته رُجوع كوله.

۱. د ابوداؤد شريف حديث دی، حضرت حُذيفه رضي الله عنه فرمايي:

كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا حَزَبَهُ أَمْرٌ صَلَّى.(۲)

نبي كريم صلى الله عليه وسلم به چې كله څه كار غمجَن كړو (او څه مصيبت به ورته رامخې ته شو) نو مونځ به يې كولو.

۲. همدارنګې رسول الله ﷺ د مخكيني پيغمبرانو عادت هم دا بيان كړی چې كله به هغوی ته څه مصيبت او تكليف اُورسيد نو مانځه طرف ته به متوجّه شو.(۳)

۳. په يوه موقع باندې رسول اكرم صلى الله عليه وسلم ته د كافرانو د طرفه څه تكليف

---

(۱) قرآن كريم د حضرت يونس عليه السلام ددې واقعې تذكره داسې كړې: ﴿ وَذَا ٱلنُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَٰضِبٗا فَظَنَّ أَن لَّن نَّقۡدِرَ عَلَيۡهِ فَنَادَىٰ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ أَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ۝ فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ وَنَجَّيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡغَمِّۚ وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴾. الانبياء آية ۸۷، ۸۸.

(۲) سنن ابي داؤد أَبْوَابُ قِيَامِ اللَّيْلِ بَابُ وَقْتِ قِيَامِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ اللَّيْلِ رقم الحديث ۱۳۱۹، مسند احمد ۳۳۰/۳۸ رقم الحديث ۲۳۲۹۹، شعب الايمان رقم الحديث ۲۹۱۲، و حسنه الالباني في صحيح سنن ابي داؤد ۳۱۶/۱.

(۳) نبي عليه السلام د مخكيني پيغمبرانو په باره كې فرمايي: « وَكَانُوا يَفْزَعُونَ إِذَا فَزِعُوا إِلَى الصَّلَاةِ ». إسناده صحيح على شرط مسلم، مسند احمد رقم الحديث ۱۸۹۳۷، واخرجه ابن ابي شيبة ۳۱۹/۱۰-۳۲۰، والبزار في "مسنده" (۲۰۸۹)، والنسائي في "الكبرى" (۱۰۳۷۵) - وهو في "عمل اليوم والليلة" (۶۱۴) - والبيهقي في "السنن" ۵۳/۹.

« وَكَانُوا يَفْزَعُونَ إِذَا فَزِعُوا إِلَى الصَّلَاةِ » أي: وكانوا إذا فزعوا يفزعون إلى الصلاة. أي عادتهم الاشتغال بالصلاة في الشدائد. انظر: حاشية محققي مسند الامام احمد ۲۶۸/۳۱ في تشريح حديث رقم ۱۸۹۳۷، و ۳۳۱/۳۸.

رسيدلې وُ نو الله ﷻ نبي عليه السلام ته د مانځه کولو حکم اوکړو ، او ورسره يې دده د دُشمن هلاکولو زيرې هم ورکړو :

﴿ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ . إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ﴾ . (۱)

ترجمه : پس ته مونځ کوه د خپل رَب د پاره ، او قرباني کوه ، بيشکه ستا دُښمن به بې نَامې او بې نَخې وي ( يعنى هغه به الله ﷻ نيست او نابُود کړي ) .

که چيرته نن هم په مسلمانانو باندې څه مصيبت يا تکليف راشي او دا نبوي نُسخه استعمال کړي يعنى مانځه طرف ته متوجِّه شي نو الله رب العزت به دوی ددې مصيبت نه اُوباسي .

## د مصيبت دَفع کولو د پاره صدقه کول

مسلمانانو ته په کار دي چې د فرضي زکوة اَداء کولو سره سره نفلي صدقات هم ورکړي ، ځکه د صدقې په ډيرو فائدو کې يوه فائده دا هم ده چې ددې په وجه باندې غټ غټ مصيبتونه او تکليفونه ختميږي .

۱. رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : اَلصَّدَقَةُ تَسُدُّ سَبْعِيْنَ بَابًا مِنَ السُّوْءِ . (۲)

صدقه ( په انسان باندې ) د بدۍ او تکليفونو اويا (۷۰) دروازې بندوي .

۲ . نبي عليه السلام فرمايي : بَاكِرُوْا بِالصَّدَقَةِ فَإِنَّ الْبَلَاءَ لَايَتَخَطَّى الصَّدَقَةَ . (۳)

تاسو د صدقې په ورکولو کې تادي کوئ ( يعنى د مرګ او بيمارۍ نه مخکې مخکې صدقه ورکوئ ) ، ځکه بلا ( او مصيبتونه ) په صدقه سبقت نشي کولی .

---

(۱) الكوثر آية ۲ ، ۳ .

(۲) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۴۴۰۲ ، مجمع الزوائد باب فضل الصدقة رقم الحديث ۴۶۰۳ ، الترغيب والترهيب للمنذري ۲ /۱۹ . المتجر الرابح ص ۱۳۴ ثواب الصدقة وفضلها .

(۳) شعب الايمان رقم الحديث ۳۰۸۲ الزكوة التحريض على صدقة التطوع ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۳۵ ثواب الصدقة وفضلها .

وفي رواية : بَادِرُوْا بِالصَّدَقَةِ فَإِنَّ الْبَلَاءَ لَايَتَخَطَّاهَا . رواه رزين ، مشكوة المصابيح باب الانفاق وكراهية الامساك الفصل الثالث رقم الحديث ۱۸۸۷(۲۹) .

(يعنى بلاګانې او مصيبتونه په صدقه ورکولو نه زياتيږي ، بلکه دا صدقه ورته حائل شي او بلاګانې پرې دفع کيږي ) .

همدارنګې په صدقې سره د انسان ګناهونه هم ختميږي . (۱)

نو چې کله د انسان نه د الله ﷻ عذاب دفع شي ، او ګناهونه يې ختم شي نو خامخا به د الله تعالى د رحمت مستحق ګرځي .

## د غونډ تقرير خلاصه

په مختصرو الفاظو کې د غونډ تقرير خلاصه دا رااُووته چې مونږ ته په کار دي چې د هغه اَسبابو نه ځان اوساتو د کوم په وجه چې مسلمانان په اجتماعي لحاظ سره کمزوري کيږي او مغلوبه کيږي ، او هغه کارونو ته متوجِّه شو چې د هغې په وجه مسلمانان په ټوله دُنيا باندې غالبه کيږي .

## دُعا

الله تعالى دې مونږ او تاسو ته د هغه کارونو توفيق رانصيبه کړي د کومو په وجه چې په دُنيا کې اسلامي نِظام نافذ کيږي ، او مسلمانان په ټوله دُنيا باندې غالبه کيږي .

ربِّ کريم دې مونږ د هغه کارونو نه اوساتي چې د هغې په وجه مسلمانان کمزوري کيږي يا مغلوبه کيږي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

---

(۱) قال تعالى : ﴿ خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا ﴾ . التوبة آية ۱۰۳ .
قال عليه السلام ... اَلصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الْخَطِيئَةَ كَمَا يُطْفِئُ الْمَاءُ النَّارَ ... سنن الترمذي أَبْوَابُ الإِيمَانِ بَابُ مَا جَاءَ فِي حُرْمَةِ الصَّلَاةِ رقم الحديث ۲۶۱۶ . ورواه ابن ماجه رقم ۳۹۷۳ ، واحمد ۵ / ۲۳۰ ، والطبراني فى المعجم ۳۵۱/۱۸ .
وفي رواية : قال عليه السلام : اَلصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الْخَطِيئَةَ كَمَا يَذْهَبُ الْجَلِيدُ عَلَى الصَّفَا . صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ۵۵۶۷ كِتَابُ الْحَظْرِ وَالإِبَاحَةِ ذِكْرُ الإِخْبَارِ بِإِيجَابِ النَّارِ نَعُوذُ بِاللهِ مِنْهَا لِمَنْ كَانَ غِذَاؤُهُ حَرَامًا . ورواه الدارمي ۳۱۸/۲ ، واحمد ۳ / ۳۹۹ ، والحاكم ۳ / ۴۲۲ ، المتجر الرابح ص ۱۳۵ رقم الحديث ۵۶۴ ثواب الصدقة وفضلها ، مكاشفة القلوب فضيلة الصدقة .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ أَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ ﴾. الزمر آية ۳.

# هر نیک عمل په اِخلاص باندې کول

تالیف


اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# هر نیک عمل په اخلاص باندې کول

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى ، وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ : ﴿ اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ ﴾ .(۱)

وَقَالَ تَعَالٰى : ﴿ وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ﴾ .(۲)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ . (۳)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ .

## هغه عمل مقبول دی کوم چې په اخلاص باندې اوشي

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! د انسان په نېکو اعمالو کې صرف هغه عمل مقبول دی کوم چې په اخلاص باندې خاص د الله ﷻ د رضا د پاره اوشي، د ریا شهرت او ځان خودنې د پاره نه وي شوی .

ربِّ کریم فرمايي : ﴿ اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ ﴾ .(۴)

ترجمه : خبردار ، عبادت خالصه د الله د پاره دی .

(۱) الزمر آية ۳ .

(۲) البينة آية ٥ .

(۳) پوره حديث داسې دی : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوٰى ، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلٰى دُنْيَا يُصِيْبُهَا ، أَوْ إِلَى امْرَأَةٍ يَنْكِحُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلٰى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ . صحيح البخاري بَابُ بَدْءِ الْوَحْيِ كَيْفَ كَانَ بَدْءُ الْوَحْيِ إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ رقم الحديث ۱ ، صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ قَوْلِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ رقم الحديث ۱٥٥ (۱۹۰۷) ، سنن ابي داؤد كِتَابُ الطَّلَاقِ بَابُ فِيْمَا عُنِيَ بِهِ الطَّلَاقُ وَالنِّيَّاتُ رقم الحديث ۲۲۰۱ .

(۴) الزمر آية ۳ .

# د اخلاص تعريف

علماوُ د اخلاص مختلف تعريفونه کړي ، خو د ټولو خلاصه داده :

اخلاص دېته وايي چې انسان هر عمل خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره کوي ، خلقو ته د ځان خودَنې او رِيا د پاره يې نه کوي .(۱)

# د اخلاص اَهميت

علماء کرامو ليکلي چې په نيکو کارونو کې د اِخلاص او د الله ﷻ د رَضا نيت کول واجب دی . الله تعالی فرمايي :

---

(۱) اَلإِخْلَاصُ لُغَةً : مَصْدَرُ أَخْلَصَ يُخْلِصُ ، وَهُوَ مَأْخُوذٌ مِنْ مَادَّةِ (خَ لَ صَ) اَلَّتِيْ تَدُلُّ عَلَى تَنْقِيَةِ الشَّيْءِ وَتَهْذِيْبِهِ. مفردات الراغب (۱۵۴) .... وَالإِخْلَاصُ فِي الطَّاعَةِ : تَرْكُ الرِّيَاءِ . لسان العرب ۷/ ۲٦

وَاصْطِلَاحًا : قَالَ الْكَفَوِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : اَلإِخْلَاصُ هُوَ الْقَصْدُ بِالْعِبَادَةِ إِلَى أَنْ يُعْبَدَ الْمَعْبُوْدُ بِهَا وَحْدَهُ.

وَقِيلَ : تَصْفِيَةُ السِّرِّ وَالْقَوْلِ وَالْعَمَلِ. الكليات للكفوي ص ٦۴ .

وَقَالَ الْمُنَاوِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : اَلإِخْلَاصُ : تَخْلِيْصُ الْقَلْبِ مِنْ كُلِّ شَوْبٍ يُكَدِّرُ صَفَاءَهُ ، فَكُلُّ مَا يُتَصَوَّرُ أَنْ يَشُوْبَهُ غَيْرُهُ فَإِذَا صَفَا عَنْ شَوْبِهِ وَخَلَصَ مِنْهُ يُسَمَّى خَالِصًا.

وَقِيلَ : اَلإِخْلَاصُ عَمَلٌ يُعِيْنُ عَلَى الْخَلَاصِ . وَقِيلَ : الْخَلَاصُ عَنْ رُؤْيَةِ الأَشْخَاصِ . وَقِيلَ : تَصْفِيَةُ الْعَمَلِ مِنَ التُّهْمَةِ وَالْخَلَلِ. التوقيف على مهمات التعاريف للمناوي ص ۴۲ .

وَقَالَ الْجُرْجَانِيُّ : اَلإِخْلَاصُ : أَلَّا تَطْلُبَ لِعَمَلِكَ شَاهِدًا غَيْرَ اللهِ تَعَالَى . وَقِيلَ : هُوَ تَخْلِيْصُ الْقَلْبِ عَنْ شَائِبَةِ الشَّوْبِ الْمُكَدِّرِ لِصَفَائِهِ الْفِطْرِيِّ . التعريفات للجرجاني ص ۱۳.

وَأَجْمَعُوا عَلَى أَنَّ الإِخْلَاصَ فِي الطَّاعَةِ تَرْكُ الرِّيَاءِ . التعريفات ص ۱۳ ، والاحياء ۴/ ۴۰۰ .

وَقَالَ الْفُضَيْلُ بْنُ عِيَاضٍ رَحِمَهُ اللهُ : تَرْكُ الْعَمَلِ لِأَجْلِ النَّاسِ رِيَاءٌ ، وَالْعَمَلُ لِأَجْلِهِمْ شِرْكٌ ، وَالإِخْلَاصُ : الْخَلَاصُ مِنْ هٰذَيْنِ . وَفِيْ رِوَايَةٍ عَنْهُ : وَالإِخْلَاصُ : أَنْ يُعَافِيَكَ اللهُ مِنْهُمَا . مدارج السالكين ۲/ ۹۵ ، والتعريفات ص ۱۳ .

... وَخُلَاصَةُ الأَمْرِ أَنَّ الإِخْلَاصَ تَصْفِيَةٌ لِلْعَمَلِ وَالْقَوْلِ وَالْعِبَادَةِ مِمَّا يَشُوْبُهَا مِنْ رِيَاءٍ وَمُرَاءَاةٍ أَوْ خِدَاعٍ أَوْ كَذِبٍ . نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم صلى الله عليه وسلم ج ۲ ۱۲۴ تا ۱۲۷ مع الاختصار .

﴿ وَمَآ أُمِرُوٓا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ﴾.(۱)

ترجمه: او دوی ته خو صرف حکم ددې شوی وو چې دوی دې د الله عبادت کوي، خالص کوونکي د هغه د پاره بندګي. ( يعنی دين دې هم خالص د هغه مني، او په اخلاص دې عبادت کوي ).

په قرآن کريم کې الله ربّ العزت په اخلاص سره د عبادت حُکم کړی.(۲)

مخکي اُمتونو او ټولو پيغبرانو ته هم په اخلاص باندې د عبادت کولو حُکم شوی وو.(۳)

الله تعالی د مُخلِصينو د پاره ډير اَجرونه ذکر کړي.(۴)

د مُخلِصينو تعريف يې کړی.(۵)

مُخلِصين بندګان به د شيطان د ګمراهۍ نه محفوظ وي، ځکه د شيطان د لعنتي کيدو نه پس چې کله ده د الله ﷻ نه تر قيامته پورې مُهلت اوغوښت او الله ﷻ مهلت ورکړو نو ده قسم اوکړو چې زه به ستا ټول بندګان ګمراه کوم، البته صرف مُخلِصين به د ما نه محفوظ وي.(۶)

---

(۱) البينة آية ۵.

(۲) ﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ الْكِتَٰبَ بِالْحَقِّ فَاعْبُدِ اللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ ۝ أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ ﴾. الزمر آية ۲، ۳.

﴿ فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَٰفِرُونَ ﴾. غافر آية ۱۴.

﴿ هُوَ الْحَيُّ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ﴾. غافر آية ۶۵.

(۳) ﴿ وَمَآ أُمِرُوٓا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ﴾. البينة آية ۵.

﴿ قُلْ إِنِّيٓ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ ﴾. الزمر آية ۱۱

(۴) ﴿ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَاعْتَصَمُوا بِاللَّهِ وَأَخْلَصُوا دِينَهُمْ لِلَّهِ فَأُولَٰٓئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ ۖ وَسَوْفَ يُؤْتِ اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴾. النساء آية ۱۴۶.

(۵) ﴿ وَاذْكُرْ فِي الْكِتَٰبِ مُوسَىٰٓ إِنَّهُ كَانَ مُخْلَصًا وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا ﴾. سورة مريم آية ۵۱.

(۶) ﴿ قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ۝ وَإِنَّ عَلَيْكَ اللَّعْنَةَ إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ ۝ قَالَ رَبِّ فَأَنظِرْنِيٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ۝ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ الْمُنظَرِينَ ۝ إِلَىٰ يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُومِ ۝ قَالَ رَبِّ بِمَآ أَغْوَيْتَنِي لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ۝ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ ﴾. الحجر آية ۳۴ تا ۴۰.

﴿ قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ۝ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ ﴾. سورة ص آية ۷۷ تا ۸۳.

مُخلِصين به د دَردناک عذاب نه محفوظ وي ، او الله ﷻ د دوی سره د جنت او نورو نِعمتونو وعده کړی . (۱)

## د اعمالو ثواب په نيت باندې موقوف دی

انسان ته په نېکو اعمالو باندې هله ثواب ملاوېږي چې په دې کې نيت صحيح وي .

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ . (۲)

بېشکه د اعمالو ( د ثواب ) دارو مدار په نيتونو باندې ( موقوف ) دی .

دغه وجه ده چې په قرآن کريم او احاديثو کې چيرته چې د نېکو اَعمالو فضيلت بيان شوی نو هلته په بعضې ځايونو کې ورسره د " لِلّٰهِ " لفظ راغلی .

په بعضې ځايونو کې ورسره د " فِيْ سَبِيْلِ الله " ذکر راغلی .

په بعضې ځايونو کې ورسره د " اِبْتِغَاءَ مَرْضَاةِ الله " ذکر راغلی .

په بعضې ځايونو کې ورسره " يُرِيْدُوْنَ لِوَجْهِ الله " ذکر راغلی .

په بعضې ځايونو کې ورسره " اِيْمَانًا وَّاحْتِسَابًا " الفاظ راغلي .

ددې الفاظو نه معلومېږي چې انسان ته به په نېک عمل باندې هله اَجر ملاوېږي چې په

---

(۱) ﴿ إِنَّكُمْ لَذَآئِقُوا الْعَذَابِ الْأَلِيمِ ۝ وَمَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝ إِلَّا عِبَادَ اللهِ الْمُخْلَصِينَ ۝ أُولَٰئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُومٌ ۝ فَوَاكِهُ وَهُم مُّكْرَمُونَ ۝ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ ۝ عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَابِلِينَ ۝ يُطَافُ عَلَيْهِم بِكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ۝ بَيْضَاءَ لَذَّةٍ لِّلشَّارِبِينَ ۝ لَا فِيهَا غَوْلٌ وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنزَفُونَ ۝ وَعِندَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ عِينٌ ۝ كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُونٌ ﴾ . الصافات آية ۳۸ تا ۴۹ .

﴿ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنذَرِينَ ۝ إِلَّا عِبَادَ اللهِ الْمُخْلَصِينَ ﴾ . الصافات آية ۷۳ ، ۷۴ .

(۲) صحيح البخاري بَابُ بَدْءِ الْوَحْيِ كَيْفَ كَانَ بَدْءُ الْوَحْيِ إِلَىٰ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ رقم الحديث ۱ ، صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ قَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ رقم الحديث ۱۵۵ ( ۱۹۰۷ ) ، سنن ابي داؤد كِتَابُ الطَّلَاقِ بَابٌ فِيمَا عُنِيَ بِهِ الطَّلَاقُ وَالنِّيَّاتُ رقم الحديث ۲۲۰۱ .

دې کې اخلاص وي . يعنى دا نيت په کې اوکړي چې په دې سره د ما نه الله ﷻ راضي شي ، رَحم را باندې اوکړي او د هغه د غضب نه محفوظ شم .

## الله ﷻ د زړونو اخلاص ته ګوري

د الله ﷻ په نزد باندې د مقبوليت اصل دارومدار په شکل و صورت او مالدارۍ باندې ندی ، بلکه په صحيح نيت او اخلاص باندې دی .

د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ اللهَ لَا يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ ، وَلٰكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوْبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ . (١)

بيشکه الله تعالی ستاسو صورتونو او ستاسو مالونو ته نه ګوري بلکه ستاسو زړونو او ستاسو اعمالو ته ګوري .

يعنى الله تعالی د خپل رَحمت او رَضا فيصله د شکل و صورت او مال په بُنياد باندې نه کوي بلکه د زړه په صحيح نيت او نيکو اعمالو باندې يې کوي . (٢)

په بعضې روايتونو کې دا حديث په دې الفاظو ذکر دی :

إِنَّ اللهَ لَا يَنْظُرُ إِلَى أَجْسَادِكُمْ وَلَا إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ وَلٰكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوْبِكُمْ . (٣)

---

(١) صحيح مسلم كتاب البِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ تَحْرِيمِ ظُلْمِ الْمُسْلِمِ، وَخَذْلِهِ رقم الحديث ٣٤(٢٥٦٤) ، سنن ابن ماجة باب القناعة رقم الحديث ٤١٤٣ ، مشكوة المصابيح باب الرياء والسمعة الفصل الاول رقم الحديث ٥٣١٤(١) ، شعب الايمان رقم الحديث ٩٩٩٤ ، صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ٣٩٤ .

(٢) ( إِنَّ اللهَ لَا يَنْظُرُ ) أَيْ: نَظَرَ اعْتِبَارٍ (إِلَى صُوَرِكُمْ ) إِذْ لَا اعْتِبَارَ بِحُسْنِهَا وَقُبْحِهَا ( وَأَمْوَالِكُمْ ) إِذْ لَا اعْتِبَارَ بِكَثْرَتِهَا وَقِلَّتِهَا ( وَلٰكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوْبِكُمْ ) أَيْ: إِلَى مَا فِيهَا مِنَ الْيَقِينِ، وَالصِّدْقِ، وَالْإِخْلَاصِ، وَقَصْدِ الرِّيَاءِ، وَالسُّمْعَةِ، وَسَائِرِ الْأَخْلَاقِ الرَّضِيَّةِ، وَالْأَحْوَالِ الرَّدِيَّةِ (وَأَعْمَالِكُمْ ) أَيْ: مِنْ صَلَاحِهَا وَفَسَادِهَا، فَيُجَازِيكُمْ عَلَى وَفْقِهَا . مرقاة المفاتيح ٣٣٣١/٨ باب الرياء والسمعة الفصل الاول في تشريح رقم الحديث ٥٣١٤ .

(٣) تفسير الخازن ( لباب التاويل في معاني التنزيل ) ١٨٢/٤ سورة الحجرات في تشريح آية ١٢ . جمع الفوائد من جامع الأصول ومجمع الزوائد رقم الحديث ٨٠٦٠ كتاب الأداب والسلام والجواب... الحسد والظن والهجران وتتبع العورة ، معارف الحديث ج٢ ص ٢٠٥ كتاب الاخلاق

وفي رواية : « إِنَّ اللهَ لَا يَنْظُرُ إِلَى أَجْسَادِكُمْ ، وَلَا إِلَى صُوَرِكُمْ ، ←←←←←

بیشکه الله تعالی ستاسو جسمونو ، ستاسو صورتونو او ستاسو صرف ظاهري اعمالو ته نه ګوري ، بلکه ستاسو زړونو ته ګوري.

**فائده**: په دې حدیث کې دا مضمون په واضحې طریقې سره بیان شو چې د الله ﷻ په نزد د اعمالو د مقبولیت دارومدار په صحیح نیت باندې دی ، لهذا که د یو کس عمل په ظاهره باندې ښه وي خو چې اخلاص په کې نه وي او د الله ﷻ د رَضا د پاره نه وي شوی نو دا عمل نه قبلیږي.(۱)

## په کوم عمل کې چې اخلاص نه وي هغه نه قبلیږي

په کوم نیک عمل کې چې اخلاص او د الله ﷻ د رَضا نیت نه وي ، بلکه رِیا ، شهرت او ځان خودَنه په کې وي نو داسې عمل نه قبلیږي او په داسې عمل باندې انسان ته هیڅ ثواب نه ملاویږي.

نبي علیه السلام فرمایي:

.... إِنَّ اللهَ لَا يَقْبَلُ مِنَ الْعَمَلِ إِلَّا مَا كَانَ لَهُ خَالِصًا، وَابْتُغِيَ بِهِ وَجْهُهُ .(۲)

بیشکه الله ﷻ صرف هغه عمل قبلوي کوم چې خالص د هغه د رَضا د پاره شوی وي.

---

←←← وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ» وَأَشَارَ بِأَصَابِعِهِ إِلَى صَدْرِهِ. صحیح مسلم کتاب البِرِّ وَالصِّلَةِ وَالآدَابِ بَابُ تَحْرِيمِ ظُلْمِ الْمُسْلِمِ، وَخَذْلِهِ رقم الحدیث ۳۳(۲۵۶۴) .

(۱) معارف الحدیث ج۲ ص ۲۰۵ کتاب الاخلاق.

(۲) پوره حدیث داسې دی : عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ رضي الله عنه، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: أَرَأَيْتَ رَجُلًا غَزَا يَلْتَمِسُ الْأَجْرَ وَالذِّكْرَ، مَالَهُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا شَيْءَ لَهُ» فَأَعَادَهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، يَقُولُ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا شَيْءَ لَهُ» ثُمَّ قَالَ: «إِنَّ اللهَ لَا يَقْبَلُ مِنَ الْعَمَلِ إِلَّا مَا كَانَ لَهُ خَالِصًا، وَابْتُغِيَ بِهِ وَجْهُهُ». سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ مَنْ غَزَا يَلْتَمِسُ الْأَجْرَ وَالذِّكْرَ رقم الحدیث ۳۱۴۰ قال الالباني حسن صحيح ، صحیح الترغیب والترهیب رقم الحدیث ۱۳۳۱(۴) الترغیب في اخلاص النية في الجهاد ... اسد الغابة ج۲ ص ۲۱۱ لاحق بن ضميرة الباهلي . قال الحافظ في الفتح ۶/۳۵ اسناده جيد ، و حسنه الحافظ العراقي في تخريج الاحياء ، معرفة الصحابة لابي نعيم رقم ۶۵۸۷ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۴۵۸ رقم الحدیث ۲۰۷۱.

## د دُنيا قانون

د دُنيا قانون هم دادی چې که يو کس دده سره ډير احسانات کوي او دده خدمت کوي نو دا د هغه نه ډير خوشحاله وي ، خو که ده ته پته اُولږي چې هغه کس د ما سره صرف د خپلو ذاتي مَفادو د پاره دا اِحسان کوي ، يا هغه زما په دې خِدمت سره د بل چا نه خپل څه مقصد پوره کول غواړي نو دده په زړه کې به د هغه کس ددې اِحسان او خدمت هيڅ قدر پاتې نشي .

همدغه شان چې څوک خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره نيک عمل نه کوي ، يا په خپل دې عمل سره نورو خلقو ته ځان خودل غواړي نو د الله ﷻ په نزد ددې عمل هيڅ قدر نه پاتې کيږي ، او ده ته پرې هيڅ ثواب نه ملاويږي .

## د اعمالو د مقبوليت د پاره دوه شيان ضروري دي

د هر عمل د مقبوليت د پاره دوه شيان ضروري دي :

اول : اخلاص . ( يعنې دا عمل به خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره شوي وي ، د رِيا ، شهرت او ځان خودَنې نه به پاک وي ) . ځکه په کوم عمل کې چې اخلاص نه وي نو هغه نه قبليږي .

دويم : دا عمل به د نبي عليه السلام د طريقې موافق شوې وي . ځکه کوم عمل چې د نبي عليه السلام د طريقې خلاف اوشي نو دا نه قبليږي ، اګر چې اخلاص په کې وي ، مثلاً يو کس د ماز يګر څلور رکعته فرض مونځ په ځای باندې شپږ رکعته ډير په اخلاص باندې اوکړي نو دا هيڅ کله نه قبليږي ، ځکه دا د پيغمبر عليه السلام د طريقې خلاف دي .

پس معلومه شوه چې د هر عمل د مقبوليت د پاره دوه شيان ضروري دي : يو اخلاص ، او دويم د نبي عليه السلام په طريقه باندې کول .

اوس چې څومره اخلاص کميږي نو دومره به شِرک زياتيږي ( خلق به د الله ﷻ د رَضا د پاره عمل نه کوي ، بلکه نور خلق به په عبادت کې ورسره شريکوي ) .

او څومره چې د نبي عليه السلام اِتباع کميږي نو دومره به بِدعات زياتيږي .

نن صبا چې په مسلمانانو کې شِرک او بِدعات زيات دي نو ددې وجه همدا ده چې په

مسلمانانو کې کامل اخلاص او د نبي علیه السلام اتباع نشته.

امام مالک رحمه الله فرمايي:

لَنْ يَصْلُحَ آخِرُ هٰذِهِ الْأُمَّةِ إِلَّا بِمَا صَلُحَ بِهِ أَوَّلُهَا

(د فتنې او فساد په وخت) ددې اُمت د آخري طبقې خلقو اصلاح به هرګز په بل هیڅ شي او نشي مګر صرف په هغه شي به کیږي په کوم سره چې ددې اُمت د اولې طبقې خلقو اصلاح شوې وه.

او دا ښکاره خبره ده چې ددې اُمت د اولې طبقې خلقو اصلاح په کامل اخلاص او کاملې اتباع سره شوې وه. او په همدې دوه شيانو کې د کاميابۍ ضمانت دی. (۱)

**د حافظ ابن قيم رَحِمَهُ اللهُ قول**: علامه ابن قيم رحمه الله ليکلي: عمل بغير د اخلاص او بغير د نبي علیه السلام د اتباع نه داسې دی لکه يو مسافر چې خپله تهېلۍ (د روپو په ځای) د شګو نه ډکه کړي او روانه کړې يې وي نو دا ده ته هيڅ فائده نه ورکوي (۲)

يعنی په بازار کې په شګه باندې ورته څوک څه نه ورکوي نو همدغه شان ده ته به هم د قيامت په ورځ ددې اعمالو هيڅ ثواب نه وي.

**د حافظ ابن کثير رَحِمَهُ اللهُ قول**: الله تعالی فرمايي: ﴿ فَمَن كَانَ يَرْجُوا لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا ﴾. (۳)

ترجمه: پس څوک چې د خپل رَب سره د ملاقات اُميد لري نو هغه له په کار دي چې نيک عمل کوي، او د خپل رَب په عبادت کې دې بل څوک نه شريکوي.

حافظ ابن کثير رحمه الله ددې آيت په تفسير کې فرمايي چې د مقبول عمل د پاره دا دوه ارکان ضروري دي: چې دا به خاص د الله ﷻ د رضا د پاره وي، او د رسول الله صلی الله

(۱) خطبات حکيم الاسلام ج۲ ص ۱۰۴ مع الاختصار.

(۲) قَالَ ابْنُ الْقَيِّمِ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰى: اَلْعَمَلُ بِغَيْرِ إِخْلَاصٍ وَلَا اقْتِدَاءٍ كَالْمُسَافِرِ يَمْلَأُ جِرَابَهُ رَمْلًا يَنْقُلُهُ وَلَا يَنْفَعُهُ. الفوائد ص ٦٧. نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم صلى الله عليه وسلم ج۲ ص ۱۲۹.

(۳) الكهف آية ۱۱۰.

عليه وسلم د شريعت موافق به وي. (۱)

**د فضيل بن عياض** رَحِمَهُ اللهُ **قول** : الله تعالى فرمايي : ﴿ اَلَّذِيْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ﴾. (۲)

ترجمه : الله تعالى هغه ذات دى چې مرګ او ژوند يې پيدا کړل ، ددې د پاره چې تاسو اوآزمائي : چې په تاسو کې څوک ښه دی په عمل کی ؟ ( يعنى د چا عمل ښه دى ؟ ).

فُضيل بن عياض رَحِمَهُ اللهُ د ﴿ اَحْسَنُ عَمَلًا ﴾ په تفسير کې فرمايي چې عملِ حَسَن هغه دى چې په اخلاص باندې او صحيح عمل اوکړي.

ملګرو ورنه پوښتنه اوکړه چې د اخلاص واله او صحيح عمَل کوم يو دى ؟

ده ورته وويل :

إِنَّ الْعَمَلَ إِذَا كَانَ خَالِصًا وَلَمْ يَكُنْ صَوَابًا لَمْ يُقْبَلْ ، وَإِذَا كَانَ صَوَابًا وَلَمْ يَكُنْ خَالِصًا لَمْ يُقْبَلْ حَتّٰى يَكُوْنَ خَالِصًا صَوَابًا. وَالْخَالِصُ : مَاكَانَ لِلّٰهِ ، وَالصَّوَابُ : مَاكَانَ عَلَى السُّنَّةِ. (۳)

کله چې عمل خالص وي خو صحيح نه وي نو دا هم نشي قبلولى ، او چې کله صحيح وي

---

(۱) قَالَ ابْنُ كَثِيْرٍ رَحِمَهُ اللهُ فِيْ تَفْسِيْرِ قَوْلِهِ تَعَالٰى ﴿ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا ﴾ : وَهٰذَانِ رُكْنَا الْعَمَلِ الْمُتَقَبَّلِ ، لَا بُدَّ أَنْ يَكُوْنَ خَالِصًا لِلّٰهِ ، صَوَابًا عَلٰى شَرِيْعَةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. تفسير ابن كثير ۱۸۳/۵ الكهف آية ۱۱۰ . نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم صلى الله عليه وسلم ج۲ ص ۱۳۹.

(۲) الملک آية ۲.

(۳) قَالَ الْفُضَيْلُ بْنُ عِيَاضٍ رَحِمَهُ اللهُ : فِيْ تَفْسِيْرِ قَوْلِهِ تَعَالٰى ﴿ اَلَّذِيْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ﴾ : اَلْعَمَلُ الْحَسَنُ هُوَ أَخْلَصُهُ وَأَصْوَبُهُ . قَالُوْا : يَا أَبَا عَلِيٍّ مَا أَخْلَصُهُ وَأَصْوَبُهُ ؟ قَالَ : إِنَّ الْعَمَلَ إِذَا كَانَ خَالِصًا وَلَمْ يَكُنْ صَوَابًا لَمْ يُقْبَلْ ، وَإِذَا كَانَ صَوَابًا وَلَمْ يَكُنْ خَالِصًا لَمْ يُقْبَلْ حَتّٰى يَكُوْنَ خَالِصًا صَوَابًا. وَالْخَالِصُ : مَاكَانَ لِلّٰهِ ، وَالصَّوَابُ : مَاكَانَ عَلَى السُّنَّةِ. وَهٰذَا هُوَ الْمَذْكُوْرُ فِيْ قَوْلِهِ تَعَالٰى ﴿ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا ﴾ . مدارج السالكين بين منازل اياک نعبد واياک نستعين ج ۱ ص ۱۰۵ فَصْلٌ لَا يَكُوْنُ الْعَبْدُ مُتَحَقِّقًا بِإِيَّاكَ نَعْبُدُ إِلَّا بِمُتَابَعَةِ الرَّسُوْلِ وَالْإِخْلَاصِ ، و ج۲ ص ۸۸ .

خو خالص نه وي نو دا هم نشي قبلولی تر دې چې دا عمل خالص او صحيح دواړه شي نو بيا به قبليږي ، ( بيا ده په خپله ددې تشريح اوکړه : ) خالص عمل هغه دی کوم چې خالص د الله ﷻ د رَضا د پاره شوې وي ، او صحيح عمل هغه دی کوم چې د نبي عليه السلام د سُنت طريقې موافق شوې وي . او دا دواړه په دې آيت کې مذکور دي .

﴿ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا ﴾

ترجمه : پس څوک چې د خپل رَب سره د ملاقات اُميد لري نو هغه له په کار دي چې نيک عمل کوي ، او د خپل رَب په عبادت کې دې بل څوک نه شريکوي .

## د عملونو ښه والې معتبر دی ، زياتوالې مُعتبر ندی

په دې ځای کې دا يوه خبره د ذِکر کولو قابله ده چې پاس د سورةُ الملک په دويم آيت کې ذکر شو : ﴿ الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ﴾ . (١)

ترجمه : الله تعالی هغه ذات دی چې مرګ او ژوند يې پيدا کړل ، ددې د پاره چې تاسو اُوآزمائي : چې په تاسو کې څوک ښه دی په عمل کې ؟ ( يعنی د چا عمل ښه دی ؟ ) .

داسې يې اونه فرمايل : أَيُّكُمْ أَكْثَرُ عَمَلًا چې د چا عمل زيات دی ؟

ځکه د الله ﷻ په نزد د عمل صحيح والې او قبول والې معتبر دی ، ډير والې معتبر ندی ، دغه وجه ده چې د قيامت په ورځ به اعمال تللې شي ، شمير کولې به نشي ، د يو عمل وزن به ( د اِخلاص په وجه ) د زرهاؤ عملونو نه زياتيدې شي . (٢)

## څومره چې په يو عمل کې اخلاص زيات وي نو دومره به يې اَجر هم زيات وي

دا قاعده ده چې څومره په يو عمل کې اِخلاص زيات وي نو دومره به ددې عمل اَجر هم زيات وي او د الله ﷻ په نزدې به يې ډير لوې مقام وي .

---

(١) الملک آية ٢ .

(٢) تفسير معارف القرآن سورة الملک في تشريح آية ٢ .

اګر چې دا عمل به وړوکې وي خو د انسان د پاره به کافي کيږي .

په احاديثو کې راځي چې کله رسول الله ﷺ حضرت معاذ رضی الله عنه يمن ته ليږل نو حضرت معاذ رضی الله عنه ورته اوفرمايل : يَارَسُوْلَ اللهِ! أَوْصِنِيْ. اې د الله رسوله ! ماته وصيت اوکړه .

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : أَخْلِصْ دِيْنَكَ يَكْفِكَ الْعَمَلُ الْقَلِيْلُ .

ته خپل دِين ( او عمل ) خالِص کړه ( يعنی اخلاص په کې پيدا کړه ) نو ستا د پاره به وړوکې عمل هم کافي شي . (۱)

په قرآن کريم کې هم دا مضمون په مختلف انداز باندې ذکر دی چې څوک خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره نيک عمل کوي نو دوی ته به ددې اجر همداسې زياتولې شي . (۲)

په معاشره کې مونږ ګورو چې قيمتي ملغلره اګر چې وړه وي خو قيمت يې زيات وي ، همدغه شان که عمل وړوکې وي خو چې اخلاص په کې وي نو په دې سره دا قيمتي کيږي ، او انسان ته پرې ډير اَجرونه ملاويږي .

## وړوکې عمل په اخلاص سره غټيږي

که انسان وړوکې عمل اوکړي خو چې اخلاص په کې وي نو دا د الله ﷻ په نزد ډير لوي مقام لري ، او که غټ عمل اوکړي خو چې اخلاص په کې نه وي نو د الله ﷻ په نزد ددې دومره لوي حيثيت نشته .

---

(۱) عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ : يَارَسُوْلَ اللهِ! أَوْصِنِيْ. قَالَ: أَخْلِصْ دِيْنَكَ يَكْفِكَ الْعَمَلُ الْقَلِيْلُ . المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۷۸۴۴، وقال الحاکم : هَذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . شعب الايمان رقم الحديث ۶۴۴۳ ، و رقم الحديث ۶۴۴۴ ، کنزالعمال رقم الحديث ۵۲۵۷ الاخلاص ، المتجر الرابح ص ۴۵۷ ثواب الاخلاص . الترغيب والترهيب ج۱ ص ۲۲ .

(۲) الله تعالى په اخلاص باندې زکوة ورکوونکو په باره کې فرمايي :

﴿وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ رِّبًا لِّيَرْبُوَا فِيْٓ اَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُوْا عِنْدَ اللهِ ۚ وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ زَكٰوةٍ تُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ﴾ . الروم آية ۳۹ .

ترجمه : او تاسو چې کوم زکوة ورکوی او په دې سره خالصه د الله ﷻ د رَضا اِراده لری نو همدغه ( په اخلاص باندې زکوة ورکوونکي خلق د خپلو نيکيو ) زياتوونکي دي .

عبدالله بن مبارک رَحِمَهُ اللهُ فرمايي :

رُبَّ عَمَلٍ صَغِيرٍ تُعَظِّمُهُ النِّيَّةُ ، وَرُبَّ عَمَلٍ كَبِيرٍ تُصَغِّرُهُ النِّيَّةُ. (۱)

ډير کرتي وړوکي عمل لره به ښه نيت ( د الله ﷻ په نزد ) ډير لوي کړي ، او ډير کرتي زيات عمل لره به خراب نيت وړوکى کړي.

په ښه نيت سره عمل کامل کيږي ، تردې چې که يو کس خوراک په ښه نيت سره کوي نو په دې هم ورته ثواب ملاويږي . (۲)

## د اخلاص واله معمولي عمل به هم د قيامت په ورځ په تله د ميزان کې ډير وزن دار وي

څوک چې په اخلاص باندې معمولي عمل اوکړي نو دا د الله ﷻ په نزد داسې مقبول وي چې د قيامت په ورځ به په تله د ميزان کې ډير وزن دار وي ، او د انسان د نجات سبب به ګرځي.
تردې چې که يو سړي په اخلاص باندې کلمه شهادت ويلې وي ، نو د قيامت په ورځ به دا په تله د ميزان کې دومره وزن داره وي چې په ټولو ګناهونو باندې به دا يوه کلمه شهادت درنه شي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : بيشکه الله ﷻ به د قيامت په ورځ د ټولو مخلوقاتو د وړاندې زما يو اُمّتي راجدا کړي ، او ده ته به د ګناهونو نهه نوي ( ۹۹ ) دفترونه وړاندې کړي ، هر يو دفتر به دده د سترګو د نظر په اندازه اوږد وي ( يعنى هر دفتر به دومره غټ وي چې تر کومه ځايه پورې دده د سترګو نظر رسي تر هغې ځايه پورى به يو يو دفتر اوږد وي ، او دا ټول به د ګناهونو نه ډک وي ) ، بيا به الله ﷻ ورته اوفرمائي :

---

(۱) جامع العلوم والحكم في شرح خمسين حديثا من جوامع الكلم ۷۱/۱ الحَدِيثُ الأَوَّلُ : إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى .

(۲) وَعَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ : صَلَاحُ الْقَلْبِ بِصَلَاحِ الْعَمَلِ . وَصَلَاحُ الْعَمَلِ بِصَلَاحِ النِّيَّةِ. وَعَنْ بَعْضِ السَّلَفِ قَالَ : مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَكْمُلَ لَهُ عَمَلُهُ فَلْيُحْسِنْ نِيَّتَهُ. فَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَأْجُرُ الْعَبْدَ إِذَا حَسُنَتْ نِيَّتُهُ حَتَّى بِاللُّقْمَةِ .... وَقَالَ ابْنُ عَجْلَانَ : لَا يَصْلُحُ الْعَمَلُ إِلَّا بِثَلَاثٍ : اَلتَّقْوَى لِلَّهِ، وَالنِّيَّةِ الْحَسَنَةِ، وَالْإِصَابَةِ. وَقَالَ الْفُضَيْلُ بْنُ عِيَاضٍ: إِنَّمَا يُرِيدُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ مِنْكَ نِيَّتَكَ وَ إِرَادَتَكَ . الاخلاص والنية لابن ابي الدنيا ، جامع العلوم والحكم في شرح خمسين حديثا من جوامع الكلم ۷۱/۱ الحَدِيثُ الأَوَّلُ : إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى .

أَتُنْكِرُ مِنْ هٰذَا شَيْئًا ؟ أَظَلَمَكَ كَتَبَتِي الْحَافِظُوْنَ ؟

آيا ته په دې کې د کومې ګناه نه انکار کوې ؟ آيا زما فرشتو خو په تا باندې ظلم ندې کړې ؟ (چې تا يو ګناه نوي کړې او دوی درپسې ليکلې وي ؟).

دې به ووايي : اې زما ربه ! نه خو زه ددينه انکار کوم ، او نه ستا فرشتو په ما ظلم کړی ، بلکه دا ټول ګناهونه ما يقيني کړي دي.

الله ﷻ به بيا ورنه پوښتنه وکړي : أَفَلَكَ عُذْرٌ ؟

آيا تا ته څه عذر وو ؟ (چې د هغې په وجه تا دا ګناهونه کړي)

دې به ورته جواب ورکړي : ای ربه ما ته هيڅ عذر نه وُ (خو ما بياهم دا ګناهونه کړي).

الله ﷻ به ورته اوفرمائي : بَلٰى إِنَّ لَكَ عِنْدَنَا حَسَنَةً ، فَإِنَّهُ لَا ظُلْمَ عَلَيْكَ الْيَوْمَ.

آو . يقينًا ستا د پاره د مونږ سره ستا يوه نيکي هم شته ، او نن به په تا ظلم نشي کولی.

بيا به يو وړوکې غوندې پرچه رااويستلې شي چې په هغې کې به کلِمه شهادت (أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ) ليکلې شوې وي ، اوده ته به اوفرمايي :

أُحْضُرْ وَزْنَكَ . هغه خپل د ګناهونو دفترې دې را ديخوا کړه (چې ددې پرچې سره يې اوتلو).

دا بنده به عرض وکړي : ای زما ربه ! ددې وړوکې پرچې به ددې نهه نوي (۹۹) دفترونو د وړاندې څه حيثيت وي ؟

الله ﷻ به ورته اوفرمايي : إِنَّكَ لَا تُظْلَمُ . بيشکه په تا باندې به ظلم نشي کولی.

نو دا د ګناهونو نهه نوي دفترونه به د تلې په يو چابرې کې کينښودلې شي او دا وړه پرچه به دتلې په بل چابرې کې کيښودې شي ، نو دا ټول ګناهونه به سپک شي او دغه د نيکۍ چابرې به دروند شي . ځکه د الله ﷻ د نوم نه وزني څيز بل نشته . (نو چې کله د انسان د نيکۍ چابرې دروند شي ، نو دده ته بيا نجات ملاويږي).(۱)

---

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ اللّٰهَ سَيُخَلِّصُ رَجُلًا مِنْ أُمَّتِي عَلٰى رُءُوْسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَنْشُرُ عَلَيْهِ تِسْعَةً وَتِسْعِيْنَ سِجِلًّا ، كُلُّ سِجِلٍّ مِثْلُ مَدِّ الْبَصَرِ ، ثُمَّ يَقُوْلُ : أَتُنْكِرُ مِنْ هٰذَا شَيْئًا ؟ أَظَلَمَكَ كَتَبَتِي الْحَافِظُوْنَ ؟ فَيَقُوْلُ : لَا يَا رَبِّ . فَيَقُوْلُ : أَفَلَكَ عُذْرٌ ؟ فَيَقُوْلُ : لَا يَا رَبِّ . فَيَقُوْلُ : ←←←←←←

په احاديثو مباركه وکې خو تر دې پورې راغلي چې كه يو كس په اخلاص باندې صرف "لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ" اووايي نو په دې سره ده ته د آسمان دروازې كلاويږي.(۱)

دده بدن د جهنم په اور باندې حراميږي.(۲)

او داسې كس د نبي عليه السلام د شفاعت زيات مستحق گرځي.(۳)

←←← بَلْ إِنَّ لَكَ عِنْدَنَا حَسَنَةً، فَإِنَّهُ لَا ظُلْمَ عَلَيْكَ الْيَوْمَ. فَتَخْرُجُ بِطَاقَةٌ فِيهَا: أَشْهَدُ أَنْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ. فَيَقُولُ: أَحْضُرْ وَزْنَكَ. فَيَقُولُ: يَا رَبِّ مَا هٰذِهِ الْبِطَاقَةُ مَعَ هٰذِهِ السِّجِلَّاتِ. فَقَالَ: إِنَّكَ لَا تُظْلَمُ. قَالَ: فَتُوضَعُ السِّجِلَّاتُ فِي كَفَّةٍ وَالْبِطَاقَةُ فِي كَفَّةٍ، فَطَاشَتِ السِّجِلَّاتُ وَثَقُلَتِ الْبِطَاقَةُ. فَلَا يَثْقُلُ مَعَ اسْمِ اللهِ شَيْءٌ. سنن الترمذي أَبْوَابُ الْإِيمَانِ بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ يَمُوتُ وَهُوَ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ رقم الحديث ۲٦۳۹ مسند احمد رقم الحديث ٦۹۹۴، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۹ وقال الحاكم: هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ لَمْ يُخَرَّجْ فِي الصَّحِيحَيْنِ، وَهُوَ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ. ووافقه الذهبي. سنن ابن ماجة رقم ۴۳۰۰ باب ما يرجى من رحمة الله يوم القيامة، قال الالباني: صحيحٌ. صحيح ابن حبان محققا رقم ۲۲۵، شعب الايمان رقم الحديث ۲۷۹، شرح السنّة للبغوي رقم ۴۳۲۱، مشكوة المصابيح باب الحساب والقصاص والميزان الفصل الثاني رقم ۵۵۵۹(۱۱).

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا قَالَ عَبْدٌ "لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ" قَطُّ مُخْلِصًا، إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ، حَتَّى تُفْضِيَ إِلَى الْعَرْشِ، مَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ. سنن الترمذي أَبْوَابُ الدَّعَوَاتِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ التَّسْبِيحِ وَالتَّكْبِيرِ وَالتَّهْلِيلِ وَالتَّحْمِيدِ رقم الحديث ۳۵۹۰ قال الالباني: حسنٌ. السنن الكبرى للنسائي كِتَابُ عَمَلِ الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ أَفْضَلُ الذِّكْرِ، وَأَفْضَلُ الدُّعَاءِ رقم الحديث ۱۰٦۰۱.

(۲) عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنِّي لَأَعْلَمُ كَلِمَةً لَا يَقُولُهَا عَبْدٌ حَقًّا مِنْ قَلْبِهِ إِلَّا حُرِّمَ عَلَى النَّارِ» فَقَالَ لَهُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رضي الله عنه: أَنَا أُحَدِّثُكَ مَا هِيَ. هِيَ كَلِمَةُ الْإِخْلَاصِ الَّتِي أَلْزَمَهَا اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابَهُ. وَهِيَ كَلِمَةُ التَّقْوَى الَّتِي أَلَاصَ عَلَيْهَا نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَمَّهُ أَبَا طَالِبٍ عِنْدَ الْمَوْتِ: «شَهَادَةُ أَنْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ». مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۴۴۷، المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْجَنَائِزِ رقم الحديث ۱۲۹۸ وقال الحاكم: هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ بِهٰذِهِ السِّيَاقَةِ.

(۳) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّهُ قَالَ: قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ مَنْ أَسْعَدُ النَّاسِ بِشَفَاعَتِكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَقَدْ ظَنَنْتُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ أَنْ لَا يَسْأَلَنِي عَنْ هٰذَا الْحَدِيثِ أَحَدٌ أَوَّلُ مِنْكَ لِمَا رَأَيْتُ مِنْ حِرْصِكَ عَلَى الْحَدِيثِ أَسْعَدُ النَّاسِ بِشَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ، مَنْ قَالَ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ خَالِصًا مِنْ قَلْبِهِ، أَوْ نَفْسِهِ». صحيح البخاري كِتَابُ الْعِلْمِ بَابُ الْحِرْصِ عَلَى الْحَدِيثِ رقم الحديث ۹۹.

# کوم عمل چې په اِخلاص سره اوشي نو په هغې کې تأثير زيات وي

کوم عمل چې په اخلاص باندې (خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره) اوشي نو په داسې عمل کې تأثير او قوّت زيات وي، دا عمل داسې مقبول وي چې که دې په وَسيله باندې د الله ﷻ نه دُعا اوغوښتې شي نو الله تعالى دا دُعا قبلوي.

نبي عليه السلام صحابه کرامو ته د مخکيني اُمتونو د درې کسانو واقعه بيان کړه چې هغوی په يو مصيبت کې راګېر شوي وو نو بيا يې چې کوم عملونه په اخلاص باندې کړي وو د هغې په وسيله باندې يې د الله ﷻ نه سوال اوکړو نو د هغې مصيبت نه راأووتل.

دا واقعه په بخاري شريف او مسلم شريف کې ذکر ده، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

يو ځل درې کسان چيرته (په سفر باندې) روان وو، په لاره کې سخت باران راګېر کړل، هغوی (د باران نه د بچ کيدو د پاره) په غَر کې يو غار ته ننوتل، په دې وخت کې د غَر نه يو غټ کاڼړې د غار په خُله کې راأوغورځيد او د غار خُله مکمل بنده شوه، (کله چې بهر ته د راتللو لار بنده شوه) نو دوی درې وارو يو بل ته ووېل:

أُنْظُرُوا أَعْمَالًا عَمِلْتُمُوهَا لِلّٰهِ صَالِحَةً، فَادْعُوا اللهَ بِهَا لَعَلَّهُ يَفْرُجُهَا.

تاسو په خپلو عملونو باندې نظر واچوئ او کوم نېک اعمال چې تاسو خالصه د الله ﷻ د رَضا د پاره کړي وي د هغې په ذريعه باندې د الله ﷻ نه دُعا اوغواړئ، شايد چې الله ﷻ دا کاڼړې (يا دا مصيبت) لرې کړي.

نو په دوی کې يو کس ووېل: اې الله! (ته ښه پوهيږې چې) زما مور او پلار ډير بوډاګان وو او زما څو واړه بچي هم وو، ما به چيلۍ څرولې (ددې د پاره چې د شُودو په ذريعه د دوی د خوراک اِنتظام اوکړې شم)، کله به چې زه ماښام کورته راغلم او چيلۍ به مې اُولوشلې نو د بچو نه مخکې به مې اول په مور او پلار باندې شوده څکل.

يوه ورځ داسې اِتفاق اوشو چې د ګياه تلاش زه ډير لرې بوتلم (يعنی د چيلۍ په څرولو کې ډير لرې لاړم) تر دې چې زه شپې (ناوَخته) کورته راغلم نو مور او پلار مې اُوده شوي وو، ما د خپل معمول مطابق چيلۍ راأولوشلې، د شُودو ډک لوښې مې راوړو او د مور پلار سَر ته اُودريدم، ما دوی راويخول هم بَدګڼړل، او دا مې هم بَدګڼړل چې د خپلو

والدينو نه مخکې يې خپلو بچو ته ورکړم ، حالانکه زما بچي د ډيرې ولږې د وجې زما په خپو کې لغړيدل ، او ژړل يې ( خو ليکن ماته د مور او پلار حق دومره لوې معلوميدو چې اول مې خپلو بچو ته شوده ورکول نه غوښتل (۱) ).

دوی اُوده وو او زه د دوی سَر ته ولاړ ووم د شودو لوښې راسره په لاس کې وُ ، تردې چې سهر شو ( دوی راپاڅيدل ، اول مې دوی ته شوده ورکړل او بيا مې په خپلو بچو باندې اُوڅکل ) .

فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ لَنَا فُرْجَةً نَرَى مِنْهَا السَّمَاءَ.

نو اې الله ! تاته ښه معلومه ده چې که چيرته ما دا کار خاص ستا د رَضا د پاره کړې وي نو ته (ددې نېک عمل په وَسيله) دا کاڼړې دومره لرې کړه چې مونږ آسمان اوګورو .

نو (دُعا قبوله شوه) الله ﷻ دا کاڼړې دومره لرې کړو چې دوی آسمان اُوليد.

دې دويم کس وويل : اې الله ! زما د تره لور وه ، زما ددې سره داسې سخت محبت وُ لکه د سړو چې د ښځو سره څومره محبت وي ، کله چې ما د هغې نه د خپل خواهش پوره کولو مطالبه اوکړه نو هغې اِنکار اوکړو ، او وې ويل چې تر څو پورې تا ماله سل (۱۰۰) دِيناره نه وي راکړي نو تر هغې پورې ستا خبره نه منم .

نو ما په ډير محنت سره سل (۱۰۰) دِيناره جَمع کړل ، هغې ته مې ورکړل ( هغه هم راضي شوه ) کله چې زه د خپل خواهش پوره کولو د پاره ددې د دواړو خپو په مينځ کې کيناستم نو دې وويل :

يَا عَبْدَ اللهِ اتَّقِ اللهَ ، وَلَا تَفْتَحِ الْخَاتَمَ .

اې د الله بنده ! د الله ﷻ نه اُووېرېږه ، او مُهر (بَکارَت) مه ماتوه . ( يعنی زِنا مه کوه)

نو زه (دې اُوريدو سره د الله ﷻ د يَرې د وجې ) راپاڅيدم .

اَللّٰهُمَّ فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي قَدْ فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ لَنَا مِنْهَا.

(۱) دې سرې چې خپلو بچو ته شوده اول نه ورکول نو دا ځکه چې کيدې شي د هغوی په شريعت کې د والدينو نفقه د بچو په نفقه باندې مقدمه وه ، يا بعضې علماء وايي چې کيدې شي د ضرورت په مقدار يې بچو ته ورکړي وو خو بچو يې په هغې صبر نه کولو او نور يې غوښتل . مظاهرحق شرح مشکوة باب البر والصلة الفصل الثالث .

اي الله ! تاته ښه معلومه ده چې که چیرته ما دا کار ( یعنی ستا د یرې د وجې د زِنا نه بچ کیدل ) ستا د رَضا د پاره کړي وي نو بیا ( ددې نیک عمل په وسیله باندې ) دا کاڼړي نور هم لرې کړه.

نو ( دده دُعا هم قبوله شوه او ) الله ﷻ دا کاڼړي نور هم ( د غار د خُلې نه ) لرې کړو.

دې دریم کس ووېل : اي الله ! ما یو مزدور د یو فَرَق ( یعنی یو پیمانه ) وریژو په عوض کې په مزدورۍ باندې نیولې وُ ، کله چې هغه خپل کار پوره کړو نو وې وېل :

أَعْطِنِيْ حَقِّيْ. ما ته زما حَق ( مزدوري ) راکړه.

ما ورته خپل حق پېش کړو خو هغه ( په څه وجه باندې ) دا پرېخود ، او ددې ( د اخیستلو ) نه يې اِعراض اوکړو.

( مزدور لاړ ، ډیر وخت رانغی ) ، ما به همیشه د هغه وریژې کرلې ، تر دې چې ما ( د هغې په قیمت باندې ) ډیرې غواګانې ، او ددې د پاره شپونکیان ( او نور ډیر مالونه اخیستلو سره ) جَمع کړل.

پس کله ( چې ډیر وخت پس ) هغه کس ما ته راغی نو وې وېل :

اِتَّقِ اللهَ وَلَا تَظْلِمْنِيْ وَأَعْطِنِيْ حَقِّيْ.

د الله ﷻ نه اُووېرېږه ، په ما باندې ظلم مه کوه ، او ما ته خپل حَق راکړه.

ما ورته ووېل : لاړ شه دا غواګانې او شپونکیان ( او ورسره دا نور مالونه ) واخله ( دا ټول ستا حَق دی ).

هغه ووېل : د الله ﷻ نه اُووېرېږه او په ما پورې ټوقې مه کوه.

ما ورته ووېل : زه تا پورې ټوقې نه کوم ، دا غواګانې او شپونکیان ( وغیره ) واخله ( دا ټول ستا حَق دی ).

پس هغه دا ټول په خپله قبضه کې واخیست او د ځان سره يې بوتلل.

فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّيْ فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ مَا بَقِيَ.

( اي الله ! ) تاته ښه معلومه ده چې که چیرته ما دا کار خاص ستا د رَضا د پاره کړې وي نو ( ددې عمل په وسیله باندې ) دَا باقي پاتې کاڼړي هم لرې کړه ( چې د غار خُله مکمل

کلاؤ شي ).

نو ( ددوه دُعا هم قبوله شوه ) الله تعالی دا کاڼړې د غار د خُلې نه مکمل لرې کړو . ( او دوی ټول ورنه صحیح سالِم را اُووتل ) . (۱)

**فائده** : ددې حدیث نه معلومه شوه چې کوم عمل خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره شوې وي نو په هغې کې دومره تأثیر او قوّت وي چې که د هغې په وَسیله باندې د الله تعالی نه دُعا اوغوښتلې شي نو الله ﷻ دا دُعا قبلوي .

---

(۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: بَيْنَمَا ثَلَاثَةُ نَفَرٍ يَتَمَاشَوْنَ أَخَذَهُمُ الْمَطَرُ. فَمَالُوْا إِلَى غَارٍ فِي الْجَبَلِ، فَانْحَطَّتْ عَلَى فَمِ غَارِهِمْ صَخْرَةٌ مِنَ الْجَبَلِ فَأَطْبَقَتْ عَلَيْهِمْ. فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ: أُنْظُرُوْا أَعْمَالًا عَمِلْتُمُوْهَا لِلّٰهِ صَالِحَةً، فَادْعُوا اللهَ بِهَا لَعَلَّهُ يُفَرِّجُهَا. فَقَالَ أَحَدُهُمْ: اَللّٰهُمَّ إِنَّهُ كَانَ لِيْ وَالِدَانِ شَيْخَانِ كَبِيْرَانِ، وَلِيْ صِبْيَةٌ صِغَارٌ، كُنْتُ أَرْعٰى عَلَيْهِمْ. فَإِذَا رُحْتُ عَلَيْهِمْ فَحَلَبْتُ بَدَأْتُ بِوَالِدَيَّ أَسْقِيْهِمَا قَبْلَ وَلَدِيْ. وَإِنَّهُ نَاءَ بِيَ الشَّجَرُ. فَمَا أَتَيْتُ حَتّٰى أَمْسَيْتُ فَوَجَدْتُهُمَا قَدْ نَامَا. فَحَلَبْتُ كَمَا كُنْتُ أَحْلُبُ. فَجِئْتُ بِالْحِلَابِ فَقُمْتُ عِنْدَ رُءُوْسِهِمَا، أَكْرَهُ أَنْ أُوْقِظَهُمَا مِنْ نَوْمِهِمَا، وَأَكْرَهُ أَنْ أَبْدَأَ بِالصِّبْيَةِ قَبْلَهُمَا. وَالصِّبْيَةُ يَتَضَاغَوْنَ عِنْدَ قَدَمَيَّ. فَلَمْ يَزَلْ ذٰلِكَ دَأْبِيْ وَدَأْبَهُمْ حَتّٰى طَلَعَ الْفَجْرُ. فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّيْ فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ لَنَا فُرْجَةً نَرٰى مِنْهَا السَّمَاءَ. فَفَرَجَ اللهُ لَهُمْ فُرْجَةً حَتّٰى يَرَوْنَ مِنْهَا السَّمَاءَ. وَقَالَ الثَّانِيْ: اَللّٰهُمَّ إِنَّهُ كَانَتْ لِيَ ابْنَةُ عَمٍّ أُحِبُّهَا كَأَشَدِّ مَا يُحِبُّ الرِّجَالُ النِّسَاءَ. فَطَلَبْتُ إِلَيْهَا نَفْسَهَا. فَأَبَتْ حَتّٰى آتِيَهَا بِمِائَةِ دِيْنَارٍ، فَسَعَيْتُ حَتّٰى جَمَعْتُ مِائَةَ دِيْنَارٍ فَلَقِيْتُهَا بِهَا. فَلَمَّا قَعَدْتُ بَيْنَ رِجْلَيْهَا قَالَتْ: يَا عَبْدَ اللهِ اتَّقِ اللهَ، وَلَا تَفْتَحِ الْخَاتَمَ. فَقُمْتُ عَنْهَا. اَللّٰهُمَّ فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّيْ قَدْ فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ لَنَا مِنْهَا. فَفَرَجَ لَهُمْ فُرْجَةً. وَقَالَ الْآخَرُ: اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ كُنْتُ اسْتَأْجَرْتُ أَجِيْرًا بِفَرَقِ أَرُزٍّ. فَلَمَّا قَضٰى عَمَلَهُ قَالَ: أَعْطِنِيْ حَقِّيْ. فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ حَقَّهُ فَتَرَكَهُ وَرَغِبَ عَنْهُ. فَلَمْ أَزَلْ أَزْرَعُهُ حَتّٰى جَمَعْتُ مِنْهُ بَقَرًا وَرَاعِيَهَا. فَجَاءَنِيْ فَقَالَ: اِتَّقِ اللهَ وَلَا تَظْلِمْنِيْ وَأَعْطِنِيْ حَقِّيْ. فَقُلْتُ: اِذْهَبْ إِلٰى ذٰلِكَ الْبَقَرِ وَرَاعِيْهَا. فَقَالَ: اِتَّقِ اللهَ وَلَا تَهْزَأْ بِيْ. فَقُلْتُ: إِنِّيْ لَا أَهْزَأُ بِكَ. فَخُذْ ذٰلِكَ الْبَقَرَ وَرَاعِيَهَا. فَأَخَذَهُ فَانْطَلَقَ بِهَا. فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّيْ فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ. فَافْرُجْ مَا بَقِيَ. فَفَرَجَ اللهُ عَنْهُمْ. صحيح البخاري كِتَابُ الْأَدَبِ بَابُ إِجَابَةِ دُعَاءِ مَنْ بَرَّ وَالِدَيْهِ رقم الحديث ۵۹۷۴ ، و رقم الحديث ۲۲۷۲ كِتَابُ الْإِجَارَةِ بَابُ مَنِ اسْتَأْجَرَ أَجِيْرًا فَتَرَكَ الْأَجِيْرُ أَجْرَهُ ... ، و رقم الحديث ۲۳۳۳ كِتَابُ الْمُزَارَعَةِ بَابُ إِذَا زَرَعَ بِمَالِ قَوْمٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِمْ، وَكَانَ فِيْ ذٰلِكَ صَلَاحٌ لَهُمْ ، صحيح مسلم كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ قِصَّةِ أَصْحَابِ الْغَارِ الثَّلَاثَةِ وَالتَّوَسُّلِ بِصَالِحِ الْأَعْمَالِ رقم الحديث ۱۰۰(۲۷۴۳) .

# د اخلاص واله وړوکي عمل سره د جنت مستحق کيدل

د اخلاص واله معمولي عمل سره انسان د جنت مستحق کيږي .

۱ . د دارالعلوم ديوبند مهتمم " مولانا قاري محمد طيب صاحب " په خپل کتاب [خطبات حکيم الاسلام ] کې د امام ابوداؤد رحمه الله يوه واقعه رانقل کړې :

امام ابوداؤد رحمه الله ډير لوي مُحدّث تېر شوي دی ، ابوداؤد شريف دده کتاب دی چې په مدارسو کې لوستل کيږي ، دده په واقعاتو کې راځي چې يوه ورځ دی د سمندر په غاړه ولاړ ؤ ، د يو فرلانګ په فاصله کې يو غټ جهاز په سمندر کې ولاړ ؤ ، په هغې کې يو کس پرَنجې (اَنګريشې) اوکړو ، او په زوره يې وويل : اَلحَمْدُلِلّٰهِ.

( د شريعت دا مسئله ده : چې څوک پرَنجې اوکړي نو هغه له په کار دي چې اَلحَمْدُلِلّٰهِ ووايي، او چې څوک يې واوري او مجلس هم يو وي نو هغه به يَرْحَمُکَ اللّٰهُ وايي )

د هغه سړي آواز چونکه ډير تيز ؤ ، نو ځکه امام ابوداؤد رحمه الله د هغه آواز واوريد ، او دده آواز خو دومره تيز نه ؤ چې دې يَرْحَمُکَ اللّٰهُ ووايي او هغه يې واوري ، بلکه په ده باندې يَرْحَمُکَ اللّٰهُ ويل لازم هم نه وو ، ځکه چې مجلس جدا جدا ؤ ، خو چونکه ده سره د نيکۍ کټلو ډير زيات حرص ؤ ، نو په درې (۳) درهمه يې ځانله وړه کشتۍ اونيوه ، په هغې کې سور شو ، چې کله هغه غټ جهاز ته ورغی ، نو هغه سړي ته يې د پرنجې جواب ورکړو : يَرْحَمُکَ اللّٰهُ .

مؤرِخين ليکي : چې کله ده يَرْحَمُکَ اللّٰهُ وويل نو يو غيبي آواز يې واوريد :

اې ابوداؤد ! تا ته دې مبارک وي ، تا نن د ځان د پاره جنت په درې درهمه واخيست . (۱)

سبحان الله . امام ابوداؤد رحمه الله چې د احاديثو لوي کتاب [ ابوداؤد شريف ] يې ليکلی ، نور به يې هم څومره ډير د نيکۍ کارونه کړي وي ، د هغې ټولو اجر به الله ﷻ ورکوي ، خو ليکن الله رب العزت دومره قدَردان ذات دی چې کله امام ابوداؤد رحمه الله په

---

(۱) خطبات حکيم الاسلام ص ۴۲۶ ، کشکول حکايات ص ۷۶ ، خطبات فقير ج ۱۲ ص ۱۹۶ .

يې ورته جنت ورکړو .

۲ . د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

څلويښت (۴۰) خصلتونه ( نيکۍ ) دي ، په دې کې د اُوچتې درجې واله نيکي داده چې انسان بل چاته خپله چيلۍ ددې د پاره ورکړي چې هغه ورنه ( د شودو ) فائده حاصله کړي ، او بيا يې هغه واپس ده ته ورکړي . بيا نبي عليه السلام او فرمايل :

مَا مِنْ عَامِلٍ يَعْمَلُ بِخَصْلَةٍ مِنْهَا رَجَاءَ ثَوَابِهَا ، وَتَصْدِيقَ مَوْعُودِهَا إِلَّا أَدْخَلَهُ اللهُ بِهَا الْجَنَّةَ . (۱)

کوم عمل کوونکی چې په دې څلويښتو (۴۰) نيکيو کې په يوه نيکۍ باندې د ثواب په اُميد ، او په دې باندې چې د ( الله ﷻ د طرفه ) د ثواب کومې وَعدې شوي په هغې باندې تصديق کولو سره عمل اوکړي نو الله تعالی به داسې کس جنت ته داخل کړي .

**فائده** : نبي عليه السلام په دې حديث کې د څلويښت نيکيو تفصيل بيان نکړو ، داصرف ددې د پاره چې انسان د هرې نيکۍ کولو په وخت دا خيال اوکړي چې کيدې شي دا هغه نيکي وي د کومې په ذريعه باندې چې د جنت وَعده شوی ، نو هره نيکي به په اخلاص باندې د ثواب په اُميد کوي .

## په اِخلاص باندې عمل کوونکي سره د الله ﷻ مدد ملګرې وي

څوک چې په اِخلاص باندې عمل کوي نو د الله ﷻ مدد ده سره ملګرې وي .

امام غزالي رحمه الله په " اِحياء العلوم " کې دا واقعه ذکر کړی چې يو عابد ډيره زمانه د الله ﷻ عبادت کولو ، يو ځل ورته څه خلق راغلل ، او ورته وې ويل :

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنَ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، يَقُوْلُ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَرْبَعُوْنَ خَصْلَةً أَعْلَاهُنَّ مَنِيحَةُ الْعَنْزِ . مَا مِنْ عَامِلٍ يَعْمَلُ بِخَصْلَةٍ مِنْهَا رَجَاءَ ثَوَابِهَا ، وَتَصْدِيقَ مَوْعُودِهَا إِلَّا أَدْخَلَهُ اللهُ بِهَا الْجَنَّةَ . صحيح البخاري كِتَابُ الهِبَةِ وَفَضْلِهَا وَالتَّحْرِيضِ عَلَيْهَا بَابُ فَضْلِ الْمَنِيحَةِ رقم الحديث ۲۶۳۱ ، سنن ابی داؤد باب فی المنيحة رقم الحديث ۱۶۸۳ ، مسند احمد رقم الحديث ۶۸۳۱ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۱۱۲ .

دلته يو قوم دى هغوى د الله ﷻ نه بغير د اونې عبادت کوي.

دا عابد په دې اَورېدو سره غصه شو، تَبَر يې راواخيست، او د اونې پرېکولو په اِراده باندې رااووت، په لاره کې ورسره ابليس د بوډا په شکل باندې ملاؤ شو. ابليس ورنه پوښتنه اوکړه: أَيْنَ تُرِيدُ رَحِمَكَ اللهُ؟ الله ﷻ دې په تا رَحم اوکړي چيرته روان يې؟

ده ورته ووېل: أُرِيدُ أَنْ أَقْطَعَ هٰذِهِ الشَّجَرَةَ.

زما اِراده ده چې دا اونه کټ کړم (د کومې چې خلق عبادت کوي).

ابليس ورته ووېل: ستا ددې سره څه کار دى چې خپل عبادت دې پرېخود او فضول کار کوى.

عابد ورته ووېل: دا اونه پرېکول هم عبادت دى. ابليس ورته ووېل: زه تا ديته نه پرېږدم. د دواړو جګړه شوه، آخر عابد دا ابليس رااوغورځول او په سِينه باندې ورله کيناست. ابليس ورته ووېل: ما پرېږده زه درته يوه خبره کوم. عابد ورنه پاڅيد.

ابليس ورته ووېل: په تا باندې خو الله تعالى ددې ذِمه داري نده اچولې او نه يې درباندې ددې اونې پرېکول فرض کړي، ته په خپله ددې عبادت نه کوى د نورو غم مه کوه، که الله تعالى اوغواړي نو انبياء کرام به رااولېږي هغوى به خلقو ته ددې د پرېکولو حُکم اوکړي.

عابد ورته ووېل: زه به خامخا دا کټ کوم. د دواړو بيا جګړه شوه، دا ځل عابد بيا ابليس رااوغورځول او په سِينه باندې ورله کيناست، کله چې ابليس عاجز شو نو عابد ته يې ووېل:

آيا ستا خوښه نده چې ما او تا په يوه خبره باندې راضي شو چې هغه ستا د پاره ډيره فائده مَنده ده؟ ته ما پرېږده نو زه به درته هغه خبره اوکړم. کله چې ده ابليس پرېخود نو هغه ورته ووېل:

ته يو فقير سړى يې، تا سره څه مال و دولت نشته، ته په خلقو باندې بُوج يې، آيا دا ستا خوښه نه ده چې ته د خلقو نه مُستغنِي شي او د نورو خلقو سره مدد کوى؟

ده ورته ووېل: دا زما خوښه ده.

ابليس ورته ووېل: ته ددې اونې پرېکولو نه تېر شه زه به هره شپه ستا سَر ته دوه دِيناره پږدم، ته به يې سهر اخلې، په خپل ځان، بچو او ورونو باندې به يې خرچ کوى، نو دا ستا

د پاره د اُونې پريکولو نه ډير بهتر دي ، ځکه که ته اُونه کټ کړې نو خلق به ددې په ځای باندې بله اُوکرِي نو دا څه فائده نه کوي.

عابد په دې خبره باندې څه سوچ اوکړو ، بيا يې ووئيل : تا رښتيا ووئيل ، زه خو څه پيغمبر نه يم چې ګني په ما باندې ددې اُونې کټ کول لازمي دي ، او نه ماته الله ﷻ ددې د کټ کولو حُکم کړی چې ګني په نه کټ کولو سره به زه ګناهګار شم ، دا تا چې کومه خبره اوکړه دا زما د پاره ډيره فائده مَنه ده.

ابليس د عابِد سره خبره خلاصه کړه او د وَعدې په پوره کولو يې ورته قسَم اُوخوړ. عابد خپلې عبادت خانې ته واپس لاړ ، شپه تيره شوه ، سهَر يې د سَر لاندې دوه دِيناره اُوليدل ، هغه يې راواخيست. همدغه شان يې په صبا سهَر هم د سَر د لاندې دوه دِيناره اُوموندل.

په دريمه ورځ او ورپسې نورو ورځو کې يې دِينارونه او نه ليدل ، دا سخت غصه شو ، تَبر يې راواخيست او د اُونې پريکولو د پاره راروان شو.

په لاره کې ورسره بيا ابليس د شيخ په شکل کې ملاوُ شو ، پوښتنه يې ورنه اوکړه :

إِلَىٰ أَيْنَ؟ چيرته ځې ؟ ده ورته ووئيل: أَقْطَعُ تِلْكَ الشَّجَرَةَ . هغه اُونه پريکوم.

ابليس ورته ووئيل : كَذَبْتَ وَاللهِ مَا أَنْتَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ ذٰلِكَ وَلَا سَبِيْلَ لَكَ إِلَيْهَا .

تا دروغ ووئيل ، قسَم په الله ، ته د اُونې په پريکولو باندې قادِر نه يې ، او تا ته د اُونې پريکولو ګنجائش نشته.

عابِد اراده اوکړه چې هماغه مخکينې کار ورسره اوکړي ، دواړه سره په جَګړه شو ، خو په دې ځل باندې ابليس عابد لره د چَرچَنړې په شان د خپلو دواړو خپو په مينځ کې راځملول ، په سِينه باندې ورله کيناست ، او ورته وې ويل :

لَتَنْتَهِيَنَّ عَنْ هٰذَا الْأَمْرِ أَوْ لَأَذْبَحَنَّكَ .

ته ددې کار ( اُونې پريکولو ) نه منع کيږې او که ذبح دې کړم ؟

د عابد هيڅ طاقت نه ؤ ، ورته وې ويل : اوس خو ته راباندې غالِب شوې ، ما پريږده خو دا راته اُووايه چې : څنګه په اول ځل زه درباندې غالب شوې ووم او اوس ته راباندې غالِب شوې ؟

ابلیس ورته وویل :

لِأَنَّكَ غَضِبْتَ أَوَّلَ مَرَّةٍ لِلّٰهِ وَكَانَتْ نِيَّتُكَ الْآخِرَةَ فَسَخَّرَنِيَ اللهُ لَكَ . وَهٰذِهِ الْمَرَّةَ غَضِبْتَ لِنَفْسِكَ وَلِلدُّنْيَا فَصَرَعْتُكَ .

دا ځکه چې ته اول د الله ﷻ د رَضا د پاره غصه شوې وې او ستا نِیت آخرتُ ( یعنی د الله ﷻ رَضا دې مقصد وه ) نو ځکه الله ﷻ زه تاته مُسخّر کړم ( او تا زه راآوغورځولم ) او په دې ځل باندې ته د خپل ځان او د دُنیا ( د لالچ ) د پاره غصه شوې وې ( یعنی مقصد دې د الله ﷻ رَضا نه وه ) نو ځکه ما ته راآوغورځولې .

ددې واقعې ذکر کولو نه روستو امام غزالي رحمه الله لیکلي : دا واقعه د الله تعالی ددې قول ﴿إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ﴾(۱) تصدیق دی ، ځکه انسان د شیطان نه صرف په اِخلاص سره خلاصیږي . (۲)

---

(۱) سورة ص آية ۸۳ .

د شیطان د لعنتي کیدو نه پس چې کله ده د الله ﷻ نه تر قیامته پورې مهلت اوغوښت او الله ﷻ مهلت ورکړو نو ده قسَم اوکړو چې زه به ستا ټول بندګان ګمراه کوم ، البته صرف مُخلِصین به د ما نه محفوظ وي . ددې بیان الله ﷻ داسې کړی :

﴿ قَالَ رَبِّ فَأَنْظِرْنِيْ إِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ۝ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ۝ إِلٰى يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ ۝ قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِيْنَ ۝ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِيْنَ ﴾ . سورة ص آية ۷۹ تا ۸۳ .

﴿ قَالَ رَبِّ بِمَا أَغْوَيْتَنِيْ لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِيْنَ ۝ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِيْنَ ﴾ . الحجر آية ۳۹ تا ۴۰ .

(۲) وفي الإسرائيليات أنّ عابدًا كان يعبد الله دهرًا طويلًا فجاءه قوم فقالوا : إنّ ههنا قومًا يعبدون شجرةً من دون الله تعالى فغضب لذلك وأخذ فأسه على عاتقه وقصد الشجرة ليقطعها . فاستقبله إبليس في صورة شيخ . فقال : أَيْنَ تُرِيْدُ رَحِمَكَ اللهُ ؟ قال . أُرِيْدُ أَنْ أَقْطَعَ هٰذِهِ الشَّجَرَةَ . قال وما أنتَ وذاك تركتَ عبادتك واشتغالك بنفسك وتفرغت لغير ذلك ، فقال إنّ هذا من عبادتي . قال : فإنّي لا أتركك أن تقطعها . فقاتله فأخذه العابدُ فطرحه إلى الأرض وقعد على صدره ، فقال له إبليس : ← ← ← ←

## الله ﷻ د مُخلص سړي کار نه بندوي

په چا کې چې اخلاص وي ، د حقوقُ الله او حقوقُ العباد لحاظ ساتي نو الله ﷻ د داسې مُخلِص سړي کار هيڅ کله نه بندوي ، او د ژوند په هره مرحله کې ورسره مدد کوي .

په " بخاري شريف " کې دا واقعه ذکر ده :

---

←←← أطلقني حتى أكلمك . فقام عنه فقال إبليس : يا هذا إن الله تعالى قد أسقط عنك هذا ولم يفرضه عليك وما تعبدها أنت وما عليك من غيرك ولله تعالى أنبياءُ في أقاليم الأرض ولو شاء لبعثهم إلى أهلها وأمرهم بقطعها . فقال العابد : لا بدّ لي من قطعها فنابذه للقتال فغلبه العابدُ وصرعَه وقعد على صدره . فعجز إبليس فقال له : هل لك في أمرٍ فصلٍ بيني وبينك وهو خير لك وأنفع . قال : وما هو ؟ قال : أطلقني حتّى أقول لك . فأطلقه فقال إبليس : أنتَ رجلٌ فقيرٌ لا شيء لك إنما أنتَ كَلٌّ على النّاس يعولونك ولعلك تحب أنْ تتفضل على إخوانك وتواسي جيرانك وتشبع وتستغني عن الناس . قال : نعم . قال : فارجع عن هذا الأمر ولك علي أنْ أجعلَ عند رأسك في كلّ ليلة دينارين إذا أصبحتَ أخذتَهما فأنفقتَ على نفسِك وعيالك وتصدّقتَ على إخوانك فيكون ذلك أنفع لك وللمسلمين من قطع هذه الشجرة التي يغرس مكانها ولا يضرهم قطعها شيئًا ولا ينفع إخوانك المؤمنين قطعك إيّاها فتفكر العابد فيما قال وقال : صدق الشيخ لستُ بنبيٍّ فيلزمني قطع هذه الشجرة ولا أمرني اللهُ أن أقطعها فأكونَ عاصيًا بتركها . وما ذكره أكثر منفعة . فعاهده على الوفاء بذلك وحلف له . فرجع العابد إلى متعبده فبات . فلمّا أصبح رأى دينارين عند رأسه فأخذهما . وكذلك الغد . ثم أصبح اليوم الثالث وما بعده فلم ير شيئًا . فغضب وأخذ فأسه على عاتقه فاستقبله إبليس في صورة شيخ فقال له : إلى أَيْنَ ؟ قال : أَقْطَعُ تِلْكَ الشَّجَرَةَ . فقال : كَذَبْتَ وَاللهِ مَا أَنْتَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ ذٰلِكَ وَلَا سَبِيْلَ لَكَ إِلَيْهَا . قال فتناوله العابدُ ليفعل به كما فعل أول مرة . فقال : هيهات فأخذه إبليس وصرعه فإذا هو كالعصفور بين رجليه وقعد إبليس على صدره وقال : لَتَنْتَهِيَنَّ عَنْ هٰذَا الْأَمْرِ أَوْ لَأَذْبَحَنَّكَ . فنظر العابد فإذا لا طاقة له به . قال : يا هذا غلبتني فخل عني وأخبرني كيف غلبتُك أوّلًا وغلبتني الآن ؟ فقال : لِأَنَّكَ غَضِبْتَ أَوَّلَ مَرَّةٍ لِلّٰهِ وَكَانَتْ نِيَّتُكَ الْآخِرَةَ فَسَخَّرَنِيَ اللهُ لَكَ . وَهٰذِهِ الْمَرَّةَ غَضِبْتَ لِنَفْسِكَ وَلِلدُّنْيَا فَصَرَعْتُكَ . هذه الحكايات تصديق قوله تعالى ﴿ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِيْنَ ﴾ إذ لا يتخلّصُ العبدُ من الشيطان إلّا بالإخلاص . احياء علوم الدين ج ۴ ص ٣٧٧ كتاب النية والإخلاص والصدق الباب الثاني في الإخلاص وفضيلته وحقيقته ودرجاته . كيمياى سعادت الباب الثاني في الاخلاص . طبع دار المعرفة بيروت

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ( صحابه کرامو ته ) د بني اسرائيلو د يو کس تذکره اوکړه ، دې کس د بني اسرائيلو د يو بل کس نه زر ( ١٠٠٠ ) دِيناره قرض اوغوښتل ، هغه ورته وويل : اول ماته داسې ګواهان راوله چې زه وربانديې اعتماد کوم او په دې خبره يې ګواه جوړ کړم .

ده ورته وويل : كَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا .

د ګواهۍ د پاره الله ﷻ کافي دی . (يعنی د الله تعالى ګواهي کافي ده) .

هغه بيا ورته وويل : يو ضامِن راوله . ده ورته وويل :

كَفَىٰ بِاللَّهِ كَفِيلًا . د الله ﷻ ضمانت کافي دی .

هغه ورته وويل : صَدَقْتَ . تا رېښتيا وويل .

بيا هغه کس ده ته د يوې مُعَيّنې نيټې پورې قرض ورکړو ، دې کس قرض واخيست او د سمندر په سفر روان شو ، او خپل ضرورت يې پوره کړو .

کله چې د روپو ورکولو نېټه برابر شوه نو دا د سمندر غاړې ته راأووت او يوه کِشتۍ يې تلاش کوله ، ددې د پاره چې په دې کشتۍ کې سور شي او کومه نېټه يې چې د هغه کس سره مقرر کړې وه هغې نېټې ته قرض وَرأورسوي ، خو ( د ډير تلاش باوجود ) ده کشتۍ پيدا نکړه .

آخر ده يو لرګې راواخيست ، په هغې کې يې سورې اوکړو ، بيا ده په دې لرګي کې زر (١٠٠٠ ) دِيناره کېښودل ، او د خپل طرف نه يې هغه ته يو خط هم ليکلې وُ ( چې دا دِيناره ما دراُوليږل ) ، دا خط يې هم په دې سوري کې کېښود ، بيا يې د هغه لرګي سورې بَند کړو ، د سمندر غاړې ته يې راوړو او دا دُعا يې اوکړه :

اَللّٰهُمَّ إِنَّكَ تَعْلَمُ أَنِّيْ كُنْتُ تَسَلَّفْتُ فُلَانًا أَلْفَ دِيْنَارٍ ، فَسَأَلَنِيْ كَفِيْلًا ، فَقُلْتُ : كَفَىٰ بِاللّٰهِ كَفِيْلًا ، فَرَضِيَ بِكَ ، وَسَأَلَنِيْ شَهِيْدًا ، فَقُلْتُ : كَفَىٰ بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ، فَرَضِيَ بِكَ ، وَأَنِّيْ جَهَدْتُ أَنْ أَجِدَ مَرْكَبًا أَبْعَثُ إِلَيْهِ الَّذِيْ لَهُ فَلَمْ أَقْدِرْ ، وَإِنِّيْ أَسْتَوْدِعُكَهَا .

اې الله ! تاته ښه پته ده چې ما د فلانکي نه زَر ( ١٠٠٠ ) دِيناره قرض اخيستي وو ، هغه د مانه ضامِن اوغوښت نو ما ورته وويل ؛ د الله ﷻ ضمانت کافي دی . پس هغه په تا

باندې راضي شو . بيا هغه د ما نه ګواه اوغوښت ، نو ما ورته ووېل : د الله ﷻ ګواهي کافي ده . پس هغه په تا باندې راضي شو ، ( اې الله ! ) ما ډېر کوشش اوکړو چې زه څه سورلی ( کشتۍ ) اومومم چې د هغې په ذريعه زه هغه ته خپل قرض وَرَاورسوم خو زه په دې باندې قادِر نه شوم ، پس زه دا ( لرګې او په دې کې دا دِينار ) تاته سپارَم ( ته دا هغه ته وَرَاورسوه ) .

نو ده دا لرګې په سمندر کې اوغورځول ، لرګې په سمندر کې روان شو او دا ورنه ( خپل ځای ته ) راروان شو .

اګر چې ده اوس هم مسلسل کوشش کولو چې يوه کِشتۍ پيدا شي ، چې په هغې کې سور شم ، خپل کلي ته لاړ شم او هغه کس ته خپل قرض ورکړم .

بل طرف ته هغه بل کس چاته چې ده قرض ورکړې وُ هغه هم په همدې مُعَيَّنه نېټه باندې د سمندر غاړې ته په دې اِراده باندې راأووت چې کيدې شي يوه کِشتۍ راشي او زما مال راوړي .

( ده ډېر وخت د سمندر په غاړه باندې اِنتظار اوکړو ، هر طرف ته يې کتل خو تر ناوَخته پورې هيڅ کِشتۍ رانغله ) .

ناڅاپه ده ( د سمندر په غاړه ) هغه لرګې اُوليد په کوم چې دِينار وو ، ده دا لرګې په دې نيت باندې راواخيست چې د کور د پاره به خَشاک شي .

( يعنی ده دا سوچ اوکړو چې هسې خالي لاس کور ته ځم نو ددينه دا بهتره ده چې دا لرګې هم د ځان سره ويسم ، د سوَزيدلو د پاره به په کار راشي ) .

کله چې ده ( په کور کې ) دا لرګې څيرې ( مات ) کړو نو په هغې کې يې دِينار او يو خط اُوموند . بيا ( يو څو ورځې پس ) دا قرض دارې خپل کلي ته راغی ، زَر (۱۰۰۰) دِيناره يې دې قرض خواه ته ورکړل او ورته وې ويل :

وَاللهِ مَا زِلْتُ جَاهِدًا فِيْ طَلَبِ مَرْكَبٍ لِآتِيَكَ بِمَالِكَ فَمَا وَجَدْتُ مَرْكَبًا قَبْلَ الَّذِيْ أَتَيْتُ فِيْهِ .

قسَم په الله ، ما هميشه کوشش کولو چې څه کِشتۍ راته ملاوْ شي او تاته خپل مال راوړم خو دا نن چې په کومه کِشتۍ کې راغلم ددينه مخکې ما بله هيڅ کشتۍ نه وه پيدا کړې .

( يعنی د ډير کوشش باوجود همدا نن مې کِشتۍ پيدا کړه او تاته مې خپل قرض راوړو ،

لهذا ته د مانه د قرض په تأخير سره خفه نه شې).

قرض خواه ورته وويل: هَلْ كُنتَ بَعَثْتَ إِلَيَّ بِشَيْءٍ؟ آيا تا ماته څه څيز راليږلي وو؟

ده ورته وويل: ما تاته خبره اوکړه چې دا اوس په کومه کشتۍ کې راغلم ددينه مخکې ما بله هيڅ کشتۍ نه وه موندلې چې تاته مې مال راوړې وې.

قرض خواه ورته وويل:

فَإِنَّ اللهَ قَدْ أَدَّى عَنْكَ الَّذِي بَعَثْتَ فِي الْخَشَبَةِ، فَانْصَرِفْ بِالْأَلْفِ الدِّينَارِ رَاشِدًا.

بيشکه الله تعالی ستا هغه قرضه أداء کړې کومه چې تا په لرګي کې راليږلې وه، پس ته دا خپل زر دينارہ په خوشحالۍ باندې واپس واخله.(۱)

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّهُ ذَكَرَ رَجُلًا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ سَأَلَ بَعْضَ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنْ يُسْلِفَهُ أَلْفَ دِينَارٍ. فَقَالَ: اِئْتِنِي بِالشُّهَدَاءِ أُشْهِدُهُمْ. فَقَالَ: كَفَى بِاللهِ شَهِيدًا. قَالَ: فَأْتِنِي بِالْكَفِيلِ. قَالَ: كَفَى بِاللهِ كَفِيلًا. قَالَ: صَدَقْتَ. فَدَفَعَهَا إِلَيْهِ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى. فَخَرَجَ فِي الْبَحْرِ فَقَضَى حَاجَتَهُ. ثُمَّ الْتَمَسَ مَرْكَبًا يَرْكَبُهَا يَقْدَمُ عَلَيْهِ لِلْأَجَلِ الَّذِي أَجَّلَهُ. فَلَمْ يَجِدْ مَرْكَبًا. فَأَخَذَ خَشَبَةً فَنَقَرَهَا. فَأَدْخَلَ فِيهَا أَلْفَ دِينَارٍ وَصَحِيفَةً مِنْهُ إِلَى صَاحِبِهِ. ثُمَّ زَجَّجَ مَوْضِعَهَا. ثُمَّ أَتَى بِهَا إِلَى الْبَحْرِ. فَقَالَ: اَللّٰهُمَّ إِنَّكَ تَعْلَمُ أَنِّي كُنْتُ تَسَلَّفْتُ فُلَانًا أَلْفَ دِينَارٍ. فَسَأَلَنِي كَفِيلًا. فَقُلْتُ: كَفَى بِاللهِ كَفِيلًا. فَرَضِيَ بِكَ. وَسَأَلَنِي شَهِيدًا. فَقُلْتُ: كَفَى بِاللهِ شَهِيدًا. فَرَضِيَ بِكَ. وَأَنِّي جَهَدْتُ أَنْ أَجِدَ مَرْكَبًا أَبْعَثُ إِلَيْهِ الَّذِي لَهُ فَلَمْ أَقْدِرْ. وَإِنِّي أَسْتَوْدِعُكَهَا. فَرَمَى بِهَا فِي الْبَحْرِ حَتَّى وَلَجَتْ فِيهِ. ثُمَّ انْصَرَفَ وَهُوَ فِي ذٰلِكَ يَلْتَمِسُ مَرْكَبًا يَخْرُجُ إِلَى بَلَدِهِ. فَخَرَجَ الرَّجُلُ الَّذِي كَانَ أَسْلَفَهُ يَنْظُرُ لَعَلَّ مَرْكَبًا قَدْ جَاءَ بِمَالِهِ. فَإِذَا بِالْخَشَبَةِ الَّتِي فِيهَا الْمَالُ. فَأَخَذَهَا لِأَهْلِهِ حَطَبًا. فَلَمَّا نَشَرَهَا وَجَدَ الْمَالَ وَالصَّحِيفَةَ. ثُمَّ قَدِمَ الَّذِي كَانَ أَسْلَفَهُ. فَأَتَى بِالْأَلْفِ دِينَارٍ. فَقَالَ: وَاللهِ مَا زِلْتُ جَاهِدًا فِي طَلَبِ مَرْكَبٍ لِآتِيَكَ بِمَالِكَ فَمَا وَجَدْتُ مَرْكَبًا قَبْلَ الَّذِي أَتَيْتُ فِيهِ. قَالَ: هَلْ كُنْتَ بَعَثْتَ إِلَيَّ بِشَيْءٍ؟ قَالَ: أُخْبِرُكَ أَنِّي لَمْ أَجِدْ مَرْكَبًا قَبْلَ الَّذِي جِئْتُ فِيهِ. قَالَ: فَإِنَّ اللهَ قَدْ أَدَّى عَنْكَ الَّذِي بَعَثْتَ فِي الْخَشَبَةِ. فَانْصَرِفْ بِالْأَلْفِ الدِّينَارِ رَاشِدًا. صحيح البخاري كتاب الكفالة بَابُ الْكَفَالَةِ فِي الْقَرْضِ وَالدُّيُونِ بِالْأَبْدَانِ وَغَيْرِهَا رقم الحديث ۲۲۹۱ . مسند احمد رقم الحديث ۸۵۸۷، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۵۸۰۰ ما وجد في اللقطة في البحر، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۱۳۱۳ باب ماجاء في الكفالة ببدن من عليه حق، كنز العمال رقم الحديث ۱۵۵۷۰.

**فائده** : تاسو واوریدل چې په دې کس کې دومره اخلاص وُ او د قرض اَداء کولو دومره غم ورسره وُ چې اګرچې ده په هغه معلومه نېټه باندې کشتي پيدا نکړه خو چې کله يې په لرګي کې روپۍ واچولی او په سمندر کې يې دا لرګی راپرېښود نو الله تعالی دا لرګي دې قرض خواه ته راأورسول ، او دده قرض اَداء شو .

## د مُخلصينو د پاره زېرې

نبي عليه السلام د مُخلِصينو په باره کې دا زېرې اَوروِلی :

طُوْبٰى لِلْمُخْلِصِيْنَ أُولٰئِكَ مَصَابِيْحُ الدُّجٰى تَتَجَلّٰى عَنْهُمْ كُلُّ فِتْنَةٍ ظَلْمَاءَ . (۱)

د مُخلِصينو د پاره زېرې دی ، دوی په تيارو کې ډيوې دي ، د دوی په وجه هره سخته فِتنه لرې کيږي .

## د اِخلاص دُنيوي فائده

په چا کې چې اخلاص وي او هر نيک عمل خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره کوي نو د اُخروي فائدو سره سره الله ربّ العزت به ده ته په دُنيا کې هم دا فائده ورکوي چې زړه به يې غَني کړي ، دده مُتفرق اُمور به راجمع کړي ، غيبي اَسباب به ورته برابر کړي ، او دُنيا به ذليله دده قدمونو ته راځي . دا مضمون په صحيح حديث کې هم ذکر دی .

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ كَانَتْ نِيَّتُهُ طَلَبَ الْآخِرَةِ جَعَلَ اللهُ غِنَاهُ فِيْ قَلْبِهِ ، وَجَمَعَ لَهُ شَمْلَهُ ، وَأَتَتْهُ الدُّنْيَا وَهِيَ رَاغِمَةٌ ، وَمَنْ كَانَتْ نِيَّتُهُ طَلَبَ الدُّنْيَا جَعَلَ اللهُ الْفَقْرَ بَيْنَ عَيْنَيْهِ وَشَتَّتَ عَلَيْهِ أَمْرَهُ وَلَا يَأْتِيْهِ مِنْهَا إِلَّا مَا كُتِبَ لَهُ . (۲)

---

(۱) شعب الايمان للبيهقي رقم الحديث ۶۴۴۸ ، الترغيب والترهيب ج۱ ص ۲۳ الترهيب في الاخلاص والصدق والنية الصالحة ، كنزالعمال رقم الحديث ۵۲۶۸ الاخلاص .

(۲) مشكوة المصابيح باب الرياء والسمعة الفصل الثاني رقم الحديث ۵۳۲۰ (۷) ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۴۱۴۲ باب من يريد الدنيا بعمله ، سنن الترمذي رقم الحديث ۲۴۶۵ قال الالباني : صحيح . شعب الايمان رقم الحديث ۹۸۵۵ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ۸۸۸۲ ، معجم ابن عساكر رقم الحديث ۸۹۹ ، كنزالعمال رقم الحديث ۶۱۸۶ .

د چا نيت چې خالصه د آخرت طلب کول ( يعنی د الله ﷻ رَضا ) وي نو الله تعالى به د هغه په زړه کې غِنا واچوي ( په خپلو نِعمتونو باندې به قناعت کوي ) ، دده مُتفرِّق اُمور به جَمع کړي ( زړه به يې مُطمئِن وي او غيبي اَسباب به ورته الله ﷻ برابر کړي ) ، او دَه ته به دُنيا ( مال و دولت ) په داسې حالت کې راځي چې ذليله به وي ( دا به ورپسې ډير نه ستړې کيږي ) .او د چا نيت چې خالصه د دُنيا طلب کول وي نو الله تعالى به فقر دده د دواړو سترګو په مينځ کې او ګرځوي ( خلقو ته به محتاج شي ) ، دده کارونه به مُتفرِّق کړي ، او ( د ډير کوشش باوجود ) ده ته به صرف هاغه دُنيا راځي څومره چې ورسره ليکلې شوې وي .

## د اِخلاص او اَمانت دارۍ بهترين عوض

## (مُوندل شوې هار د الله ﷻ د رَضا د پاره واپس کول ، او دوباره دده لاس ته راتلل )

په چا کې چې اخلاص او اَمانت داري وي او هر کار خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره کوي نو الله ﷻ به ده ته د آخرت د اَجرونو سره سره په دُنيا کې هم ددې بهترينه بدله ورکړي .

ددې په باره کې درته د قاضي ابوبکر محمد بن عبدالباقي بزاز انصاري رحمه الله يوه واقعه بيانوم ، کومه چې په "ذيل طبقات الحنابله" او "شذرات الذهب في اخبار من ذهب" کې ذکر ده ، دا واقعه اګر چې اُوږده ده خو ډيره د عبرت نه ډکه ده .

قاضي ابوبکر ډير لوي عالِم او مُحدِّث تير شوی ، د ډيرو ښو اَخلاقو خاوند ؤ ، د عُمر په اوله حصه کې يې ډير د فقيرۍ او غُربت ژوند تير کړی ؤ ، خو باوجود ددې فقيرۍ يې بيا هم د مُشتبِه مال نه ډير ځان ساتل ، د ډير اِحتياط او تقوى په وجه الله ﷻ ورته په دُنيا کې هم ښه بَدله ورکړه ، او ډير مال و دولت يې ورله ورکړو ، دې خپله واقعه داسې بيانوي :

چې زه په مکه مکرّمه کې اُوسيدم ، يو ځل زه ډير اُوږې شوم ، د څو ورځو نه مې هيڅ خوراک نه ؤ کړی ، د ډيرې اُولږې د لاسه حَد درجه کمزورې شوې ووم ، نه راسره څه روپۍ وې چې ځانله مې پرې د خوراک څه اخيستي وی ، په دې دَوران کې ما د وريښمو يوه تهيلۍ اُومونده ، کور ته مې راوړه ، چې کلاؤ مې کړه نو په دې کې داسې قيمتي هار ؤ چې ما په خپل ژوند کې دومره ښائسته او اعلى هار نه ؤ ليدلی ، ددې قيمت يو لک ( ١٠٠٠٠٠ )

دیناره وُ ، ( دا تهیلۍ مې په کور کې کېښوده ، ددې د پاره چې که مالِک یې پیدا شي نو ورته واپس به یې کړم ) .

بیا زه د کور نه بهَر راأووتم ، نو ما یو شیخ ( کوم چې یو لوي تاجِر وُ ) أولید چې په یوه تهیلۍ کې یې پنځه سوه ( ۵۰۰ ) دِیناره اچولي وو ، او دا آوازیې کولو :

" د ما نه یوه تهیلۍ ورکه شوې ده که چا ماته هغه واپس راکړه نو په اِنعام کې به ورته دا پنځه سوه دیناره ورکوم " ( حالانکه په هاغه وخت کې دا پنځه سوه دیناره ډیر لوي دولت وُ ) ما د ځان سره سوچ اوکړو چې ما کومه تهیلۍ موندلې ده هغه د همدې شیخ ده ، زه چونکه د ډیرو ورځو نه نهَر او محتاج یم نو زه به دا تهیلۍ دې کس ته حواله کړم ، او دا حلال پنځه سوه دِینار به ورنه واخلم ( په دې به د خوراک څه واخلم ) .

نو ما دا شیخ خپل کور ته د ځان سره راوَست ، په کور کې مې دده نه ددې تهیلۍ او د هار متعلق یو څو پوښتنې اوکړې ، ده راته صحیح صحیح علامات وویل ، زما تسلّي اوشوه چې دا تهیلۍ د همده ده ، نو ما ورته ورکړه ، دې ډیر خوشحاله شو ، ماته یې پنځه سوه دِیناره په انعام کې راکول ، او دا ماته شَرعي طریقې سره جائز هم وو ، بل دا چې زه د ډیرو ورځو نه أوږي هم ووم ، لیکن ما دا پنځه سوه دینار اخیستل د مُروّت ، دِیانت ، تقوٰی او اِحتیاط خلاف اوګڼړل . نو ځکه ما د قبلولو نه اِنکار اوکړو ، هغه ددې د اخیستلو ډیر اِصرار اوکړو لیکن ما قبول نه کړل ، بهَر حال ، دا شیخ ډیر خوشحاله شو ، او واپس خپل ځای ته لاړ .

قاضي ابوبکر بزاز وايي چې کله ما د الله ﷻ د رَضا د پاره د یو شیخ زړه خوشحاله کړو ، د هغه قیمتي هار مې هغه ته ورکړو ، اګر چې ماته ضرورت وُ خو ما بیا هم د هغه نه څه عِوض وانه خیست ، نو الله ﷻ ماته د آخرت د ثوابونو سره سره په دُنیا کې هم د هغې بهترینه بَدله دا راکړه چې : څه موده پس همدا قیمتي هار الله ﷻ ماته د غیبي لارو نه واپس راکړو .

( قاضي ابوبکر خپله راتلونکې واقعه داسې بیان کړه چې ) : زه څه موده پس د مکې مُکرّمې نه په یو سفر روان شوم ، دا سفر مې په بَحري جهاز کې کولو ، ناڅاپه په سمندر کې طوفان راغی ، جهاز مات شو ، په کې ناست خلق ډُوب شو ، مالونه یې هم ډُوب شو ، زه د جهاز په یوه ماته تخته باندې کیناستم ، څو ورځې پس د سمندر چَپو دا تخته د یوې

جزيرې غارې ته اُورسوله ، زه ورنه بنکته شوم ، ډير پريشانه او خفه ووم ، د يو کلي په طرف روان شوم ، يو جُمات ته اُورسيدم ، په دې جُمات کې کيناستم ، د کشتۍ په خلقو کې صرف زه ژوندې پاتې ووم ، نو ما د شکريه اداء کولو د پاره په جُمات کې تلاوت شروع کړو ، کله چې د جزيرې واله خلقو ته پته اُولګيده چې " زه ډير بنه تلاوت کوم " نو ماته يې درخواست اوکړو چې : ته مونږ ته قرآن مجيد زده کوه . ما دا موقع غنيمت اُوګنړله ، او هغوی ته مې قرآن مجيد زده کول شروع کړل ، هغوی د همدردۍ په خاطر ماله ډير مال و دولت هم راکړو .

بيا چې کله هغوی ته پته اُولګيده چې " ماله ليکل هم راځي " نو هغوی به ماشومان او ځوانان ماته د خط زده کولو د پاره رالېږل ، ما هغوی ته خط زده کول هم شروع کړو ، په دې سره ماته مالي لحاظ سره هم ډيره فائده حاصله شوه .

قاضي ابوبکر بزاز رحمه الله فرمايي چې د دې جزيرې واله خلقو د ماسره دومره عقيدت او محبت پيدا شو چې يوه ورځ دوی ماته ووېل :

عِنْدَنَا صَبِيَّةٌ يَتِيْمَةٌ وَلَهَا شَيْءٌ مِنَ الدُّنْيَا نُرِيْدُ أَنْ تَتَزَوَّجَ بِهَا .

د مونږ سره په دې کلي کې يوه يتيمه ( بالغه ) جينۍ ده او د هغې سره ډير مال و دولت هم دی ( چې په ميراث کې ورته پاتې شوی ) زمونږ دا خوښه ده چې ته د هغې سره نکاح اوکړې ( د دې کلي خلقو دا غوښتل چې دا قاضي د مونږ سره په همدې کلي کې پاتې شي نو ځکه يې ماله په دې کلي کې واده کول غوښتل ) .

ما انکار اوکړو چې زه اوس واده نه کوم ، هغوی ډير ټينګار اوکړو او ماته يې ووېل چې ته به خامخا د دې سره نکاح کوې ( ځکه په دې کې ستا او د دې جينۍ دواړو فائده ده ) ، ما آخر د هغوی خبره اُومنله ، او د ذې يتيمې ( بالغې ) جينۍ سره مې نکاح اوکړه ، د نکاح نه پس چې کله زه د شپې کور ته لاړم ، او ما دې خپلې بي بي طرف ته اوکتل :

فَوَجَدْتُ ذٰلِكَ الْعِقْدَ بِعَيْنِهٖ مُعَلَّقًا فِيْ عُنُقِهَا .

ما د دې په غاړه کې بِعَينه هـ ماغه هار اُوليد ( کوم چې ما په مکه مکرّمه کې موندلې وُ ، او بيا مې هغه شيخ تاجر ته ورکړې وُ ، هغه هار ) دې په غاړه کې اچولې وُ .

( کله چې ما دا اُوليد نو ډير حيران شوم ) تر سهره پورې ما صرف همدې هار ته کتل ( او د الله ﷻ په قدرتونو کې مې سوچ کولو چې : الله ﷻ څومره غيرتي ذات دی ما

صرف د الله ﷻ د رَضا د پاره هغه شیخ ته دا هار واپس کړې وُ ، اګر چې هلته زه ډیر کلک مجبور ووم خو ما پټ نه کړو ، هغه ته مې واپس کړو ، بیا چې راته هغه انعام راکول هغه مې هم ورنه وا نه خیست ، نو الله ﷻ د هغې څومره ښه بَدله راکړه چې واپس یې هماغه هار ماته راکړو ، او اوس زما د بي بي په غاړه کې دی ) .

په صبا باندې خلقو ته زما د بي بي په واسطه دا خبره معلومه شوې وه چې قاضي ابوبکر بیګاه ټوله شپه په ډیر حیراتیا سره د بي بي هار ته کتل ، او مسلسل په فکرونو او سوچونو کې ډُوب وُ . د مانه خلقو پوښتنه اوکړه چې : بیګاه شپه تا ولې مسلسل تر سهره پورې د بي بي هار ته کتل ؟ (١)

ما ورته هغه د هار موندلو او واپس کولو ټوله واقعه بیان کړه ، دې خلقو چې دا خبره واوریده نو د ډیر حیراتیا او جَذباتو په وجه یې دومره په زوره باندې لَآاِلٰهَ اِلَّا الله او نعرهٔ تکبیر وویله چې د ټولې جزیرې واله خلقو ته دا خبره اُورسیده ( هغوی هم د ډیر تعجب او خوشحالۍ په وجه نعرهٔ تکبیر وویله ) .

ما د خلقو نه پوښتنه اوکړه : دا په تاسو څه اوشو ؟ ( چې دومره په زوره مو نعرهٔ تکبیر وویله ؟ دا خو دومره د تعجب خبره نه وه ) دوی راته وویل :

ذٰلِكَ الشَّيْخُ الَّذِيْ أَخَذَ مِنْكَ الْعِقْدَ أَبُوْ هٰذِهِ الصَّبِيَّةِ . وَكَانَ يَقُوْلُ :

کوم شیخ ته چې تا په مکه مکرّمه کې هار واپس کړې وُ هغه ددې جینۍ پلار وُ ، او د کله نه چې هغه د مکې مکرمې نه واپس راغلې وُ هغه به مسلسل دا ویل :

مَا وَجَدْتُ فِي الدُّنْيَا مُسْلِمًا إِلَّا هٰذَا الَّذِيْ رَدَّ عَلَيَّ هٰذَا الْعِقْدَ .

ما ( په موجوده وخت کې ) په دُنیا کې کامِل مسلمان ندې لیدلی مګر هغه کس چې ماته یې ورک شوې هار واپس راکړو ( او هیڅ عِوض یې رانه وا نه خیست ) .

او هغه شیخ به همیشه دا دُعا کوله :

اَللّٰهُمَّ اجْمَعْ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُ حَتّٰى أُزَوِّجَهُ بِابْنَتِيْ .

---

(١) هغوی ماته وویل : كَسَرْتَ قَلْبَ هٰذِهِ الْيَتِيْمَةِ مِنْ نَظْرِكَ إِلٰى هٰذَا الْعِقْدِ ، ولم تَنْظُرْ إليها .

اې الله ! يو پېره بيا ما او هغه کس دوباره جمع کړه چې زه هغه ته خپله لور په نکاح ورکړم (ځکه هغه ډير آمانتدار وُ) .

قاضي ابوبکر وايي چې ددې جزيرې واله خلقو ماته وويل :

(اګرچې اوس هغه شيخ وفات شوې دی) خو اوس د هغه آرزو پوره شوه ، او د هغه د لور نکاح مونږ د تاسره اوکړه ، نو ځکه مونږ د ډير تعجب او خوشحالۍ په وجه دومره په زوره نعرهٔ تکبير وويله .

قاضي ابوبکر فرمايي چې ما به ددې بي بي سره ډير ښه ژوند تيرول ، ماته الله ﷻ ددې نه دوه بچي راکړل ، بيا زما دا بي بي وفات شوه ، څه وخت پس زما هغه دوه بچي هم وفات شو ، اوس هماغه هار ماته په ميراث کې پاتې دی ، نو ما اوس هغه په يو لک (۱۰۰۰۰۰) دِيناره خرڅ کړو ، (قاضي ابوبکر په مجلس کې ناست خلقو ته وويل :)

وَهٰذَا الْمَالُ الَّذِيْ تَرَوْنَ مَعِيْ مِنْ بَقَايَا ذٰلِكَ الْمَالِ.

دا تاسو چې د ماسره اوس کوم مال ګورئ نو دا د هماغې هار باقي پاتې مال دی .(۱)

(۱) أَخْبَرَنَا الشيخ الصالح أَبُو القاسم عبد الله بن أبي الفوارس محمد بن علي بن حسن الخزاز الصوفي البغدادي ببغداد قَالَ : سمعتُ القاضي أبا بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْبَاقِي بن محمد البزاز الأنصاري يقول : كنتُ مجاورًا بمكة حرسها الله تعالى فأصابني يومًا من الأيام جوعٌ شديدٌ لم أجد شيئا أدفع به عني الجوع . فوجدتُ كيسا من إبريسم مشدودا بشرابة من إبريسم أيضا . فأخذتُه وجئتُ به إلى بيتي ، فحللتُه فوجدتُ فيه عِقدًا من لؤلؤ لم أرَ مثله . فخرجتُ فإذا الشيخ ينادي عليه ، ومعَه خرقة فيها خمسمائة دينار وهو يقول : هٰذا لِمَنْ يَرد علينا الكيس الذي فيه اللؤلؤ . فقلتُ : أنا محتاجٌ ، وأنا جائع . فآخذُ هٰذا الذهب فأنتفع به . وأرد عليه الكيس . فقُلتُ له : تعال إلي ، فأخذتُه وجئتُ به إلى بَيتي ، فأعطاني علامةَ الكيس ، وعلامة الشرابة ، وعلامةَ اللؤلؤ و عَدَدَه ، والخيط الذي هو مَشدُود به . فأخرجتُه ودَفعتُه إليه . فسلم إليّ خمسمائة دينار . فما أخذتُها ، وقلتُ : يجبُ عليّ أن أعيده إليك ولا آخذ له جزاء . فقال لي : لا بُدّ أنْ تأخذَ . ألَحّ عليّ كثيرا . فلم أقبل ذلك منه . فتَرَكَنِي ومَضى . وأمّا ما كان مني : فإنّي خرجتُ مِن مكةَ و رَكِبْتُ البحرَ . فانكسرَ المركب وغرق الناس ، وهلكتْ أموالهم . وسلمتُ أنا على قطعة مِن المركب . فبقيتُ مُدّةً في البحر لا أدري أين أذهب . فوصَلتُ إلى جزيرةٍ فيها قومٌ . فقعَدتُ في بعض المساجد . فسمعوني أقرأ ، ←←←←←←←←←

# په اخلاص باندې د عمل کولو برکتونه په خپله انسان باندې او دده په اولاد باندې تر قيامته پورې جاري وي

علامه دَميري رحمه الله په خپل کتاب ''حيٰوةُ الحيوان'' کې دا خبره ليکلې چې څوک په اخلاص باندې خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره يو عمل اوکړي نو ددې د برکت آثار به په ده باندې او دده په خاندان باندې تر قيامته پورې ظاهريږي.

کله چې حضرت آدم عليه السلام زمکې ته رابنکته شو نو ده ته د دَشتو ( او ځنګلو ) حيوانات د سلام د پاره راغلل، حضرت آدم عليه السلام به دې هر جنس ته د هغوی د شان مناسب دُعا کوله. پس ده ته د هُوسو يوه دَله راغله، ده هغوی ته دُعا اوکړه او په شا باندې يې ورله لاس رابنکود نو په دوی کې د مشکو خوشبوئي پيدا شوه.

---

←←← فلم يبق في تلك الجزيرة أحد إلا جاء إليّ وقال : علّمني القرآن . فَحَصَلَ لِيْ مِن أولئك القوم شيءٌ كثيرٌ من المال . قال : ثمّ إنّي رأيتُ في ذلك المسجد أوراقًا من مصحف، فأخذتها أقرأ فيها فقالوا لي: تحسن تكتب؟ فقلتُ: نعم، فقالوا: علّمنا الخطّ، فجاءوا بأولادهم من الصبيان والشباب، فكنتُ أعلّمهم. فَحَصَلَ لِيْ أيضًا مِنْ ذلك شيءٌ كثيرٌ فقالوا لي بعد ذلك : عِنْدَنَا صَبِيَّة يَتِيْمَة، وَلَهَا شَيْءٌ مِنَ الدُّنْيَا نُرِيْدُ أَنْ تَتَزَوَّجَ بِهَا. فَامْتَنَعْتُ . فقالوا: لا بل ، والزموني . فأجبْتُهم إلى ذلك . فلمّا زفوها إليّ مددتُ عيني أنظرُ إليها . فَوَجَدْتُ ذٰلِكَ العِقْدَ بِعَيْنِهِ مُعَلَّقًا فِيْ عُنُقِهَا. فما كان لي حينئذ شُغلٌ إلا النظر إليه . فقالوا : يَا شَيْخُ ! كَسَرْتَ قَلْبَ هٰذِهِ اليَتِيْمَة مِنْ نَظَرِكَ إِلىٰ هٰذَا العِقْد، ولم تَنْظُرْ إليها. فَقَصَصْتُ عليهم قِصّة العقد . فَصَاحُوْا وَصَرَخُوْا بِالتّهليل والتكبير. حتى بلغ إلى جميع أهلِ الجزيرة. فَقُلْتُ : مَا بِكُمْ . فَقَالُوْا: ذٰلِكَ الشَّيْخُ الَّذِيْ أَخَذَ مِنْكَ الْعِقْدَ أَبُوْ هٰذِهِ الصَّبِيَّةِ . وكان يقول : مَا وَجَدْتُ فِي الدُّنْيَا مُسْلِمًا إِلَّا هٰذَا الَّذِيْ رَدَّ عَلَيَّ هٰذَا الْعِقْدَ . وَكَانَ يَدْعُوْ وَيَقُوْلُ : اَللّٰهُمَّ اجْمَعْ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُ حَتّٰى أُزَوِّجَهُ بِابْنَتِيْ، والآن قد حصلت. فَبَقِيْتُ معها مدة و رزقتُ مِنْها بولدين . ثمّ إنها ماتتْ فورثت العقد أنا وولداي. ثمّ ماتَ الولدان فحصل العِقْدُ لي فبعته بمائة ألف دينار . وَهٰذَا الْمَالُ الَّذِيْ تَرَوْنَ مَعِيْ مِنْ بَقَايَا ذٰلِكَ الْمَالِ . ذيل طبقات الحنابلة ج١ ص ٢٢٢ احمد بن محمد بن احمد الدينوري البغدادي الفقيه... شذرات الذهب في اخبار من ذهب ١٧٩/٦ سنة خمس وثلاثين وخمسمائة . هكذا ساق هذه الحكاية يوسف بن خليل الحافظ في معجمه. ترغيب المسلمين في الرزق الحلال وطعمة الصالحين ص ٢٥٧ .

( ځکه اصلي مشک د هوسۍ په نوم کې جَم شوې وينې ته وايي ، کومه چې ښکاريان د هوسۍ ويشتلو په وخت ورنه په يو مخصوص وخت کې د نوم سره راپرېکوي ) .

کله چې نورو حيواناتو د اُولید چې د هوسو په نوم کې مشک پيدا شو نو د دوی نه یې پوښتنه اوکړه :

مِنْ أَيْنَ هٰذَا لَكُنَّ ؟ تاسو ته دا عزت څنګه ملاؤ شو ؟

دوی ورته ووېل : زُرْنَا صَفِيَّ اللهِ آدَمَ عليه السلام فَدَعَا لَنَا وَمَسَحَ عَلٰى ظُهُوْرِنَا .

مونږ د حضرت آدم صَفِيُّ الله ملاقات له تللي وو هغه مونږ ته دُعا اوکړه او زمونږ په شا باندې یې لاس راښکود ( نو د هغې په وجه دا مُشک پيدا شو ) .

دا نور حيوانات هم حضرت آدم عليه السلام ته ورغلل ، آدم عليه السلام دوی ته هم دُعا اوکړه او د دوی په شا باندې یې هم لاس راښکود ، ليکن په دوی کې مشک پيدا نه شو .

دې حيواناتو د هوسو نه پوښتنه اوکړه : تاسو چې څنګه کار کړې و مونږ هم هماغه شان کار اوکړو ليکن مونږ خو هيڅ او نه ليدل .

دوی ته ووېلې شو :

أَلَّتِيْ كَانَ عَمَلُكُنَّ لِتَنَلْنَ كَمَا نَالَ إِخْوَانُكُنَّ ، وَأُولٰئِكَ كَانَ عَمَلُهُنَّ لِلّٰهِ مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ ، فَظَهَرَ ذٰلِكَ فِيْ نَسْلِهِنَّ وَعَقِبِهِنَّ إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ .

ستاسو تلل د دې د پاره وو چې هوسو څه حاصل کړي وو هغه تاسو هم حاصل کړئ ، او هوسۍ خالص د الله ﷻ د رَضا د پاره تللي وی ، څه بل مقصد یې نه وُ . نو دا عزت د هغوی په نسل کې تر قيامته پورې جاري شو . (۱)

(۱) رأيتُ في مختصر الإحياء للشيخ شرف الدين بن يونس شارح التنبيه في باب الاخلاص : أنّ مَنْ أخلص لله تعالى في العمل ولم يطلب به مقابلا ظهرت آثار بركته عليه، وعلى عقبه إلى يوم القيامة. كما قيل : إنه لما أهبط آدم عليه السلام إلى الأرض، جاءته وحوش الفلاة تسلم عليه وتزوره ، فكان يدعو لكل جنس بما يليق به. فجاءته طائفة من الظباء ، فدعا لهن ومسح على ظهورهن، فظهر فيهن نوافج المسك ←←←←

# په اخلاص باندې عمل کولو سره وَسوسې او رِيا ختميږي

حضرت ابوسليمان الدّراني فرمايي :

إِذَا أَخْلَصَ الْعَبْدُ اِنْقَطَعَتْ عَنْهُ كَثْرَةُ الْوَسَاوِسِ وَالرِّيَاءِ . (۱)

چې کله بنده په اخلاص باندې عمل کوي نو دده نه زياتې وَسوسې او رِيا ختميږي .

# د اخلاص نور فوائد

د اخلاص نور ډير فوائد هم شته ، يو څو په کې دادي :

اخلاص د اعمالو او دُعاګانو قبليدو د پاره بُنياد دی .

په اخلاص سره د انسان مرتبه په دُنيا او آخرت دواړو کې اُوچتيږي .

په اخلاص سره انسان د وَسوسو او وَهمونو نه محفوظه کيږي .

په اخلاص سره انسان د غيرُ الله د عبادت او تکليفونو نه محفوظه کيږي .

د اخلاص په وجه د انسان زړه مطمئِن وي ، اِيمان يې مضبوط وي او ګناهونه ورته ډير بَد ښکاري .

د اِخلاص په وجه انسان د ژوند په سختو مرحلو کې ثابت قدَمه پاتې کيږي .

د دينه علاوه د اخلاص نور فوائد هم علماؤ په تفصيل سره ذکر کړي . (۲)

---

←←← فلما رأى بواقيها ذلك، قلن: مِنْ أَيْنَ هٰذَا لَكُنَّ ؟ فقلن: زُرْنَا صَفِيَّ اللهِ آدَمَ عليه السلام فَدَعَا لَنَا وَمَسَحَ عَلَى ظُهُوْرِنَا . فمضى البواقي إليه فدعا لهن، ومسح على ظهورهن، فلم يظهر بهن من ذلك شيء. فقلن: قد فعلنا كما فعلتن فلم نر شيئا مما حصل لكن، فقيل: أَلْتُنَّ كَانَ عَمَلُكُنَّ لِتَنَلْنَ كَمَا نَالَ إِخْوَانُكُنَّ . وَأُولٰئِكَ كَانَ عَمَلُهُنَّ لِلّٰهِ مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ . فَظَهَرَ ذٰلِكَ فِيْ نَسْلِهِنَّ وَعَقِبِهِنَّ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ . حياة الحيوان الكبرى ۱۴۷/۲ باب الظاء المعجمة الظبي طبع دار الكتب العلمية بيروت .

(۱) مدارج السالكين ۹٦/۲ . نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم صلى الله عليه وسلم ج ۱۰ ص ۴۵٦٦ الرياء ، و ج ۲ ص ۱۳۹ الإخلاص من الآثار واقوال العلماء والمفسرين الواردة في الإخلاص .

(۲) مِنْ فَوَائِدِ الْإِخْلَاصِ : (۱) اَلْإِخْلَاصُ هُوَ الْأَسَاسُ فِيْ قَبُوْلِ الْأَعْمَالِ وَالْأَقْوَالِ . (۲) اَلْإِخْلَاصُ هُوَ الْأَسَاسُ فِيْ قَبُوْلِ الدُّعَاءِ . (۳) اَلْإِخْلَاصُ يَرْفَعُ مَنْزِلَةَ الْإِنْسَانِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ . (۴) يُبْعِدُ عَنِ الْإِنْسَانِ الْوَسَاوِسَ وَالْأَوْهَامَ (۵) يُحَرِّرُ الْعَبْدَ مِنْ عُبُوْدِيَّةِ غَيْرِ اللهِ . (٦) يُقَوِّي الْعَلَاقَاتِ الْإِجْتِمَاعِيَّةِ وَيَنْصُرُ اللهُ بِهِ الْأُمَّةَ ←←←

# د اخلاص پيدا کولو طريقه

د اخلاص پيدا کولو طريقه داده چې انسان کوم عمل کوي نو اول دې خپل زړه ته اوګوري چې: زه دا کار ولې کوم؟ پس که په زړه کې يې څه ريا، شهرت يا ځان خودَنه وي نو دادې د زړه نه اوباسي او خالص د الله ﷻ د رَضا نيت دې اوکړي.

همدارنګې د اخلاص پيدا کولو په باره کې چې کوم آيتونه، احاديث يا د علماؤ واقعات ذکر شوي هغه دې اُولولي، يا دې د بل چا نه واوري نو په دې سره به دده په زړه کې هم اخلاص پيدا شي.

د اخلاص پيدا کولو بله طريقه داده چې د مُخلِصينو خلقو په مجلس کې دې وخت تېر کړي، د هغوی د اَقوالو او اَفعالو مُعائِنه دې اوکړي نو په دې سره به په ده کې هم اخلاص پيدا شي.(١)

# د اهلِ علمو د پاره هم اخلاص ضروري دی

اهلِ عِلمو ته په دې باندې دُهوکه کيدل ندي په کار چې: "ګني زه د دِين خدمت کوم (دَرس و تدريس کوم، تصنيف و تأليف کوم، يا بل دِيني خدمت کوم) او زه د ډيرو ثوابونو مُستحق يم". او بيا په دې باندې فخَر کوي.

بلکه دوی ته هم په هر کار کې د الله ﷻ د رَضا نيت په کار دی، ځکه چې کله په دې کارونو کې د الله ﷻ رَضا مقصود نه وي نو بيا په دې باندې هم انسان ته ثواب نه ملاويږي.

وجه داده چې د چا نه د دِين کار اخيستل کيدل، يا دده په کار باندې ښه نتيجه مرَتّب کيدل

---

←←← (٧) يُفَرِّجُ شَدَائِدَ الإِنْسَانِ فِي الدُّنْيَا. (٨) يُحَقِّقُ الطُّمَأْنِينَةَ لِقَلْبِ الإِنْسَانِ وَيَجْعَلُهُ يَشْعُرُ بِالسَّعَادَةِ. (٩) يُقَوِّي إِيمَانَ الإِنْسَانِ وَيُكَرِّهُ إِلَيْهِ الفُسُوقَ وَالعِصْيَانَ. (١٠) يُقَوِّي عَزِيمَةَ الإِنْسَانِ وَإِرَادَتَهُ فِي مُوَاجَهَةِ الشَّدَائِدِ. (١١) حُصُولُ كَمَالِ الأَمْنِ وَالإِهْتِدَاءِ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ. نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم صلى الله عليه وسلم ج ٢ ص ١٤٠ الاخلاص فوائد الاخلاص.

(١) خطبات حكيم الامت ج٣ ص ٣٥.

دا دليل د اِخلاص ندی ، بلکه د اِخلاص د پاره دا ضروري ده چې نيت به يې خالص د الله ﷻ د رَضا وي ، ځکه د دِين تقويت خو الله ﷻ د يو فاجِر سړي په ذريعه هم کوي .

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رَسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ اللهَ لَيُؤَيِّدُ هٰذَا الدِّيْنَ بِالرَّجُلِ الفَاجِرِ . (۱)

بيشکه الله ﷻ ددې دِين تقويت په يو فاجر سړي سره هم کوي .

**فائده** : ددې حديث نه معلومه شوه چې د دِين کار الله ﷻ د يو فاجر سړي نه هم اَخلي .

لهذا د ثواب حاصلولو د پاره دا ضروري ده چې په هر کار کې د الله ﷻ د رَضا نيت اوکړې شي . (۲)

ملا علي قاري رحمه الله هم په مرقاة کې ددې حديث بهترينه تشريح کړې ده ، او دا يې واضحه کړې .چې ډير کرَتي به يو انسان د دِين د تقويت د پاره کار کوي او په هغې کې به د مسلمانانو د پاره فائده هم وي خو چې کله ددهٔ نيت فاسد وي نو دا به په خپله د ثواب نه محرومه وي .(۳)

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ إِنَّ اللهَ يُؤَيِّدُ الدِّينَ بِالرَّجُلِ الفَاجِرِ رقم الحديث ۳۰۶۲ ، و رقم الحديث ۴۲۰۳ كِتَابُ المَغَازِي بَابُ غَزْوَةِ خَيْبَرَ . و رقم الحديث ۶۶۰۶ كِتَابُ القَدَرِ بَابُ: العَمَلُ بِالخَوَاتِيمِ . صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانَ بَابُ غِلَظِ تَحْرِيمِ قَتْلِ الإِنسَانِ نَفْسَهُ رقم الحديث ۱۷۸(۱۱۱) ، مصنف ابن عبدالرزاق الصنعاني رقم الحديث ۹۵۷۳ ، مسند احمد رقم الحديث ۸۰۹۰ ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۸۸۳۲ ، ورقم ۸۸۳۳ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۴۵۱۸ ذكر البيان بانّ الرجل الذي يُعرفُ منه الفجور قد يؤيد الله دينَه بامثاله ، المعجم الاوسط رقم الحديث ۳۳۹۳ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۲۵۲۶ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ۹۵۶۸ .

(۲) تبليغي اور اصلاحي مضامين لمولانا مفتي محمد عاشق الهي بُلند شهري ج۳ ص ۲۱۹ .

(۳) (إِنَّ اللهَ لَيُؤَيِّدُ هٰذَا الدِّيْنَ بِالرَّجُلِ الفَاجِرِ ) أَيِ المُنَافِقِ أَوِ الفَاسِقِ مِمَّنْ يَعْمَلُ رِيَاءً أَوْ يَخْلِطُ بِهِ مَعْصِيَةً . وَرُبَّمَا يَكُوْنُ عَمَلًا بِهِ سُوْءُ الخَاتِمَةِ . نَسْأَلُ اللهَ العَافِيَةَ .... وَمِنْ نَظَائِرِهِ مَنْ يُصَنِّفُ أَوْ يُدَرِّسُ أَوْ يُعَلِّمُ أَوْ يَتَعَلَّمُ أَوْ يُؤَذِّنُ أَوْ يَؤُمُّ أَوْ يَأْتَمُّ وَأَمْثَالُ ذٰلِكَ . كَمَنْ يَبْنِيْ مَسْجِدًا أَوْ مَدْرَسَةً أَوْ زَاوِيَةً لِغَرَضٍ فَاسِدٍ وَقَصْدٍ كَاسِدٍ مِمَّا يَكُوْنُ سَبَبًا لِنِظَامِ الدِّيْنِ وَقَوَامِ المُسْلِمِيْنَ ، وَصَاحِبُهُ مِنْ جُمْلَةِ المَحْرُومِيْنَ . جَعَلَنَا اللهُ تَعَالَى مِنَ المُخْلِصِيْنَ بَلْ مِنَ المُخْلَصِيْنَ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳۷۹۴/۹ كِتَابُ الفَضَائِلِ بَابٌ فِي المُعْجِزَاتِ في تشريح حديث ۵۸۹۲ (۲۵) .

# د الله ﷻ د رَضا د پاره عمل کولو سره ايمان کامل کيږي

څوک چې هر نېک عمل په اخلاص باندې خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره کوي نو په دې سره دده ايمان کامل کيږي.

د ابوداؤد شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ أَحَبَّ لِلّٰهِ، وَأَبْغَضَ لِلّٰهِ، وَأَعْطَى لِلّٰهِ، وَمَنَعَ لِلّٰهِ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ الْإِيمَانَ. (۱)

څوک چې خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره (د څه څيز يا د يو چا سره) محبت ساتي، د الله ﷻ د رَضا د پاره ورسره بُغض ساتي، د الله ﷻ د رَضا د پاره ورکړه کوي، او د الله ﷻ د رَضا د پاره (د چا نه څه څيز) منع کوي نو يقيناً دهٔ خپل ايمان کامل کړو.

**د حديث تشريح**: يعنې کوم مسلمان بنده چې هر نېک کار خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره کوي، رِيا او شهرت يې مقصد نه وي نو په دې سره دده ايمان کامل کيږي.

مثلاً يو نېک کس وي، شريعت د هغه سره د تعلق ساتلو اجازت ورکړې وی او دا د هغه سره خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره محبت ساتي،

يا د يو چا د گناه او بَد عمل سره خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره بُغض ساتي،

يا چا ته څه صدقه ورکوي نو خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره يې ورکوي، او په هغه ځايونو کې خرچ کوي چې شريعت په هغې کې د خرچ کولو اجازت ورکړې وي،

يا د چا نه څه څيز منع کوي نو خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره يې ورنه منع کوي (مثلاً هغه ورنه د گناه په ځايونو کې د روپو خرچ کولو مطالبه کوي او دا يې ورنکړي)،

يا د دينه علاوه نور کارونه خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره کوي نو په دې سره دده ايمان

(۱) سنن ابي داؤد كِتَاب السُّنَّةِ بَابُ الدَّلِيلِ عَلَى زِيَادَةِ الْإِيمَانِ وَنُقْصَانِهِ رقم الحديث ۴۶۸۱ قال الالباني: صحيح. مشكوة المصابيح كتاب الايمان الفصل الثاني رقم الحديث ۳۰ (۲۹)، شعب الايمان رقم الحديث ۸۶۰۵، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۳۴۶۹، مجمع الزوائد رقم الحديث ۳۱۰، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۷۶۱۳، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۳۰۴۳۷، المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۹۰۸۳. سنن الترمذي رقم الحديث ۲۵۲۱.

کامل کیږي. (۱)

## په ښه نیت سره دُنیوي کارونه هم په دیني کارونو باندې بدلیږي

محترمو مسلمانانو ! مونږ روزانه بعضې کارونه د عادت په طور باندې کوو ، مثلا : خوراک ، څکاک ، خوب ، تلل ، د ملګرو سره ملاویدل ، اِنفرادي یا اِجتماعي ژوند تیرول.

نو که مونږ همدا کارونه په ښه نیت باندې د سُنت طریقې موافق خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره اوکړو نو د همدې عادت نه عبادت جوړیږي ، او په دې باندې مونږ ته اَجر ملاویږي .

په یو څو کارونو کې د ښه نیت طریقه درته ښایم ، ددینه علاوه نور کارونه تاسو وریاندې قیاس کړئ :

مثلا مونږ د خوراک او څکاک په وخت دا نیت اوکړو چې د نبي علیه السلام حدیث دی:

وَلِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقًّا . او ستا د نفس هم په تا باندې حَق شته . (۲)

نو ددې حق اَداء کولو د پاره زه خوراک څکاک کوم .

یا په کې دا نیت اوکړو چې په دې خوراک او څکاک سره زما په بدن کې د عبادت کولو د پاره طاقت پیدا شي .

یا په کې دا نیت اوکړو چې کله به نبي علیه السلام ته خوراک راوړې شو نو دوی به دا د الله ﷻ نعمت ګڼړلو ، شکریه به یې اَداء کړه او اُو به یې خوړ . او زه هم د نبي علیه السلام د اِتباع په وجه دا خوراک څکاک کوم .

نو په داسې قِسمه نیت کولو سره به دا خوراک څکاک هم عبادت اوګرځي ، او په دې به هم راته الله ﷻ اجر راکوي .

---

(۱) ( مَنْ أَحَبَّ ) أَيْ شَيْئًا أَوْ شَخْصًا، فَحُذِفَ الْمَفْعُولُ لِيَذْهَبَ الْوَهْمُ كُلَّ مَذْهَبٍ ( لِلّٰهِ ) لَا لِغَرَضٍ سِوَاهُ . وَلَا لِشَهْوَةٍ كَطَبْعِهِ وَهَوَاهُ (وَأَبْغَضَ لِلّٰهِ كَذَٰلِكَ (وَأَعْطَى لِلّٰهِ، وَمَنَعَ لِلّٰهِ ) وَكَذٰلِكَ سَائِرُ الْأَعْمَالِ. فَتَكَلَّمَ لِلّٰهِ . وَسَكَتَ لِلّٰهِ وَاخْتَلَطَ بِالنَّاسِ لِلّٰهِ . وَاعْتَزَلَ عَنِ الْخَلْقِ لِلّٰهِ كَقَوْلِهِ تَعَالَى حَاكِيًا : { إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّٰهِ} [الانعام آية ۱۶۲] ، مرقاة المفاتيح ۱/۱۰۷ مشكوة المصابيح كتاب الايمان الفصل الثاني في تشريح رقم الحديث ۳۰ (۲۹)

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الأَدَبِ بَابُ صُنْعِ الطَّعَامِ وَالتَّكَلُّفِ لِلضَّيْفِ رقم الحديث ۶۱۳۹ ، و رقم الحديث ۱۹۶۸ ، سنن ابي داؤد أَبْوَابُ قِيَامِ اللَّيْلِ بَابُ مَا يُؤْمَرُ بِهِ مِنَ الْقَصْدِ فِي الصَّلَاةِ رقم الحديث ۱۳۶۹ ، سنن الترمذي رقم الحديث ۲۴۱۳ .

یا مثلاً مونږ خوب په دې نیت باندې کوو چې د سهر مانځه ته په وخت باندې راپاڅو .

یا مثلاً آودس ماتې په دې نیت باندې کوو چې ګندګي راندلرې شي ، طبیعت مو صحیح شي او عبادت په اطمینان سره اوکړو .

یا مثلا مونږ د والدینو سره احسان په دې نیت باندې کوو چې الله او رسول مونږ ته د دوی سره د احسان کولو حُکم کړی ،

یا مثلا مونږ د خپلې بي بي او بچو سره محبت په دې نیت باندې کوو چې نبي علیه السلام مونږ ته ددې حُکم کړی ، او په خپله پیغمبر علیه السلام هم د خپلو بیبیانو او بچو سره محبت کړی ،

یا مثلا مونږ د شریعت موافق اخیستل ، خرڅول او تجارت په دې نیت باندې کوو چې الله تعالی په مونږ باندې د خپلې بي بي او خپلو بچو کوم حقوق مقرر کړي په دې روپو سره به د هغوی حقوق اداء کړو ،

نو په داسې قسمه نیتونو سره به دا ټول کارونه د الله ﷻ د پاره اوګرځي ، دا به هم عبادت شي ، او په دې باندې به هم مونږ ته آجر راکولې شي .(۱)

بلکه زه به دا اُووایم چې که یو کس په بازار کې مثلاً ټماټر خرڅوي او دا آواز کوي چې " ټماټر په پنځوس روپۍ کِلو " خو دده نیت دا وي چې زه د الله او رسول د حکم مطابق د خپل اولاد د پاره حلال رزق ګټم نو ده ته به په دې باندې هم آجر ملاویږي .

لیکن که یو کس " سبحان الله ، سبحان الله " یا بل ذِکر د الله ﷻ د رضا د پاره نه کوي ، بلکه په دې کې یې نیت دا وي چې زه خلقو ته بزرګ معلوم شم ، یا یې مقصد رِیا او شهرت وي نو بیا په دې ذِکر باندې هم ده ته آجر نه ملاویږي .

په " تَعْلِيمُ الْمُتَعَلِّم " کې ذکر دي :

ډیر اعمال په ظاهري اِعتبار سره دُنیاوي معلومیږي خو په ښه نیت سره دا اُخروي اعمال ګرځي ، او ډیر اعمال په ظاهري اِعتبار سره اُخروي اَعمال معلومیږي لیکن په بَد

---

(۱) اصلاحي خطبات لمولانا مفتي محمد تقي عثماني ج ۹ ص ۳۹ ، و خطبات حکیم الاسلام لمولانا محمد طیب رحمه الله ج۲ ص ۱۰۲ مع التغیر والاضافة .

نيت سره دا دُنياوي اعمال ګرځي. (۱)

## نيت په منزله د رُوح دی

شاه ولي الله رحمه الله په " حُجَّةُ اللهِ البالغة " کې ليکلي دي چې د نيت مثال په شان د رُوح دی، او د عبادت مثال په شان د جسَد دی، او جسد بغير د رُوح نه ژوندی نه وي نو همدغه شان عبادت هم بغير د صحيح نيت نه معتبر نه دی.

دغه وجه ده چې په بعضې ځايونو کې انسان ته د صحيح نيت په وجه د نېک عمل کولو اَجر ملاوېږي، اګر چې ده دا عمل د څه شرعي عُذر په وجه نه وي کړی. او په احاديثو کې ددې تذکره شته. (۲)

## په ښه نيت سره په کمره کې رُوشندان پرېخودل

يو کس ځانله کور جوړ کړې وُ، په هغې کې يې رُوشندان هم پرېخې وُ، د کور جوړولو نه پس يې خپل شيخ (اُستاذ) ته دَعوت ورکړو، هغه چې دې کور ته راغی او دا رُوشندان يې

---

(۱) تعليم المتعلم ص ۱۲.

(۲) وَاعْلَم أَنَّ النِيَّةَ رُوحٌ وَالعِبَادَةَ جَسَدٌ. وَلَا حَيَاةَ لِلْجَسَدِ بِدُونِ رُوحٍ. وَالرُّوحُ لَهَا حَيَاةٌ بَعْدَ مُفَارَقَةِ البدنِ. وَلٰكِن لَا يظْهرُ آثَارُ الحَيَاةِ كَامِلَة بِدُونِهِ. وَلذٰلِك قَالَ الله تَعَالٰى: ﴿لَنْ يَّنَالَ اللهَ لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ﴾ وَقَالَ رَسُول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا الأَعْمَال بِالنِيَّاتِ". وَشبه النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي كثيرٍ من الْمَوَاضِع من صدقت نِيَّته ـ وَلم يتَمَكَّن من الْعَمَل لمَانع ـ بِمن عمل ذٰلِك الْعَمَل كالمسافر وَالمَرِيض لَا يستطيعان وردا واظبا عَلَيْهِ فَيكْتب لَهما، وكصادق العَزْم فِي الإنفاق، وَهُوَ مملق يكْتب كَأَنَّهُ أنفق. حجة الله البالغة ۲ / ۱۳۰ بَقِيَّة مباحث الاحسان

شاه ولي الله رحمه الله روستو د جهاد په موضوع کې ليکلي: إِنَّ الأَعْمَالَ أجسادٌ وَانَّ النِيَّات أَرْوَاحٌ لَهَا. وَإِنَّمَا الأَعْمَال بِالنِيَّاتِ. وَلَا عِبْرَة بالجسد إِلَّا بِالروحِ. وَرُبَمَا تفِيد النِيَّة فَائِدَة العَمَل وَإِن لم يقْتَرن بهَا إِذا كَانَ فَوته لمَانع سماوي دون تَفْرِيط مِنْهُ. وَهُوَ قَوْله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ بِالمَدِيْنَةِ أَقْوَامًا مَا سِرْتُمْ مَسِيْرًا وَلَا قَطَعْتُمْ وَادِيًا إِلَّا كَانُوا مَعَكُمْ. قَالُوا: يَا رَسُوْلَ اللهِ! وَهُمْ بِالمَدِيْنَةِ؟ قَالَ: وَهُمْ بِالمَدِيْنَةِ، حَبَسَهُمُ العُذْرُ". حجة الله البالغة ۲ / ۲۶۷ الجهاد

اوليد نو دده نه يې پوښتنه اوکړه چې : دا رُوشندان دې ولې جوړ کړی ؟
ده ورته وويل : دا مې د هوا د پاره جوړ کړی ( چې په دې کې به تازه هوا او رڼا راننوځي ) .
شيخ ورته وويل : د الله بنده ! که چيرته تا په دې کې دا نيت کړې وی چې په دې کې به ماته د آذان آواز راځي نو ثواب به دې هم شوې وُ او هوا به هم په کې راتله ، ځکه د ثواب د پاره نيت ضروري دی ، او د هوا راتلو د پاره خو نيت ضروري ندی ، دا په کې په خپله راځي .
په نيت سره عادت په عبادت باندې بدليږي ، بغير د نيت نه انسان ته ثواب نه ملاويږي ، مثلاً يو کس بغير د نيت نه ټوله ورځ د خوراک ، څکاک او جِماع نه ځان منع کړي خو چې نيت يې د روژې نه وي نو ده ته د روژې ثواب نه ملاويږي . ليکن که دا په کې د روژې نيت اوکړي نو بيا ورته د روژې ثواب ملاويږي .
لهٰذا په هر کار کې د الله ﷻ د رَضا نيت په کار دی .

## بُغض او نفرت به د چا د ذات سره نشي کولی ، بلکه د هغه د بَد عمل سره به کولې شي

د ابوداؤد شريف په مذکوره حديث کې د کامِلِ ايمان يوه نَخه دا هم ذکر شوه :
وَأَبْغَضَ لِلّٰهِ . بُغض خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره کوي .
په دې ځای کې په دې خبره باندې ځان پوهه کړئ چې د چا د ذات سره به بُغض نشي کولی ، بلکه د هغه د بَد عمل سره به بُغض کولې شي .
بزرګانو تر دې پورې ليکلي دي چې د کافر ، فاسق او ګناهګار د ذات سره به هم بُغض نشي کولی بلکه د هغه د کُفر ، فِسق او ګناه سره به بُغض کولې شي .
د غه وجه ده چې که دا خلق د کُفر ، فِسق او ګناه نه توبه اُوباسي نو دا بيا د محبت لائق دي . او د دې نمونه هم د مونږ سره موجود ده ، هغه دا چې :
حضرت وَحشي رضي الله عنه د اسلام راوړو نه مخکې د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم محبوب تره " حضرت حمزه رضي الله عنه " شهيد کړې وُ ، او حضرت هِندي رضي الله عنها ( چې تر اوسه مسلمانه

شوې نه وه ) د حضرت حمزه ﷺ ځگر رااُوويست، او وې چيچلو.

خو چې کله دوی اسلام راوړو نو اوس د حضرت وَحشي د نوم سره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلې شي ، او د هِندې د نوم سره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلې شي . دا ځکه چې د دوی د ذات سره نفرت او بُغض نه وُ ، بلکه د دوی د کُفري عقيدې سره وُ ، پس کله چې دوی اِيمان راوړو نو اوس د دوی د ذات سره هيڅ نفرت نشي کولی . (۱)

## کومه غصه چې د الله ﷻ د پاره وي د هغې نه دُشمني او فِتنې نه پيدا کيږي

کله چې غُصه خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره وي نو ددينه هيڅ کله ذاتي دُشمني او فِتنې نه پيدا کيږي ، ځکه د چا سره چې غصه کولې شي هغه پوهيږي چې دده غُصه زما د ذات سره نده ، بلکه زما ددې بَد عمل سره ده ، نو هغه يې هم بَده نه گڼړي .

خو غصه داسې په کار ده چې انسان بيا خپل ځان کنټرول کولې شي . يعنې چيرته چې شريعت انسان ته د غصې کولو اجازت ورکړې وي هلته داغصه کوي خو چې کله جائز موقع ختمه شي نو دا بيا خپل ځان کنټرول کړي او د شرعي حدودو نه تجاوز اونکړي .

## د حضرت عُمر ﷺ واقعه

د نبي عليه السلام د تره '' حضرت عباس ﷺ '' کور د مسجد نبوي سره مُتّصِل وُ ، يوه ورځ حضرت عُمر ﷺ مسجدِ نبوي ته راننوت نو وې کتل چې د حضرت عباس ﷺ د کور ناوه جُمات طرف ته لږيدلې وه ، او ددې ناوې د باران اُوبه د مسجدِ نبوي په صِحن کې غورځيدی ، حضرت عُمر ﷺ دا سوچ اوکړو چې :

جُمات خو د الله ﷻ کور دی ديته که د چا د کور د ناوې اُوبه راځي نو دا د الله ﷻ د حُکم او د جُمات د آدابو خلاف ده .

نو حُکم يې اوکړو چې دا ناوه ماته کړئ . پس دا ناوه ماته کړې شوه .

کله چې حضرت عباس ﷺ خبر شو چې زما د کور ناوه ماته شوی نو حضرت عمر ﷺ ته راغی او ورته وې ويل : تاسو دا ناوه ولې ماته کړه ؟

(۱) اصلاحي خطبات ج ۹ ص ۳۹ .

ده ورته وويل: جُمات د چا شخصي کور نه وي، ديته د کور ناوه راويستل د شريعت خلاف وه نو ما ځکه ماته کړه.

حضرت عباس ﷜ ورته وويل: تاته پته شته؟ داناوه خو ما د نبي عليه السلام په زمانه کې د هغوی په اجازت باندې لګولې وه، تاسو ځوک يې چې دا مو ماته کړه؟

حضرت عُمر ﷜ ورته اوفرمايل. آيا نبي عليه السلام تاته ددې اجازت درکړې وُ؟

هغه ورته وويل: آو (اِجازت يې راکړې وُ).

چونکه حضرت عُمر ﷜ خو دا کار خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره کړې وُ خو کله چې ورته معلومه شوه چې ده ته نبي عليه السلام ددې اِجازت ورکړې وُ نو فورًا يې حضرت عباس ﷜ ته وويل:

اې عباس! د الله د پاره ته د ما سره هغه ځای ته لاړ شه چې دا ناوه هلته دوباره اُولږوو.

دواړه هغه ځای ته لاړل، حضرت عُمر ﷜ هلته د رکوع په حالت کې اُودريد او حضرت عباس ﷜ ته يې وويل:

اې عباس! د الله د پاره ته زما په شا باندې اُودرېږه او دا ناوه واپس په هماغه ځای باندې اُولږوه.

هغه ورته وويل: تاسو لاړ شئ زه به دا په بل چا باندې اُولږوم.

ده ورته وويل: د عمر دا طاقت کله شته چې دا د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په اجازت باندې لږول شوې ناوه ماته کړي، مانه خو غټ جُرم شوی، ددې سزا کم از کم داده چې زه اوس د رکوع په حالت کې اُودرېږم، ته زما په شا باندې اُودرېږه او دا ناوه واپس په هماغه ځای باندې اُولږوه.

نو حضرت عباس رضي الله عنه دده په شان باندې اُودريد او ناوه يې په هماغه ځای باندې اولږوله. (۱)

**فائده**: د حضرت عُمر ﷜ غصه خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره وه، دغه وجه وه چې کله ورته معلومه شوه چې نبي عليه السلام ده ته ددې ناوې اِجازت ورکړې وُ نو بيا يې خپل

---

(۱) اصلاحي خطبات ج ۹ ص ۴۴، و ج ۳ ص ۱۹۲.

ځان کنټرول کړو او غصه يې ختمه کړو.

# د الله ﷻ حُکم منل عبادت دی

انسان ته چې په هر حالت کې د الله ﷻ د طرفه څه حُکم شوې وي او دا ورباندې خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره عمل کوي نو همدا عبادت دی، ځکه عبادت د يو خاص عمل يا قول نوم ندی، بلکه د الله ﷻ د حُکم منلو نوم عبادت دی.

تر دې چې د ځنې ګناهونو په باره کې شريعت د څه مصلحت د پاره خاص په يو څو صورتونو کې اجازت ورکړی نو بيا په دې باندې عمل کول عبادت دی.

مثلاً دروغ ويل ګناه ده ليکن کله چې په دروغ ويلو سره د دوه مسلمانانو په مينځ کې صُلح راځي او فِتنه پرې ختميږي نو بيا دروغ ويل ضروري دي، او دا هم په عبادت کې داخل دي.

((( په احاديثو کې هم ددې تذکره شته چې د دوه مسلمانانو په مينځ کې د صلحې کولو په وخت دروغ صحيح دي، دا د دروغو په ګناه کې کې داخل ندي. (۱) )))

---

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِيْ يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ فَيَنْمِيْ خَيْرًا ، أَوْ يَقُوْلُ خَيْرًا . صحيح البخاري كِتَابُ الصُّلْحِ بَابٌ: لَيْسَ الْكَاذِبُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ رقم الحديث ۲۶۹۲ . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي إِصْلَاحِ ذَاتِ الْبَيْنِ رقم الحديث ۱۹۳۸ ، مسند احمد رقم الحديث ۲۷۲۷۲ .

وفي رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِيْ يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ، وَيَقُوْلُ خَيْرًا وَيَنْمِيْ خَيْرًا » . قَالَ ابْنُ شِهَابٍ : وَلَمْ أَسْمَعْ يُرَخَّصُ فِيْ شَيْءٍ مِمَّا يَقُوْلُ النَّاسُ كَذِبٌ إِلَّا فِيْ ثَلَاثٍ : اَلْحَرْبُ، وَالْإِصْلَاحُ بَيْنَ النَّاسِ ، وَحَدِيْثُ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ وَحَدِيْثُ الْمَرْأَةِ زَوْجَهَا . صحيح مسلم كتاب الْبِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ تَحْرِيمِ الْكَذِبِ وَبَيَانِ مَا يُبَاحُ مِنْهُ رقم الحديث ۱۰۱ (۲۶۰۵) ، شعب الايمان رقم الحديث ۴۴۵۶ ، الادب المفرد للبخاري رقم الحديث ۳۸۵ .

وفي رواية : عَنْ أُمِّ كُلْثُوْمٍ بِنْتِ عُقْبَةَ، قَالَتْ: مَا سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرَخِّصُ فِيْ شَيْءٍ مِنَ الْكَذِبِ إِلَّا فِيْ ثَلَاثٍ، كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : لَا أَعُدُّهُ كَاذِبًا، اَلرَّجُلُ يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ، يَقُوْلُ الْقَوْلَ وَلَا يُرِيْدُ بِهِ إِلَّا الْإِصْلَاحَ ، وَالرَّجُلُ يَقُوْلُ فِي الْحَرْبِ ، وَالرَّجُلُ يُحَدِّثُ امْرَأَتَهُ ، وَالْمَرْأَةُ تُحَدِّثُ زَوْجَهَا . سنن ابي داؤد كِتَابُ الْأَدَبِ بَابٌ فِيْ إِصْلَاحِ ذَاتِ الْبَيْنِ رقم الحديث ۴۹۲۱ ،قال الالباني : صحيح .

قَالَ الْقَاضِيْ لَا خِلَافَ فِيْ جَوَازِ الْكَذِبِ فِيْ هٰذِهِ الصُّوَرِ وَاخْتَلَفُوْا فِي الْمُرَادِ بِالْكَذِبِ الْمُبَاحِ ←←←←←

همدارنګې بعضې کارونه به د خپل ذات په اعتبار سره صحیح وي لیکن شریعت به دا کارونه په څه خاص وختونو کې منع کړي وي ، نو بیا د دینه منع کیدل عبادت دی.

مثلاً مونځ په خپل وخت باندې کول عبادت دی لیکن په درې وختونو ( طلوع ، غروب او استواء ) کې مونځ کولو نه شریعت منع کړی ، په دې وختونو کې مونځ کول حرام دی ، نو اوس په دې وختونو کې مونځ نه کول عبادت دی.

یا مثلاً په عامو ورځو کې روژه نیول عبادت دی لیکن د اختر په ورځ او اَیّامُ التَّشرِیق کې شریعت د روژې نیولو نه منع کړی ، نو اوس په دې ورځو کې روژه نه نیول عبادت دی.

یا مثلا رښتیا ویل عبادت دی لیکن کله چې د رښتیا ویلو نه فتنه او فساد پیدا کیږي نو بیا دا ناجائز دي ، مثلاً غیبت کول خو په حقیقت کې رښتیا دي ځکه غیبت دیته وایي "چې په انسان کې یو عیب وي او ته د هغې تذکره کوی " نو دا اګرچې رښتیا دي لیکن شریعت د دینه منع کړی ، نو اوس د دې غیبت نه منع کیدل عبادت دی.

بهر حال ، الله جَلَّ جَلَالُهُ چې انسان ته په هر حالت کې څه حُکم کړې وي هماغه مثل عبادت دی.(۱)

# د نیک عمل ارادې کولو سره هم انسان ته نیکي ملاویږي

که یو انسان په اخلاص باندې د نیک عمل اراده اوکړي او بیا د څه عُذر په وجه دا عمل اونکړې شي نو په دې ښه اراده باندې هم ده ته یوه نیکي ملاویږي.

په بخاري شریف او مسلم شریف کې دا حدیث ذکر دی:

←←← فِيهَا مَاهُوَ ؟ فَقَالَتْ طَائِفَةٌ هُوَ عَلَى إِطْلَاقِهِ وَأَجَازُوا قَوْلَ مَا لَمْ يَكُنْ فِي هٰذِهِ الْمَوَاضِعِ لِلْمَصْلَحَةِ وَقَالُوا الْكَذِبُ الْمَذْمُومُ مَا فِيهِ مَضَرَّةٌ وَاحْتَجُّوا بِقَوْلِ إِبْرَاهِيمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ ﴾. و ﴿ إِنِّي سَقِيمٌ ﴾ وَقَوْلُهُ : إِنَّهَا أُخْتِي . وَقَوْلُ مُنَادِي يُوسُفَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ﴿ أَيَّتُهَا الْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَارِقُونَ ﴾ . قَالُوا وَلَا خِلَافَ أَنَّهُ لَوْ قَصَدَ ظَالِمٌ قَتْلَ رَجُلٍ هُوَ عِنْدَهُ مُخْتَفٍ وَجَبَ عَلَيْهِ الْكَذِبُ فِي أَنَّهُ لَا يَعْلَمُ أَيْنَ هُوَ ..... شرح النووي على مسلم ١٦ /١٥٨ باب تحريم الكذب وبيان ما يباح منه في تشريح حديث ٢٦٠٥.

نوټ - ددې مسئلې پوره تفصیل روستو په صفحه ۳۱۳ کې ذکر دی. ابوالشمس، علی عنه

(۱) خطبات حکیم الاسلام لمولانا قاري محمد طیب صاحب ج۲ ص ۱۰۲ اخلاص فی الدین ، طبع مکتبه عمر فاروق.

عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا يَرْوِي عَنْ رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ: إِنَّ اللهَ كَتَبَ الْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ ثُمَّ بَيَّنَ ذٰلِكَ. فَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كَتَبَهَا اللهُ لَهُ عِنْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً. فَإِنْ هُوَ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا اللهُ لَهُ عِنْدَهُ عَشْرَ حَسَنَاتٍ إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ إِلَى أَضْعَافٍ كَثِيرَةٍ. وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كَتَبَهَا اللهُ لَهُ عِنْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً. فَإِنْ هُوَ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا اللهُ لَهُ سَيِّئَةً وَاحِدَةً. (١)

نبي کريم صلى الله عليه وسلم د خپل رَب دا خبره نقل کوي چې بيشکه الله تعالى د نيکۍ او بدۍ متعلق يوه فيصله ليکلې (يعنې په خپل عِلم کې يې ددې اَندازه مقرر کړې او فرښتو ته يې ددې د ليکلو حُکم کړی (٢)) ، بيا يې د هغې بيان (او وَضاحت) داسې کړی:

څوک چې د يوې نېکۍ اِراده اوکړي خو بيا يې (د څه عُذر په وجه) اونکړي نو الله تعالى ده ته ددې په عِوض کې يوه کامله نيکي اوليکي.

او که چېرته د نيکۍ ارادې کولو نه پس په هغې باندې عمل هم اوکړي نو الله تعالى ده ته (د اِخلاص موافق) د لس (١٠) چَنده نه نيولې تر اُووه سوه (٧٠٠) چَنده پورې نېکۍ ليکي ، بلکه ددينه زيات څو چَنده پورې ورته ليکي.

او که څوک د يوې بَدۍ (گناه) اِراده اوکړي بيا په هغې باندې (د الله ﷻ د يَرې نه) عمل اونکړي نو الله تعالى ده ته يوه کامِل نيکي ليکي.

او که چېرته د بَدۍ اِراده کولو نه پس په دې باندې عمل اوکړي نو الله تعالى ده ته صرف يوه گناه اوليکي.

---

(١) صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ مَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ أَوْ بِسَيِّئَةٍ رقم الحديث ٦٤٩١ ، صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ إِذَا هَمَّ الْعَبْدُ بِحَسَنَةٍ كُتِبَتْ، وَإِذَا هَمَّ بِسَيِّئَةٍ لَمْ تُكْتَبْ رقم الحديث ٢٠٧(١٣١) ، مشكوة المصابيح باب سعة رحمه الله رقم الحديث ٢٣٧٤(١١) ؛ مسند احمد رقم الحديث ٢٨٢٧ ، و رقم ٣٤٠٢.

(٢) (إِنَّ اللهَ كَتَبَ الْحَسَنَاتِ) أَيْ: أَثْبَتَهَا فِي سَابِقِ عِلْمِهِ وَأَمَرَ الْمَلَائِكَةَ بِكَتْبِهِمَا فِي اللَّوْحِ أَوْ بَيَّنَهُمَا وَعَيَّنَهُمَا فِي كِتَابِهِ، أَوْ قَضَاهُمَا وَقَدَّرَهُمَا أَوْ أَمَرَ الْحَفَظَةَ بِكِتَابَتِهِمَا لِيُوَازِنَهُمَا، أَوْ صُحُفِهِمَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ . مرقاة المفاتيح بَابُ رَحْمَةِ اللهِ ١٦٤٥/٤ في تشريح حديث ٢٣٧٤.

## چې د تهجدو نيت اوکړي نو ثواب ورته ملاوېږي اګر چې اوده پاتې شي

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ أَتَى فِرَاشَهُ وَهُوَ يَنْوِي أَنْ يَقُومَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ فَغَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ حَتَّى أَصْبَحَ كُتِبَ لَهُ مَا نَوَى وَكَانَ نَوْمُهُ صَدَقَةً عَلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ . (۱)

څوک چې ( د اُوده کيدلو د پاره ) خپلې بسترې ته راشي او دا نيت اوکړي چې شپې به د تهجّدو مانځه د پاره راپاڅي ، بيا ورباندې خوب داسې غلبه اوکړي چې سهَر راپاڅي نو ده ته به د تهجدو ثواب اوليکلې شي ، او د ده خوب به په ده باندې د خپل رَب د طرفه صدقه (عطيه) شي .

## په ښه نيت کولو سره د عمل ثواب ملاويدل

ملا علي قاري رحمه الله په "مرقاة" کې ذکر کړي : په رواياتو کې راځي چې د بني اسرائيلو يو کس د قحط سالۍ په کال د شګو په يو ډهيري باندې تېريدو نو ده د ځان سره وويل : لَوْ كَانَ هٰذَا الرَّمْلُ طَعَامًا لَقَسَمْتُهُ بَيْنَ النَّاسِ .

که چيرته دا شګه خوراک وی نو ما به په خلقو باندې تقسيم کړې وی .

الله ﷻ د هغه زمانې پيغمبر ته وَحي اوکړه چې : هغه کس ته اووايه چې الله تعالى ستا خبره ريښتيا کړه ستا دا ښه نيت يې خوښ او قبول کړو او تا ته يې ددې شګې د غونډۍ هومره خوراک صدقه کولو ثواب درکړو . (۲)

(۱) سنن النسائي كِتَابُ قِيَامِ اللَّيْلِ وَتَطَوُّعِ النَّهَارِ بَابُ مَنْ أَتَى فِرَاشَهُ وَهُوَ يَنْوِي الْقِيَامَ فَنَامَ رقم الحديث ۱۷۸۷ . قال الالباني: صحيح. سنن ابن ماجة باب ماجاء فيمن نام عن حزبه من الليل رقم الحديث ۱۳۴۴ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۱۱۷۰ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۴۷۲۴ ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۱۳۹۱ ، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۱۱۷۲ .

(۲) رُوِيَ أَنَّ رَجُلًا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ مَرَّ بِكُثْبَانِ رَمْلٍ فِي مَجَاعَةٍ . فَقَالَ فِي نَفْسِهِ : لَوْ كَانَ هٰذَا الرَّمْلُ طَعَامًا لَقَسَمْتُهُ بَيْنَ النَّاسِ . فَأَوْحَى اللهُ إِلَى نَبِيِّهِمْ : قُلْ إِنَّ اللهَ قَدْ صَدَّقَكَ، وَشَكَرَ حُسْنَ صَنِيعِكَ، وَأَعْطَاكَ ثَوَابَ مَا لَوْ كَانَ طَعَامًا فَتَصَدَّقْتَ بِهِ. مرقاة المفاتيح ۱ / ۴۵ في تشريح حديث ۱ .

بهر حال ، هر نېک عمل په ښه نيت باندې خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره په کار دی ، ځکه د الله ﷻ په نزد باندې هغه عمل مقبول دی چې په هغې کې اخلاص وي .

د اخلاص واله لږ عمل د هغه ډېر عمل نه بهتر دی چې په هغې کې اخلاص نه وي ، ځکه د اخلاص واله لږ عمل الله تعالی زياتوي او ډېر اَجر پرې ورکوي ، او په کوم ډېر عمل کې چې اخلاص نه وي نو په هغې کې هيڅ ثواب نه وي بلکه اَلټه په کې ( د رِيا په وجه ) د سزا خطره وي .(۱)

# د اَسلافو د اِخلاص يو څو واقعات

که مونږ د خپلو اَسلافو حالات اوګورو نو هغوی به هر عمل په اخلاص باندې خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره کولو ، د رِيا شهرت او ځان خودَنې د پاره به يې نه کولو .

همدارنګې هغوی به د حقوقُ الله اَداء کولو سره سره حقوقُ العباد هم په ډېر اخلاص سره اَداء کول ، د مخلوقِ خُدا خدمت به يې هم بغير د رِيا او شهرت نه کولو ، ځکه خو ورته د دوارو جهانو د کاميابۍ زېرې ورکړې شوې وُ .

ددې په باره کې درته د څه صحابه کرامو رضي الله عنهم او نورو اسلافو يو څو د عبرت نه ډک واقعات ذکر کوم :

## د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه اِخلاص او خِدمت

کله چې حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د مسلمانانو خليفه وُ ، نو يو ځل حضرت عُمر رضي الله عنه دده دَربار ته راغی ، دلته په دَربار کې د مدينې منورې د غريبانانو او کمزورو خلقو فهرست پروت وُ ، په دې کې ليکلي شوي وو :

---

(۱) فقيه ابو الليث سمرقندي رحمه الله د يو حديث ذکر کولو نه روستو فرمايي : فَفِيْ هٰذَا الْخَبَرِ دَلِيْلٌ عَلٰى أَنَّ قَلِيْلَ الْعَمَلِ إِذَا كَانَ لِوَجْهِ اللهِ تَعَالٰى خَيْرٌ مِنَ الْكَثِيْرِ لِغَيْرِ وَجْهِ اللهِ تَعَالٰى . لِأَنَّ الْقَلِيْلَ إِذَا كَانَ لِوَجْهِ اللهِ تَعَالٰى، فَإِنَّ اللهَ يُضَاعِفُهُ بِفَضْلِهِ كَمَا قَالَ اللهُ تَعَالٰى : { وَإِنْ تَكُ حَسَنَةً يُضٰعِفْهَا وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ أَجْرًا عَظِيْمًا } [النساء آية ۴۰] وَأَمَّا الْكَثِيْرُ إِذَا لَمْ يَكُنْ لِوَجْهِ اللهِ تَعَالٰى فَلَا ثَوَابَ لَهُ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الانبياء والمرسلين للسمرقندي ۲۷/۱ بَابُ الإِخْلَاصِ

" په فلانكي ځای کې بودا سړی دی ، په فلانكي ځای کې بُوډۍ ښځه ده ، په فلانكي ځای کې بيمار کس دی ، د دوی د خِدمت خپل څوک نشته " .

بيا کومو مسلمانانو چې د دوی د خدمت ذِمه واري قبوله کړې وه د هغوی نومونه د دې خلقو نومونو ته مخامخ ليکل شوي وو .

حضرت عُمر ﷺ چې دا فهرست (لِسټ) ټول اوکتلو نو د يوې بُوډۍ د نوم مخامخ د هيچا نوم نه وُ ليکلې شوی ، د هغې بُوډۍ خدمت دا وُ چې هغې له به د بهر نه اُوبه راوړل وو او کور به ورله جارُو کول وو .

حضرت عمر ﷺ په زړه کې اِراده اوکړه چې زه به د دې بوډۍ د پاره دا دوه کارونه کوم .

نو په راتلونکي ورځ د سهَر مانځه نه پس حضرت عمر ﷺ د هغې بُوډۍ کور ته ورغی ، دروازه يې ورته اُوټکوله ، او ورته وې ويل : مورې ! زه ستا خدمت د پاره راغلې يم .

بُوډۍ ورته وويل : زما خدمت يو کس کړې دی ، زما د پاره صرف د بهَر نه اُوبه راوړل او کور جارو کول دي ، دا دواړه کارونه هغه کړي دي او د کور نور کارونه زه په خپله کوم .

حضرت عمر ﷺ ورته وويل : مورې ! دا خدمت تا له څوک کوي ؟

هغې ورته وويل : زه هغه نه پيژنم ، ځکه ما تر اوسه هغه ندې ليدلی .

حضرت عمر ﷺ ورته پوښتنه اوکړه : د هغه څه نوم دی ؟ بُوډۍ ورته وويل : ماته تر اوسه هغه خپل نوم ندې خودلی . ځکه هغه چې کله راشي نو دا آواز اوکړي :

" د خدمت واله راغلی دی " . زه پَرده اوکړم ، هغه اُوبه راوړي ، زمکه جارو کړي ، نور واپس لاړ شي ، د تللو په وخت صرف دا اُووايي : " زه لاړم ، اوس پَرده ختمه کړئ " .

هغه د ډيرې زَمانې نه دا خدمت کوي خو ما تر اوسه نه د هغه شکل ليدلې دی ، او نه ماته د هغه نوم معلوم دی . حضرت عمر ﷺ چې دا خبره واوريده نو حيران شو .

په راتلونکي ورځ باندې چې کله ده د تهجدو مونځ اوکړو نو د بوډۍ کور ته راغی ، دروازه يې اُوټکوله او وې ويل : زه د خدمت د پاره راغلې يم .

بوډۍ ورته وويل : خدمت کوونکی راغلی وُ ، خدمت يې اوکړو او لاړ .

حضرت عمر ﷺ حيران شو چې دا څوک دومره د وَخته راغلی وُ ؟

په راتلونکي ورځ چې کله ده د ماسخوتن مونځ اوکړو نو راغی او د بوډۍ د کور په لاره کې پټ کيناست، ددې د پاره چې اوګوري چې دا مُخلِص کس څوک دی؟ (چې د دومره زياتې زمانې نه په پټه باندې د بوډۍ خدمت کوي).

پس کله چې ټول خلق اُوده شو، او شپه ښه تياره شوه نو ده يو کس اُوليد چې بغير د څپلو نه (پياده) د بوډۍ کور طرف ته راروان دی، کله چې د بوډۍ کورته رانزدې شو نو حضرت عمر ﷺ ورپاڅيد، پوښتنه يې ورنه اوکړه: ته څوک يې؟

هغه ورته ووئيل: زه ابوبکر يم.

حضرت عمر ﷺ حيران شو، پوښتنه يې ورنه اوکړه: اې اميرُالمؤمنين! تاسو څالله په دې وخت کې دلته څنګه تشريف راوړو؟

حضرت ابوبکر صديق ﷺ ورته ووئيل: ددې بوډۍ خدمت ما په خپله ذِمه باندې اخيستې دی نو ځکه راغلم.

ده ورنه پوښتنه اوکړه: اې اميرُالمؤمنين! تاسو څپلۍ څه کړې چې بربنډې خپې پياده راروان يې؟

حضرت ابوبکر صديق ﷺ ورته ووئيل: څپلۍ ما په کور کې پريخې، او بربنډې خپې پياده ددې د پاره راغلم چې زما د خپو د آواز په وجه د چا په خوب کې خلل رانشي.

**فائده**: سبحان الله، دا هغه خلق وو چې دوی د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د ځلې مبارکې نه د جنت زيرې هم اَوريدلې وُ خو بيا يې هم خاص د الله ﷻ د رضا د پاره په پټه باندې داسې نيک اعمال کول چې هيڅوک ورباندې خبر نه وو.

همدغه شان په پټه باندې د خدمت کولو واقعه د حضرت زين العابدين رحمه الله په باره کې هم نقل ده.

## د امام زينُ العابدين رَحِمَهُ‌اللهُ اخلاص او خدمت

د امام زَينُ العابدين رَحِمَهُ‌اللهُ په حالاتو کې دا خبره ليکل شوې چې دا ډير ښائسته او نازک بدن واله وُ، کله چې دا وفات شو نو چا چې ده ته غُسل ورکول هغوی دده په خې طرف اُوګه (اُولي) باندې تور داغ اوليد، دوی حيران شو چې: دا تور داغ ولې پيدا شوی؟

هغوی د خلقو او دده د کور واله ؤ نه ددې د سبب په باره کې پوښتنه اوکړه خو هيچا ته ددې پته نه وه.

کله چې دا دَفن شو نو يو څو ورځې روسته د غريبانانو ، معذورو او ګنډو د کورنه دا آواز راغی : " افسوس ، هغه کس څه شو چې هغه به د شپې په تياره کې زمونږ کورونو ته اُوبه راوړې ؟ "

په دې سره خلقو ته دا راز معلوم شو چې امام زينُ العابدين رَحِمَهُ الله به د شپې په تياره کې خپل مشک راواخيست ، د معذورو او مجبورو خلقو کورونو ته به يې اُوبه وَرَوړلې .

خو دا خدمت يې خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره دومره په پټه باندې کولو چې ټول عُمر يې هيچا ته ددې تذکره نه وه کړې .(۱)

# د حضرت علي ﷺ اخلاص او عاجزي

يو يهودي د حضرت علي ﷺ د وړاندې د نبي عليه السلام په شان کې د ګستاخۍ خبره اوکړه ، حضرت علي ﷺ دا کله برداشت کولې شوه ، فوراً يې رااُونيو ، پاس په سِينه باندې ورله کيناست ، اِراده يې اوکړه چې دا کافر په خَنجر باندې ذبح کړي ، د لاندې نه هغه يهودي د حضرت علي ﷺ په مخ مبارک باندې لاړې رااُوتوکلې ، په دې سره حضرت علي ﷺ ورنه فوراً راپاڅيد او يهودي يې پريخود .

هغه حېران شو چې زما د قتلولو وخت خو راغلې ؤ نو ده زه ولې پريخودم ؟ نو دده نه يې پوښتنه اوکړه : تا زه ولې قتل نکړم ؟

ده ورته وويل : ما ته د الله ﷻ د رَضا او د نبي عليه السلام د محبت په وجه وژلې خو چې

---

(۱) وعن محمد بن إسحاق قال : كان ناسٌ من أهلِ المدينة يعيشون لا يدرون من أين كان معاشهم . فلمّا مات عليُّ بن الحسين فقدوا ما كانوا يؤتون به بالليل.

وعن عمرو بن ثابت قال : لما مات علي بن الحسين وجدوا بظهره أثرًا. فسألوا عنه. فقالوا: هذا مما كان ينقل الجرب على ظهره إلى منازل الأرامل. مختصر تاريخ دمشق لابن عساكر ۲۳۸/۱۷ علي بن الحسين بن علي بن أبي طالب ، وهكذا في سير اعلام النبلاء .

کله تا زما په مخ باندې لاړې راأوتوکلی نو په دې کې ورسره زما د نفس غصه هم شامله شوه ، او زه د خپل نفس په خاطر څوک قتلول نه غواړم ( نو ځکه مې ته پرېښودی ).

هغه يهودي چې دا خبره واورېده نو دومره متأثر شو چې وې ويل :

مخکې زه په کُفر باندې مړ کېدم خو اوس ستا اِخلاص زه دومره مُتأثِر کړم چې زه اوس مسلمانيدل غواړم ، ماته کلِمه اووايه ( نو هغه مسلمان شو ).(۱)

## د حضرت خالد بن وليد ﷺ اِخلاص او عاجزي

حضرت خالد بن وليد ﷺ د مسلمانان د جهادي لښکر اَمير ؤ ، حضرت عُمر ﷺ د جنګِ يَرموق په موقع باندې ده ته خط اوليږل ، په هغه خط کې دا ليکلي وو :

ته چې دکوم لښکر اَمير يې د نن نه پس ته ددې عُهدې نه لرې شوی ، ستا په ځای باندې خط دَرورونکی کس اَمير دی ، اوس که ته ماته راتلل غواړې مدينې منوّرې ته راشه ، او که د عام فوجي په شان د کافرانو خلاف جهاد کول غواړې نو تاته همِلته د پاتې کيدو اجازت دی .

حضرت خالد بن وليد ﷺ د عام فوجي په شان د کافرانو خلاف جنګيدل خوښ کړل ، او همِلته پاتې شو .

چا دده نه پوښتنه اوکړه : تاسو مخکې د غونډ اسلامي فوج اَمير وَې او اوس تاسو د عام فوجي په شان جنګېږې نو آيا دا ستاسو د پاره مشکل نده ؟

ده ورته وويل : دا زما د پاره هيڅ مشکل نده ځکه چې کله زه د غونډ فوج اَمير ووم نو هلته هم زما د الله ﷻ رَضا مقصد وه ، او اوس چې د يو عام فوجي په شان جنګېږم نو په دې کې مې هم مقصد د الله ﷻ رَضا ده .

## د آته صحابه کرامو د اِخلاص په وجه په چين کې په کروړونو خلق مسلمانان کيدل

آته ( ۸ ) صحابه کرام رضي الله عنهم چين ته لاړل ، هلته يې ( د دِين د تبليغ سره سره ) تجارت هم شروع کړو ، دوی ( د اسلامي أصولو موافق ) داسې په اِخلاص او دِيانتداری سره تجارت کولو چې خلقو به صرف د دوی نه سَودا کوله ، د نورو دُکاندارانو نه به چا څه نه

(۱) مثنوي مولانا روم ، خطبات فقير ج۱۲ ص ۹۰ ، اصلاحي خطبات ج۹ ص ۶۲ .

اخیستل، دا ځکه چې نورو دُکاندارانو به د خلقو سره دهوکې کولې او صحابه کرام خو چونکه دِیانتدار وو نو ځکه به خلق دوی ته راتلل.

د هغه ځای تاجرانو حکومتِ وقت ته شکایت اوکړو چې دلته یو څو کسان د عربو نه راغلي دي او دا مُلک لوټ کول غواړي، که دوی په همدې حالت باندې پرېخودې شي نو ددې مُلک ټوله سَرمایه به عربو ته ویسي.

د هغه ملک وزیر اعظم دې صحابه کرامو ته وویل: تاسو زمونږ مُلک ورانول غواړئ لهذا تاسو ددې ځای نه لاړ شئ.

صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ورته وویل: ستاسو د مُلک تاجرانو غریبانان لوټ کړي وو، مونږ چې کله د اسلامي اُصولو موافق تجارت شروع کړو نو د هغوی د تګې بازار کمزورې شو، نو ځکه یې د مونږ سره د حسَد په وجه تاسو ته دا شکایت کړې دی، حالانکه مونږ ستاسو مُلک ته د آبادولو د پاره راغلي یو، د ورانولو د پاره نه یو راغلي.

وزیر اعظم ورته وویل: اګر چې ستاسو خبره ریښتیا ده خو چونکه مونږ ته شکایت رارسیدلې دی نو تاسو ددې ځای نه لاړ شئ.

صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ورته وویل: که چیرته په دې کې زمونږ غلطي وي نو بیا مونږ تللو ته تیار یو خو که زمونږ غلطي نه وي او بغیر د څه سبب نه تاسو مونږ په زُور اُوباسی نو بیا زمونږ د طرفه تاسو ته اعلانِ جنګ دی.

د چین خلق د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ نه دومره متأثِر شوي وو چې دوی ته یې وویل: مونږ د تاسو سره ملګري یو.

کله چې حکومت ته ددې خبرې پته اُولږېده (چې ټول خلق د دوی سره ملګري دي) نو د خپلې خبرې نه واپس شو او صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ همدلته پاتې شو.

صرف د آته (۸) صحابه کرامو د اِخلاص او دِیانتدارۍ په وجه نن په چین کې آته کروړه (۸۰۰۰۰۰۰۰) مسلمانان دي.(۱)

---

(۱) خطباتِ حکیم الاسلام ج۲ ص۱۰۹ اخلاص فی الدین.

# د يو بزرګ اخلاص

يو مسلمان بادشاه ته سل (۱۰۰) چاټې شراب، وَروړل کيدل، په لاره کې يو بزرګ دا اُوليدل، هغه سخت غصه شو (چې ولې مسلمان بادشاه شراب څکي ؟) نو هغه د شرابو دا چاټې ماتول شروع کړل، نهه نوي (۹۹) چاټې يې ماتې کړې خو آخِري سلمه (۱۰۰) چاټې يې ماته نکړه.

بادشاه چې خبر شو نو هغه دا بزرګ اونيو، پوښتنه يې ورنه اوکړه چې: دا دې ولې ماتې کړې؟ ده ورته وويل:

کله چې ماته پته اُولږيده چې په دې چاټو کې شراب دي نو زما غېرت دا برداشت نکړه چې څنګه يو مسلمان شراب څکي؟ نو ځکه مې ماتې کړې.

بادشاه ورته وويل: دا خو عجيبه خبره ده چې په نهه نوي (۹۹) چاټې ماتولو کې ستا غېرت وُ ليکن په دې سلمه (۱۰۰) چاټې کې ستا غېرت څه شو چې دا تا روغه پريخوده؟

ده ورته وويل: ما دا چاټې خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره ماتولې خو چې کله ما دا نهه نوي چاټې ماتې کړې نو زما په زړه کې (د رِيا) دا خبره راغله چې "ما خو ډير غټ کار اوکړو" بيا ما د ځان سره دا سوچ اوکړو چې ما خو دا نهه نوي چاټې خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره ماتې کړې اوس که زه دا سلمه چاټې هم ماته کړم نو دا به د خپل نفس (د خوشحالولو) په وجه ماتوم نو ځکه مې دا پريخوده.

بادشاه چې ده د اِخلاص نه ډکه دا خبره واوريده نو بغير د سزا ورکولو نه يې معاف او آزاد کړو.

# د دوه بَنُو د يو بل سره اِخلاص

(دا واقعه اګر چې اُوږده ده خو زه به يې درته مختصر رانقل کړم):

يو تاجِر په بغداد کې واده کړې وُ، بي بي يې ډيره ښائسته او دِياتداره وه، دواړو ډير ښه وخت تېرول، دا تاجر به د تجارت د پاره بل ښار ته تللو، هلته به اکثر لس يا پنځلس ورځې وُ، ده هلته د اُوسيدلو د پاره بل واده هم اوکړو (ځکه په شريعت کې انسان ته څلور

ښځو سره په يو ځل باندې نکاح کول جائز ده) ، خو ده اوله بي بي ددې نه خبره نکړه ، او ددې په حقوقو کې يې هم هيڅ کمې اونکړو .

يو څه وخت پس ددې اولې بي بي شک پيدا شو چې، " کيدې شي زما دې خاوند په هغه ښار کې بل واده کړې وي " . نو دې خپله خادمه په پټې طريقې سره هغه ښار ته د تحقيق د پاره اُوليږله ، کله چې هغه راغله نو ورته وې ويل چې ستا خاوند هلته هم د اُوسيدلو د پاره بل واده کړې دی او هغې له يې کور هم جوړ کړې دی .

دې ښځې د ځان سره سوچ اوکړو چې که زه خاوند ته دا خبره راياده کړم نو هيڅ هم نشم کولی ځکه هغه ته شريعت د بل واده اِجازت کړې دی ، نو دې خپل خاوند ته ددې هيڅ ذِکر اونکړو .

څه ډيره زمانه په دې حالت کې تيره شوه ، آخِر دا تاجِر وفات شو ، دده ټوله سَرمايه ددې اَولې ښځې سره وه ، کله چې دا دَفن شو او بيا د ميراث تقسيمولو نمبر راغی نو دې ښځې خپله حِصه د ميراث نه جدا کړه او د هغه بلې ښځې حصه يې هم جدا کړه ، هماغه خادِمې ته يې ورکړه او ورته وې ويل :

ته دا حصه زما د خاوند هغه دويمې ښځې ته وَروړه ځکه دا د هغې شرعي حق دی که زه دا ورنکړم نو د قيامت په ورځ به الله ﷻ ته څه جواب ورکوم ؟ زما د خاوند د دويم واده نه اګرچې نور خلق خبر ندي ليکن زه خو ورنه خبره يم .

خادِمې د ميراث دا حصه هغې دويمې ښځې ته وَروړه ، دا ډيرې روپۍ وی ، خادمې هغې ته ووېل : ستا خاوند وفات شوې دی ، د هغه بله ښځه هم وه ، په ميراث کې چې ستا څه حصه کيدله هغې ماته دا ستا د پاره راکړې ده ، لهذا ته دا واخله .

دې بي بي دا روپۍ واخيستی او وې ويل : اللّٰه تعالی دې زما بَنې ته ددې اَجر په دواړه جهانه ورکړي ، دا څومره اِخلاص مَنده بي بي ده چې زما د حق لحاظ يې هم اوساتل .

بيا دې ښځې دې خادِمې ته ووېل : ته دا مال واپس هماغې اولې ښځې ته وَروړه ځکه زما خاوند څه وخت مخکې ماته طلاق راکړې وُ ، اګر چې ددې طلاق پته بل هيچاته نشته ، صرف ماته او الله ﷻ ته معلومه ده ، لهذا د هغه په ميراث کې زما حصه نه کيږي ، نو ته دا روپۍ واپس هماغې اولې ښځې ته وَروړه ، ځکه که زه دا روپۍ په ناجائزې طريقې سره

واخلم نو د قيامت په ورځ به د الله ﷻ د وړاندې څه جواب ورکوم ؟ (۱)

دا واقعه علامه ابن جوزي رحمه الله په " صفة الصفوة " کې هم په تفصل سره ذکر کړې (۲)

**فائده** : سبحان الله ، د دوه ښځو د يو بل سره څومره اخلاص وُ چې د يو بل د حقوقو يې پوره لحاظ ساتل .

---

(۱) الله والوں کے تڑپا دینے والے واقعات ج۴ ص ۵۵ ، اسلامي معاشره ص ۱۵۲ ، خوږې ملغلرې دويمه حصه ص ۱۲۵

(۲) بلغني انه كان ببغداد رجلٌ بزازٌ له ثروةٌ فبينا هو في حانوته اقبلت إليه صبية فالتمست منه شيئا تشتريه فبينا هي تحادثه كشفت وجهها في خلال ذلك فتحيرٌ وقال : قد والله تحيرت مما رأيت . فقالت : ما جئتُ لاشتري شيئا انما لي أيام اتردد إلى السوق ليقع بقلبي رجل اتزوجه وقد وقعت أنتَ بقلبي ولي مال . فهل لك في التزوج بي ؟ فقال لها : لي ابنة عمٍ وهي زوجتي وقد عاهدتها ألا غيرها ولي منها ولد . فقالت قد رضيتُ ان تجيء الي في الاسبوع نوبتين ، فرضي وقام معها فعقد العقد ومضى إلى منزلها فدخل بها . ثم ذهب إلى منزله فقال لزوجته : انّ بعض اصدقائي قد سالني أنْ اكون الليلة عنده ومضى فبات عندها ، وكان يمضي كلّ يوم بعد الظهر اليها . فبقي على هذا ثمانية اشهر . فانكرت ابنة عمه احواله فقالتْ لجاريةٍ لها إذا خرج فانظري اين يمضي؟ فتبعتْهُ الجاريةُ ، فجاء إلى الدكان ، فلما جاءت الظهر قام وتبعته الجاريةُ وهو لا يدري إلى أنْ دخل بيت تلك المراة . فجاءت الجارية إلى الجيران فسالتهم : لمن هذه الدار ؟ فقالوا : لصبية قد تزوجت برجل تاجر بزاز . فعادت إلى سيدتها فاخبرتها . فقالت لها اياك ان يعلم بهذا أحدٌ ولم تظهر لزوجها شيئا . فأقام الرجل تمام السنة ثم مرض ومات وخلف ثمانية آلاف دينارٍ . فعمدت المرأةُ التي هي ابنة عمه إلى ما يستحقه الولد من التركة وهو سبعة آلاف دينار فأفردتها وقسمت الألف الباقية نصفين وتركت النصف في كيس وقالتْ للجارية : خذي هذا الكيس واذهبي إلى بيت المرأة واعلميها أنّ الرجل مات وقد خلف ثمان مائة آلاف دينار وقد أخذ الابن سبعة آلاف بحقه وبقيت آلف فقسمتُها بيني وبينك وهذا حقك وسلميه إليها . فمضت الجاريةُ فطرقت عليها الباب ودخلت وأخبرتها خبر الرجل وحدثتها بموته وأعلمتها الحال . فبكت وفتحت صندوقها وأخرجت منه رقعة وقالت للجارية: عودي إلى سيدتك وسلمي عليها عني واعلميها أنّ الرجل طلقني وكتب لي براءة و ردي عليها هذا المال فإني ما استحق في تركته شيئا . فرجعت الجارية فأخبرتها بهذا الحديث . صفة الصفوة لابن جوزي ۱ / ۵۸۰ ذكر المصطفيات من العابدات البغداديات المجهولات الأسماء . عابدات بغداديات رقم الترجمة ۳۷۱ .

# مُخلص سړي په خلقو کې خپل شهرت نه خوښوي

مُخلص سړي هميشه خپل نيک عمل پټ ساتي او خپل شهرت نه خوښوي ، ځکه ده دا عمل خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره کړې وي نو د رِيا د خطرې په وجه بِلاضرورته د نورو خلقو د وړاندې دا نه ښکاره کوي . ددې په باره کې درته يو څو واقعات بيانوم :

## ۱ . د يو مُجاهد اخلاص او امانت داري

## ( د تاج په واپس کولو سره خپل نوم نه ښکاره کول )

د شپاړسم (۱٦) هجري واقعه ده ، کله چې حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ مدائن فتح کړو د غنيمت مال را جمع کړې شو نو يو عام مُجاهد ده ته راغی . په کپړو ( جامو ) کې يې يو څيز راتاؤ کړې ؤ ، هغه دغه څيز را اُوويست او وې ويل :

اې د مسلمانانو د لښکر اَميره ! زه تاسو ته د يو اَمانت د رکولو د پاره راغلې يم . نو ده ته يې هغه څيز ورکړو .

کله چې حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ هغه څيز اوکتلو نو هغه د مدائِن د بادشاه تاج ؤ . دا د سروزرو نه جوړ شوې تاج ؤ ، په دې باندې قيمتي کاڼي او ملغلرې لږيدلي وی ، که چيرته دې مجاهد دا ځانله خرڅ کړې وی نو تر د اُووه نَسلونو پورې به ده ته نور د مال ګټلو ضرورت نه ؤ .

چونکه په دې جنګ کې د مدائِن بادشاه قتل شوې ؤ ، دده د سَر نه دا تاج غورځيدلې ؤ ، د جنګ د ګردونو په وجه په خاورو کې پَټ شوې ؤ ، دې مجاهِد راخيستې ؤ ، بل هيچا ته پته نه وه چې دده سره د بادشاه تاج دی ، ځو بيا هم ده په دې کې خِيانت اونکړو ، او حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ ته يې راوړو .

چا ددې مجاهِد نه پوښتنه اوکړه : تا خو ددينه څه اخيستې ندي ؟ ده ورته وويل :که ما سره د الله ﷻ يَره نه وی نو ما به دا د سره راوړې نه وی .

حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ چې ددې مجاهِد دا اِخلاص اوکتلو نو ډير زيات حيران شو " چې ددې تاج په باره کې خو بل هيچا ته پته نه وه دې غريب مجاهد ته ملاؤ شوې ؤ

خو ده بيا هم راوړو " نو په ډيرې حيرانتيا سره يې د دې مُجاهد نه پوښتنه اوکړه :

اې مُجاهده ! ستا څه نوم دی ؟ مجاهد چې دا خبره واوريده نو خپل مخ يې بل طرف ته اوګرځول ، ده ته يې شا راواړوله او وې ويل :

د کوم رَب د رضا د پاره چې ما دا تاج راوړې دی هغه زما نوم پيژني .

دا يې وويل او د دَربار نه بهر اُووت ، لاړ .

بعضې مجاهدين دده پسې شاته لاړل ، کوم ځای ته چې دا لاړو نو دوی د هغه ځای د مجاهدينو نه دده متعلق پوښتنه اوکړه چې : داکس څوک دی ؟ هغوی ورته وويل : دا عامر بن عبدقيس دی .

(دا عامر بن عبد قيس مشهور تابعي ؤ ، ډير زاهِد او مُتّقي انسان ؤ) .(۱)

دا واقعه په " تاريخ الطبري " کې هم مختصر ذکر ده .(۲)

**فائده :** ددې مُجاهد په زړه کې دومره اخلاص او اَمانت داري وه چې دومره قيمتي تاج يې راوړو ليکن خپل نوم ښکاره کول يې هم خوَښ نکړل .

## ۲ . د غټې کارنامې کولو باوجود خپل نوم نه ښکاره کول

يو ځل د مسلمانانو بادشاه د جهاد د پاره خپل لښکر سره اُووت ، دُشمنان يوې قلعې ته ننوتل ، هلته يې پناه واخيسته ، مسلمانانو دا قلعه محاصره کړه ، د څو ورځو محاصره کولو نه پس بيا هم د قلعې فتح کولو څه لار نه وه ځکه مسلمانان به چې قلعې ته ورنزدې شو نو هغوی به وربانديې د غشو داسې باران اوکړو چې دوی به بيا راواپس شو .

---

(۱) خطبات فقير ج۱۲ ص ۱۰۷ ، خطبات فتح پوری ج۱ ص ۱٦۹ ، کتابوں کی درسگاہ ص ۲۵ .

(۲) عن أبي عبيدة العنبري، قال : لما هبط المسلمون المدائن . وجمعوا الأقباض، أقبل رجل بحق معه. دفعه إلى صاحب الأقباض . فقال والذين معه : ما رأينا مثل هذا قط. ما يعدله ما عندنا ولا يقاربه . فقالوا: هل أخذتَ مِنهُ شَيْئًا؟ فقال: أما والله لولا الله ما أتيتُكم به . فعرفوا أنّ للرجل شأنا. فقالوا: مَنْ أنْتَ ؟ فقال: لا والله لا أخبركم لتحمدوني، ولا غيركم ليقرظوني، ولكني أحمد الله وأرضى بثوابه . فأتبعوه رجلًا حتى انتهى إلى أصحابه. فسأل عنه. فإذا هو عامر بن عبد قيس. تاريخ الطبري ( تاريخ الرسل والملوک وصلة تاريخ الطبري ) ۱۹/۴ سنة ست عشرة ذكر ما جمع من فيء أهل المدائن طبع دار التراث بيروت

په هغوی کې يو کس د نبي عليه السلام په شان کې ګستاخانه الفاظ وويل نو د مسلمانانو جذبه نوره هم راپورته شوه او کوشش يې دا کولو چې دا قلعه ژر فتح کړي، خو په ظاهره ډيره مُشکله وه.

يوه ورځ د مسلمانانو يو ځوان قلعې طرف ته ورمخکې شو، هغوی په ده باندې غشي راويشتل شروع کړل، غشي مسلسل ده ده په وجود باندې لېيدل خو ده د غشو هيڅ پرواه نه کوله صرف خپل سَر يې ورنه بچ کولو، آخر ده ددې غشو په باران کې د قلعې ديوال ته ځان وَراُورسول، هلته د ديوال سره په داسې ځای کې کيناست چې د غشو نه محفوظ ؤ. ده هلته د قلعې ديوال سُورې کول شروع کړو.

نور مسلمانانو چې دا ځوان اُوليد نو دوی هم وَرمنډه کړه، دوی ټولو په شريکه باندې د قلعې دا ديوال سُورې کړو او څه ځوانان د قلعې ديوال ته ورننوتل، الله ﷻ دا قلعه فتح کړه. ټول مسلمانان ددې ځوان بهادرۍ ته حېران وو چې:

" ده د خپل ځان پرواه اونکړه د غشو په باران کې يې قلعې ته ځان وَراُورسول او دومره لويه کارنامه يې اوکړه ".

اوس هر کس دا غوښتل چې دا ځوان اُوپيژني چې دا څوک دی؟

د قلعې فتح کولو نه پس په يو ځای کې ټول لښکر جمع ؤ، د لښکر اَمير اُودريد او دا يې ووېل: کوم ځوان چې اول قلعې ته ورغلې ؤ زه هغه ته د الله ﷻ واسطه ورکوم چې هغه پاڅي، ددې د پاره چې زه هغه اوپېژم چې هغه څوک دی؟

په دې اَوريدو سره يو ځوان د لښکر په مينځ کې راپاڅيد، خپل مخ يې پَټ کړې ؤ، او وې ويل: اې اميرُ المؤمنين! تا خو زه راپاڅولم ليکن زه هم تا ته د الله ﷻ واسطه درکوم چې ته به د مانه زما د نوم متعلق تپوس هيڅ کله نه کوې.

نو د لښکر اَمير دده نه د نوم پوښتنه اونکړه. بيا هغه کس کيناست، او هيچا ته پته او نه لږيده چې دا ځوان څوک ؤ؟

د لښکر اَمير ددې ځوان په اِخلاص باندې دومره خوشحاله شو چې ده به هميشه دا دُعا غوښتله: " اې الله! د قيامت په ورځ زما حشر د هغه ځوان سره اوکړې څوک چې قلعې

ته اول ورغلې ؤ ، سُوري يې په کې کړې ؤ ، او دومره غټه کارنامه يې کړې وه ". (۱)

**فائده** : سبحان الله ، دا دومره مُخلِص مجاهد ؤ چې د الله ﷻ د رَضا د پاره يې دومره لويه کارنامه اوکړه خو بيا يې هم خپل نوم ښکاره کول نه خوښتل .

# ۴ . عبدالله بن مبارک رَحِمَهُ الله د غټې کارنامې کولو باوجود خپل شهرت خوښ نکړو

عبدالله بن سِنان رَحِمَهُ الله فرمايي چې زه په طَرَسوس ښار کې د عبدالله بن مبارک رَحِمَهُ الله سره ووم ، په دې کې جهاد ته د تللو د پاره اِعلان اوشو ، عبدالله بن مبارک رَحِمَهُ الله او نور خلق د جهاد د پاره اُووتل .

کله چې مسلمانانو او کافرانو د جنګ د پاره صفونه جوړ کړل نو د کافرانو د طرفه د رُوم يو پهلوان راأووت او مسلمانانو ته يې د مقابلې د پاره دَعوت ورکړو ، د مسلمانانو نه يو کس وَراُووت ، دواړو مقابله شروع کړه ، آخِر مسلمان شهيد شو ، بيا بل مسلمان وَراُووت ، هغه هم د رُومي د لاسه شهيد شو ، دغه شان شپږ مسلمانان دې رُومي شهيدان کړل ، بيا هغه رُومي کافر د صفونو په مينځ کې په فخر سره روان ؤ او مسلمانانو ته يې د مقابلې دعوت ورکولو ليکن څوک نه ورتلل ( ځکه رُومي کافر ډير قوي ؤ ) .

عبدالله بن سِنان رَحِمَهُ الله فرمايي چې د ماسره په څنګ کې عبدالله بن مبارک رَحِمَهُ الله ولاړ ؤ ، ما طرف ته يې اُوکتل او وې ويل : يَا عَبْدَ اللهِ! إِنْ حَدَثَ بِيْ حَادِثُ الْمَوْتِ. فَافْعَلْ كَذَا .

---

(۱) دا واقعه په " مشارع الاشواق " کې په دې الفاظو ذکر ده : عن الاصمعي ، قال . حاصر مسلمة بن عبدالملک حصنًا . فأصابهم جهد عظيم . فندب الناس الی نقب فيه فما دخله أحد . فجاء رجل من الجند فدخله ففتح الله عليهم . فنادى منادي مسلمة : أين صاحب النقب ؟ فما جاء أحد حتی نادی مرتين و ثلاثًا و أربعًا . فجاء فی الرابعة رجل فقال : أنا أيها الامير صاحب النقب آخذ عهودًا و مواثيق ثلاثة لاتسودوا اسمي في صحيفة ، ولا تأمروا لي بشيء ، ولاتشغلوني عن أمري . فقال له مسلمة : قد فعلنا ذلک بک . قال : فغاب بعد ذلک فلم يُر . قال : فكان مسلمة بعد ذلک يقول في دبر صلوته : اللهم اجعلني مع صاحب النقب .
مشارع الاشواق الی مصارع العشاق ج۲ ص ۶۴۵ الباب السادس والعشرون في بيان انّ الأجر في الجهاد لا يحصل إلا بالنية الصالحة و تفصيل انواع النيات .

اې عبدالله ! که چيرته زه شهيد شوم نو بيا دا دا کارونه اوکړه (څه کارونه يې ورته حواله کړل).
بيا په آس باندې سور د رُومي کافر مقابلې ته وَراووت، دواړو يو ساعت سخته مقابله اوکړه، آخِر عبدالله بن مبارک رَحِمَهُ اللهُ هغه رُومي کافر لره اووژل.

بيا ده کافرانو ته د مقابلې دعوت ورکړو نو بل پهلوان د مقابلې د پاره راأووت، ده هغه هم قتل کړو، همدغه شان ده د کافرانو شپږ پهلوانان قتل کړل، بيا ده هغوى ته مسلسل د مقابلې دَعوت ورکولو خو په کافرانو باندې دومره رُعب راغلې وُ چې هيڅوک د ده مقابلې ته رااُونه وَتل.

عبدالله بن سِنان رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې آخِر عبدالله بن مبارک رَحِمَهُ اللهُ واپس هماغه خپل ځاى ته راغى، زما په څنګ کې اُودريد او ماته يې وويل:

يَا عَبْدَ اللهِ ! لَئِنْ حَدَّثْتَ بِهٰذَا أَحَدًا وَأَنَا حَيٌّ ...

اې عبدالله بن سنان ! که چيرته تا زما په ژوند کې چاته دا واقعه بيان کړه نو بيا به ښه نه وي (يعنى تر څو پورې چې زه ژوندې يم زما د دې کارنامې تذکره چاته مه کوه).

عبدالله بن سنان رحمه الله فرمايي: تر څو پورې چې هغه ژوندې وُ ما هيچاته دا واقعه بيان نکړه. (۱)

**فائده:** عبدالله بن مبارک رَحِمَهُ اللهُ د کافرانو شپږ پهلوانان قتل کړل ليکن بيا هم ده دا نه

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سِنَانَ، قَالَ: كُنْتُ مَعَ ابْنِ الْمُبَارَكِ، وَالْمُعْتَمِرِ بْنِ سُلَيْمَانَ بِطَرَسُوسَ، فَصَاحَ النَّاسُ: اَلنَّفِيرَ النَّفِيرَ. قَالَ: فَخَرَجَ ابْنُ الْمُبَارَكِ وَخَرَجَ النَّاسُ. فَلَمَّا اصْطَفَّ الْمُسْلِمُونَ وَالْعَدُوُّ، خَرَجَ رَجُلٌ مِنَ الرُّومِ يَطْلُبُ الْبِرَازَ. فَخَرَجَ إِلَيْهِ مُسْلِمٌ فَشَدَّ الْعِلْجُ (اى الرجل من كفار العجم) عَلَى الْمُسْلِمِينَ. فَقَتَلَ الْمُسْلِمَ. حَتَّى قَتَلَ سِتَّةً مِنَ الْمُسْلِمِينَ مُبَارَزَةً. فَجَعَلَ يَتَبَخْتَرُ بَيْنَ الصَّفَّيْنِ يَطْلُبُ الْمُبَارَزَةَ لَا يَخْرُجُ إِلَيْهِ أَحَدٌ. قَالَ. فَالْتَفَتَ إِلَيَّ ابْنُ الْمُبَارَكِ. فَقَالَ: "يَا عَبْدَ اللهِ ! إِنْ حَدَثَ بِي حَادِثُ الْمَوْتِ، فَافْعَلْ كَذَا". قَالَ: وَحَرَّكَ دَابَّتَهُ، وَخَرَجَ لِعَالَجَ مَعَهُ سَاعَةً. فَقَتَلَ الْعِلْجَ. ثُمَّ طَلَبَ الْمُبَارَزَةَ. فَخَرَجَ إِلَيْهِ عِلْجٌ آخَرُ. فَقَتَلَهُ. حَتَّى قَتَلَ سِتَّةً مِنَ الْعُلُوجِ مُبَارَزَةً. ثُمَّ طَلَبَ الْبِرَازَ. فَكَأَنَّهُمْ كَاعُوا (جبنوا) عَنْهُ. فَضَرَبَ دَابَّتَهُ. وَطَرَدَ بَيْنَ الصَّفَّيْنِ، وَغَابَ فَلَمْ أَشْعُرْ بِشَيْءٍ. إِذَا أَنَا بِابْنِ الْمُبَارَكِ فِي الْمَوْضِعِ الَّذِي كَانَ. فَقَالَ لِي: "يَا عَبْدَ اللهِ ! لَئِنْ حَدَّثْتَ بِهٰذَا أَحَدًا وَأَنَا حَيٌّ، فَذَكَرَ كَلِمَةً". قَالَ: فَمَا حَدَّثْتُ بِهِ أَحَدًا وَهُوَ حَيٌّ. شعب الايمان ۶/۱۶۶ الثبات للعدو وترک الفرار من الزحف رقم ۴۰۱۳، تاريخ دمشق لابن عساكر ۳۲/۴۲۸ عبد الله بن المبارک بن واضح ...

## مُخلص سړی د خلقو نه د تعریف طمع نه ساتي

د مُخلص سړي علامه داده چې دا کله نېک عمل کوي نو د خلقو نه د تعریف طمع نه ساتي .(۱)

د یو عالم نه چا پوښتنه اوکړه چې مُخلص چاته وایي ؟ نو ده ورته ووېل : آیا ته شپونکی لیدلی دی ؟ هغه ورته ووېل : آو .

ده ورته ووېل : کله چې شپونکی د چېلو په مینځ کې مونځ کوي نو آیا ده د چېلو نه دا طمع وي چې دوی به زما صفت اوکړي ؟

هغه ورته ووېل : نه ، ده د چېلو نه د صفت هیڅ طمع نه وي .

ده ورته ووېل : لکه څرنګې چې د شپونکي د چېلو نه د تعریف طمع نه وي نو همدغه شان مُخلص سړی هم چې د خلقو په مینځ کې د الله ﷻ عبادت کوي نو ده ده هم د خلقو نه د تعریف هیڅ طمع نه وي .(۲)

## د غونډ تقریر خلاصه

د غونډ تقریر خلاصه دا راأووته چې هر نېک عمل خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره په کار دی ، د رِیا ، شهرت او ځان خودَني د پاره په کار ندی ، ځکه د الله ﷻ په نزد هغه عمل مقبول دی چې په هغې کې اخلاص وي او د نبي علیه السلام د طریقې موافق وي ، او په کوم عمل

---

(۱) وَقِيْلَ لِبَعْضِ الْحُكَمَاءِ: مَنِ الْمُخْلِصُ ؟ قَالَ : اَلْمُخْلِصُ الَّذِيْ كَتَمَ حَسَنَاتِهِ كَمَا يَكْتُمُ سَيِّئَاتِهِ.
وَقِيْلَ لِبَعْضِهِمْ: مَا غَايَةُ الْإِخْلَاصِ ؟ قَالَ : أَنْ لَا يُحِبَّ مَحْمَدَةَ النَّاسِ . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ۳۱/۱ باب الاخلاص .

(۲) فقيه ابوالليث سمرقندي رحمه الله هم داسې خبره ليکلې ده : رُوِيَ عَنْ بَعْضِ الْحُكَمَاءِ . أَنَّهُ قَالَ : يَنْبَغِيْ لِلْعَامِلِ أَنْ يَأْخُذَ الْأَدَبَ فِيْ عَمَلِهِ مِنْ رَاعِي الْغَنَمِ . قِيْلَ، وَكَيْفَ ذٰلِكَ ؟ قَالَ لِأَنَّ الرَّاعِيَ إِذَا صَلّٰى عِنْدَ غَنَمِهِ فَإِنَّهُ لَا يَطْلُبُ بِصَلٰوتِهِ مَحْمَدَةَ غَنَمِهِ . كَذٰلِكَ الْعَامِلُ يَنْبَغِيْ أَنْ لَا يُبَالِيَ مِنْ نَظَرِ النَّاسِ إِلَيْهِ فَيَعْمَلَ لِلّٰهِ تَعَالٰى عِنْدَ النَّاسِ وَعِنْدَ الْخَلَاءِ بِمَنْزِلَةٍ وَاحِدَةٍ وَلَا يَطْلُبُ مَحْمَدَةَ النَّاسِ . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ۳۱/۱ باب الاخلاص .

کې چې اخلاص نه وي، نو هغه نه قبلیږي.

په قرآن کریم او احادیثو مبارکه وُ کې د اخلاص ډېر اَهمیت بیان شوی ، د نېکو اعمالو ثواب په اِخلاص او صحیح نیت باندې موقوف دی، څومره چې په عمل کې اخلاص زیات وي نو همدومره یې ثواب هم زیات وي.

د اخلاص واله وړوکي عمل به هم د قیامت په ورځ په تَله د میزان کې ډېر دَروند وي. کوم عمل چې په اخلاص باندې اوشي په هغې کې تأثیر زیات وي ، دداسې عمل په وجه الله ﷻ د انسان دُعاګانې قبلوي.

د اخلاص واله وړوکي عمل سره هم انسان دجنت مستحق ګرځي ، د مُخلِصینو سره د الله ﷻ مدد ملګرې وي ، د دوی کار نه بندوي. په احادیثو مبارکه کې د مُخلِصینو د پاره زیرې ذکر شوی.

په اخلاص باندې د عمل کولو برکتونه په انسان باندې او دده په اَولاد باندې تر قیامته پورې جاري وي ، په اِخلاص باندې عمل کولو سره د شیطان وَسوسې ختمیږي ، اِیمان ورسره کامِل کیږي ، بلکه په اخلاص او صحیح نیت سره دُنیوي کارونه هم په دِیني کارونو باندې بدلیږي ، تر دې چې د نېک عمل اِرادې کولو سره هم انسان ته نیکي ملاویږي.

ددینه علاوه د اخلاص نور ډېر فوائد هم ذکر شوي.

زمونږ اَسلافو به هر عمل خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره کول ، مُخلِص سړی په خلقو کې خپل شهرت نه خوَښوي او د خلقو نه د تعریف طمع نه ساتي.

لهذا هر نېک عمل خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره په کار دی.

## دُعا

الله تعالی دې زمونږ په زړونو کې اخلاص او لِلّهیت پیدا کړي چې هر نېک عمل خاص د هغه د رَضا د پاره کوو. ربِّ کریم دې مونږ ټول د رِیا ، شهرت او ځان خودَنې نه اوساتي اې الله ! که د مونږ نه په نېکو اعمالو کې څه رِیا او ځان خودَنه شوې وي نو د هغې درنه معافي غواړو ، او آئنده راته په اِخلاص باندې د عمل کولو توفیق راکړه.

آمِیْن یَارَبَّ الْعَالَمِیْن. وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

﴿ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا ﴾

الكهف آية ١١٠

# د رِیا نه ځان ساتل

تالیف


اَبوالشَّمس مولانا نُورُالهُدیٰ عُفِيَ عَنهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د ريا نه ځان ساتل

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَا نَبِيَّ بَعْدَهُ ، وَلَا رَسُوْلَ بَعْدَهُ ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ ، وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهُ وَتَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ . قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا ﴾ . (۱)

وَقَالَ تَعَالٰى : ﴿ وَمَآ أُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ﴾ .(۲)

وَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى: أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ ، مَنْ عَمِلَ عَمَلًا أَشْرَكَ فِيْهِ مَعِيْ غَيْرِيْ تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ . (۳)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ .

## تمهيدي خبره

زما خوږو قدرمنو او عزت منده مسلمانانو وروڼو ! په عبادت کې رِيا کول ګناهِ کبيره ده ، په رُوحاني بيماريانو کې دا ډيره خطرناکه بيماري ده . په قرآن کريم او احاديثو کې ددې سخته سزا ذکر شوې .

په نن موضوع کې به زه اِنْ شَاءَ الله تاسو ته اول د رِيا تعريف ذکر کوم چې رِيا چاته وايي ؟ بيا به درته ددې متعلق تفصيلي بيان کوم :

(۱) الكهف آية ۱۱۰ .

(۲) البينة آية ۵ .

(۳) صحيح مسلم كِتَابُ الزُّهْدِ وَالرَّقَائِقِ بَابُ مَنْ أَشْرَكَ فِيْ عَمَلِهٖ غَيْرَ اللّٰهِ رقم الحديث ۴۶ , ۲۹۸۵ ) ، سنن ابن ماجة باب الرِّياء والسّمعة رقم الحديث ۴۲۰۲ ، مشكوة المصابيح باب الرياء والسّمعة الفصل الاول رقم الحديث ۵۳۱۵(۲) ، كنزالعمال الكتاب الثالث في الأخلاق الباب الثاني في الأخلاق والأفعال المذمومة رقم الحديث ۷۴۷۴ .

# د رِيا تعريف

علماؤ د رِيا مختلف تعريفونه کړي :

۱ امام غزالي رحمه الله په " إحياء العلوم " کې د رِيا تعريف داسې کړی :

رِيا ديته وايي چې انسان خپل نېک اعمال خلقو ته ددې د پاره ښائي چې د هغوی په زړونو کې دده قدر پيدا شي .

( يعنی په دې عبادت سره دده مقصد د الله ﷻ رَضا نه وي بلکه صرف خلقو ته ځان خودل او خپل قدَر زياتول وي ) . (١)

۲ . ملا علي قاري رحمه الله په " مرقاة " کې ذکر کړي : رِيا د رُؤيَت نه ماخوذ ده، رِيا ديته وايي چې انسان نېک عمل ددې د پاره کوي چې خلق دا اوګوري ، د الله ﷻ په ليدلو باندې اکتفاء نه کوي . ( يعنی مقصد يې نورو خلقو ته ځان خودل وي او د الله ﷻ رَضا يې مقصد نه وي ) . (٢)

۳ . علماؤ د رِيا نور تعريفونه هم ذکر کړي . (٣)

---

(١) اِعْلَمْ أَنَّ الرِّيَاءَ مُشْتَقٌّ مِنَ الرُّؤْيَةِ ... وَإِنَّمَا الرِّيَاءُ أَصْلُهُ : طَلَبُ الْمَنْزِلَةِ فِي قُلُوبِ النَّاسِ بِإِيْرَائِهِمْ خِصَالَ الْخَيْرِ .... وَاِسْمُ الرِّيَاءِ مَخْصُوصٌ ـ بِحُكْمِ الْعَادَةِ ـ بِطَلَبِ الْمَنْزِلَةِ فِي الْقُلُوْبِ بِالْعِبَادَةِ وَإِظْهَارِهَا . فَحَدُّ الرِّيَاءِ هُوَ إِرَادَةُ الْعِبَادِ بِطَاعَةِ اللهِ. فالمرائي هو العابد ، والمراءى هو الناس المطلوب رؤيتهم بطلب المنزلة في قلوبهم ، والمراءى به هو الخصال التي قصد المرائي إظهارها ، والرياء هو قصده إظهار ذلك . إحياء علوم الدين ٢٩٧/٣ كتاب ذم الجاه والرياء طبع دار المعرفة بيروت.

(٢) وَالتَّحْقِيقُ : أَنَّ الرِّيَاءَ مَأْخُوذٌ مِنَ الرُّؤْيَةِ، فَهُوَ مَا يُفْعَلُ لِيَرَاهُ النَّاسُ وَلَا يَكْتَفِي فِيهِ بِرُؤْيَةِ اللهِ سُبْحَانَهُ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ٣٣٣١/٨ بَابُ الرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ .

(٣) قَالَ الْجُرْجَانِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : اَلرِّيَاءُ . تَرْكُ الْإِخْلَاصِ فِي الْعَمَلِ بِمُرَاعَاةِ غَيْرِ اللهِ فِيْهِ . التعريفات ص ١١٩.

وَقَالَ التَّهَانَوِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : حَدُّ الرِّيَاءِ : فِعْلُ الْخَيْرِ لِإِرَاءَةِ الْغَيْرِ . وَقِيْلَ : هُوَ فِعْلٌ لَا تَدْخُلُ فِيْهِ النِّيَّةُ الْخَالِصَةُ، وَلَا يُحِيْطُ بِهِ الْإِخْلَاصُ . كشاف اصطلاحات الفنون ٣/ ٦٠٧- ٦٠٨.

وَقَالَ ابْنُ حَجَرٍ الْهَيْتَمِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : اَلرِّيَاءُ مَأْخُوذٌ مِنَ الرُّؤْيَةِ ... وَحَدُّ الرِّيَاءِ الْمَذْمُوْمِ ←←←←←

**د رِيا اَقسام** : د رِيا مختلف قسمونه دي ، خو په دې ټولو کې بَدترين او قابلِ نفرت قسمه هغه دی چې په هغې کې انسان عبادات د الله ﷻ د رَضا د پاره نه کوي ، بلکه په دې سره خالص خلقو ته ځان ښائي ، او د هغوی په نظرونو کې خپله مرتبه اُوچتول غواړي .

د رِيا دا قِسم ډیر خطرناک دی ځکه په دې قِسم کې په انسان باندې د الله ﷻ قهر او غضب نازليږي ، او دده دا عمل نه قبليږي . (۱)

## د رِيا حُکم

۱. امام ذهبي رحمه الله په " الکبائر " کې رِيا مستقله ګناهِ کبيره شمار کړی ، او په دې باندې يې د قرآن کريم ، سُنتو ، او صالحينو د آثارو نه دلائل هم رانقل کړي . (۲)

۲ . علامه ابن حجر رحمه الله هم په " الزواجر " کې رِيا ته ګناهِ کبيره ويلی ، او ددې په حُرمت باندې يې د قرآن کريم آيتونه ، احاديث او د اُمت اِجماع رانقل کړی .

---

←←← إرَادَةُ العَامِلِ بِعِبَادَتِهِ غَيْرَ وَجْهِ اللهِ تَعَالَى كَأَنْ يَقْصِدَ اطِّلَاعَ النَّاسِ عَلَى عِبَادَتِهِ وَكَمَالِهِ حَتَّى يَحْصُلَ لَهُ مِنْهُمْ نَحْوُ مَالٍ أَوْ جَاهٍ أَوْ ثَنَاءٍ ... الزواجر عن اقتراف الكبائر ۷۰/۱ اَلبَابُ الأَوَّلُ فِي الكَبَائِرِ البَاطِنَةِ وَمَا يَتْبَعُهَا .

وَقَالَ ابْنُ حَجَرٍ العَسْقَلَانِيُّ : اَلرِّيَاءُ إِظْهَارُ العِبَادَةِ لِقَصْدِ رُؤْيَةِ النَّاسِ لَهَا فَيَحْمَدُوا صَاحِبَهَا . فتح الباري ۳۳۶/۱۱. نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم صلى الله عليه وسلم ۴۵۵۲/۱۰ الرياء الرياء اصطلاحا

(۱) لِلرِّيَاءِ بِحَسَبِ قَصْدِ المُرَائِي أَرْبَعُ دَرَجَاتٍ : اَلأُوْلَى : وَهِيَ أَغْلَظُهَا أَلَّا يَكُوْنَ مُرَادُهُ الثَّوَابَ أَصْلًا . كَالَّذِي يُصَلِّي أَمَامَ النَّاسِ ، وَلَوِ انْفَرَدَ فَإِنَّهُ لَا يُصَلِّيْ ، وَرُبَّمَا دَفَعَهُ الرِّيَاءُ إِلَى الصَّلٰوةِ مِنْ غَيْرِ طُهْرٍ .... نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم صلى الله عليه وسلم ۴۵۵۲/۱۰ الرياء درجات الرياء

**نوټ** : د رِيا اقسام او درجې پوره تفصيل سره امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم او کيميائی سعادت کې ذکر کړي. احياء العلوم ج ۳ ص ۲۹۷ تا ۳۰۲ .

(۲) اَلكَبِيْرَةُ السَّابِعَةُ وَالثَّلَاثُوْنَ الرِّيَاءُ . اووه ديرشمه کبيره ګناه رِيا ده. الكبائر للذهبي ۱۴۳/۱ .

ذَكَرَ الذَّهَبِيُّ الرِّيَاءَ ضِمْنَ الكَبَائِرِ ، وَذَكَرَ أَدِلَّةً لِذٰلِكَ مِنَ الكِتَابِ وَالسُّنَّةِ وَآثَارِ السَّلَفِ الصَّالِحِ . نضرة النعيم ۴۵۵۲/۱۰ الرياء حكم الرياء .

د رِيا د حُرمت دلائلو ذکر کولو نه روستو علامه بن حجر رحمه الله ذکر کړي چې: رِيا ته حرام ځکه ویل شوي چې په دې کې د الله تعالی سره استهزاء کول دي. د غه وجه ده چې رِيا هلاکوونکې کبیره ګناه ده، او نبي علیه السلام دیته شرکِ اَصغر (وړوکې شِرک) ویلی.

بل دا چې په رِيا کې انسان نورو خلقو ته دُهوکه ورکوي، ځکه دا خلقو ته په ظاهره دا ښکاره کوي چې "زه خالص د الله ﷻ د رَضا د پاره عبادت کوم" حالانکه دا خلقو ته د ځان خودَنې د پاره عبادت کوي. (۱)

۳. همدارنګې امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ هم په " احیاء العلوم " او " کیمیائی سعادت " کې دیته ګناهِ کبیره ویلی. (۲)

# د الله ﷻ سره په عبادت کې بل څوک شریکول ناجائز دي

که یو کس عبادت صرف د دې د پاره کوي چې "په خلقو کې مشهور شم، یا بزرګ ورته معلوم شم" نو دا خو بیا د الله ﷻ عبادت نه شو، بلکه مخلوق ته ځان خودَل شو.

او که د الله ﷻ د رَضا سره سره یې رِیا هم په زړه کې وي نو دا خو بیا د الله تعالی سره په عبادت کې بل څوک شریکول شو.

حالانکه د الله ﷻ سره په عبادت کې بل څوک شریکولو نه منع راغلی.

(۱) (اَلْكَبِيْرَةُ الثَّانِيَةُ: اَلشِّرْكُ الْأَصْغَرُ وَهُوَ الرِّيَاءُ) قَدْ شَهِدَ بِتَحْرِيْمِهِ الْكِتَابُ وَالسُّنَّةُ وَانْعَقَدَ عَلَيْهِ إِجْمَاعُ الْأُمَّةِ ...... وَالْمَعْنٰى فِيْ تَحْرِيْمِهِ وَكَوْنِهِ كَبِيْرَةً وَشِرْكًا مُقْتَضِيًا لِلَّعْنِ أَنَّ فِيْهِ اسْتِهْزَاءً بِالْحَقِّ تَعَالٰى كَمَا مَرَّتِ الْإِشَارَةُ إِلَيْهِ فِي الْأَحَادِيْثِ. وَمِنْ ثَمَّ قَالَ قَتَادَةُ كَمَا مَرَّ: إِذَا رَاءَى الْعَبْدُ قَالَ اللهُ تَعَالٰى: أُنْظُرُوْا إِلَيْهِ كَيْفَ يَسْتَهْزِئُ بِيْ ...... وَمِنْ ثَمَّ كَانَ الرِّيَاءُ مِنْ كَبَائِرِ الْكَبَائِرِ الْمُهْلِكَةِ، وَلِهٰذَا سَمَّاهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَلشِّرْكَ الْأَصْغَرَ". وَفِيْهِ أَيْضًا تَلْبِيْسٌ عَلَى الْخَلْقِ لِإِيْهَامِهِ لَهُمْ أَنَّهُ مُخْلِصٌ مُطِيْعٌ لِلّٰهِ تَعَالٰى وَهُوَ بِخِلَافِ ذٰلِكَ. الزواجر عن اقتراف الكبائر ج۱ ص۶۲، ۷۱.

(۲) إِعْلَمْ أَنَّ الرِّيَاءَ حَرَامٌ وَالْمُرَائِيَ عِنْدَ اللهِ مَمْقُوْتٌ وَقَدْ شَهِدَتْ لِذٰلِكَ الْآيَاتُ وَالْأَخْبَارُ وَالْآثَارُ. إحياء علوم الدين ۲۹۳/۳ بيان ذم الرياء

الله تعالی فرمايي:

﴿ فَمَن كَانَ يَرْجُوا لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا ﴾. (۱)

ترجمه: پس څوک چې د خپل رَب سره د ملاقات اُميد لري نو هغه له په کار دي چې نېک عمل کوي، او د خپل رَب په عبادت کې دې بل څوک نه شريکوي.

## رِيا د منافقينو صفت دی

الله ربّ العزت د منافقينو يو صفت دا هم ذکر کړی:

﴿ يُرَاءُونَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴾. (۲)

ترجمه: دوی خلقو ته خپل عبادت ښائي (يعنی رِيا کوي (۳))، او الله تعالی ډېر کم يادوي.

## د رِيا کار د پاره هلاکت

الله تعالی د رِيا کار د پاره هلاکت ذکر کړی:

﴿ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ۝ الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ ۝ الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ ﴾. (۴)

ترجمه: پس هلاکت دی د هغه مونځ ګذارو د پاره چې هغوی د خپلو مونځونو نه غافله دي، کوم چې رِيا کوي.

## رِيا کار د الله ﷻ سره اِستهزاء کوي

حضرت ابو قتادة ﷺ فرمايي: چې کله يو بنده رِيا کوي نو الله تعالی فرمايي:

---

(۱) الکهف آية ۱۱۰.

(۲) پوره آيت داسې دی: ﴿ إِنَّ الْمُنَافِقِينَ يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ وَإِذَا قَامُوا إِلَى الصَّلَاةِ قَامُوا كُسَالَىٰ يُرَاءُونَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴾. النساء آية ۱۴۲.

(۳) ﴿ يُرَاءُونَ النَّاسَ ﴾ أي: يفعلون ذلك مراءاة لِلنَّاسِ لَا اتِّبَاعًا لِأَمْرِ اللَّهِ. معالم التنزيل في تفسير القرآن (تفسير البغوي) ۷۱۵/۱ النساء آية ۱۴۲.

(۴) الماعون آية ۴ تا ۶.

أُنْظُرُوْا إِلٰى عَبْدِيْ كَيْفَ يَسْتَهْزِئُ بِيْ .(۱)
تاسو زما دا بنده اوګورئ څنګه د ما پورې استهزاء کوي.

**د ريا مثال**: علماؤ د ريا مثال داسې ورکړی لکه چې يو کس د بادشاه مخې ته د خدمت د پاره ولاړ وي، خو د ده مقصد په دې أودريدو کې دا وي چې دا د بادشاه وينځې ته يا د هغه په خادمينو کې يو ښائسته هلک ته ګوري. نو په چا کې چې معمولي عقل وي نو هغه به دا فيصله اوکړي چې دا کس د دې بادشاه پورې استهزاء کوي، ځکه دا بادشاه ته دا ښايي چې زه ستا خدمت ته ولاړيم حالانکه د ده مقصد بدل وي.

همدغه شان چې څوک د الله ﷻ په حضور کې په عبادت باندې ولاړ وي خو مقصد يې ريا او بل ته ځان خودل وي نو دا هم د الله ﷻ پورې استهزاء کول دي. (۲)

## د ريا په وجه فقر پيدا کيدل

په بخاري شريف کې دا واقعه ذکر ده:

(حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ د حضرت عُمر ﷺ د طرفه په کوفه کې عامِل مقرر ؤ) د کوفې خلقو حضرت عمر ﷺ ته د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ شکايت اوکړو، نو حضرت عمر ﷺ دا معزول کړو او د دې په ځای يې حضرت عمّار ﷺ د کوفې عامِل مقرر کړو. د کوفې خلقو د حضرت سعد ﷺ په باره کې په شکايت کې دا هم ويلي وو چې دا صحيح مونځ نه کوي.

---

(۱) قَالَ قَتَادَةُ ﷺ : إِذَا رَاءَى الْعَبْدُ يَقُوْلُ اللهُ تَعَالٰى : أُنْظُرُوْا إِلٰى عَبْدِيْ كَيْفَ يَسْتَهْزِئُ بِيْ. الكبائر للذهبي ۱۳۴/۱ اَلْكَبِيْرَةُ السَّابِعَةُ وَالثَّلَاثُوْنَ الرِّيَاءُ . الزواجر عن اقتراف الكبائر ج۱ ص ۷۰. نزهة الناظرين ص ۵۰۸، احياء علوم الدين ج۳ ص ۲۹۵ كتاب ذم الجاه والرياء.

(۲) علامه ابن حجر رحمه الله په "الزواجر" کې دا خبره په دې انداز نقل کړې، وَيُوَضِّحُهُ أَنَّ أَحَدَ خُدَّامِ الْمَلِكِ الْقَائِمِيْنَ فِيْ خِدْمَتِهٖ لَوْ كَانَ قَاصِدًا بِوُقُوْفِهٖ فِيْهَا مُلَاحَظَةَ أَمَةٍ أَوْ أَمْرَدَ لِلْمَلِكِ كَانَ ذٰلِكَ عِنْدَ كُلِّ مَنْ لَهٗ أَدْنٰى مُسْكَةٍ مِنْ عَقْلٍ إِسْتِهْزَاءً بِذٰلِكَ الْمَلِكِ، لِأَنَّهٗ لَمْ يَقْصِدْ تَقَرُّبًا إِلَيْهِ بِوَجْهٍ مَعَ إِيْهَامِهٖ أَنَّهٗ عَلٰى غَايَةٍ مِنَ التَّقَرُّبِ. .... الزواجر عن اقتراف الكبائر ج۱ ص ۷۱.

حضرت عُمر ﷺ دا راأوغوښت او پوښتنه يې ورنه اوکړه :

يَا أَبَا إِسْحَاقَ ! إِنَّ هٰؤُلَاءِ يَزْعُمُوْنَ أَنَّكَ لَاتُحْسِنُ تُصَلِّيْ .

اې ابواسحاق (سعد بن ابي وقاص) ! د کوفې خلق دا ګمان کوي چې ته صحيح مونځ نه کوی.

ده ورته ووېل : قسَم په الله ، ما خو به دوی ته د رسول الله ﷺ په شان مونځ کولو ، هيڅ کمي به مې په کې نه کولو ، د ماسخوتن مونځ چې به مې ورته کولو نو په اَوّلو دوه رکعتونو کې به مې اُوږد قِرأت کولو او په آخِري دوه رکعتونو کې به مې ورته مختصر قِرأت کولو .

حضرت عُمر ﷺ ورته اوفرمايل : زما د تا نه همدا اُميد وُ ( چې ته به د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په شان مونځ کوی ) .

بيا حضرت عُمر ﷺ دده سره يو کس يا ډير کسان کوفې ته اُولېږل ، دې قاصِد د کوفې په هر جُمات کې د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ متعلق د خلقو نه پوښتنه اوکړه ، ټولو خلقو به دده ښه تعريف کولو ، تر دې چې دوی د بني عَبس جُمات ته لاړل ( او هلته دې قاصِد د خلقو نه د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ متعلق پوښتنه اوکړه ) نو د جُمات په خلقو کې يو کس راپاڅيد چې نوم يې اُسامه بن قتادة وُ او کُنيَت يې ابوسعده وُ ، ده ووېل : کله چې تاسو ماته د الله ﷻ واسطه راکړه او دده متعلق رانه پوښتنه کوی نو زه دا وايم چې حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ به جهاد ته نه تللو ، د مال تقسيم به يې صحيح نه کولو ، او په فيصله کې به يې انصاف نه کولو .

( دې کس چونکه په حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ باندې د دروغو تهمت اُولږول )

نو حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ ( دې کس ته ) ووېل :

قسَم په الله ، (ستا په دې خبره باندې) زه درې دُعاګانې کوم :

اَللّٰهُمَّ إِنْ كَانَ عَبْدُكَ هٰذَا كَاذِبًا ، قَامَ رِيَاءً وَسُمْعَةً ، فَأَطِلْ عُمْرَهُ ، وَأَطِلْ فَقْرَهُ ، وَعَرِّضْهُ بِالْفِتَنِ .

اې الله ! که ستا دا بنده دروغجن وي ، د ريا او خپل شهرت د پاره اُودريدلې وي نو دده عُمر اُوږد کړه ، فقريې اُوږد ( ډير ) کړه ، او په فِتنو کې يې مبتلاء کړه .

ددينه پس ( دا کس داسې بَد حالت ته اُورسيد ) چې دده نه به چا پوښتنه اوکړه ( چې څنګه يې ؟ ) نو ده به ورته ووېل :

شَيْخٌ كَبِيْرٌ مَفْتُوْنٌ ، أَصَابَتْنِيْ دَعْوَةُ سَعْدٍ .

ډير بُوډا او په فِتنه کې مبتلاء يم ، ماته د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ خبرې (بَددُعا ) رارسيدلې دي .

عبدالملک وايي :

فَأَنَا رَأَيْتُهُ بَعْدُ قَدْ سَقَطَ حَاجِبَاهُ عَلَى عَيْنَيْهِ مِنَ الْكِبَرِ وَإِنَّهُ لَيَتَعَرَّضُ لِلْجَوَارِيْ فِي الطُّرُقِ يَغْمِزُهُنَّ .

ما ډير وخت پس دا اُوليد چې د ډير بُوډا والي په وجه يې وريځې په سترګو باندې راښکته شوې وې ليکن په دې حالت کې يې هم په لاره کې د جينکو سره چېړ چاړ کولو ، په هغوی به يې نُوکې (چُونګارې) لړولې . (۱)

**عِبرت** : چونکه دې کس د رِيا او خپل ځان د شهرت د پاره په حضرت سعد بن ابي

---

(۱) عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ ﷺ . قَالَ: شَكَا أَهْلُ الْكُوفَةِ سَعْدًا إِلى عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. فَعَزَلَهُ. وَاسْتَعْمَلَ عَلَيْهِمْ عَمَّارًا . فَشَكَوْا حَتّٰى ذَكَرُوْا أَنَّهُ لَا يُحْسِنُ يُصَلِّيْ . فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ . فَقَالَ : يَا أَبَا إِسْحَاقَ ! إِنَّ هٰؤُلَاءِ يَزْعُمُوْنَ أَنَّكَ لَاتُحْسِنُ تُصَلِّيْ . قَالَ أَبُوْ إِسْحَاقَ : أَمَّا أَنَا وَاللهِ فَإِنِّيْ كُنْتُ أُصَلِّيْ بِهِمْ صَلٰوةَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَخْرِمُ عَنْهَا . أُصَلِّيْ صَلَاةَ الْعِشَاءِ . فَأَرْكُدُ فِي الْأُوْلَيَيْنِ وَأُخِفُّ فِي الْأُخْرَيَيْنِ . قَالَ: ذٰلِكَ الظَّنُّ بِكَ يَا أَبَا إِسْحَاقَ. فَأَرْسَلَ مَعَهُ رَجُلًا أَوْ رِجَالًا إِلَى الْكُوْفَةِ . فَسَأَلَ عَنْهُ أَهْلَ الْكُوْفَةِ وَلَمْ يَدَعْ مَسْجِدًا إِلَّا سَأَلَ عَنْهُ. وَيُثْنُوْنَ مَعْرُوْفًا. حَتّٰى دَخَلَ مَسْجِدًا لِبَنِيْ عَبْسٍ . فَقَامَ رَجُلٌ مِنْهُمْ يُقَالُ لَهُ أُسَامَةُ بْنُ قَتَادَةَ يُكْنٰى أَبَا سَعْدَةَ قَالَ : أَمَّا إِذْ نَشَدْتَنَا فَإِنَّ سَعْدًا كَانَ لَا يَسِيْرُ بِالسَّرِيَّةِ ، وَلَا يَقْسِمُ بِالسَّوِيَّةِ ، وَلَا يَعْدِلُ فِي الْقَضِيَّةِ . قَالَ سَعْدٌ : أَمَا وَاللهِ لَأَدْعُوَنَّ بِثَلَاثٍ : اَللّٰهُمَّ إِنْ كَانَ عَبْدُكَ هٰذَا كَاذِبًا. قَامَ رِيَاءً وَسُمْعَةً . فَأَطِلْ عُمُرَهُ. وَأَطِلْ فَقْرَهُ . وَعَرِّضْهُ بِالْفِتَنِ. وَكَانَ بَعْدُ إِذَا سُئِلَ يَقُوْلُ : شَيْخٌ كَبِيْرٌ مَفْتُوْنٌ ، أَصَابَتْنِيْ دَعْوَةُ سَعْدٍ . قَالَ عَبْدُ الْمَلِكِ : فَأَنَا رَأَيْتُهُ بَعْدُ، قَدْ سَقَطَ حَاجِبَاهُ عَلَى عَيْنَيْهِ مِنَ الْكِبَرِ وَإِنَّهُ لَيَتَعَرَّضُ لِلْجَوَارِيْ فِي الطُّرُقِ يَغْمِزُهُنَّ . صحيح البخاري كِتَابُ الْأَذَانِ بَابُ وُجُوبِ الْقِرَاءَةِ لِلْإِمَامِ وَالْمَأْمُومِ فِي الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا. فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ .... رقم الحديث ۷۵۵ ، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۱۸۵۹ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۲۴۸۳ .

وقاص ﷺ باندې دروغ جوړ کړل ، ده ورته ښېرې اوکړې نو دې خپل بَدعمل په وجه الله تعالى دا کس په سخته فقيرۍ کې مبتلاء کړو او د ډير بُوډاوالي باوجود هم په فِتنه کې مبتلاء ؤ ، هغه دا چې په لاره کې به يې په جينکو باندې ګُوکې ( چُونګارې ) لېږلې .

# رِيا " شِرکِ خفي " دی

کوم کار چې د رِيا د پاره اوشي ( يعنی په دې کې د الله ﷻ د رَضا او ثواب اِراده نه وي بلکه صرف خلقو ته ځان خودَنه او شُهرت په کې مقصد وي ) نو په داسې عمل باندې انسان ته هيڅ ثواب نه ملاويږي ، ځکه رِيا ته په احاديثو کې شرکِ خَفي (پَټ شِرک) ويل شوی .

۱ . د ابن ماجه او مشکوة شريف حديث دی ، حضرت ابوسعيد خُدري ﷺ فرمايي چې يوه ورځ رسولُ الله ﷺ ( د خپلې حُجرې نه ) رااُووت اومونږ ته يې تشريف راوړو ، په دې وخت کې مونږ په خپل مينځ کې د مسيح دجّال ( د فِتنو ) تذکره کوله ، نبي عليه السلام اوفرمايل :

أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِمَا هُوَ أَخْوَفُ عَلَيْكُمْ عِنْدِيْ مِنَ الْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ؟

آيا زه تاسو ته د هغه ځيز په باره کې خبر درکړم چې هغه زما په نزد ستاسو د پاره د مسيح دجّال( د فِتنو ) نه هم زيات ځوفناک ( خطرناک ) دی ؟

مونږ ورته ووېل : آو ، اې د الله رسوله ( د هغه ځيز په باره کې مونږ ته ضرور خبر راکړئ ) . نبي عليه السلام اوفرمايل :

اَلشِّرْكُ الْخَفِيُّ . أَنْ يَقُوْمَ الرَّجُلُ يُصَلِّيْ فَيُزَيِّنُ صَلٰوتَهُ لِمَا يَرٰى مِنْ نَظَرِ رَجُلٍ .

هغه ځيز شرکِ خَفي دی ( ددې يو مثال دادی ) چې مثلاً يو کس په مانځه باندې اودريږي خپل مونځ ددې د پاره ښائسته (او اُوږد ) کوي چې ځوک کس ما اُوګوري . (۱)

---

(۱) عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ ﷺ . قَالَ : خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَتَذَاكَرُ الْمَسِيْحَ الدَّجَّالَ. فَقَالَ : « أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِمَا هُوَ أَخْوَفُ عَلَيْكُمْ عِنْدِيْ مِنَ الْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ ؟ » قَالَ : قُلْنَا : بَلَى. فَقَالَ: « اَلشِّرْكُ الْخَفِيُّ . أَنْ يَقُوْمَ الرَّجُلُ يُصَلِّيْ ، فَيُزَيِّنُ صَلَاتَهُ لِمَا يَرٰى مِنْ نَظَرِ رَجُلٍ » . سنن ابن ماجة كِتَابُ الزُّهْدِ بَابُ الرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ رقم الحديث ۴۲۰۲ قال الالباني: حسن ، مشكوة المصابيح باب الرياء والسمعة الفصل الثالث رقم الحديث ۵۳۳۳(۲۰) ، كنزالعمال رقم الحديث ۷۴۶۸ ، ورقم الحديث ۷۵۱۷ ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۱۲۵۲ .

**فائده** : په دې حديث کې صرف د مثال د پاره د مانځه ذکر شوی ، اوس که څوک نور نېک اعمال ( لکه روژه ، صدقه وغيره ) د رِيا او ځان خودَنې د پاره کوي نو هغه به هم شِرک خَفِي وي .

۲ . دا مضمون صراحةً په يو بل حديث کې هم ذکر شوی :

حضرت شَدّاد بن اَوس رضي الله عنه فرمايي چې ما د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم نه دا حديث اَوريدلی :

مَنْ صَلَّى يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ، وَمَنْ صَامَ يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ ، وَمَنْ تَصَدَّقَ يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ .

چا چې د ځان خودَنې ( رِيا ) د پاره مونځ اوکړو نو هغه شرکِ خَفِي اوکړو ، چا چې د ځان خودَنې د پاره روژه اُونيوه نو هغه شرکِ خَفِي اوکړو ، او چا چې د ځان خودَنې د پاره صدقه ورکړه نو هغه شرکِ خَفِي اوکړو . (۱)

همداسې مضمون په نورو احاديثو کې هم بيان شوی . (۲)

**فائده** : کوم کار چې د رِيا او ځان خودَنې د پاره اوشي نو دا اګر چې شرکِ جَلي (ښکاره شِرک ) ندی ، ځکه شرکِ جَلي خو بُت پرَستی کولو ته وايي ، خو بيا هم د رِيا د پاره

---

(۱) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۷۱۳۹ باب الشين ، مشكوة المصابيح باب الرياء والسمعة الفصل الثالث رقم الحديث ۵۳۳۱(۱۸) ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۷۱۴۰ ، كنزالعمال الباب الثاني في الاخلاق المذمومة رقم الحديث ۸۸۳۹ .

(۲) عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ رضي الله عنه ، أَنَّهُ بَكَى ، فَقِيلَ لَهُ : مَا يُبْكِيكَ ؟ قَالَ : شَيْئًا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُهُ ، فَذَكَرْتُهُ ، فَأَبْكَانِي ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : « أَتَخَوَّفُ عَلَى أُمَّتِي الشِّرْكَ ، وَالشَّهْوَةَ الْخَفِيَّةَ » قَالَ : قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ ! أَتُشْرِكُ أُمَّتُكَ مِنْ بَعْدِكَ ؟ قَالَ : " نَعَمْ ، أَمَا إِنَّهُمْ لَا يَعْبُدُونَ شَمْسًا وَلَا قَمَرًا وَلَا حَجَرًا وَلَا وَثَنًا ، وَلَكِنْ يُرَاءُونَ بِأَعْمَالِهِمْ ، وَالشَّهْوَةُ الْخَفِيَّةُ : أَنْ يُصْبِحَ أَحَدُهُمْ صَائِمًا ، فَتَعْرِضُ لَهُ شَهْوَةٌ مِنْ شَهَوَاتِهِ فَيَتْرُكُ صَوْمَهُ " . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۷۱۲۰ حديث شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ ، مشكوة المصابيح باب الرياء والسمعة الفصل الثالث رقم الحديث ۵۳۳۲(۱۹) ، كنزالعمال رقم الحديث ۷۵۰۵ حرف الراء الرياء .

عمل کول شرکِ خَفي دی. (١)

او دیته شرکِ خَفي ځکه وایي چې لکه څرنګې په بُت پرَستۍ کې د الله ﷻ نه علاوه د بُتانو د پاره عبادت کولې شي نو همدغه شان رِیاکار هم خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره عبادت نه کوي بلکه نورو خلقو ته د ځان خودَنې د پاره عمل کوي، نو ګویا چې رِیا هم په پټه د بُت پرَستۍ سره یو شان شوه، اګرچې رِیا ښکاره شِرک ندی. (٢)

## رِیا " شرکِ أصغر " دی

رِیا ته په احادیثو کې شرکِ اَصغر ( ووړکې شِرک ) هم ویل شوی.

حضرت محمود بن لبید رضي الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل:

إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمُ الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ .

بیشکه زه ستاسو په باره کې ډیر زیات د شرکِ اَصغر نه ویریږم ( یعنی ما سره دا یَره ده چې هسې نه تاسو په شرکِ اَصغر کې مبتلاء شئ ) .

صحابه کرامو رضي الله عنهم ( دې آوریدو سره ) عرض اوکړو:

وَمَا الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ يَا رَسُولَ اللهِ؟

اې د الله رسوله ! شرکِ اَصغر څه شی دی؟

نبي علیه السلام ورته اوفرمایل:

اَلرِّيَاءُ . رِیا . ( یعنی خلقو ته د ځان خودَنې د پاره نیک عمل کول شرکِ اَصغر دی ) .

(بیا نبي علیه السلام اوفرمایل) د قیامت په ورځ چې کله خلقو ته د اعمالو بَدله ورکړې شي نو الله ﷻ به رِیاکارو ته اوفرمایي:

اِذْهَبُوا إِلَى الَّذِينَ كُنْتُمْ تُرَاءُونَ فِي الدُّنْيَا فَانْظُرُوا هَلْ تَجِدُونَ عِنْدَهُمْ جَزَاءً .

تاسو هغه خلقو ته ورشئ کومو ته چې د ځان خودَنې د پاره به تاسو په دنیا کې عمل

(١) (مَنْ صَلَّى يُرَائِي) أَيْ: مُرَائِيًا (فَقَدْ أَشْرَكَ) . أَيْ: شِرْكًا خَفِيًّا كَمَا تَقَدَّمَ مُصَرَّحًا فِيمَا يَلِيهِ مِنْ حَدِيثِهِ.
مرقاة المفاتيح ٣٣٣١/٨ باب الرياء والسمعة الفصل الثالث رقم الحديث ٥٣٣٢(١٩) .

(٢) مظاهر حق ج ٨ .

کولو ، پس تاسو اوګورئ چې آيا تاسو د هغوی سره ( د خپلو اَعمالو ) څه بدله مومئ ؟ . (۱)

په دې روايت کې صراحةً ذکر دي چې رياکار ته به د قيامت په ورځ وويلې شي :

اِذْهَبُوْا اِلَى الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تُرَاؤُوْنَ فَاطْلُبُوْا ذٰلِكَ عِنْدَهُمْ .

تاسو هغه خلقو ته ورشئ کومو ته چې د ځان خودَنې د پاره تاسو اعمال کول او د هغوی نه ( د خپل عمل ) بدله طلب کړئ . (۲)

## په کوم عمل کې چې د الله ﷻ سره بل څوک شريک شي نو هغه نه قبليږي

کوم نيک عمل چې خالص د الله ﷻ د رَضا د پاره اُونشي بلکه بل څوک هم په دې کې شريک شي نو الله تعالی داسې عمل نه قبلوي. ددې په باره کې درته يو څو احاديث ذکر کوم

۱. د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ، مَنْ عَمِلَ عَمَلًا أَشْرَكَ فِيْهِ مَعِي غَيْرِيْ تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ (۳)

---

(۱) عَنْ مَحْمُوْدِ بْنِ لَبِيْدٍ رضي الله عنه ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : « إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمُ الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ » قَالُوْا : وَمَا الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ: "اَلرِّيَاءُ . يَقُوْلُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِذَا جُزِيَ النَّاسُ بِأَعْمَالِهِمْ : اِذْهَبُوْا إِلَى الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تُرَاءُوْنَ فِي الدُّنْيَا فَانْظُرُوْا هَلْ تَجِدُوْنَ عِنْدَهُمْ جَزَاءً . مسند احمد مخرجًا رقم الحديث ۲۳۶۳۰ حَدِيْثُ مَحْمُوْدِ بْنِ لَبِيْدٍ ، و رقم الحديث ۲۳۶۳۶ ، شعب الايمان رقم الحديث ۶۴۱۲ ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۴۱۳۵ ، مشكوة المصابيح باب الرياء والسمعة الفصل الثالث رقم الحديث ۵۳۳۴(۲۱) ، مجمع الزوائد باب ماجاء في الرياء رقم الحديث ۳۷۵ ، كنز العمال رقم الحديث ۷۴۷۷ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۳۲(۱۱) الترهيب من الرياء و مايقوله من خاف شيئًا منه .

(۲) مجمع الزوائد و منبع الفوائد كِتَابُ الزُّهْدِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الرِّيَاءِ رقم الحديث ۱۷۶۵۷ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۴۳۰۱ ، كنز العمال رقم الحديث ۷۵۱۳ .

(۳) صحيح مسلم كِتَابُ الزُّهْدِ وَالرَّقَائِقِ بَابُ مَنْ أَشْرَكَ فِي عَمَلِهِ غَيْرَ اللهِ رقم الحديث ۴۶ ( ۲۹۸۵ ) ، سنن ابن ماجة باب الرياء والسمعة رقم الحديث ۴۲۰۲ ، مشكوة المصابيح باب الرياء والسمعة الفصل الاول رقم الحديث ۵۳۱۵(۲) ، كنز العمال الكتاب الثالث في الأخلاق الباب الثاني في الأخلاق والأفعال المذمومة رقم الحديث ۷۴۷۴

( حديثِ قدسي دی ) الله تعالی فرمايي : زه په شريکانو کې د شِرک نه ډير زيات بې نيازه يم ، څوک چې داسې يو عمل ( عبادت وغيره ) اوکړي چې په دې کې د ما سره بل څوک شريک کړي نو زه دا او ده ده شريک دواړه پريږدم .

( يعنی کوم عمل چې خاص زما د رَضا د پاره اونشي او بل څوک هم د ما سره په دې عمل کې شريک شي نو زه دا نه قبلوم .(۱) ) .

په يو روايت کې ورسره څه نوره اضافه هم شته : حديثِ قدسي دی ، الله ﷻ فرمايي :

أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ ، مَنْ عَمِلَ لِيْ عَمَلًا أَشْرَكَ فِيْهِ غَيْرِيْ فَأَنَا مِنْهُ بَرِيْءٌ وَهُوَ لِلَّذِيْ عَمِلَهُ .(۲)

زه په ټولو شريکانو کې د شِرک نه زيات بې نيازه يم ، څوک چې داسې يو کار اوکړي چې په دې کې د ما سره بل څوک شريک کړي نو زه ده ده نه بېزاره يم ، دا عمل به صرف د هغه چا د پاره وي د چا د پاره چې ده دا عمل کړې وي .

۲ . رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

کله چې الله تعالی د قيامت په ورځ خلق ( د حساب و کتاب د پاره ) راجمع کړي د کومې ورځې په راتلو کې چې هيڅ شک و شبهه نشته نو يوه اعلان کوونکې فرښته به دا اعلان اوکړي :

---

(۱) ( أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ ) أَيْ: أَنَا أَغْنَى مَنْ يَزْعُمُ أَنَّهُمْ شُرَكَاءُ عَلَى فَرْضِ أَنَّ لَهُمْ غِنًى ( عَنِ الشِّرْكِ ) ، أَيْ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ بِهِ مِمَّا بَيْنِيْ وَبَيْنَ غَيْرِيْ فِيْ قَصْدِ الْعَمَلِ . وَالْمَعْنٰى : مَا أَقْبَلُ إِلَّا مَا كَانَ خَالِصًا لِوَجْهِيْ وَابْتِغَاءً لِمَرْضَاتِيْ . مرقاة المفاتيح ۸/۳۳۳۱ في تشريح حديث ۵۳۱۵(۲) بَابُ الرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ .

( تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ ) هكذا وقع في بعض الأصول وشركه ، وفي بعضها وشريكه ، وفي بعضها وشركته ، ومعناه أنه غني عن المشاركة وغيرها ، فمن عمل شيئا لي ولغيري لم أقبله بل أتركه لذلك الغير . والمراد أن عمل المرائي باطلٌ لا ثواب فيه ويأثم به . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم في تشريح حديث ۴۶ (۲۹۸۵)

(۲) شعب الايمان رقم الحديث ۶۳۹۶ اخلاص العمل لله عز وجل و ترک الرياء ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۴۱۳۷ باب الرياء والسمعة ، مشكوة المصابيح باب الرياء والسمعة الفصل الاول رقم الحديث ۵۳۱۵(۲) ، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۹۸۳ بابُ ذكر نفي قبول صلاة المرائي بها ، المعجم الاوسط رقم الحديث ۶۵۲۹ .

مَنْ كَانَ أَشْرَكَ فِيْ عَمَلٍ عَمِلَهُ لِلّٰهِ أَحَدًا فَلْيَطْلُبْ ثَوَابَهُ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ فَإِنَّ اللّٰهَ أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ. (۱)

چا چې په خپل داسې عمل کې، چې ده د الله تعالی د پاره کړې خو بل څوک يې هم په دې کې د الله ﷻ سره شريک کړې وي نو هغه دې ددې خپل عمل ثواب د هماغه غيرُ الله نه طلب کړي (د چا د پاره چې ده په دُنيا کې دا عمل کړې وُ)، ځکه الله تعالی د ټولو شريکانو نه زيات د شِرک نه بې نيازه دی.

۳. رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: چې د قيامت په ورځ به د انسان اعمال د الله ﷻ د وړاندې حاضر کړې شي، الله تعالی به اوفرمايي:

خُذُوْا، وَأَلْقُوْا هٰذَا. دا واخلئ (قبول يې کړئ)، او دا (نور) اُوغورځوئ.

فرښتې به عرض اوکړي: قسَم په الله، مونږ ته خو دده اعمال ټول نېک معلومېږي.

الله تعالی به اوفرمايي:

إِنَّ عَمَلَهُ كَانَ لِغَيْرِيْ، وَإِنِّيْ لَا أَقْبَلُ إِلَّا مَا ابْتُغِيَ بِهِ وَجْهِيْ.

بيشکه دده عمل د بل چا د پاره وُ (يعنی دده په عمل کې رِيا وه)، او زه صرف هغه عمل قبلوم په کوم کې چې زما رَضا طلب کړې شوې وي (يعنی زما د رَضا د پاره شوې وي). (۲)

---

(۱) عَنْ أَبِيْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ فَضَالَةَ الْأَنْصَارِيِّ، وَكَانَ مِنَ الصَّحَابَةِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: إِذَا جَمَعَ اللّٰهُ النَّاسَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِيَوْمٍ لَا رَيْبَ فِيْهِ، نَادٰى مُنَادٍ: مَنْ كَانَ أَشْرَكَ فِيْ عَمَلٍ عَمِلَهُ لِلّٰهِ أَحَدًا فَلْيَطْلُبْ ثَوَابَهُ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ فَإِنَّ اللّٰهَ أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ. سنن الترمذي أَبْوَابُ تَفْسِيْرِ الْقُرْآنِ بَابٌ: وَمِنْ سُوْرَةِ الْكَهْفِ رقم الحديث ۳۱۵۴ قال الالباني: حسنٌ. سنن ابن ماجة باب الرّياء والسمعة رقم الحديث ۱۵۸۳۸، ورقم الحديث ۱۷۸۸۸، مشكوة المصابيح باب الرّياء والسمعة الفصل الثاني رقم الحديث ۵۳۱۸(۵)، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۷۷۸، كنزالعمال رقم الحديث ۷۴۷۲ حرف الراء الرياء.

(۲) عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: يُجَاءُ بِأَعْمَالِ بَنِيْ آدَمَ فَيُنْصَبُ بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ تَعَالٰى يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيْ صُحُفٍ مُخَتَّمَةٍ، فَيَقُوْلُ: خُذُوْا وَأَلْقُوْا هٰذَا. فَيَقُوْلُوْنَ: وَاللّٰهِ مَا عَلِمْنَا إِلَّا خَيْرًا. قَالَ: إِنَّ عَمَلَهُ كَانَ لِغَيْرِيْ، وَإِنِّيْ لَا أَقْبَلُ إِلَّا مَا ابْتُغِيَ بِهِ وَجْهِيْ. شعب الايمان رقم الحديث ۶۴۱۷ اخلاص العمل لله عز وجل و ترک الرياء، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۵۸ الترغيب في الاخلاص والصدق والنية الصالحة. ← ← ← ←

فائده: د دې مذکوره احاديثو خلاصه داده چې الله تعالی صرف هغه نيک عمل قبلوي کوم چې خالص د هغه د رَضا د پاره شوې وي، د رِيا شُهرت او ځان خودَنې نه پاک وي.

٤. حضرت طاؤس رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې يو کس رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو:

إِنِّي أَقِفُ الْمَوَاقِفَ أُرِيدُ وَجْهَ اللهِ، وَأُحِبُّ أَنْ يُرٰى مَوْطِنِي.

(اې د الله رسوله!) زه چې کله د يو نيک عمل د پاره اُودريږم نو زما اِراده (په دې سره) خاص د الله ﷻ رَضا وي، او ورسره زه دا هم خوښوم چې زما عمل خلقو ته ښکاره شي (نو د دې څه حُکم دی؟).

نبي عليه السلام ده ته هيڅ جواب ورنکړو (خاموشه شو)، تر دې چې دا آيت نازل شو:

﴿ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا ﴾. (۱)

ترجمه: پس څوک چې د خپل رَب سره د ملاقات اُميد لري نو هغه له په کار دي چې نيک عمل کوي، او د خپل رَب په عبادت کې دې بل څوک نه شريکوي. (۲)

۵. روژه نيول او ټوله شپه عبادت کول بهترين اعمال دي خو چې کله په دې کې هم اخلاص

←←← وفي رواية: وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يُؤْتَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصُحُفٍ مُخَتَّمَةٍ. فَتُنْصَبُ بَيْنَ يَدَيِ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى فَيَقُولُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: أَلْقُوا هٰذِهِ وَاقْبَلُوا هٰذِهِ. فَتَقُولُ الْمَلَائِكَةُ: وَعِزَّتِكَ، مَا رَأَيْنَا إِلَّا خَيْرًا. فَيَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: إِنَّ هٰذَا كَانَ لِغَيْرِ وَجْهِي، وَإِنِّي لَا أَقْبَلُ الْيَوْمَ إِلَّا مَا ابْتُغِيَ بِهِ وَجْهِي. مجمع الزوائد ومنبع الفوائد رقم الحديث ۱۸۳۹۵ كِتَابُ الْبَعْثِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْحِسَابِ، و رقم الحديث ۱۸۳۹۶ وقال الهيثمي: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْأَوْسَطِ بِإِسْنَادَيْنِ، وَرِجَالُ أَحَدِهِمَا رِجَالُ الصَّحِيحِ، وَرَوَاهُ الْبَزَّارُ. المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۲۶۰۳.

(۱) الكهف آية ۱۱۰.

(۲) عَنْ طَاوُسٍ رَحِمَهُ اللهُ قَالَ: قَالَ رَجُلٌ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنِّي أَقِفُ الْمَوَاقِفَ أُرِيدُ وَجْهَ اللهِ، وَأُحِبُّ أَنْ يُرٰى مَوْطِنِي. فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا حَتّٰى نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ: { فَمَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا }. الجهاد لابن المبارك ۳۴/۱ رقم الحديث ۱۲، تفسير ابن كثير ج۳ ص۱۱۳.

نه وي او انسان د ګناهونو نه ځان نه ساتي نو په دې باندې هم انسان ته ثواب نه ملاويږي.

د مشكوة شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

كَمْ مِنْ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلَّا الظَّمَأُ ، وَكَمْ مِنْ قَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ قِيَامِهِ إِلَّا السَّهَرُ . (۱)

ډير روژه دار داسې دي چې هغوی ته د خپلې روژې په عِوض کې بغير د تَندې نه بل هيڅ شی نه ملاويږي ، او ډير د شپې عبادت کوونکي داسې دي چې هغوی ته د شپې د عبادت په وجه د وِيخ پاتې کيدو نه علاوه بل هيڅ شی نه حاصليږي .

**د حديث تشريح** : علامه طيبي رحمه الله د دې حديث تشريح داسې کړی چې : کومه روژه خالصه د الله ﷻ د رَضا د پاره نه وي ، او روژه دار په کې د دروغو ، غِيبت ، بُهتان ، حرام مال او نورو ګناهونو نه ځان نه ساتي :

يَحْصُلُ لَهُ الْجُوْعُ وَالْعَطَشُ ، وَلَا تَحْصُلُ لَهُ الثَّوَابُ .

داسې کس ته صرف اُولږه او تنده حاصليږي ليکن د روژې ثواب ورته پوره نه ملاويږي.

همدغه شان حُکم د شپې عبادت کوونکي کس هم دی ( يعنی چې کله د ده مقصد د الله ﷻ رَضا نه وي او د ګناهونو نه ځان نه ساتي نو ده ته هم د دې عبادت پوره ثواب نه ملاويږي ) . (۲)

---

(۱) هذا حديث صحيح . رَوَاهُ الدَّارِمِيّ . مشكوة المصابيح بَابُ تَنْزِيهِ الصَّوْمِ الفصل الثاني رقم الحديث ۲۰۱۴ ( ۱۶ ) .

وفي رواية : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : رُبَّ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلَّا الْجُوْعُ ، وَرُبَّ قَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ قِيَامِهِ إِلَّا السَّهَرُ . سنن ابن ماجة كِتَابُ الصِّيَامِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْغِيبَةِ وَالرَّفَثِ لِلصَّائِمِ رقم الحديث ۱۶۹۰ . قال الالباني : حسن صحيح . و رواه النسائي وابن خزيمة في صحيحه والحاكم . وقال الحاكم : هذا الحديث صحيح على شرط البخاري .

ډير روژه دار داسې دي چې هغوی ته د خپلې روژې په عِوض کې د وَلږې او تندې نه علاوه بل هيڅ نه ملاويږي ، او ډير د شپې عبادت کوونکي داسې دي چې هغوی ته د بې خوابۍ نه علاوه بل هيڅ نه ملاويږي .

( إِلَّا الْجُوْعُ ) : أي ليس لصومه قبول عند الله فلا ثواب له . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على سنن ابن ماجة .

(۲) شرح الطيبي على مشكاة المصابيح المسمى ب " الكاشف على حقائق السنن " ج۴ ص ۱۶۴ .

# د رِياکار مثال

د يو بزرګ وېنا ده چې څوک د رِيا او شهرت د پاره عمل کوي نو د هغه مثال د هغه چا په شان دی چې تهېلۍ يې د کاڼو نه ډکه کړې وي او په بازار کې روان وي، خلق چې دا تهېلۍ ګوري نو دا ګمان کوي چې ګڼي ددې کس سره ډېرې روپۍ دي دا به په دې بازار کې ډېره سَوداء واخلي مګر په حقيقت کې ده ته ددې په عِوض کې هيڅ نه ملاوېږي، همدغه شان رِياکار هم دی چې خلق دده نېک اعمال او ګوري نو دا ګمان کوي چې ګڼي ته به د قيامت په ورځ ددې په عِوض کې ډېر اَجر ملاوُ شي خو ليکن د رِيا په وجه به ده ته ددې په عِوض کې هيڅ ثواب ملاوُ نشي، ځکه د رِيا واله عمل الله ﷻ نه قبلوي.

# د رِياکار د پاره د قيامت په ورځ رَسوائي

۱. د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

مَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللهُ بِهِ، وَمَنْ يُرَائِي يُرَائِي اللهُ بِهِ. (۱)

څوک چې خلقو ته د آورولو (او شهرت) د پاره څه نېک عمل کوي نو الله تعالی به (د قيامت په ورځ) دده عيبونه ښکاره کولو سره دا رَسواء کړي، او څوک چې خلقو ته د خودَنې د پاره څه نېک عمل کوي نو الله تعالی به ده ته (د قيامت په ورځ) ددې رِياکارۍ سزا ورکړي.

**د حديث تشريح**: د حديث مطلب دادی چې څوک په دُنيا کې خلقو ته د آورولو د پاره نېک عمل کوي چې خلق زما تعريف اوکړي نو الله تعالی به د قيامت په ورځ د خلقو د وړاندې دا رَسواء کړي.

او څوک چې خلقو ته د ځان خودَنې د پاره څه عمل کوي نو الله تعالی به د قيامت په ورځ د خلقو د وړاندې دده رِيا ښکاره کړي او ددې سزا به ورکړي.

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ الرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ رقم الحديث ۶۴۹۹، صحيح مسلم كِتَابُ الزُّهْدِ وَالرَّقَائِقِ بَابُ مَنْ أَشْرَكَ فِي عَمَلِهِ غَيْرَ اللهِ رقم الحديث ۴۷(۲۹۸۶)، مشكوة المصابيح باب الرياء والسمعة الفصل الاول رقم الحديث ۵۳۱۶(۳)، مسند احمد رقم الحديث ۲۰۴۵۶، شعب الايمان رقم الحديث ۶۴۰۰.

(( ملا علي قاري رحمه الله په "مرقاة" کې ددې حديث همداسې تشريح کړې . همدارنګې امام نووي رحمه الله هم د مسلم شريف په شرح کې ، او علامه ابن حجر رحمه الله په "فتح الباري" کې ددې حديث بهترينه تشريح کړې او ددې حديث نور مطلبونه يې هم بيان کړي . (١) ))

٢. په يو بل حديث کې راځي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ سَمَّعَ النَّاسَ بِعَمَلِهِ سَمَّعَ اللهُ سَامِعَ خَلْقِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ، وَصَغَّرَهُ وَحَقَّرَهُ . (٢)

څوک چې خپل عمل ته په خلقو کې شهرت ورکوي نو الله تعالى به د قيامت په ورځ د خلقو غوږونو ته دده دا رياکارانه عمل اورسوي ، دا به سپک او ذليل کړي .

---

(١) (مَنْ سَمَّعَ) بِتَشْدِيدِ الْمِيمِ. أَيْ: مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لِلسُّمْعَةِ بِأَنْ نَوَّهَ بِعَمَلِهِ وَشَهَرَهُ لِيَسْمَعَ النَّاسُ بِهِ وَيَمْتَدِحُوهُ (سَمَّعَ اللهُ بِهِ) بِتَشْدِيدِ الْمِيمِ أَيْضًا. أَيْ: شَهَرَهُ اللهُ بَيْنَ أَهْلِ الْعَرَصَاتِ وَفَضَحَهُ عَلَى رُءُوسِ الْأَشْهَادِ ....... (وَمَنْ يُرَائِي يُرَائِي اللهُ بِهِ) ... وَالْمَعْنَى : مَنْ يَعْمَلُ عَمَلًا لِيَرَاهُ النَّاسُ فِي الدُّنْيَا يُجَازِيهِ اللهُ تَعَالَى بِهِ بِأَنْ يُظْهِرَ رِيَاءَهُ عَلَى الْخَلْقِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ٣٣٣٢/٨ باب الرياء والسمعة الفصل الاول في تشريح حديث ٥٣١٦ .

قَوْلُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : (مَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللهُ بِهِ ، وَمَنْ رَاءَى رَاءَى اللهُ بِهِ) . قَالَ الْعُلَمَاءُ مَعْنَاهُ : مَنْ رَايَا بِعَمَلِهِ وَسَمَّعَهُ النَّاسَ لِيُكْرِمُوهُ وَيُعَظِّمُوهُ وَيَعْتَقِدُوا خَيْرَهُ سَمَّعَ اللهُ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ النَّاسَ وَفَضَحَهُ . وَقِيلَ مَعْنَاهُ مَنْ سَمَّعَ بِعُيُوبِهِ وَأَذَاعَهَا أَظْهَرَ اللهُ عُيُوبَهُ . وَقِيلَ أَسْمَعَهُ الْمَكْرُوهَ . وَقِيلَ أَرَاهُ اللهُ ثَوَابَ ذَلِكَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُعْطِيَهُ إِيَّاهُ لِيَكُونَ حَسْرَةً عَلَيْهِ. وَقِيلَ مَعْنَاهُ : مَنْ أَرَادَ بِعَمَلِهِ النَّاسَ أَسْمَعَهُ اللهُ النَّاسَ وَكَانَ ذَلِكَ حَظَّهُ مِنْهُ . شرح النووي على مسلم (المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج) ١١٦/١٨ رقم الحديث ٤٧ (٢٩٨٦) كِتَابُ الزُّهْدِ وَالرَّقَائِقِ بَابُ مَنْ أَشْرَكَ فِي عَمَلِهِ غَيْرَ اللهِ .

قال الخطابي في شرح حديث «مَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللهُ بِهِ . وَمَنْ يُرَائِي يُرَائِي اللهُ بِهِ» : معناه : من عمل عملا على غير إخلاص، وإنما يريد أن يراه الناس ويسمعوه جوزي على ذلك بأن يشهره الله ويفضحه ويظهر ما كان يبطنه .

وقال ابن حجر: وقيل من قصد بعمله الجاه والمنزلة عند الناس ولم يرد به وجه الله فإن الله يجعله حديثا عند الناس الذين أراد نيل المنزلة عندهم ولا ثواب له في الآخرة. ومعنى (يُرَائِي اللهُ بِهِ) : أي يطلعهم على أنه فعل ذلك لهم لا لوجهه. وقيل: المعنى: من يرائي الناس بعمله أراه الله ثواب ذلك العمل وحرمه إياه . فتح الباري ٣٣٦/١١ .

(٢) شعب الايمان رقم الحديث ٦٣٠٢ ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٦٩٨٦ ، و رقم الحديث ٦٥٠٩ ، و رقم الحديث ٦٨٣٩ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ٣٩٨٣ ، مشكوة المصابيح باب الرياء والسمعة الفصل الثاني رقم الحديث ٥٣١٩(٦) ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ٣١٣٨ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ١٧٦٦٠ .

**د حديث تشريح :** يعنی څوک چې په دُنيا کې نېک عمل صرف خلقو ته د آورولو او خپل شهرت د پاره کوي نو الله تعالى به د قيامت په ورځ د خلقو غوږونو ته دا خبره اُورسوي چې دې کس په دُنيا کې د رِيا او شهرت د پاره عمل کولو ، نو دده باطني خُباثت به ټولو خلقو ته ښکاره شي ، او د خلقو د وړاندې به ذليل او رُسواء شي .

## رِيا کار به د قيامت په ورځ د ټولو نه مخکې پړمخ جهنم ته غورځولې شي

څوک چې په دُنيا کې د رِيا او شهرت د پاره نېک عمل کوي نو د قيامت په ورځ به داسې رِياکار د ټولو نه مخکې جهنم ته غورځولې شي .

د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

د قيامت په ورځ د ټولو نه مخکې چې د کومو خلقو خلاف جهنم ته د تللو فيصله کولې شي په هغې کې به اولنې هغه کس وي چې ( په ميدانِ جنګ کې ) شهيد شوې وي .

دا شهيد به د الله ﷻ د وړاندې راوستې شي ، الله تعالى به ده ته د هر هر نعمت اِظهار اوفرمايي ( چې ما تاته دا دا نعمتونه درکړي وو ) ، هغه به هر نعمت اوپېژني ( او ددې اِقرار به اوکړي ) . بيا به الله تعالى ورته اوفرمايي :

فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا ؟ تا په دې نِعمتونو کې څه څه کړي وو ؟ ( او د کومو مقاصدو د پاره دې اِستعمال کړي وو ؟ )

دا به ورته ووايي : ( ما آخري عمل دا کړې وُ چې ) ما ستاد رَضا د پاره جهاد اوکړو تر دې پورې چې زه شهيد شوم ( او خپل قيمتي رُوح مې ستا په لاره کې قُرباني کړو ) .

الله تعالى به ورته اوفرمايي :

كَذَبْتَ ، وَلٰكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ : جَرِيْءٌ ، فَقَدْ قِيْلَ .

تا دروغ وويل ، تا خو ددې د پاره جهاد کړې وُ چې تاته بَهادر وويلې شي ، او دا تاته په دُنيا کې ويل شوي وو ( لهذا ستا مقصد حاصل شوې دی ) .

بيا به د الله ﷻ د طرفه دده په باره کې حکم اوکړې شي نو دا به پَړمخې راښکلې شي او جهنم ته به اُوغورځولې شي .

دويم به هغه کس وي چې هغه عِلم حاصل کړې وي ، بيا يې بَل ته خودلې وي ، او قرآن کريم يې هم لوستلې وي . دا به هم د الله ﷻ د وړاندې پيش کړې شي ، الله تعالى به ده ته هم خپل ورکړي نعمتونه ورياد کړي ، دا به هم د هغې اِقرار اوکړي ، بيا به ورنه پوښتنه اوکړي :

فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا ؟ تا په دې نِعمتونو کې څه څه کارونه کړي وو ؟ ( او څنګه دې استعمال کړي وو ؟ )

دا به ورته اووايي : تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ ، وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَأْتُ فِيْكَ الْقُرْآنَ .

ما عِلم حاصل کړې وُ ، بيا مې نورو ته اُوخود ، او خالِصه ستا د رَضا د پاره مې قرآن مجيد لوستلې وُ .

الله تعالى به ورته اوفرمايي :

كَذَبْتَ ، وَلٰكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ : عَالِمٌ ، وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ : هُوَ قَارِئٌ ، فَقَدْ قِيْلَ .

تا دروغ وويل ، تا خو عِلم ددې د پاره زده کړې وُ چې خلق درته عالِم اووايي ، او قرآن کريم دې ددې د پاره لوستلې وُ چې خلق درته قاري اووايي ، او دا تا ته (په دُنيا کې) ويل شوي (لهذا ستا مقصد حاصل شوې دی) .

بيا به د الله ﷻ د طرفه دده په باره کې هم حکم اوشي ، دا به هم پَرمخې راښکلې جهنم ته اوغورځولې شي .

دريم به هغه کس وي چې په هغه باندې الله ﷻ په دُنيا کې فراخي راوستې وه ، او هر قِسم مال يې ورکړې وُ ، دا به هم د الله ﷻ د وړاندې راوستې شي ، الله ﷻ به ده ته هم خپل نِعمتونه وَرياد کړي (چې ما تا ته دا دا نِعمتونه درکړي وو) ، دا به د ټولو اِقرار اوکړي ، بيا به الله ﷻ ورته اوفرمايي :

فَمَا عَمِلْتَ فِيْهَا ؟ تا په دې نِعمتونو کې څه کړي وو ؟ ( او څنګه دې استعمال کړي وو ؟ )

دا به ورته اووايي : مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيْلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيْهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ فِيْهَا لَكَ .

اې الله ! په کومو ځايونو کې چې مال خرچ کول تا ته خوښ وو په هغه ټولو ځايونو کې ما خپل مال صِرف ستا د رَضا د پاره خرچ کړې وُ .

الله تعالى به ورته اوفرمايي :

كَذَبْتَ، وَلٰكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ : هُوَ جَوَادٌ، فَقَدْ قِيْلَ .

تا دروغ ووېل ، دا کارونه خو تا ددې د پاره کړي وو چې خلق درته سخي اووايي ، او دا (په دُنيا کې) تاته وېل شوي ( لهذا ستا مقصد هم حاصل شوې دی) .

بيا به دده په باره کې حکم اوشي ، دا به هم پړمخې رابنکلې شي ، او جهنم ته به اوغورځولې شي .(۱)

**فائده** : په دې حديث کې د درې (۳) أعمالو ذکر اوشو :

۱ . په جهاد کې شهيد کېدل . ۲ . د عِلم زده کړه ، بيا بل ته خودل ، او د قرآن کريم په لوستلو او حاصلولو کې مشغوله کېدل . ۳ . د خير په کارونو کې خپل مال خرچ کول .

اوس که چيرته دا کارونه خالصه د الله ﷻ د رَضا د پاره وي نو بې د شک و شبهې نه دا د جنت حاصلولو بهترين ذرائع دي ، ليکن که چيرته په دې کې د الله ﷻ رَضا نه وي ، بلکه رِياء کاري ، شهرت ، يا څه دُنيوي فائده مقصود وي نو بيا ددې داسې سخته سزا ده چې

(۱) عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، قَالَ: تَفَرَّقَ النَّاسُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ ، فَقَالَ لَهُ نَاتِلُ أَهْلِ الشَّامِ : أَيُّهَا الشَّيْخُ ! حَدِّثْنَا حَدِيثًا سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ : نَعَمْ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَيْهِ رَجُلٌ اُسْتُشْهِدَ ، فَأُتِيَ بِهِ ، فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا، قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا ؟ قَالَ : قَاتَلْتُ فِيكَ حَتَّى اسْتُشْهِدْتُ ، قَالَ : كَذَبْتَ وَلٰكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ : جَرِيءٌ ، فَقَدْ قِيلَ ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ ، فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ . وَرَجُلٌ تَعَلَّمَ الْعِلْمَ ، وَعَلَّمَهُ وَقَرَأَ الْقُرْآنَ ، فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ ، فَعَرَفَهَا ، قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا ؟ قَالَ : تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ ، وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَأْتُ فِيكَ الْقُرْآنَ . قَالَ : كَذَبْتَ ، وَلٰكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ : عَالِمٌ ، وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ : هُوَ قَارِئٌ ، فَقَدْ قِيلَ . ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ . وَرَجُلٌ وَسَّعَ اللهُ عَلَيْهِ ، وَأَعْطَاهُ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ كُلِّهِ ، فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ ، فَعَرَفَهَا . قَالَ : فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا ؟ قَالَ : مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ فِيهَا لَكَ . قَالَ : كَذَبْتَ ، وَلٰكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ : هُوَ جَوَادٌ ، فَقَدْ قِيلَ ، ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ ، ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ . صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ مَنْ قَاتَلَ لِلرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ اسْتَحَقَّ النَّارَ رقم الحديث ۱۵۲ (۱۹۰۵) ، و رواه احمد في مسنده ، والنسائي رقم الحديث ۳۱۳۷ مَنْ قَاتَلَ لِيُقَالَ فلانٌ جَرِيءٌ ، كنز العمال رقم الحديث ۷۴۷۱ .

دقيامت په ورځ به د نورو ګناهګارانو نه مخکې د دوی د پاره جهنم ته د تللو فيصله کولې شي، او پړمخې به جهنم ته غورځولې شي. اَللّٰهُمَّ احْفَظْنَا

## د عمل د صحيح والي د پاره څلور خبرې ضروري دي

هر نېک عمل څلور شيانو ته محتاج دی ، دا ددې د پاره چې دا نېک عمل صحيح او سالِم شي :

اول : د شروع کولو نه مخکې ددې عمل متعلق علم حاصلول. ځکه عمل په عِلم سره صحيح کيږي ، کله چې عمل بغير د علم نه وي نو د اِصلاح په نسبت يې فساد زيات وي.

دويم : د عمل په شروع کې نيت صحيح کول. ځکه عمل بغير د نيت نه نه صحيح کيږي، نبي عليه السلام فرمايي : إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوٰى . (١)

بيشکه د اعمالو (د ثواب) دارو مدار په نيتونو باندې (موقوف) دی ، او هر سړي ته به هغه څه ملاويږي چې د کوم نيت يې کړې وي .

مونځ ، روژه ، زکوة ، حج او نور نېک اعمال بغير د نيت نه نه صحيح کيږي نو ځکه د عمل صحيح کيدلو د پاره د هر نېک عمل د پاره په شروع کې نيت په کار دی .

دريم : د عمل په وخت صبر کول. يعنی په اِطمينان او سکون سره عمل کول .

څلورم : په اخلاص باندې عمل کول. ځکه بغير د اِخلاص نه عمل نه قبليږي . (٢)

---

(١) صحيح البخاري بَابُ بَدْءِ الْوَحْيِ كَيْفَ كَانَ بَدْءُ الْوَحْيِ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ رقم الحديث ١ ، صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ قَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ رقم الحديث ١٥٥ (١٩٠٧) ، سنن ابي داؤد كِتَابُ الطَّلَاقِ بَابٌ فِيمَا عُنِيَ بِهِ الطَّلَاقُ وَالنِّيَّاتُ رقم الحديث ٢٢٠١ .

(٢) وَقَالَ بَعْضُ الْحُكَمَاءِ : يَحْتَاجُ الْعَمَلُ إِلَى أَرْبَعَةِ أَشْيَاءَ حَتّٰى يَسْلَمَ : أَوَّلُهَا الْعِلْمُ قَبْلَ بَدْئِهِ. لِأَنَّ الْعَمَلَ لَا يَصْلُحُ إِلَّا بِالْعِلْمِ. فَإِذَا كَانَ الْعَمَلُ بِغَيْرِ عِلْمٍ كَانَ مَا يُفْسِدُهُ أَكْثَرَ مِمَّا يُصْلِحُهُ .

وَالثَّانِي : اَلنِّيَّةُ فِي مَبْدَئِهِ . لِأَنَّ الْعَمَلَ لَا يَصْلُحُ إِلَّا بِالنِّيَّةِ ، كَمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوٰى » فَالصَّوْمُ وَالصَّلٰوةُ وَالْحَجُّ وَالزَّكَاةُ وَسَائِرُ الطَّاعَاتِ لَا تَصْلُحُ إِلَّا بِالنِّيَّةِ. فَلَابُدَّ مِنَ النِّيَّةِ فِي مَبْدَئِهَا لِيَصْلُحَ الْعَمَلُ.

وَالثَّالِثُ : اَلصَّبْرُ فِي وَسَطِهِ . يَعْنِي يَصْبِرُ فِيهَا حَتّٰى يُؤَدِّيَهَا عَلَى السُّكُوْنِ وَالطُّمَأْنِيْنَةِ . ←←←←

# په رِيا سره د عمل ثواب باطليږي

فقيه ابو الليث سمرقندي رحمه الله فرمايي :

څوک چې اراده لري چې په آخرت کې د خپل نېک عمل ثواب اُومومي نو ده ته په کار دي چې نېک عمل خالص د الله ﷻ د رَضا د پاره اوکړي بيا دا عمل مکمل هېر کړي ( د ځان خودَنې د پاره بار بار ددې تذکره نه کوي ) دا ددې د پاره چې په عُجب ( او رِيا ) سره دا عمل باطل نکړي ، ځکه مشهوره مقوله ده :

حِفْظُ الطَّاعَةِ أَشَدُّ مِنْ فِعْلِهَا .

د نېک عمل حفاظت د نېک عمل کولو نه ډېر سخت دی .

ابوبکر واسطي رحمه الله هم دا خبره کړې چې : " د نېک عمل حفاظت د کولو نه ډېر سخت دی " دا ځکه چې د عمل مثال په شان د شيشې دی ، لکه څرنگې چې شيشه ډېره زر ماتيږي ، هيڅ زور نه برداشت کوي او بيا نه جوړيږي نو همدغه شان نېک عمل هم دی چې دا په رِيا سره هم فاسديږي ، په عُجب ( تکبّر او ځان خودَنې ) سره هم فاسديږي .

لهذا د زړه نه رِيا ويستل په کار دي ، او که په زړه کې د رِيا خطره راځي نو بيا استغفار ډېر ويل پکار دی .(۱)

---

←←← وَالرَّابِعُ : اَلْإِخْلَاصُ عِنْدَ فَرَاغِهِ. لِأَنَّ الْعَمَلَ لَا يُقْبَلُ بِغَيْرِ إِخْلَاصٍ. فَإِذَا عَمِلْتَ بِالْإِخْلَاصِ يَتَقَبَّلُ اللهُ تَعَالَى مِنْكَ وَتُقْبِلُ قُلُوبُ الْعِبَادِ إِلَيْكَ. تنبيه الغافلين ۳۱/۱ بَابُ الْإِخْلَاصِ

(۱) مَنْ أَرَادَ أَنْ يَجِدَ ثَوَابَ عَمَلِهِ فِي الْآخِرَةِ يَنْبَغِي لَهُ أَنْ يَكُونَ عَمَلُهُ خَالِصًا لِلّٰهِ تَعَالَى بِغَيْرِ رِيَاءٍ ثُمَّ يَنْسَى ذٰلِكَ الْعَمَلَ لِكَيْلَا يُبْطِلَهُ الْعُجْبُ . لِأَنَّهُ يُقَالُ : حِفْظُ الطَّاعَةِ أَشَدُّ مِنْ فِعْلِهَا .

وَقَالَ أَبُو بَكْرٍ الْوَاسِطِيُّ : حِفْظُ الطَّاعَةِ أَشَدُّ مِنْ فِعْلِهَا ، لِأَنَّ مَثَلَهَا كَمَثَلِ الزُّجَاجِ سَرِيْعُ الْكَسْرِ. وَلَا يَقْبَلُ الْجَبْرَ . كَذٰلِكَ الْعَمَلُ إِنْ مَسَّهُ الرِّيَاءُ كَسَرَهُ ، وَإِذَا مَسَّهُ الْعُجْبُ كَسَرَهُ ، وَإِذَا أَرَادَ الرَّجُلُ أَنْ يَعْمَلَ عَمَلًا وَخَافَ الرِّيَاءَ مِنْ نَفْسِهِ فَإِنْ أَمْكَنَهُ أَنْ يُخْرِجَ الرِّيَاءَ مِنْ قَلْبِهِ فَيَنْبَغِي لَهُ أَنْ يَجْتَهِدَ فِي ذٰلِكَ وَإِنْ لَمْ يُمْكِنْهُ فَيَنْبَغِي أَنْ يَعْمَلَ وَلَا يَتْرُكَ الْعَمَلَ لِأَجْلِ الرِّيَاءِ ، ثُمَّ يَسْتَغْفِرَ اللهَ تَعَالَى مِمَّا فَعَلَ فِيهِ مِنَ الرِّيَاءِ فَلَعَلَّ اللهَ تَعَالَى أَنْ يُوَفِّقَهُ لِلْإِخْلَاصِ فِي عَمَلٍ آخَرَ . تنبيه الغافلين باحاديث سيد الأنبياء والمرسلين للسمرقندي ۱ /۳۳ بَابُ الْإِخْلَاصِ .

## د خپل شهرت د پاره بار بار په خبرو کې نېک عمل يادول ندي په کار

بعضې خلق چې کله خبرې کوي نو بار بار په خپلو خبرو کې خپل نېک عمل ته اِشاره کوي او مقصد يې دا وي چې خلقو ته زما ددې نېک عمل پته اُولګي ، دوی زما صفت اوکړي او زه مشهور شم .

مثلاً چې چا څلور يا پنځه حَجونه کړي وي نو دا د خبرو په وخت وايي " کله چې زه څلورم حج ته لاړم نو هلته دا واقعه راپېښه شوه " .

نو دا په رِيا کې راځي ، صرف واقعه بيانول په کار دي ، بار بار د خپل شُهرت د پاره نېک عمل رايادول ندي په کار .

بعضې خلق حج صرف د خپل نوم د پاره کوي چې خلق راته حاجي اُووايي ، يا چې کله خپل نوم اخلي نو بار بار ځانته " حاجي " وايي ، او په دې سره يې مقصد رِيا او شهرت وي ، نو خبردار ، په دې سره دا حج خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره نه پاتې کيږي .

**واقعه** : يو عالم په رېل ګاډي کې سفر کولو ، مخامخ ورسره بل کس ناست ؤ ، د خبرو په دَوران کې عالم ددې کس نه پوښتنه اوکړه چې : ستا څه نوم دی ؟ هغه ورته ووېل : زما نوم حاجي عبدالرحمن دی .

(ده په خبرو خبرو کې بار بار ځانته د "حاجي" نِسبت کولو) .

بيا دې کس ددې عالِم نه پوښتنه اوکړه چې : ستا څه نوم دی ؟ ده ( د هغه د اِصلاح د پاره ) ورته ووېل : زمانوم مونځ ګزار عبدالرحيم دی .

هغه چې دا خبره واورېده نو دا ورباندې بَده اُولګېده ، دده نه پوښتنه اوکړه :

دا " مونځ ګزار " هم څه لقب دی چې ته يې د خپل نوم سره لګوی ؟

دې عالِم ( د هغه د اِصلاح د پاره ) ورته ووېل : عجيبه دا ده چې تا په ټول عُمر کې صرف يو حج کړی د هغې په وجه ته د خپل نوم سره بار بار " حاجي " وايې او زه په هره ورځ پنځه وَخته مونځ کوم نو که ما د خپل نوم سره " مونځ ګزار " ووېل نو په تا باندې ولې بده اُولګېده ؟ (۱)

---

(۱) تبليغي اور اِصلاحي مضامين لمولانا مفتي محمد عاشق الهي بُلند شهري ج۳ ص ۲۱۰ .

(ددې عالِم مقصد د هغه اِصلاح کول وو چې زه د ورځې پنځه وخته مونځ کوم ليکن د خپل نوم سره " مونځ گزار " نه وايم او تا صرف يو ځل حج کړی خو بار بار د تکبّر او رِيا د پاره د خپل نوم سره " حاجي " وايې).

بلکه که يو کس نېک عمل صرف ددې د پاره کوي چې خلق زما صفت اوکړي نو په دې سره د نېک عمل ثواب ختميږي.(۱)

ډير داسې رِيا کار خلق هم شته چې هغوی نېک عمل نه وي کړی خو بيا هم د خپل ځان د شهرت د پاره خلقو ته دا وايي چې ما دا نېک عمل کړې دی نو دا بيا د دروغو په گناه کې هم راغی.(۲)

## اسلافو به د ډير عبادت کولو باوجود د خپل عِجز اِقرار کولو

که مونږ د خپلو اَسلافو حالت اوگورو نو هغوی به ټوله شپه په عبادت تېره کړه خو بيا به يې هم دا ويل:

مَا عَبَدْنَاكَ حَقَّ عِبَادَتِكَ. اې الله! مونږ ستا حق عبادت اونکړو.

او خلقو ته به يې د خپل ځان د شهرت د پاره د خپل عبادت تذکره نه کوله.

ډيرو به ټوله شپه تر سهره پورې عبادت اوکړو خو سهر به يې د خلقو د وړاندې داسې آنداز اِختيارول چې په هغې سره به معلوميده چې دا اُوس د خوب نه راپاڅيد.(۳)

---

(۱) عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضي الله عنه فَقَالَ: أَنْبِئْنِي عَمَّا أَسْأَلُكَ عَنْهُ. أَرَأَيْتَ رَجُلًا يُصَلِّي يَبْتَغِي وَجْهَ اللهِ وَيُحِبُّ أَنْ يُحْمَدَ، وَيَصُومُ وَيَبْتَغِي وَجْهَ اللهِ وَيُحِبُّ أَنْ يُحْمَدَ، وَيَتَصَدَّقُ وَيَبْتَغِي وَجْهَ اللهِ وَيُحِبُّ أَنْ يُحْمَدَ، وَيَحُجُّ وَيَبْتَغِي وَجْهَ اللهِ وَيُحِبُّ أَنْ يُحْمَدَ. فَقَالَ عُبَادَةُ: لَيْسَ لَهُ شَيْءٌ. إِنَّ اللهَ تَعَالَى يَقُولُ: أَنَا خَيْرُ شَرِيكٍ، فَمَنْ كَانَ لَهُ مَعِيْ شَرِيكٌ فَهُوَ لَهُ كُلُّهُ لَا حَاجَةَ لِي فِيهِ. تفسير ابن كثير ۵/۲۰۵ الكهف آية ۱۱۰، تفسير الطبري ۳۲/۱۶، نضرة النعيم ج ۲ ص ۱۳۹.

(۲) قَالَ الْفُضَيْلُ بْنُ عِيَاضٍ رَحِمَهُ اللهُ: كَانُوا يُرَاءُونَ بِمَا يَعْمَلُونَ، وَصَارُوا الْيَوْمَ يُرَاءُونَ بِمَا لَا يَعْمَلُونَ. الاحياء ج ۳ ص ۲۹۶ كتاب ذم الجاه والرياء. نضرة النعيم ج ۱۰ ص ۴۵۶۵ الرياء.

(۳) كَانَ أَيُّوبُ السَّخْتِيَانِيُّ رحمه الله يَقُومُ اللَّيْلَ كُلَّهُ فَيُخْفِي ذٰلِكَ، فَإِذَا كَانَ عِنْدَ الصُّبْحِ رَفَعَ صَوْتَهُ كَأَنَّهُ قَامَ تِلْكَ السَّاعَةَ. نزهة الفضلاء ۵۱۲/۱. نضرة النعيم ج ۱۰ ص ۴۵۶۶ الرياء.

**د امامِ ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ د عاجزۍ اقرار** : د أحنافو په معتمد كتاب "اَلدُّرُّ الْمُخْتَار" كې ذكر دي چې يوه شپه امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په خانه كعبه كې دننه په دوه ركعته مانځه باندې اُودريد ، په اول ركعت كې نيم قرآن مجيد ختم كړو ، او په دويم ركعت يې باقي پاتې نيم قرآن مجيد ختم كړو ، د سلام نه پس په ژړا شو او ډيرې عاجزۍ سره يې په دُعا كې الله ﷻ ته دا عرض اوكړو : اې الله ! دې عاجز بنده ستا حق عبادت اونكړو ....(۱)

الله ﷻ د مُتّقيانو صفت هم دا ذكر كړى :

﴿ كَانُوا قَلِيلًا مِّنَ الَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ ۝ وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴾ ۰ (۲)

ترجمه : دې مُتّقيانو به د شپې لږ خوب كولو ، او د سهر په وخت به د وى بخنه غوښتله .

لهذا عبادت خاص د الله ﷻ د رضا د پاره په كار دى ، د ريا او شهرت نه ځان ساتل په كار دي .

## د نورو خلقو د تعريف په وجه دُهوكه كيدل ندي په كار

بعضې كس داسې وي چې كله نور خلق دده تعريف اوكړي ، يا دده متعلق دا اُووايي چې

---

(۱) وَقَالَ إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي رَجَاءٍ : رَأَيْتُ مُحَمَّدًا فِي الْمَنَامِ فَقُلْت لَهُ : مَا فَعَلَ اللهُ بِك ؟ فَقَالَ : غَفَرَ لِي ، ثُمَّ قَالَ : لَوْ أَرَدْتُ أَنْ أُعَذِّبَكَ مَا جَعَلْتُ هٰذَا الْعِلْمَ فِيكَ . فَقُلْتُ لَهُ : فَأَيْنَ أَبُو يُوسُفَ ؟ قَالَ : فَوْقَنَا بِدَرَجَتَيْنِ . قُلْتُ : فَأَبُو حَنِيفَةَ ؟ قَالَ: هَيْهَاتَ، ذَاكَ فِي أَعْلَى عِلِّيِّينَ . كَيْفَ وَقَدْ صَلَّى الْفَجْرَ بِوُضُوءِ الْعِشَاءِ أَرْبَعِينَ سَنَةً ، وَحَجَّ خَمْسًا وَخَمْسِينَ حَجَّةً، وَرَأَى رَبَّهُ فِي الْمَنَامِ مِائَةَ مَرَّةٍ ، وَلَهَا قِصَّةٌ مَشْهُورَةٌ .

وَفِي حَجَّتِهِ الْأَخِيرَةِ اسْتَأْذَنَ حَجَبَةَ الْكَعْبَةِ بِالدُّخُولِ لَيْلًا فَقَامَ بَيْنَ الْعَمُودَيْنِ عَلَى رِجْلِهِ الْيُمْنٰى وَ وَضَعَ الْيُسْرٰى عَلَى ظَهْرِهَا حَتّٰى خَتَمَ نِصْفَ الْقُرْآنِ ثُمَّ رَكَعَ وَسَجَدَ ، ثُمَّ قَامَ عَلَى رِجْلِهِ الْيُسْرٰى وَوَضَعَ الْيُمْنٰى عَلَى ظَهْرِهَا حَتّٰى خَتَمَ الْقُرْآنَ . فَلَمَّا سَلَّمَ بَكٰى وَنَاجٰى رَبَّهُ وَقَالَ : إِلٰهِي مَا عَبَدَكَ هٰذَا الْعَبْدُ الضَّعِيفُ حَقَّ عِبَادَتِكَ لٰكِنْ عَرَفَكَ حَقَّ مَعْرِفَتِك فَهَبْ نُقْصَانَ خِدْمَتِهِ لِكَمَالِ مَعْرِفَتِهِ . فَهَتَفَ هَاتِفٌ مِنْ جَانِبِ الْبَيْتِ : يَا أَبَا حَنِيفَةَ ! قَدْ عَرَفْتَنَا حَقَّ الْمَعْرِفَةِ وَخَدَمْتَنَا فَأَحْسَنْتَ الْخِدْمَةَ، قَدْ غَفَرْنَا لَكَ وَلِمَنِ اتَّبَعَكَ مِمَّنْ كَانَ عَلَى مَذْهَبِكَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ . الدر المختار ج۱ ص ۵۱ مُقَدِّمَة . طبع دار الفكر بيروت

(۲) الذاريات آية ۱۷ ، ۱۸ .

" دا ډير بزرگ سړی دی " نو دا کس په دې باندې دُهوکه شي او يقيني خپل ځان ته ګماوره شي چې ګني زه په حقيقت کې ډير لوي بزرګ يم ، بيا ددې په وجه په رِيا او تکبّر کې مبتلاء شي. حالانکه ده ته خپل ځان ښه معلوم وي چې په ما کې ډيرې خرابيانې او کمزورياني شته ، ليکن خلقو چونکه دده تعريف کړې وي نو ځکه خپل ځان ته نه ګوري بلکه د نورو خلقو خبرو ته ګوري.

ددې مثال خو داسې دی لکه يو سړی چيرته لرې په بل مُلک کې په سفر کې وي ، دده د کلي نه يو کس ده ته راشي او ده ته دا اُووايي چې : " ستا ښځه ګنډه شوې ده " ، نو دا په ژړا شي.

دده ملګري چې دده ژړا ته اوګوري نودا ګمان اوکړي چې ګني دده په کور کې څه غم شوې دی ، نو هغوی ده ته د تعزيت د پاره راجمع شي ، ملګري ورنه پوښتنه اوکړي چې څوک وفات شوې دی ؟ دې ورته ووايي چې :

زمونږ د کلي نه يو کس ماته راغلې ؤ او راته وې ويل چې : ستا ښځه ګنډه شوې ده.

ملګري ورته اووايي : ته خو ډير کم عقل سړی يې ته خو په خپله ژوندې يې نو ستا ښځه څنګه ګنډه شوه ؟ دا ورته اووايي :

ستاسو خبره صحيح ده خو ليکن ماته چې چا خبر راکړې دی هغه هم ريښتينی دی او هغه دا خبره کړې ده نو ځکه يې زه منم.

همدغه شان زمونږه مثال هم دی : مونږ ته خپل ځان ښه معلوم دی چې ګناه ګار يو ، ډيرې خرابيانې راکې شته ليکن که زمونږ په حق کې يو څو کسان دا خبره اوکړي چې : " دا ډير بزرګ سړی دی " نو بيا مونږ په خپل ځان باندې دُهوکه شو ، رِيا او تکبر راکې پيدا شي.(۱)

## د انسان هر عمل آخر هم را ښکاره کيږي

انسان چې په پټ ځای کې هر قِسمه عمل اوکړي آخِر به هم دا خلقو ته ښکاره کيږي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

---

(۱) خطبات حکيم الامت لمولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ج ۲٦ ص ۲۱۸.

لَوْ أَنَّ رَجُلًا عَمِلَ عَمَلًا فِي صَخْرَةٍ لَا بَابَ لَهَا وَلَا كُوَّةَ لَخَرَجَ عَمَلُهُ إِلَى النَّاسِ كَائِنًا مَا كَانَ . (۱)

که چیرته یو کس په داسې کاڼي کې دننه یو کار اوکړي چې په هغې کاڼړي کې دروازه او سُورې نه وي خو بیا به هم دده عمل خلقو ته ښکاره شي ، که دا هر څنګه عمل وي (ښه وي یا بَد وي) .

**تشریح** : یعنی که یو کس په دیر پټ ځای کې هر قِسمه عمل اوکړي خو آخر به هم خلقو ته دا ښکاره کیږي که دده اِراده خلقو ته د ښکاره کولو وي او که نه .

نو که ښه عمل یې کړې وي یا بد عمل یې کړې وي نو خلق به پرې په خپله خبر شي ، لهذا ښه عمل د رِیا په وجه بَربادول ندي په کار . (۲)

# د رِیاکار علامات

حضرت علي ﷺ فرمایي چې د رِیاکار درې (۳) علامې دي :

اول : کله چې ځان له وي نو په عبادت کې سستي کوي ، او چې کله د خلقو په مینځ کې وي نو بیا چُست وي ( دیر عبادت کوي ) .

دویم : کله چې خلق دده صفت کوي نو عبادت نور هم زیات کوي .

---

(۱) المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۷۸۷۷ ، وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ، ووافقه الذهبي. مشكاة المصابيح باب الرياء والسمعة الفصل الثالث رقم الحديث ۵۳۳۵(۲۲) ، تفسير القرطبي ج۸ ص ۲۵۲ في تشريح سورة التوبة آية ۱۰۵ .

(۲) ( فِي صَخْرَةٍ ) أَيْ: فِي دَاخِلِ حَجَرٍ صُلْبٍ _ قَوْمًا _ أَوْ جَوْفِ كَهْفِ جَبَلٍ ( لَا بَابَ لَهَا وَلَا كُوَّةَ ) بِفَتْحِ الْكَافِ وَتُضَمُّ. وَتَشْدِيدِ الْوَاوِ أَيْ طَاقَةَ، وَقِيلَ: هِيَ بِالْفَتْحِ إِذَا كَانَتْ غَيْرَ نَافِذَةٍ ، وَبِالضَّمِّ إِذَا كَانَتْ نَافِذَةً . فَالْأُولَى أَوْلَى، لِأَنَّهَا فِي بَابِ الْمُبَالَغَةِ أَعْلَى.

( خَرَجَ عَمَلُهُ إِلَى النَّاسِ) أَيْ: ظَهَرَ عَلَيْهِمْ ( كَائِنًا) أَيْ: ذَلِكَ الْعَمَلُ ( مَا كَانَ ) . أَيْ مِنَ الْأَعْمَالِ، وَنَصَبَ كَائِنًا عَلَى الْحَالِ، أَيْ: حَالَ كَوْنِ ذَلِكَ الْعَمَلِ أَيَّ شَيْءٍ كَانَ خَيْرًا أَوْ شَرًّا. مِنَ الْأَقْوَالِ وَالْأَفْعَالِ، وَفِي نُسْخَةٍ: مَنْ كَانَ، فَالتَّقْدِيرُ: كَائِنًا ذَلِكَ الْعَامِلُ أَوْ صَاحِبُ الْعَمَلِ مَنْ كَانَ. أَيْ: سَوَاءٌ أَرَادَ ظُهُورَهُ أَوْ لَمْ يُرِدْ ، لِقَوْلِهِ تَعَالَى {وَاللَّهُ مُخْرِجٌ مَا كُنْتُمْ تَكْتُمُونَ} . [ البقرة: ۷۲ ]. مرقاة المفاتيح ۳۳۴۲/۸ باب الرياء والسمعة الفصل الثالث في تشريح رقم الحديث ۵۳۳۵.

دریم: کله چې خلق دده مذمّت کوي نو بیا په عبادت کې کمې کوي. (١)

**تشریح** : په مذکوره روایت کې د رِیاکار درې علامې ذکر شوی. اول دا چې کله ځانله وي یا په کور کې وي نو بیا په عبادت کې ډیره سستي کوي، فرض مونځ هم په خپل وخت باندې نه کوي، او که کوي یې نو ډیر زر زر یې کوي ، خو چې کله د خلقو په مینځ کې وي نو بیا د ځان نه پُوخ صوفي جوړ کړي، ډیر په اِطمینان سره مونځ کوي، دا صرف ددې د پاره چې خلقو ته بزرګ معلوم شم. نو دا په رِیا کې راځي، ځکه انسان چې د خلقو د وړاندې د کوم رَب عبادت کوي نو ځان له هم د هماغه رَب عبادت کوي ، لهذا په هر ځای کې په اطمینان او سکون سره عبادت په کار دی.

علامه آلوسي رَحِمَهُ اللهُ په تفسیر رُوح المعاني کې ددې آیت ﴿ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ ... (٢) ﴾ په تفسیر کې د سفیان بن عُیَینه رحمه الله قول ذکر کړی:

إِنَّ الْعَدْلَ اِسْتِوَاءُ السَّرِيْرَةِ وَالْعَلَانِيَةِ فِي الْعَمَلِ. (٣)

عدل دیته وایي چې انسان په پټ او ښکاره عملونو کې برابر والي راولي.

(یعنی انسان چې د خلقو د وړاندې څنګه عمل کوي هماغه شان به یې ځان له هم کوي، داسې به نه کوي چې د خلقو د وړاندې صحیح عبادت کوي خو ځانله ورنه بیا صرف ځان خلاصوي).

په مذکوره روایت کې د رِیا کار دویمه او دریمه علامه دا ذکر شوه چې کله خلق دده صفت کوي نو دا په عبادت کې نور هم زیادت کوي ، خو چې کله څوک دده بَدي بیان کړي او صفت یې نه کوي نو بیا په عبادت کې کمې کوي، بلکه ډیر په کې بیا عبادت پریږدي، نو دا رِیا ده.

لهذا د هیچا نه د خپل صفت طمع په کار نده، البتّه که دده د طمع نه بغیر ښکاڼ خلق یا

(١) قَالَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ كَرَّمَ اللهُ وَجْهَهُ: لِلْمُرَائِي ثَلَاثُ عَلَامَاتٍ: يَكْسَلُ إِذَا كَانَ وَحْدَهُ، وَيَنْشَطُ إِذَا كَانَ فِي النَّاسِ، وَيَزِيْدُ فِي الْعَمَلِ إِذَا أُثْنِيَ عَلَيْهِ، وَيَنْقُصُ إِذَا ذُمَّ. الزواجر عن اقتراف الكبائر ص ٦٩. الباب الأول في الكبائر الباطنة وما يتبعها. الكبائر للذهبي ١٢٥ الكبيرة السابعة والثلاثون الرياء.

(٢) النحل آية ٩٠. ترجمه: بیشکه الله تعالی (تاسو ته) د اِنصاف او نیکی حُکم کوي.

(٣) روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ٢٥٣/٧ النحل آية ٩٠.

والدين يا د ده اُستاذان د ده صفت اوکړي او دُعا ورته اوکړي نو دا په رِيا کې نه راځي.

## د خلقو د خبرو په وجه عبادت پريخودل په خپله رِيا ده

د چا د خبرو او ملامتيا په وجه عبادت پريخودل ندي په کار، ځکه د خلقو د وجې عبادت پريخودل په خپله رِيا ده.

فُضَيل بن عِياض رحمه الله فرمايي:

تَرْكُ الْعَمَلِ لِأَجْلِ النَّاسِ رِيَاءٌ ، وَالْعَمَلُ لِأَجْلِ النَّاسِ شِرْكٌ ، وَالْإِخْلَاصُ أَنْ يُعَافِيَكَ اللهُ مِنْهُمَا. (١)

د خلقو د وجې نيک عمل (عبادت وغيره) پريخودل رِيا ده، او خلقو ته د ځان خودَنې د پاره عمل کول شِرک دی، او اِخلاص دادی چې الله تعالى تا ته ددې دواړو بيماريو نه نجات درکړي.

يعنى اخلاص ديته وايي چې د خلقو د خبرو د وجې عبادت پرې نه ږدي، او خلقو ته د ځان خودَنې د پاره عبادت اونکړي، بلکه خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره عبادت اوکړي.

## د رِيا د يَرې په وجه نيک عمل پريخودل ندي په کار

بعضې خلق نيک اعمال ددې د وجې نه کوي چې: بيا به رِياکار معلوم شم.

نو خبردار، دا شيطاني غلط سوچ دی او د شيطان مقصد هم دادی چې انسان نيک عمل مکمل پريږدي، بلکه انسان به نيک اعمال خامخا کوي، د رِياکارۍ د يَرې د وجې به يې نه پريږدي خو خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره به يې کوي.

امام غزالي رحمه الله په "احياء العلوم" کې ددې خبرې پوره تفصيل ذکر کړی. (٢)

---

(١) الزواجر عن اقتراف الكبائر ص ٦٩ اَلْبَابُ الْأَوَّلُ فِي الْكَبَائِرِ الْبَاطِنَةِ وَمَا يَتْبَعُهَا. الكبائر للذهبي ١٤٥ اَلْكَبِيْرَةُ السَّابِعَةُ وَالثَّلَاثُوْنَ الرِّيَاءُ. احياء علوم الدين ج ٤ ص ٥٠٧ كتاب النية والاخلاص والصدق.

(٢) امام غزالي رحمه الله په دريم جلد کې ذکر کړي: اِعلم أَنَّ مِنَ النَّاسِ مَنْ يَتْرُكُ الْعَمَلَ خَوْفًا مِنْ أَنْ يَكُوْنَ مُرَائِيًا بِهِ وَذٰلِكَ غَلَطٌ وَمُوَافَقَةٌ للشيطان. احياء علوم الدين ج ٣ ص ٣٢٢ كتاب ذم الجاه والرياء بيان ترك الطاعات خوفاً من الرياء ودخول الآفات. ←←←←

همدارنګې امام غزالي رحمه الله په کيميائې سعادت کې ذکر کړي : د کوم عبادت چې د مخلوق سره څه واسطه نه وي لکه مونځ ، روژه ، حج وغيره نو دا به د رِيا د ډَرې د وجې نشي پرېخودی ، بلکه ضرور به يې کوي خو نيت به په کې خالص د الله ﷻ د رَضا کوي.

اوس که چېرته دې عبادت کولو په وخت په اول يا مېنځ کې د رِيا خطره راځي نو دې د دَفع کولو کوشش به کوي او د عبادت نيت به په کې برقرار ساتي.

البته که دده په کې د عبادت نيت بالکل نه وي صرف او صرف رِيا او خلقو ته ځان خودل وي نو بيا خو ده ته دې عبادت ثواب نه ملاوېږي.

ليکن که د اول نه يې د الله ﷻ د رَضا نيت وي او په مېنځ کې د رِيا خطره راپيدا شي نو دا به دفع کولې شي ، عبادت به برقرار ساتلې شي ، د رِيا د ډَرې په وجه به يې نه پرېږدي.

ځکه شيطان اول دا کوشش کوي چې انسان بالکل عبادت اونکړي خو چې کله په دې کې کامياب نشي او انسان عبادت شروع کړي نو بيا ده ته دا وسوَسې وراَچوي چې :

" ته د خلقو د وړاندې عبادت کوې دا رِيا ده ، دا پرېږده "

اوس که انسان دې رِيا د خطرې په وجه عبادت پرېږدي نو شيطان خو په خپله حَربه کې کامياب شو ، او دا ډېر غټ نقصان دی.

**د مثال په ذريعه وضاحت :** ددې خو بيا داسې مثال دی لکه يو کس خپل نَوکر ( غلام ) ته څه څيز د صفا کولو د پاره ورکړي ، نوکر دا صفا نکړي ، مالک چې ورنه پوښتنه اوکړي چې : دادې ولې صفا نه کړو ؟ نوکر ورته اووايي :

دا ماځکه صفا نکړو چې د ماسره دا ډَره وه چې که چېرته زه دا صفا کوم نو صحيح به يې صفا نکړې شم.

مالک به ورته ووايي : بې وَقوفه ! دا خو تا اَصل کار ندې کړی.

---

←←← امام غزالي رحمه الله روستو په څلورم جلد کې دوباره دا خبره ذکر کړی ، ومع هذا فلا ينبغي أنْ يترك العمل عند خوف الآفة والرِّياء فإنّ ذلك منتهى بغية الشيطان منه إذ المقصود أنْ لا يفوتَ الإخلاص . ومهما ترك العمل فقد ضيع العمل والإخلاص جميعًا. احياء علوم الدين ج ۴ ص ٣٨٦ كتاب النية والإخلاص والصدق فضيلة الصدق.

الله تعالی خو بندګانو ته دا حُکم کړی چې: په اخلاص باندې عبادت کوئ. او س چې يو کس د رِيا د خطرې د وجې عبادت پرېږدي نو ده خو د اِخلاص نه مخکې اصل عبادت پرېخود، دا خو ډېر غټ نقصان دی.

لهذا د رِيا د خطرې په وجه به عبادت هيڅ کله نشي پرېخودی، بلکه په عبادت کې به د اخلاص پيدا کولو کوشش کوي.(۱)

## نورو خلقو ته د رَغبت ورکولو او دده پسې د اِقتداء کولو د پاره د عبادت اِظهار کول صحيح دی

۱: امام غزالي رحمه الله په "کيميائي سعادت" کې دا خبره هم ذکر کړی چې په عبادت پټولو کې فائده داده چې انسان د رِيا نه محفوظ شي، او په ظاهرولو کې غټه فائده داده چې نور خلق دده پېروي اوکړي او د هغوی هم عبادت ته رَغبت پيدا شي. دغه وجه ده چې الله تعالی ددې دواړو تعريف کړی:

﴿إِن تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ ۖ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ﴾.(۲)

ترجمه: که چيرته تاسو (خپلې) صدقې په ښکاره ورکوی نو دا هم ښه خبره ده، او که په پټه يې فقيرانو ته ورکوی نو دا ستاسو د پاره ډيره بهتره ده.

۲. يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د بانډچيانو سره د مدد کولو د پاره څه مال په کار ؤ نو خلقو ته يې د صدقې ترغيب ورکړو، په دې کې يو اَنصاري د روپو يوه تهيلۍ راوړه، (کله چې نورو خلقو دا اُوليده) نو بيا نورو هم صدقه راوړه، نبي عليه السلام خوشحال شو او وې فرمايل:

مَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَعُمِلَ بِهَا بَعْدَهُ كُتِبَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا وَلَا يَنْقُصُ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْءٌ.

---

(۱) كيميائي سعادت اهم اصل.

(۲) البقرة آية ۲۷۱.

چاچې په اسلام کې د ښه طريقې بُنياد کيښود. او روستو په دې باندې عمل کولې شو نو څوک چې په دې باندې عمل کوي د هغوی هومره آجر به د ده ته هم ليکلې شي ، او د هغوی د آجرونو نه به څه شی نه کميږي . (١)

٣ . همدارنګې که څوک حج يا جهاد ته ځي او دا ددې د پاره ځان له آسباب واخلي او نورو خلقو ته هم ددې د پاره اِظهار اوکړي چې د هغوی هم شوق پيدا شي نو دا صحيح ده ، دا په رِيا کې نه راځي .(٢)

٤ . حقيقت دادی چې کله د رِيا خطره نه وي او د عبادت په ښکاره کولو سره نورو ته ترغيب ورکول مقصود وي چې نور خلق هم دده پيروي اوکړي نو بيا د عبادت ښکاره کول افضل دي . (٣)

البته انسان به په خپل زړه باندې نظر ساتي ، ځکه بعضې وخت د سړي په زړه کې پټه رِيا

---

(١) پوره حديث په "مسلم شريف" کې داسې ذکر دی : عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: جَاءَ نَاسٌ مِنَ الأَعْرَابِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِمِ الصُّوفُ ، فَرَأَى سُوءَ حَالِهِمْ قَدْ أَصَابَتْهُمْ حَاجَةٌ ، فَحَثَّ النَّاسَ عَلَى الصَّدَقَةِ ، فَأَبْطَئُوا عَنْهُ حَتَّى رُئِيَ ذَلِكَ فِي وَجْهِهِ . قَالَ : ثُمَّ إِنَّ رَجُلًا مِنَ الأَنْصَارِ جَاءَ بِصُرَّةٍ مِنْ وَرِقٍ ، ثُمَّ جَاءَ آخَرُ، ثُمَّ تَتَابَعُوا حَتَّى عُرِفَ السُّرُورُ فِي وَجْهِهِ . فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَنْ سَنَّ فِي الإِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَعُمِلَ بِهَا بَعْدَهُ كُتِبَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا وَلَا يَنْقُصُ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْءٌ . وَمَنْ سَنَّ فِي الإِسْلَامِ سُنَّةً سَيِّئَةً فَعُمِلَ بِهَا بَعْدَهُ كُتِبَ عَلَيْهِ مِثْلُ وِزْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا وَلَا يَنْقُصُ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَيْءٌ » . صحيح مسلم كتاب العِلْمِ بَابُ مَنْ سَنَّ سُنَّةً حَسَنَةً أَوْ سَيِّئَةً وَمَنْ دَعَا إِلَى هُدًى أَوْ ضَلَالَةٍ . مسند احمد رقم ١٩٢٠٠ ، ورقم ١٩٢٠٢ .

وفي رواية : ..... فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَنْ سَنَّ فِي الإِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهُ أَجْرُهَا وَأَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا بَعْدَهُ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْءٌ ، وَمَنْ سَنَّ فِي الإِسْلَامِ سُنَّةً سَيِّئَةً كَانَ عَلَيْهِ وِزْرُهَا وَوِزْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ بَعْدِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَيْءٌ » . صحيح مسلم رقم الحديث ٦٩ (١٠١٧) كِتَاب الزَّكَاةِ بَابُ الحَثِّ عَلَى الصَّدَقَةِ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ، أَوْ كَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ وَأَنَّهَا حِجَابٌ مِنَ النَّارِ ..

(٢) كيمياي سعادت .

(٣) قَالَ ابْنُ عَبْدِ السَّلَامِ: يُسْتَثْنَى مِنِ اسْتِحْبَابِ إِخْفَاءِ العَمَلِ مَنْ يُظْهِرُهُ لِيُقْتَدَى بِهِ ، أَوْ لِيُنْتَفَعَ بِهِ كَكِتَابَةِ العِلْمِ . فتح الباري ١١/ ٣٣٥. نضرة النعيم ج ١٠ ص ٣٥٦٥ الرياء .

وي ، خو دا نورو خلقو ته د رَغبت او اِقتداء په بهَانه باندې خپل عبادت ښکاره کوي نو دا بيا نقصاني دی .

لهذا که د رِيا خطره وي ، او په عبادت ښکاره کولو سره نورو ته ترغيب ورکول مقصود نه وي نو بيا د عبادت پټول افضل دي .

## د رِيا نقصانات او ضرَرُونه

د رِيا نقصانات او ضررونه ډير زيات دي ، يو څو غټ په کې دا دي :

۱ . په رِيا سره نېک اعمال ختميږي او ثواب يې ضائع کيږي .

۲ . رِيا د الله ﷻ د غضب سبب دی ، رِيا کار مَلعون او د الله ﷻ د رَحمت نه لرې دی .

۳ . رِيا هلاکوونکې کبيره ګناه ده .

۴ . رِيا د رِياکار په جهالت باندې غټ دليل دی .

۵ . د رِيا مثال د يوې ځانګې دی ، ددې اُونه په زړه کې ده ، په دُنيا کې د رِيا سزا داده چې په انسان باندې هر وخت يَره او غم وي ، سِينه يې تنګه وي او په زړه کې يې ظلمت وي . او په آخرت کې د رِيا سزا داده چې دده خوراک به په جهنم کې د زقوم اُونه وي او دَرد ناک عذاب به ورته ملاويږي .

٦ . د رِيا په وجه فقر پيدا کيږي او انسان په فِتنو کې مبتلاء کيږي .

۷ . د رِيا کار د پاره به په قيامت کې د مخلوقاتو د وړاندې رَسوائي وي .

۸ . رِيا کار ته د نېک عمل هيڅ اَجر نه ملاويږي ، بلکه اَلټه به دا عمل په ده باندې پيټې (بُوج) وي . ۹ . رِياکار به په دُنيا کې هم رَسواء کيږي ، ځکه خلقو ته به معلومه شي چې دا رِياکار دی ، دده هيبَت به ختم شي او د خلقو په نظرونو کې به سپَک شي .

۱۰ . الله ﷻ به خلقو ته د رِياکار عيبونه ښکاره کړي نو د خلقو نه به خامخا ددې بَدعمل په وجه بَدې خبرې اَوري . (۱)

---

(۱) مِنْ مضَارِ الرِّيَاءِ : (۱) اَلرِّيَاءُ مُحْبِطٌ لِلْأَعْمَالِ مُضَيِّعٌ لِثَوَابِهَا . (۲) اَلرِّيَاءُ سَبَبٌ لِلْمَقْتِ عِنْدَ اللهِ، وَالْمُرَائِيْ مَلْعُوْنٌ وَمَطْرُوْدٌ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ تَعَالٰى . (۳) اَلرِّيَاءُ مِنْ كَبَائِرِ الْمُهْلِكَاتِ . ( الزواجر لابن حجر ۱/ ۴۷، احياء علوم الدين ۳/ ۳۱۰ ) . ←←←←←←←←←←←←←←←←←←←←←←

# د نېكو اعمالو په وجه مشهور كېدل او خوشحاليدل ريا نده ، بلكه د الله تعالى نعمت او زېرې دى

كله چې څوک نېک عمل خالص د الله ﷻ د رَضا د پاره كوي ، د رِيا او شهرت اِراده يې په كې بالكل نه وي ، خو بيا هم دا په خلقو كې ددې عمل په وجه مشهور شي ، خلق دده د سره محبت شروع كړي ، او دا ددې په وجه خوشحال شي نو دا په رِيا كې نه راځي ، بلكه دا په دُنيا كې ددې مُؤمِن د پاره د آخرت د نِعمتونو نه مخكې نَقد زېرې دى او دليل ددې خبرې دى چې الله تعالى دده نه راضي دى ، نو ځكه يې د خلقو په زړونو كې دده محبت واچول ، مشهوريې كړو ، او خلق دده تعريف كوي .

**۱.** په مسلم شريف ، مشكوة شريف او نورو ډيرو د احاديثو په كتابونو كې دا حديث ذكر دى : حضرت ابوذر رضي الله عنه فرمايي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه اوشوه :

أَرَأَيْتَ الرَّجُلَ يَعْمَلُ الْعَمَلَ مِنَ الْخَيْرِ، وَيَحْمَدُهُ النَّاسُ عَلَيْهِ ؟

( اې د الله رسوله ! ) د هغه كس په باره كې راته خبر راكړئ چې هغه نېک كار خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره كوي او په دې سره خلق دده تعريف كوي ؟

←←← (۴) اَلرِّيَاءُ دَلِيْلٌ عَلى غَايَةِ جَهْلِ الْمُرَائِيْ. (۵) اَلرِّيَاءُ غُصْنٌ مِنْ شَجَرَةٍ فِي الْقَلْبِ ثَمَرُهَا فِي الدُّنْيَا الْخَوْفُ وَالْغَمُّ وَضِيْقُ الصَّدْرِ وَظُلْمَةُ الْقَلْبِ. وَثَمَرُهَا فِي الْآخِرَةِ الزَّقُّوْمُ وَالْعَذَابُ الْمُقِيْمُ. (الظر الفوائد ص ۲۲۶). (۶) اَلرِّيَاءُ يَجْلِبُ الْفَقْرَ وَيُعَرِّضُ صَاحِبَهُ لِلْفِتَنِ . (۷) اَلرِّيَاءُ يَفْضَحُ أَصْحَابَهُ عَلى رُؤُوْسِ الْأَشْهَادِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. (۸) يُضَاعِفُ اللهُ عَذَابَ الْمُرَائِيْنَ مِنَ الْقُرَّاءِ فَيَجْعَلُهُمْ فِيْ وَادِي الْحُزْنِ فِيْ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيْرًا. (۹) اَلرِّيَاءُ يُحَوِّلُ الْعَمَلَ الصَّالِحَ إِلى نَقِيْضِهِ فَيَحْمِلُ صَاحِبُهُ بِهِ وِزْرًا بَدَلًا مِنْ أَنْ يَكُوْنَ لَهُ أَجْرًا أَوْ يَكُوْنَ عَلَيْهِ سِتْرًا. (۱۰) لَا يَسْلَمُ الْمُرَائِيْ مِنْ أَنْ يُفْتَضَحَ أَمْرُهُ فِي الدُّنْيَا فَيَسْقُطَ مِنْ أَعْيُنِ النَّاسِ وَتَذْهَبَ هَيْبَتُهُ. نَاهِيْكَ عَنْ حَسْرَتِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. (۱۱) يُظْهِرُ اللهُ عُيُوْبَ الْمُرَائِيْ وَيُسْمِعُهُ الْمَكْرُوْهَ جَزَاءً مَا كَذَّمَتْ يَدَاهُ. نضرة النعم في مكارم اخلاق الرسول الكريم صلى الله عليه وسلم ج ۱۰ ص ۴۵۶۷ الرياء من مضار الرياء .

**د حضرت ابوهريره ﷺ د خوشحاليدو وجه :** حضرت ابوهريرة ﷺ ځکه خوشحال شو چې کله هغه کس دا د مانځه په حالت کې اوليد نو دده اُميد پيدا شو چې ددې کس په زړه کې به هم د مانځه جَذبه پيدا شي او دا به هم زما په شان مونځ کوي نو ددې په اَجر کې به زه هم ورسره شريک شم.

ليکن ظاهر قول دادی چې د حضرت ابوهريرة ﷺ خوشحاليدل د طبعي خواهش په وجه وو کوم چې د شريعت هم برابر دی، ځکه هر انسان طبعًا دا خوښوي چې ما څوک په ښه حالت باندې اوګوري ، په بَد حالت باندې ليدل هيڅوک نه خوښوي. او په دې کې ريا هم نشته. (١)

## الله ﷻ چې د چا سره محبت کوي نو د زمکې او آسمان ټول مخلوقات هُم دده سره محبت کوي

رسول الله ﷺ فرمايي : چې کله الله تعالی د يو بنده سره د محبت کولو اراده

(١) ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې ددې حديث بهترينه تشريح په داسې اَنداز کړی : (فَأَعْجَبَنِي الْحَالُ الَّتِي رَآنِي عَلَيْهَا . فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " رَحِمَكَ اللهُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ " ) قَالَ الطِّيبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : صَدْرُ الْحَدِيثِ إِخْبَارٌ فِيهِ مَعْنَى الْاِسْتِخْبَارِ ، يَعْنِي : هَلْ تَحْكُمُ عَلَى هٰذَا أَنَّهُ رِيَاءٌ أَمْ لَا ؟ وَكَذٰلِكَ طَابَقَهُ قَوْلُهُ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " رَحِمَكَ اللهُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ " . ( " لَكَ أَجْرَانِ : أَجْرُ السِّرِّ " ) أَيْ : لِإِخْلَاصِكَ ( " وَأَجْرُ الْعَلَانِيَةِ " ) أَيْ : لِلْاِقْتِدَاءِ بِكَ ، أَوْ لِفَرَحِكَ بِالطَّاعَةِ وَظُهُورِهَا مِنْكَ . قِيلَ : مَعْنَاهُ : فَأَعْجَبَهُ رَجَاءَ أَنْ يَعْمَلَ مَنْ رَآهُ بِمِثْلِ عَمَلِهِ فَيَكُونَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ ، وَهٰذَا مَعْنَى قَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " « مَنْ سَنَّ سُنَّةً حَسَنَةً كَانَ لَهُ أَجْرُهَا وَأَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا » " ذَكَرَهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ . وَالْأَظْهَرُ أَنَّ إِعْجَابَهُ بِحَسَبِ أَصْلِ الطَّبْعِ الْمُطَابِقِ لِلشَّرْعِ مِنْ أَنَّهُ يُعْجِبُهُ أَنَّهُ رَآهُ أَحَدٌ عَلَى حَالَةٍ حَسَنَةٍ ، وَيَكْرَهُ أَنْ يَرَاهُ عَلَى حَالَةٍ قَبِيحَةٍ . مَعَ قَطْعِ النَّظَرِ عَنْ أَنْ يَكُونَ ذٰلِكَ الْعَمَلُ مَطْمَحًا لِلرِّيَاءِ وَمَطْمَعًا لِلسُّمْعَةِ ، فَيَكُونُ مِنْ قَبِيلِ قَوْلِهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مَا رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ عَنْ أَبِي مُوسَى : " « مَنْ سَرَّتْهُ حَسَنَتُهُ وَسَاءَتْهُ سَيِّئَتُهُ فَهُوَ مُؤْمِنٌ » " . وَقَدْ قَالَ تَعَالَى : { قُلْ بِفَضْلِ اللهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوا هُوَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ } [ يونس آية ٥٨ ] فَالْمُؤْمِنُ يَفْرَحُ بِتَوْفِيقِ الْأَعْمَالِ ، كَمَا أَنَّ غَيْرَهُ يَفْرَحُ بِتَكْثِيرِ الْأَمْوَالِ ، وَاللهُ تَعَالَى أَعْلَمُ بِالْأَحْوَالِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ٨ /٣٣٣٥ بَابُ الرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي في تشريح رقم الحديث ٥٣٢٢ .

اوکړي ( يعنی په ده باندې د خير ، اِحسان او اِنعام کولو اِراده اوکړي ) نو حضرت جبريل ﷺ رااوغواړي ، او ورته اوفرمايي :

إِنِّي أُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبَّهُ .

بيشکه زه د فلانکي سره ( د هغه د نيکو اعمالو په وجه ) محبت کوم ، پس ته ( ددې بنده د زيات اِکرام د پاره ) دده سره محبت کوه .

نبي عليه السلام اوفرمايل :

فَيُحِبُّهُ جِبْرِيلُ . نو حضرت جبريل عليه السلام هم دده سره محبت کوي .

بيا حضرت جبريل عليه السلام ( د الله ﷻ په حُکم سره ) په آسمانونو کې هم دا اعلان اوکړي : إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبُّوْهُ .

بيشکه الله تعالى د فلانکي بنده سره محبت کوي نو تاسو ټول هم ورسره محبت کوئ .

نو د آسمان واله خلق هم دده سره محبت کول شروع کړي .

بيا دې بنده ته په زمکه کې هم قبوليت ورکړې شي . ( د زمکې واله ټول نيکان انسانان او جِنّات هم دده سره محبت کوي ... ) . (۱)

**فائده** : د يو بنده سره د الله ﷻ د محبت مطلب دادی چې الله تعالى دې بنده ته د خير اِراده اوکړي ، يا دده اِکرام کول او په ده باندې اِحسان او اِنعام کول اوغواړي .

---

(۱) پوره حديث داسې دی : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " إِنَّ اللّٰهَ إِذَا أَحَبَّ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ فَقَالَ : إِنِّي أُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبَّهُ . قَالَ : فَيُحِبُّهُ جِبْرِيلُ ، ثُمَّ يُنَادِي فِي السَّمَاءِ فَيَقُوْلُ : إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبُّوْهُ ، فَيُحِبُّهُ أَهْلُ السَّمَاءِ ، قَالَ ثُمَّ يُوْضَعُ لَهُ الْقَبُوْلُ فِي الْأَرْضِ . وَإِذَا أَبْغَضَ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ فَيَقُوْلُ : إِنِّي أُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضْهُ . قَالَ فَيُبْغِضُهُ جِبْرِيلُ ، ثُمَّ يُنَادِي فِي أَهْلِ السَّمَاءِ إِنَّ اللّٰهَ يُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضُوْهُ ، قَالَ : فَيُبْغِضُوْنَهُ ، ثُمَّ تُوْضَعُ لَهُ الْبَغْضَاءُ فِي الْأَرْضِ . صحيح مسلم كتاب البِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ إِذَا أَحَبَّ اللّٰهُ عَبْدًا حَبَّبَهُ لِعِبَادِهِ رقم الحديث ۱۵۷ (۲۶۳۷) ، مشكوة المصابيح باب الحُبّ فى الله ومِنَ الله الفصل الاول رقم الحديث ۵۰۰۵(۳) ، صحيح البخاري كِتَابُ الْأَدَبِ بَابُ الْمِقَةِ مِنَ اللّٰهِ تَعَالَى رقم الحديث ۶۰۴۰ ، و رقم الحديث ۷۴۸۵ كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ كَلَامِ الرَّبِّ مَعَ جِبْرِيلَ وَنِدَاءِ اللّٰهِ الْمَلَائِكَةَ . مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۷۹۶۰ ، كنزالعمال رقم الحديث ۳۰۷۸۸ ، مسند احمد رقم الحديث ۹۳۵۲، و رقم الحديث ۱۰۶۱۵ ، و رقم الحديث ۲۲۲۷۰ .

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د رېښتيا ويلو فضيلت او د دروغو سزاګانې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى . وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى .

اَمَّا بَعْدُ فَقَدْ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ ﴾ . (۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ فَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِيْ إِلَى الْبِرِّ . وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِيْ إِلَى الْجَنَّةِ . وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَصْدُقُ وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ حَتّٰى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ صِدِّيْقًا . وَإِيَّاكُمْ وَالْكَذِبَ فَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِيْ إِلَى الْفُجُوْرِ . وَإِنَّ الْفُجُوْرَ يَهْدِيْ إِلَى النَّارِ . وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَكْذِبُ وَيَتَحَرَّى الْكَذِبَ حَتّٰى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ كَذَّابًا . (۲)

وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ : إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ . وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ . وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ . (۳) صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمُ .

---

(۱) البقرة آية ۱۱۹ .

(۲) صحيح مسلم كتاب البِرِّ وَالصِّلَةِ وَالآدَابِ بَابُ قُبْحِ الْكَذِبِ وَحُسْنِ الصِّدْقِ وَفَضْلِهِ رقم الحديث ۱۰۵ (۲۶۰۷) ، و رقم الحديث ۱۰۳ (۲۶۰۷) ، صحيح البخاري كِتَابُ الأَدَبِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالٰى : { يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ } وَمَا يُنْهٰى عَنِ الْكَذِبِ رقم الحديث ۶۰۹۴ ، سنن ابي داؤد كِتَابُ الأَدَبِ بَابٌ فِي التَّشْدِيْدِ فِي الْكَذِبِ رقم الحديث ۴۹۸۹ ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۴۶ ، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الأَوَّل رقم الحديث ۴۸۲۴(۱۳) ، مسند احمد رقم الحديث ۳۶۳۸ ، سنن الترمذي رقم الحديث ۱۹۷۱ باب ما جاء في الصدق والكذب ، شعب الايمان رقم الحديث ۴۴۵۰ ، الادب المفرد رقم الحديث ۳۸۶ باب لا يصلح الكذب .

(۳) صحيح البخاري كِتَابُ الإِيْمَانِ بَابُ عَلَامَةِ الْمُنَافِقِ رقم الحديث ۳۳ ، و رقم الحديث ۲۶۸۲ كِتَابُ الشَّهَادَاتِ بَابُ مَنْ أَمَرَ بِإِنْجَازِ الْوَعْدِ ، و رقم الحديث ۲۷۴۹ ، و رقم الحديث ۶۰۹۵ كِتَابُ الأَدَبِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالٰى : { يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ } وَمَا يُنْهٰى عَنِ الْكَذِبِ . صحيح مسلم كِتَابُ الإِيْمَانِ بَابُ بَيَانِ خِصَالِ الْمُنَافِقِ رقم الحديث ۱۰۷(۵۹) ، و رقم ۱۰۹ (۵۹) ، سنن الترمذي أَبْوَابُ الإِيْمَانِ بَابُ مَا جَاءَ فِي عَلَامَةِ الْمُنَافِقِ رقم الحديث ۲۶۳۱ ، مشكوة المصابيح كتاب الإيمان باب الكبائر وعلامات النفاق اَلْفَصْلُ الأَوَّل رقم الحديث ۵۵ (۷) .

# تمهيدي خبره

عزت مندو مسلمانانو ورونو ! په قرآن کريم او احاديثو مبارکهؤ کې چې د کومو ښو صفتونو او بهترينو اخلاقو ذکر شوی ، او هغه د ايمان د پاره لازمي صفات ګرځول شوي نو په هغې کې يو ښه صفت " رِښتيا ويل " هم دي.

او د کومو بدو او خرابو صفاتو نه چې انسان منع شوی په هغې کې يو خراب صفت " دروغ ويل " هم دي .

تر دې چې د اِيمان بُنياد په رِښتيا ويلو باندې اِيخودل شوی ، او د منافقت بُنياد په دروغو باندې ايخودل شوی.(۱)

دغه وجه ده چې مسلمانانو ته په هر حالت کې د رِښتيا ويلو حُکم شوی ، او د دروغو نه منع شوي ، ځکه دروغ ويل ګناه کبيره ده ، او د دې سختې سزاګانې ذکر شوي.

په نن موضوع کې به اِنْ شَاءَ الله زه تاسو ته د رِښتيا ويلو اهميت ، د دې فضائل او فوائد بيانوم ، او ورسره ورسره به د دروغو سزاګانې او نقصانات هم درته ذکر کوم .

## رِښتيا ويلو ته په عربۍ کې "صِدق" او رِښتيا ويونکي ته "صِدِّيق" ويلې شي

د ټولو نه اول په دې خبره باندې ځان پوهه کړئ چې رِښتيا ويلو ته په عربۍ کې "صِدق" وايي . يعنې انسان چې کومه خبره کوي او دا د واقع ( او نَفسُ الأمر) مطابق وي نو دا صِدق دی.(۲)

---

(۱) وَالإِيمَانُ أَسَاسُهُ الصِّدقُ ، وَالنِّفَاقُ أَسَاسُهُ الكَذِبُ ، فَلَا يَجْتَمِعُ كَذِبٌ وَ إِيمَانٌ إِلَّا وَأَحَدُهُمَا يُحَارِبُ الآخَرَ.
نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم ۶/۲۲۷۷ الصدق

(۲) علماؤ د صدقِ اصطلاحي دير تعريفونه کړي : الصدق اصطلاحا : قَالَ الرَّاغِبُ : اَلصِّدْقُ مُطَابَقَةُ القَ . الضَّمِيرَ وَالمُخبَرَ عَنهُ مَعًا . وَمَتَى انخَرَمَ شَرْطٌ مِنْ ذٰلِكَ لَمْ يَكُنْ صِدقًا تَامًّا ، بَلْ إِمَّا أَلَّا يُوصَفَ بِالصِّدْ أَنْ يُوصَفَ تَارَةً بِالصِّدقِ وَتَارَةً بِالكَذِبِ عَلَى نَظَرَينِ مُختَلِفَينِ ، كَقَولِ كَافِرٍ إِذَا قَالَ ←←←←←←

او رِښتيا ويونکي ته "صِدِّيق" وايي. يعنى کوم کس چې هميشه په خبرو کې رښتيا وايي او هيڅ کله دروغ نه وايي نو هغه صِدّيق دى.(۱)

## د انبياء کرامو پسې دويمه مرتبه د صدّيقينو ده

په قرآن کريم کې د رښتيا ويلو دومره اهميت بيان شوى چې د انبياء کرامو پسې دويمه مرتبه د صِدّيقينو مقرر شوى.

د دينه معلوميږي چې د الله تعالى په نزد باندې د رښتيا ويلو او رِښتيا ويونکو خلقو ډيره اوچته مرتبه ده، په رښتيا ويلو سره انسان د الله تعالى محبوب جوړيږي او تقوىٰ په کې پيدا کيږي، د رښتيا ويلو په وجه په مؤمن او منافق کې تميز راځي. (۲)

←←← مِنْ غَيْرِ اعْتِقَادٍ: "مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ" فَإِنَّ هٰذَا يَصِحُّ أَنْ يُّقَالَ: "صِدْقٌ"، لِكَوْنِ الْمُخْبَرِ عَنْهُ كَذٰلِكَ، وَيَجُوْزُ أَنْ يُّقَالَ "كَذِبٌ" لِمُخَالَفَةِ قَوْلِهِ ضَمِيْرَهُ، وَبِالْوَجْهِ الثَّانِيْ إِكْذَابُ اللهِ الْمُنَافِقِيْنَ حَيْثُ قَالُوْا: ﴿نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللهِ﴾. (المنافقون آية ۱). المفردات للراغب ص ۲۷۷.

وَقَالَ الْجُرْجَانِيُّ: مُطَابَقَةُ الْحُكْمِ لِلْوَاقِعِ. وَهٰذَا هُوَ ضِدُّ الْكَذِبِ. التعريفات للجرجاني ص ۱۳۲.

وَقِيْلَ: إِسْتِوَاءُ السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ وَالظَّاهِرِ وَالْبَاطِنِ بِأَلَّا تُكَذِّبَ أَحْوَالُ الْعَبْدِ أَعْمَالَهُ، وَلَا أَعْمَالُهُ أَحْوَالَهُ.

قَالَ الْقُشَيْرِيُّ: اَلصِّدْقُ أَنْ لَا يَكُوْنَ فِيْ أَحْوَالِكَ شَوْبٌ، وَلَا فِيْ إِعْتِقَادِكَ رَيْبٌ، وَلَا فِيْ أَعْمَالِكَ عَيْبٌ. نضرة النعيم في مكارم أخلاق الرسول الكريم صلى الله عليه وسلم ۲۴۷۴/۶ الصدق.

(۱) قَالَ الْفَيْرُوْزْ آبَادِيُّ: وَالصِّدِّيْقُ: الرَّجُلُ الْكَثِيْرُ الصِّدْقِ. وَقِيْلَ: اَلصِّدِّيْقُ: مَنْ لَمْ يَصْدُرْ مِنْهُ الْكَذِبُ أَصْلًا. وَقِيْلَ: مَنْ صَدَقَ بِقَوْلِهِ وَاعْتِقَادِهِ، وَحَقَّقَ صِدْقَهُ. قَالَ تَعَالٰى فِيْ حَقِّ إِبْرَاهِيْمَ: ﴿إِنَّهُ كَانَ صِدِّيْقًا نَّبِيًّا﴾. (مريم آية ۴۱). نضرة النعيم ۲۴۷۵/۶ الصدق.

(۲) فَالصِّدِّيْقُوْنَ قَوْمٌ دُوْنَ الْأَنْبِيَاءِ فِي الْفَضِيْلَةِ، وَلٰكِنَّ دَرَجَتَهُمْ ثَانِيْ دَرَجَةِ النَّبِيِّيْنَ. وَفِي الْجُمْلَةِ مَنْزِلَةُ الصِّدْقِ مِنْ أَعْظَمِ مَنَازِلِ الْقَوْمِ، الَّذِيْ نَشَأَ مِنْهُ جَمِيْعُ مَنَازِلِ السَّالِكِيْنَ، وَهُوَ الطَّرِيْقُ الْأَقْوَمُ الَّذِيْ مَنْ لَمْ يَسِرْ عَلَيْهِ فَهُوَ مِنَ الْمُنْقَطِعِيْنَ الْهَالِكِيْنَ. وَبِهِ تَمَيَّزَ أَهْلُ النِّفَاقِ مِنْ أَهْلِ الْإِيْمَانِ، وَسُكَّانُ الْجِنَانِ مِنْ أَهْلِ النِّيْرَانِ. وَهُوَ سَيْفُ اللهِ فِيْ أَرْضِهِ الَّذِيْ مَا وُضِعَ عَلٰى شَيْءٍ إِلَّا قَطَعَهُ، وَلَا وَاجَهَ بَاطِلًا إِلَّا أَزَالَهُ وَصَرَعَهُ. فَهُوَ رُوْحُ الْأَعْمَالِ، وَمَحَلُّ الْأَحْوَالِ، وَالْحَامِلُ عَلَى اقْتِحَامِ الْأَهْوَالِ، وَالْبَابُ الَّذِيْ دَخَلَ مِنْهُ الْوَاصِلُوْنَ إِلٰى حَضْرَةِ ذِي الْجَلَالِ. بصائر ذوي التمييز ۳۹۷/۳، نضرة النعيم ۲۴۷۵/۶ الصدق.

## د رِيښتيا ويونكو سره د ملګرتيا حُكم

په قرآن كريم كې الله تعالى د رِيښتيا ويونكو سره د ملګرتيا حُكم كړى :

﴿ يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَ كُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ ﴾. (۱)

ترجمه: اې مؤمنانو ! تاسو د الله نه اُووېرېږئ ، او د رِيښتيا ويونكو سره ملګري شئ.

**فائده** : په دې آيت كې اول مؤمنانو ته د تقوىٰ حُكم اوكړې شو او بيا ورته د صِدّيقينو سره د ملګرتيا حُكم اوكړې شو ، په دې كې دې طرف ته اشاره ده چې د تقوىٰ حاصلولو طريقه داده چې د رِيښتيا ويونكو خلقو سره ملګرتيا اوكړې شي نو پخپله به په انسان كې تقوىٰ ( د الله ﷻ نه يَره ) پيدا شي. (۲)

## په رِيښتيا ويونكو باندې د الله تعالى اِنعام

الله تعالى چې په كومو خلقو باندې خپل خصوصي اِنعام او خصوصي مهرباني كړې په هغې خلقو كې صِدّيقين ( رِيښتيا ويونكي خلق ) هم شامل دي ، الله ﷻ فرمايي :

﴿ وَمَنْ يُّطِعِ اللهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ﴾. (۳)

ترجمه : او څوک چې د الله او د رسول حكم اُومني نو دوى به ( په جنت كې ) د هغه خلقو سره وي په چا باندې چې الله ﷻ انعام كړې دى چې هغه پيغمبران ، صدّيقين ، شُهداء او صالحين دي ، او دا خلق ډير ښه دي په ملګرتيا كې ( يعنى دا خلق ډير ښه ملګري دي ) .

**فائده** : په دې آيت كې الله تعالى د هغه خلقو تذكره كړې چې په هغوى باندې يې اِنعام كړى ، او په دې كې رېښتيا ويونكي خلق هم شامل دي.

پس معلومه شوه چې د رېښتيا ويونكو د الله ﷻ په نزد اُوچته مرتبه ده او په دوى باندې خصوصي اِنعامات كوي.

---

(۱) البقرة آية ۱۱۹.

(۲) تفسير معارف القرآن التوبة آية ۱۱۹.

(۳) النساء آية ۶۹.

نبي عليه السلام به هم مسلمانانو ته د ريښتيا ويلو او د نورو ښه صفتونو خپلولو حکم کولو .(۱)

## د قيامت په ورځ به انسان ته ريښتيا نفع ورکوي

د قيامت په هغه سخته ورځ کې به انسان ته صرف ريښتيا نفع ورکوي ، او د الله ﷻ د سخت عذاب نه به ريښتيا ويل نجات ورکوي ، همدارنګې د ريښتيا ويونکو سره الله تعالى د جنت د نِعمتونو وعده کړی ، الله تعالى د قيامت ورځ په باره کې فرمايي:

﴿ هٰذَا يَوْمُ يَنفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ ۚ لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۚ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ۚ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴾ .(۲)

ترجمه : دا ( د قيامت ) هغه ورځ ده چې ريښتيا ويونکو ته به خپل ريښتيا فائده ورکوي ، د دوی د پاره ( په جنت کې ) داسې باغونه دي چې د هغې ( د اُونو ) لاندې به نهرونه بهيږي ، دوی به په هغې کې هميشه هميشه اُوسيږي ، الله تعالى د دوی نه راضي شو او دوی د هغه نه راضي شو ، (او) دا ډيره لويه کاميابي ده .

بل ځای الله ﷻ فرمايي :

﴿ وَالَّذِىْ جَآءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهٖۤ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ۞ لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الْمُحْسِنِيْنَ ۞ لِيُكَفِّرَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَسْوَاَ الَّذِىْ عَمِلُوْا وَيَجْزِيَهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ الَّذِىْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴾ .(۳)

ترجمه : او چا چې د ريښتياؤ خبره راوړه او د ريښتياؤ تصديق يې اوکړو نو همدا خلق پرهيزګار ( د الله ﷻ نه يريدونکي ) دي ، د دوی د پاره به د خپل رَب سره هغه څه وي کوم

(۱) قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا ، حَدَّثَنِيْ أَبُوْ سُفْيَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ، فِيْ حَدِيْثِ هِرَقْلَ ، فَقَالَ : يَأْمُرُنَا يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : بِالصَّلٰوةِ وَالصِّدْقِ وَالْعَفَافِ . صحيح البخاري كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابٌ: كَيْفَ فُرِضَتِ الصَّلَاةُ فِي الإِسْرَاءِ؟

(۲) المائدة آية ۱۱۹ .

(۳) الزمر آية ۳۳ تا ۵۳ .

چې دوی غواړي، د نېکانو خلقو همدا بَدله ده، دا (بدله د دوی د پاره مقرر شوه دا) د دې د پاره چې الله تعالی د دوی نه هغه بَديانې (ګناهونه) لرې کړي کوم چې دوی کړې دي، او دوی ته د خپلو هغه نېکو کارونو اَجرورکړي کوم چې دوی کول.

## د ريښتيا ويلو په وجه د جنت مستحق کيدل، او د الله ﷻ په نزد "صدّيق" ليکلی کيدل

څوک چې هميشه ريښتيا وايي نو په دې سره دا کس د جنت مستحق ګرځي، او د الله ﷻ په نزد صِدّيق ليکلې شي، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ فَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِيْ إِلَى الْبِرِّ، وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِيْ إِلَى الْجَنَّةِ، وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَصْدُقُ وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ حَتّٰى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ صِدِّيْقًا. وَإِيَّاكُمْ وَالْكَذِبَ فَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِيْ إِلَى الْفُجُوْرِ، وَإِنَّ الْفُجُوْرَ يَهْدِيْ إِلَى النَّارِ، وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَكْذِبُ وَيَتَحَرَّى الْكَذِبَ حَتّٰى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ كَذَّابًا. (۱)

تاسو ريښتيا ويل په ځان لازم کړئ ځکه (هميشه) ريښتيا ويل انسان نېکۍ طرف ته بوځي، او نيکي انسان (اعلیٰ درجې) جنت ته بوځي، او (ياد لرئ) څوک چې هميشه ريښتيا وايي او د ريښتيا ويلو کوشش کوي نو داسې کس د الله ﷻ په نزد "صِدّيق" اوليکلې شي. او تاسو خپل ځان د دروغو نه بچ کړئ ځکه دروغ انسان فجور (فِسق، نافرمانۍ او ګناهونو) طرف ته بوځي، او نافرماني انسان جهنم ته بوځي، او څوک چې هميشه دروغ وايي او د دروغ ويلو کوشش کوي نو داسې کس د الله ﷻ په نزد "کذّاب"

---

(۱) صحيح مسلم كتاب البِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ قُبْحِ الْكَذِبِ وَحُسْنِ الصِّدْقِ وَفَضْلِهِ رقم الحديث ۱۰۵ (۲۶۰۷)، و رقم الحديث ۱۰۳ (۲۶۰۷)، صحيح البخاري كِتَابُ الْأَدَبِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: { يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصَّادِقِيْنَ } وَمَا يُنْهَى عَنِ الْكَذِبِ رقم الحديث ۶۰۹۴، سنن ابي داؤد كِتَابُ الْأَدَبِ بَابُ فِي التَّشْدِيْدِ فِي الْكَذِبِ رقم الحديث ۴۹۸۹، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۴۶، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّل رقم الحديث ۴۸۲۴(۱۳)، مسند احمد رقم الحديث ۳۶۳۸، سنن الترمذي رقم الحديث ۱۹۷۱ باب ما جاء في الصدق والكذب، شعب الايمان رقم الحديث ۴۴۵۰، الادب المفرد رقم الحديث ۳۸۶ باب لايصلح الكذب.

(دروغجَن) اوليکلې شي.

**بشارت** : ملا علي قاري رحمه الله ليکلي : په دې حديث کې د رښتيا ويونکي د پاره زيرې دی چې دداسې کس آخِره خاتِمه به په ايمان باندې وي (ځکه څوک چې د الله ﷻ په نزد باندې "صِدّيق" اوليکلې شي نو يقيني چې دده آخِري خاتِمه به صحيح وي).(۱)

**د حديث تَشريح** : د حديث خلاصه داده : نبي عليه السلام فرمايي چې تاسو رښتيا ويل په ځان لازم کړئ ، ځکه هميشه رښتيا ويلو سره انسان ته د نېکۍ توفيق ملاوېږي ، او د نېکۍ په وجه انسان د جنت اعلیٰ درجو مستحق ګرځي ، اوس چې څوک هميشه رښتيا وايي او د رښتيا ويلو کوشش کوي نو داسې کس د الله ﷻ په نزد "صِدّيق" (رښتينې) ليکلې شي.

## د الله ﷻ په نزد د "صدّيق" او "کَذّاب" ليکلو مطلب

د الله ﷻ په نزد د "صِدّيق" ليکلو يو څو مطلبونه دي:

اول: دا کس د صِدّيقيت مقام ته اُورسي. يعنې د صدّيقينو د پاره چې کومې مرتبې او ثوابونه مقرر شوي هغه ده ته ورکړې شي.

دويم مطلب دادی چې په ملاء اَعلیٰ کې کوم کتاب دی په کوم چې د ټولو بندګانو اعمال ليکلې شي په هغې کې دا کس "صِدّيق" اوليکلې شي.

دريم مطلب دادی چې الله تعالیٰ داسې کس د مخلوقاتو په مينځ کې معزز کړي ، د خلقو په زړونو کې دده صداقت واچوي ، هغوی هم په خپلو کتابونو کې ده ته د صدّيق لقب ورکوي ، دا رښتينې ګڼي ، او خلق ورسره محبت کوي.

ځکه رښتيا ويل نېک عمل دی او د نېک عمل په وجه الله تعالیٰ د مخلوقاتو په زړونو کې دده مينه پيدا کوي.

ربِّ کريم فرمايي:

---

(۱) وَفِي الحَدِيثِ إِشعَارٌ بِحُسنِ خَاتِمَتِهِ ، وَ إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّ الصِّدِّيقَ يَكُونُ مَأمُونَ العَاقِبَةِ . مرقاة المفاتيح ۳۰۳۰/۷ بَابُ حِفظِ اللِّسَانِ وَالغِيبَةِ وَالشَّتمِ اَلفَصلُ الأول في تشريح رقم الحديث ۴۸۲۵ .

﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَٰنُ وُدًّا ﴾. (۱)

ترجمه: بيشکه چا چې ايمان راوړو، او نېک اعمال يې اوکړل نو ډير زر به رحمان ذات (د خلقو په زړونو کې) د دوی د پاره محبت پيدا کړي.

همدا رنګې د الله ﷻ په نزد د "کَذَّاب" (دروغجَن) ليکلو مطلب دادی چې دداسې کس په باره کې دا فيصله اوکړې شي چې دا دورغجن دی، او دده د پاره د دروغجنو مخصوصه سزا مقرر کړې شي.

يا: داسې کس د ملاءِ اعلی په کتاب کې دورغجَن اوليکلې شي.

يا دا مطلب دی چې خلقو ته دده دروغجَن والې ښکاره کړې شي، نو بيا د خلقو په نظرونو کې سپک شي او دده نه نفرت کوي. (۲)

## په رِيښتيا ويلو سره د جنت ضمانت

څوک چې هميشه ريښتيا وايي نو داسې کس ته نبي عليه السلام د جنت ضمانت ورکړی.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

اِضْمَنُوا لِي سِتًّا مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَضْمَنْ لَكُمُ الْجَنَّةَ: أُصْدُقُوا إِذَا حَدَّثْتُمْ، وَأَوْفُوا إِذَا وَعَدْتُمْ،

---

(۱) مريم آية ۹٦.

(۲) مظاهر حق ج ۷ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ
همداسې تحقيق امام نووي رحمه الله د مسلم شريف په شرح کې، او ملاعلي قاري رحمه الله په مِرقاة کې هم نقل کړی:

وَمَعْنَى يُكْتَبُ هُنَا يُحْكَمُ لَهُ بِذٰلِكَ وَيَسْتَحِقُّ الْوَصْفَ بِمَنْزِلَةِ الصِّدِّيقِينَ وَثَوَابِهِمْ أَوْ صِفَةِ الْكَذَّابِينَ وَعِقَابِهِمْ. وَالْمُرَادُ إِظْهَارُ ذٰلِكَ لِلْمَخْلُوقِينَ إِمَّا بِأَنْ يَكْتُبَهُ فِي ذٰلِكَ لِيَشْتَهِرَ بِحَظِّهِ مِنَ الصِّفَتَيْنِ فِي الْمَلَإِ الْأَعْلَى وَإِمَّا بِأَنْ يُلْقِيَ ذٰلِكَ فِي قُلُوبِ النَّاسِ وَأَلْسِنَتِهِمْ كَمَا يُوضَعُ لَهُ الْقَبُولُ وَالْبَغْضَاءُ وَإِلَّا فَقَدَرُ اللهِ تَعَالَى وَكِتَابُهُ السَّابِقُ قَدْ سَبَقَ بِكُلِّ ذٰلِكَ، وَاللهُ أَعْلَمُ. شرح النووي على مسلم (المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج) ۱٦۱/۱٦ بَابُ قُبْحِ الْكَذِبِ وَحُسْنِ الصِّدْقِ وَفَضْلِهِ في تشريح ۱۰۳ (۲٦۰۷).

وَقِيلَ: اَلْمُرَادُ بِالْكِتَابَةِ الْحُكْمُ عَلَيْهِ بِذٰلِكَ وَإِظْهَارُهُ لِلْمَلَإِ الْأَعْلَى، وَإِلْقَاءُ ذٰلِكَ فِي الْأَرْضِ. مرقاة المفاتيح ۳۰۳۰/۷ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح رقم الحديث ۴۸۲۵.

وَأَدُّوا إِذَا اؤْتُمِنْتُمْ، وَاحْفَظُوا فُرُوجَكُمْ، وَغُضُّوا أَبْصَارَكُمْ، وَكُفُّوا أَيْدِيَكُمْ. (۱)

تاسو ماته د شپږو خبرو ضمانت راکړئ (چې په دې باندې به عمل کوئ) نو زه به تاسو ته د جنت ضامن جوړ شم (چې تاسو به يقيني جنت ته داخليږئ. هغه شپږ خبرې دا دي:)

۱. کله چې خبرې کوئ نو رښتيا وايئ ۲. کله چې وعده اوکړئ نو هغه پوره کوئ ۳. کله چې در سره امانت کيښودې شي نو هغه اداء کوئ ۴. د خپلو شرمګاهو حفاظت کوئ (يعنې د زنا نه ځان اوساتئ) ۵. خپل نظرونه محفوظ اوساتئ (يعنې شريعت چې کومو ځيزونو ته د کتلو نه منع کړې هغې ته مه ګورئ) ۶. خپل لاسونه (د ناجائز او حرام کارونو نه بند کړئ. (يا دا مطلب چې خپل ځان د ظلم نه منع کړئ).

**فائده**: کوم خلق چې د ايمان راوړو نه پس فرائض اداء کوي، او ورسره ورسره ددې مذکوره شپږ خبرو لحاظ ساتي، چې په دې کې يو رښتيا ويل هم دي نو داسې کس يقيني جنتي دی، ځکه داسې کس ته نبي عليه السلام د جنت ضمانت ورکړی.

## د رښتيا ويلو په وجه د الله ﷻ محبوب جوړيدل

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په يوه موقع باندې صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته اوفرمايل:

... مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُحِبَّ اللهَ وَرَسُولَهُ، أَوْ يُحِبَّهُ اللهُ وَرَسُولُهُ فَلْيَصْدُقْ حَدِيثَهُ إِذَا حَدَّثَ، وَلْيُؤَدِّ أَمَانَتَهُ إِذَا اؤْتُمِنَ، وَلْيُحْسِنْ جِوَارَ مَنْ جَاوَرَهُ. (۲)

چا ته چې دا خبره خوښه وي (دا يې اراده وي) چې د الله ﷻ او د هغه د رسول سره (حقيقي) محبت اوکړي، يا الله او د هغه رسول دده سره محبت اوکړي نو هغه چې کله خبرې کوي هميشه دې رښتيا وايي، او کله چې دده سره امانت کيښودې شي نو هغه دې پوره اداء کوي (خيانت دې په کې نه کوي)، او د کوم ګاونډي سره چې دا نزدې وي د هغه سره دې احسان (ښه سلوک) کوي.

---

(۱) المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْحُدُودِ رقم الحديث ۸۰۶۶، وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ، مسند احمد مخرجًا رقم الحديث ۲۲۷۵۷، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۲۶۹۱ باب ماجاء في الترغيب في اداء الامانات، شعب الايمان رقم الحديث ۴۳۶۴، و رقم ۴۸۷۷، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثَّالِث. مجمع الزوائد باب في الامانة رقم الحديث ۶۷۰۹، كنز العمال رقم الحديث ۴۳۵۳۱.

(۲) شعب الايمان رقم ۱۴۴۰، مشكوة المصابيح باب الشفقة والرحمة على الخلق الفصل الثالث رقم ۴۹۹۰ (۴۴).

# په رښتيا ويلو کې نجات دی

۱. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

تَحَرَّوُا الصِّدْقَ وَإِنْ رَأَيْتُمْ أَنَّ فِيْهِ الْهَلَكَةَ، فَإِنَّ فِيْهِ النَّجَاةَ. (۱)

تاسو د رښتيا ويلو کوشش کوئ اګر چې تاسو په دې کې هلاکت اوګورئ، ځکه په همدې رښتيا ويلو کې نجات دی.

۲. په يو روايت کې ورسره نوره اضافه هم شته، نبي عليه السلام فرمايي:

تَحَرَّوُا الصِّدْقَ وَإِنْ رَأَيْتُمْ أَنَّ فِيْهِ الْهَلَكَةَ، فَإِنَّ فِيْهِ النَّجَاةَ، وَاجْتَنِبُوا الْكَذِبَ وَإِنْ رَأَيْتُمْ أَنَّ فِيْهِ النَّجَاةَ، فَإِنَّ فِيْهِ الْهَلَكَةَ. (۲)

تاسو د رښتيا ويلو کوشش کوئ اګر چې تاسو په دې کې هلاکت اوګورئ، ځکه په دې کې نجات دی، او تاسو د دورغو نه ځان ساتئ اګرچې تاسو په دې کې نجات اوګورئ ځکه په دې دروغو کې هلاکت دی.

۳. علماؤ هم دا ليکلي چې که په يو ځای کې د تاسره دا يَره وي چې رښتيا ويل به تاته ضرر دراُورسوي خو بيا هم رښتيا وايه ځکه دا به تاته نفع درکړي.

او که په يو ځای کې تاته دروغ نفع مَند ښکاري خو بيا هم دروغ مه وايه ځکه دا دروغ تاته ضرر دَررسوي. (۳)

# د رښتياؤ په برکت ډير هندوان مسلمانيدل

کاندهله په انډيا کې يو لوی کلې دی، يو ځل په دې کلي کې د زمکې په يوه ټوټه باندې د يو مسلمان او يو هندو جګړه شوه، مسلمان ويل چې دا زمکه زما ده، او هندو ويل چې دا

---

(۱) الصمت لابن ابي الدنيا ص ۲۲۷ رقم الحديث ۴۴۶ بَابُ الصِّدْقِ وَفَضْلِهِ. كنز العمال رقم الحديث ۶۸۵۵ الكتاب الثالث في الأخلاق صدق الحديث.

(۲) مكارم الأخلاق لابن ابي الدنيا ص ۵۱ بَابٌ فِي الصِّدْقِ وَمَا جَاءَ فِي فَضْلِهِ وَذَمِّ الْكَذِبِ. كنز العمال رقم الحديث ۶۸۵۶ الكتاب الثالث في الأخلاق صدق الحديث.

(۳) وَقِيْلَ: عَلَيْكَ بِالصِّدْقِ حَيْثُ تَخَافُ أَنَّهُ يَضُرُّكَ فَإِنَّهُ يَنْفَعُكَ. وَدَعِ الْكَذِبَ حَيْثُ تَرَى أَنَّهُ يَنْفَعُكَ فَإِنَّهُ يَضُرُّكَ. مدارج السالكين ۲/۲۶۷ فَصْلٌ فِي كَلِمَاتٍ فِي حَقِيقَةِ الصِّدْقِ، نضرة النعيم ج ۶ ص ۲۵۱۶ الصدق.

زما ده، خبره همداسې زیاتیده، آخر مسلمان وویل چې که دا زمکه ماته اوګټله نو زه به پرې جُمات جوړوم، هندو وویل: که ما اوګټله نو زه به پرې مندر جوړوم.

اګر چې دا جګړه ذاتي د دوه کسانو وه خو دې اجتماعي او دیني رنګه واخیست، یو طرف ته ټول مسلمانان اودریدل او بل طرف ته په مقابله کې ټول هندوان جمع شو، د غټې جګړې خطره وه.

آخر دا فیصله عدالت ته لاړه، دا واقعه چونکه د هندوستان د تقسیم نه مخکې وه، په هاغه وخت کې جَج (قاضي) یو انګریز ؤ، انګریز چې اندازه واخیسته نو سخت پریشان شو، هغه محسوس کړه چې که په دې معامله کې لږه بې احتیاطي اوشي نو کیدې شي چې د مسلمانانو او هندوانو سخته جګړه شروع شي او ډیره وینه تویه شي، نو انګریز کوشش اوکړو چې د دواړو ډلو په مینځ کې په صُلحې سره خبره حل شي، نو د دواړو ډلو نه یې پوښتنه اوکړه چې: آیا ستاسو په مینځ کې د صُلحې څه صورت کیدې شي؟

هندوانو ورته وویل: آو، مونږ به تاته د مسلمانانو د یو عالِم نوم اوښایو ته هغه رااوغواړه او د هغه نه پوښتنه اوکړه چې: دا زمکه د چا ده؟ که هغه وویل چې دا زمکه د مسلمانانو ده نو خفوی ته یې ورکړه، او که هغه وویل چې دا زمکه د هندوانو ده نو بیا یې مونږ ته راکړه.

مسلمانان هم په دې خبره باندې راضي شو، نو انګریز جَج دواړو ډلو ته یو میاشت پس تاریخ ورکړو، چې په دې تاریخ به ستاسو فیصله کولې شي.

کله چې دواړه ډلې د عدالت نه رااووتې نو مسلمانان ډیر خوشحاله وو، ځکه د مسلمانانو په زړه کې دا خبره وه چې که دا عالِم هر څوک وي هغه به ضرور دا وایي چې دا زمکه د مسلمانانو ده، ځکه په دې باندې مونږ جُمات جوړو، نو دوی د خوشحالۍ نه تپوپونه وهل. هندوانو د خپلو مشرانو نه پوښتنه اوکړه چې تاسو څه وویل: دوی ورته وویل چې مونږ د مسلمانانو د یو عالِم نوم ورکړې دی، هغه به په آئنده تاریخ باندې راځي، هغه چې څه اووایي په هغې به زمونږ فیصله وي، نو په دې خبرې سره د عامو هندوانو زړونه لږ مات شو، ځکه د دوی سره دا یره شوه چې کیدې هغه عالِم به د مسلمانانو طرفداري اوکړي.

هندوانو جج ته د مولانا مفتي الهي بخش کاندهلوي رَحِمَهُ الله نوم ورکړې وُ ، دا د شاه عبدالعزيز رَحِمَهُ الله په شاګردانو کې وُ ، دا ډير رېښتونې او مُتّقي عالِم وُ .

بهر حال ، کله چې يو ميياشت پس دواړه ډلې دوباره عدالت ته راغلې نو مسلمانانو اوليد چې مفتي الهي بخش رَحِمَهُ الله د جج سره نزدې په کُرسۍ باندې ناست دې ، مسلمانانو دا سوچ اوکړو چې مفتي صاحب به ضرور د جُمات په باره کې خبره کوي .

کله چې انګريز جج د مفتي صاحب نه پوښتنه اوکړه :

مفتي صاحب ! دا زمکه د چا ده ؟ مفتي صاحب ته چونکه اصل حقيقت معلوم وُ نو ده ورته وويل : دا د هندو ده .

انګريز جج ورنه بيا پوښتنه اوکړه : آيا هندوان په دې باندې مَندر جوړلې شي ؟

مفتي صاحب ورته وويل : چې کله دا زمکه دده ده نو دده اِختيار دی ، دا ورباندې مَندر هم جوړلې شي او کورورباندې هم جوړولې شي .

په دې خبرې سره د مسلمانانو زړونه مات شو .

د دينه پس انګريز فيصله اوليکله خو په فيصله کې يې يوه عجيبه خبره اوليکله ، هغه دا چې :

" دا زمکه مسلمانانو اوبائيلله خو اسلام اُوګټله " .

کله چې هندوانو دا فيصله واوريده نو دوی د اسلام د حقانيت او رېښتينوالي نه دومره متأثره شو چې وې ويل :

جج صاحب ! تا خو خپله فيصله واوروله چې : " اسلام اُوګټله " نو چې کله اسلام دومره رېښتينې او حق مذهب دی نو بيا زمونږ فيصله هم واوره :

اوس مونږ ټول کلِمه وايو ، مسلمانيږو ، او په دې ځای باندې به په خپل لاس باندې جُمات جوړوو . ( نو ټول مسلمانان شو ، او په هغه ځای باندې يې جُمات جوړ کړو ) . (۱)

**فائده** : اګر چې عقل دا ويل چې دروغ ويل په کار دي چې په دې ځای کې جُمات جوړ شي ، ليکن چې کله مفتي صاحب رېښتيا وويل نو د رېښتياؤ په برکت باندې ټولو هندوانو ته اِيمان هم نصيب شو ، او په هغه ځای باندې جُمات هم جوړ شو .

---

(۱) خوږې ملغلرې پنځمه حصه ص ۵۱۸ والهه لمبر ۳۸ طبع تاج کمني . افضل الحکايات لمولانا محمد يونس پالنپوري ص ۳۶۱ ، خطبات فقير ج۱٦ ص ۲۴۱ ، و ج ۲۱ ص ۱۲٦ .

لهذا که په يو ځای کې په ظاهره باندې رښتيا ويل نقصاني ښکاري خو بيا هم رښتيا ويل په کار دي، ځکه رښتيا ويونکي سره الله ﷻ محبت کوي، او مدد ورسره کوي.

او دروغ اګر چې په ظاهره فائده مند معلوميږي ليکن په حقيقت کې نقصاني دي، د دروغجن نه الله ﷻ نفرت کوي، لعنت وربانديې راورَوي، او په معاشره کې په داسې کس باندې هيڅوک اعتماد نه کوي.

## د رېښتياؤ په برکت د مصيبت نه نجات ملاويدل

د رښتيا وُ په برکت انسان ته د مصيبت نه نِجات ملاويږي. په بخاري شريف او مسلم شريف اُورېده واقعه ذکر ده، رسولُ الله ﷺ صحابه کرامو ته اوفرمايل:

چې د مخکيني اُمتونو درې کسان يو ځل چيرته (په سفر باندې) روان وو، ناڅاپه په لاره کې باران راګېر کړل، پس دوی (د باران نه بچ کيدو د پاره په غر کې) يو غار ته ننوتل، (په دې دَوران کې يو غټ کانړې د غار په خُله کې رااوغورځيد)، په دوی باندې د غار خُله مکمل بنده شوه، نو دوی يو بل ته وويل:

إِنَّهُ وَاللّٰهِ يَا هٰؤُلَاءِ لَا يُنْجِيكُمْ إِلَّا الصِّدْقُ، فَلْيَدْعُ كُلُّ رَجُلٍ مِنْكُمْ بِمَا يَعْلَمُ أَنَّهُ قَدْ صَدَقَ فِيهِ.

قسَم په الله، ددې مصيبت نه به تاسو ته صرف رښتيا (او نېک عمل) نِجات درکوي، پس تاسو کې دې هر کس د داسې عمل په وَسيله باندې دُعا اوغواړي چې ده ته دا يقيني معلومه وي چې دا په دې عمل کې صادِق دی (او خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره يې کړې دی)

(دا اُورېده واقعه ده، بيا په دوی کې چې هر کس کوم نېک عمل خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره کړې وُ هغه يې ذکر کړو او د هغې په وَسيله يې د الله ﷻ نه دُعا اوغوښته، نو آخر الله تعالیٰ دا کانړې د غار د خُلې نه لرې کړو، او دوی ټول ورنه صحيح سالِم را اُووتل. (۱)

(۱) پوره واقعه داسې ده: عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: بَيْنَمَا ثَلَاثَةُ نَفَرٍ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ يَمْشُونَ. إِذْ أَصَابَهُمْ مَطَرٌ، فَأَوَوْا إِلَى غَارٍ فَانْطَبَقَ عَلَيْهِمْ. فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ: إِنَّهُ وَاللّٰهِ يَا هٰؤُلَاءِ لَا يُنْجِيكُمْ إِلَّا الصِّدْقُ، فَلْيَدْعُ كُلُّ رَجُلٍ مِنْكُمْ بِمَا يَعْلَمُ أَنَّهُ قَدْ صَدَقَ فِيهِ. فَقَالَ وَاحِدٌ مِنْهُمْ: اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّهُ كَانَ لِي أَجِيرٌ عَمِلَ لِي عَلَى فَرَقٍ مِنْ أَرُزٍّ. فَذَهَبَ وَتَرَكَهُ. وَأَنِّي عَمَدْتُ إِلَى ←←←←←

# د رښتيا ويلو په برکت د نورو ګناهونو نه منع کيدل

په نزهة المجالس کې د امام رازي رحمه الله په حواله دا حديث ذکر شوی چې يو کس نبي عليه السلام ته راغی او ورته وې ويل: زما اِراده ده چې اسلام راوړم خو زه د زِنا، شرابو، غلا، او دروغو سره محبت لرم دا ټول په يو ځل نشم پريخودی، پس تاسو ماته يو څيز اُوښايئ چې زه هغه پريږدم.

نبي عليه السلام ورته او فرمايل: اُتْرُكِ الْكَذِبَ. دروغ ويل پريږده.

پس ده دروغ ويل پريخودل. (او اِسلام يې قبول کړو).

بيا ده د زِنا اِراده اوکړه، نو د ځان سره يې په زړه کې وويل: که چيرته د ما نه نبي عليه السلام پوښتنه اوکړي (چې زِنا دې کړی او که نه؟) پس که زه اِقرار اوکړم نو کوړې به راکړي، او که دروغ او وايم نو ما خو د هغه سره وعده کړې وه چې زه به دروغ نه وايم نو دا وعده به ماته شي. نو ده زِنا پريخوده.

---

←←← ذٰلِكَ الْفَرَقِ فَزَرَعْتُهُ، فَصَارَ مِنْ أَمْرِهِ أَنِّي اشْتَرَيْتُ مِنْهُ بَقَرًا، وَأَنَّهُ أَتَانِي يَطْلُبُ أَجْرَهُ، فَقُلْتُ لَهُ: اعْمِدْ إِلَى تِلْكَ الْبَقَرِ فَسُقْهَا، فَقَالَ لِي: إِنَّمَا لِي عِنْدَكَ فَرَقٌ مِنْ أَرُزٍّ، فَقُلْتُ لَهُ: اعْمِدْ إِلَى تِلْكَ الْبَقَرِ، فَإِنَّهَا مِنْ ذٰلِكَ الْفَرَقِ فَسَاقَهَا، فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذٰلِكَ مِنْ خَشْيَتِكَ فَفَرِّجْ عَنَّا، فَانْسَاحَتْ عَنْهُمُ الصَّخْرَةُ، فَقَالَ الْآخَرُ: اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّهُ كَانَ لِي أَبَوَانِ شَيْخَانِ كَبِيرَانِ، فَكُنْتُ آتِيهِمَا كُلَّ لَيْلَةٍ بِلَبَنِ غَنَمٍ لِي، فَأَبْطَأْتُ عَلَيْهِمَا لَيْلَةً، فَجِئْتُ وَقَدْ رَقَدَا وَأَهْلِي وَعِيَالِي يَتَضَاغَوْنَ مِنَ الْجُوعِ، فَكُنْتُ لَا أَسْقِيهِمْ حَتَّى يَشْرَبَ أَبَوَايَ فَكَرِهْتُ أَنْ أُوقِظَهُمَا، وَكَرِهْتُ أَنْ أَدَعَهُمَا، فَيَسْتَكِنَّا لِشَرْبَتِهِمَا، فَلَمْ أَزَلْ أَنْتَظِرُ حَتَّى طَلَعَ الْفَجْرُ، فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذٰلِكَ مِنْ خَشْيَتِكَ فَفَرِّجْ عَنَّا، فَانْسَاحَتْ عَنْهُمُ الصَّخْرَةُ حَتَّى نَظَرُوا إِلَى السَّمَاءِ، فَقَالَ الْآخَرُ: اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّهُ كَانَ لِي ابْنَةُ عَمٍّ، مِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ، وَأَنِّي رَاوَدْتُهَا عَنْ نَفْسِهَا فَأَبَتْ، إِلَّا أَنْ آتِيَهَا بِمِائَةِ دِينَارٍ، فَطَلَبْتُهَا حَتَّى قَدَرْتُ، فَأَتَيْتُهَا بِهَا فَدَفَعْتُهَا إِلَيْهَا، فَأَمْكَنَتْنِي مِنْ نَفْسِهَا، فَلَمَّا قَعَدْتُ بَيْنَ رِجْلَيْهَا، فَقَالَتْ: اِتَّقِ اللّٰهَ وَلَا تَفُضَّ الْخَاتَمَ إِلَّا بِحَقِّهِ، فَقُمْتُ وَتَرَكْتُ الْمِائَةَ دِينَارٍ، فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذٰلِكَ مِنْ خَشْيَتِكَ فَفَرِّجْ عَنَّا، فَفَرَّجَ اللّٰهُ عَنْهُمْ فَخَرَجُوا. صحيح البخاري كِتَابُ أَحَادِيثِ الْأَنْبِيَاءِ بَابُ حَدِيثِ الْغَارِ رقم الحديث ۳۴۶۵.

هم دغه شان چې ده د شرابو او زنا اراده اوکړه نو په زړه کې يې هم همدا سوچ اوکړو، او د هغې نه يې هم ځان منع کړو.

بيا دا کس نبي عليه السلام ته راغلی او ورته وې ويل:

يَا رَسُوْلَ اللهِ! سَدَدْتَ عَلَيَّ أَبْوَابَ الْمَعَاصِيْ بِالصِّدْقِ.

اې د الله رسوله! په رښتيا ويلو سره تاسو په ما باندې د ټولو ګناهونو دروازې بندې کړې. (۱)

## د يو ماشوم د رښتيا په برکت غلو ته د توبې توفيق نصيب کيدل

( د عبدالقادر جيلاني رَحِمَهُ اللهُ د وړوکوالي واقعه )

عبد القادر جيلاني رَحِمَهُ اللهُ چې وړوکی وُ نو مور د علم زده کولو د پاره يوې تجارتي قافلې سره ملګرې کړو کومه چې بغداد ته روانه وه، د مور مقصد يې دا وُ چې هلته په بغداد کې ديني علم زده کړي.

قافله په اطمينان باندې روانه وه، په لاره کې وريباندې غلو (ډاکوانو) حمله اوکړه، او ټول سامان يې ورنه واخيست، کله چې غلو خپل کار ختم کړو، نو يو غل دې ماشوم نه پوښتنه اوکړه: تا سره څه شته؟ ده ورته وويل: آو، د ما سره څلويښت (۴۰) ديناره دي.

غله دا ګمان اوکړو چې ګني دا راسره ټوقې کوي، نو ورنه لاړ، بيا بل غل راغی او ده ته يې پوښتنه اوکړه چې د تا سره څه شته؟ ده ورته وويل: آو، څلويښت ديناره دي.

د غلو وريباندې يقين نه راتلو چې ګني د دې غريب ماشوم سره به څلويښت ديناره وي، او که ورسره وي نو بيا يې ولې ماته صحيح حال وويل؟ نو ده دا ماشوم خپل سردار (د

---

(۱) رأيتُ في تفسير الرازي في سورة براءة أن رجلًا قال للنبي صلى الله عليه وسلم: إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُسْلِمَ وأُحِبُّ الزنى والخمر والسرقة والكذب ولا أستطيع ترک الجميع فأمرني بترک خصلة. قال: أُتْرُكِ الْكَذِبَ. فترکه، ثم أراد الزنى فقال: إن سألني النبي صلى الله عليه وسلم فإنْ اعترفتُ جلدني وإن أنكرتُ فقد خنتُ العهد، و كذلک في الخمر والسرقة. ثم جاء فقال: يَارَسُوْلَ اللهِ! سَدَدْتَ عَلَيَّ أَبْوَابَ الْمَعَاصِيْ بِالصِّدْقِ. نزهة المجالس ومنتخب النفائس ج ۱ ص ۱۹۱ فصل في زكاة الاعضاء وهي كفها عن المحرمات، طبع مكتبه فاروقيه.

نوټ: دا حديث مې په نورو معتمدو کتابونو کې تلاش کړو خو پيدا مې نکړو. خُذْ مَا صَفَا وَدَعْ مَا كَدَرَ. ابوالشمس

غلو مشر) ته بوتلو.

د غلو سردار دده نه پوښتنه اوکړه: ماشومه د تاسره رښتيا څلويښت ديناره دي؟ ده ورته وويل: آو. هغه ورته په حيرانتيا سره وکتل او ورته وې ويل: تا چيرته ايښي دي؟

ده ورته وويل: زما د ملا سره يوه تهيلۍ تړلې ده په هغې کې دي.

د غلو سردار چې هغه تهيلۍ کلاؤ کړه نو يقيني چې څلويښت ديناره په کې وو.

سردار په حيرانتيا سره ماشوم ته وکتل، ورته وې ويل: ماشومه ته چيرته ځې؟ ده ورته وويل: د دين زده کولو د پاره بغداد ته ځم.

سردار ورنه پوښتنه اوکړه: هلته ستا څوک پيژندګلو شته؟ ده ورته وويل: هلته زما هيڅوک پيژندګلو نشته، ماته مور دا څلويښت ديناره ددې د پاره راکړي وو چې هلته په اطمينان سره علم حاصل کړم او چاته محتاج نه شم.

د غلو سردار په ډيرې توجو سره د ماشوم خبرې واوريدې، د ځان سره يې سوچ کولو چې دې ماشوم د مونږ نه دا دينار ولې پټ نکړل؟ که چيرته ده مونږ ته رښتيا نۀ ويلي نو زمونږ دېته هيڅ سوچ نۀ وُ چې ګني دې غريب ماشوم سره څلويښت ديناره دي.

نو ده ددې ماشوم نه پوښتنه اوکړه: اې ماشومه! تا ولې مونږ ته رښتيا وويل؟ که چيرته تا مونږ ته دروغ ويلي وې نو تاته به دا ديناره بچ شوي وو ځکه زمونږ په تا باندې هيڅ شک نه راتلو چې ګني د تاسره څه شته.

ماشوم ورته وويل: کله چې زه د کور نه راتلم نو د مانه مور دا وعده اخيستې وه چې هميشه به رښتيا وايې، نو که ما تاسو ته دروغ ويلي وې نو ما به د مور وعده او حُکم مات کړې وُ (او د مور حُکم ماتول زه نه خوښوم).

د غلو سردار چې دا خبره واوريده نو ډير اثر يې ورباندې اوکړو، يوه چغه يې د خُلې نه اُووته او وې ويل: دا ماشوم د خپلې مور وعده او حُکم ماتول نه خوښوي ليکن زه د خپل پروردګار وعده او حُکم ماتوم. نو رښتينې توبه يې اُوويسته، او حُکم يې اوکړو چې دې ماشوم او غونډې قافلې ته خپل مال واپس کړئ.

نورو غلو چې خپل سردار اوکتلو چې توبه يې اُوويسته نو دوی ورته وويل: ته تر اوسه په غلا کې زمونږ مشر وې اوس چې تا توبه اُوويسته نو په توبه کې هم ته زمونږ مشر يې،

نو دوی ټولو توبه اُو ويسته. (۱)

**فائده**: د عبدالقادر جيلاني رحمه الله د ريښتياؤ په برکت سره ټولو غلو ته د توبې توفيق ملاؤ شو.

## په ريښتيا ويلو کې اطمينان دی

په ريښتيا ويلو کې انسان ته د زړه اطمينان او سکون ملاويږي.

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَا لَا يَرِيبُكَ فَإِنَّ الصِّدْقَ طُمَأْنِينَةٌ وَإِنَّ الْكَذِبَ رِيبَةٌ. (۲)

کوم څيز چې تا په شک کې اچوي هغه پريږده او هغه څيز ته مېلان اوکړه چې تا په شک کې نه اچوي، ځکه ريښتيا (او حق) زړه مُطمئِن کوي، او دروغ شک پيدا کوي.

يعنی په ريښتيا ويلو سره د مؤمِن زړه مطمئن کيږي، او دروغ ويلو سره په زړه کې شک او

(۱) افضل الحکايات لمولانا محمد يونس پالنپوري صاحب ص ۵۵۱.

دا واقعه په نزهة المجالس کې هم ذکر ده: قال الشيخ عبد القادر الجيلاني رَحِمَهُ اللهُ بنيت أمري على الصدق وذلك أني خرجتُ من مكة إلى بغداد أطلبُ العلمَ فأعطتني أمي أربعين دينارًا، وعاهدتني على الصدق. فلمّا وصلنا أرض همدان خَرَجَ علينا عرب فأخذوا القافلة فمرّ واحدٌ منهم وقال: ما معك؟ قلتُ: أربعون دينارًا فظنّ أني أهزأ به. فتركني. فرآني رجلٌ آخر فقال: ما معك؟ فأخبرتُه فأخذني إلى كبيرهم. فسألني. فأخبرتُه فقال: ما حَمَلَكَ على الصدق؟ قلتُ عاهدتني أمي على الصدق فأخاف أنْ أخونَ عهدَها. فصاح ومزّق ثيابَه وقال: أَنْتَ تَخَافُ أَنْ تَخُونَ عهدَ أمك وأنا لَا أَخَافُ أَنْ أخونَ عهد الله. ثم أمر بردّ ما أخذوه من القافلة، وقال: أنا تائبٌ لِله على يديك. فقال من معه: أَنْتَ كَبِيرُنَا في قطع الطريق وأنتَ اليومَ كبيرُنا في التوبة. فَتَابُوْا جَمِيْعًا بِبَرَكَةِ الصِّدْقِ. نزهة المجالس ومنتخب النفائس ج ۱ ص ۱۹۱ فصل في زكاة الاعضاء وهي كفها عن المحرمات.

(۲) المستدرک على الصحيحين للحاکم كِتَابُ الأَحْكَامِ رقم الحديث ۷۰۴۶ قال الذهبي: سنده قوي. وقال الالباني: صحيح. مشکوة المصابيح باب الکسب وطلب الحلال الفصل الثاني رقم الحديث ۲۷۷۳(۱۵)، السنن الکبری للبيهقي رقم الحديث ۱۰۸۱۹، شعب الايمان رقم الحديث ۵۳۶۳، مسند احمد رقم الحديث ۱۷۲۳، و رقم الحديث ۱۷۲۷، مسند ابي داؤ الطيالسي رقم الحديث ۱۲۷۴.

تردّد پيدا کيږي. (۱)

## لقمان حکيم ته اوچته مرتبه په رښتيا ويلو او نورو ښو صفتونو سره ملاؤ شوې وه

د لقمان حکيم رَحِمَهُ اللهُ نه چا پوښتنه اوکړه:

أَلَسْتَ عَبْدَ بَنِيْ فُلَانٍ؟ آيا ته د فلانکي غلام نه وې؟

ده ورته وويل: وُوم. هغه ورنه بيا پوښتنه اوکړه: زه چې ستا دا موجوده مرتبه ګورم ته دېته په څه شي اورسيدې؟ ده ورته وويل:

تَقْوَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَصِدْقُ الْحَدِيْثِ، وَأَدَاءُ الْأَمَانَةِ، وَتَرْكُ مَا لَا يَعْنِيْنِيْ.

(زه دې مرتبې ته) د الله ﷻ نه په يريدو، رښتيا خبرو، امانت اداء کولو، او بې فائدې کارونو پريخودو په وجه اورسيدم. (۲)

## د رښتياؤ نورې فائدې

محترمو مسلمانانو! په قرآن کريم او احاديثو کې د رښتيا ويلو نورې ديرې فائدې هم شته، دا خو درته ما يو څو فائدې ذکر کړې، علماؤ د دينه علاوه نورې فائدې هم ذکر

(۱) قَالَ التُّورِبِشْتِيُّ رَحِمَهُ اللهُ .... مَعْنَاهُ إِذَا وَجَدْتَ نَفْسَكَ تَرْتَابُ فِي الشَّيْءِ فَاتْرُكْهُ، فَإِنَّ نَفْسَ الْمُؤْمِنِ تَطْمَئِنُّ إِلَى الصِّدْقِ وَتَرْتَابُ مِنَ الْكَذِبِ، فَارْتِيَابُكَ فِي الشَّيْءِ مُنْبِئٌ عَنْ كَوْنِهِ بَاطِلًا أَوْ مَظِنَّةً لِلْبَاطِلِ فَاحْذَرْهُ، وَاطْمِئْنَانُكَ إِلَى الشَّيْءِ مُشْعِرٌ بِكَوْنِهِ حَقًّا فَاسْتَمْسِكْ بِهِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۱۸۹۹/۵ باب الكسب وطلب الحلال الفصل الثاني في تشريح رقم الحديث ۲۷۷۳(۱۵).

(۲) قِيْلَ لِلُقْمَانَ الْحَكِيْمِ: أَلَسْتَ عَبْدَ بَنِيْ فُلَانٍ؟ قَالَ: بَلَى. قِيْلَ فَمَا بَلَغَ بِكَ مَا أَرَى؟ قَالَ: تَقْوَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَصِدْقُ الْحَدِيْثِ، وَأَدَاءُ الْأَمَانَةِ، وَتَرْكُ مَا لَا يَعْنِيْنِيْ. الآداب الشرعية والمنح المرعية ۳۹/۱ فَصْلٌ فِي حِفْظِ اللِّسَانِ وَتَرْكِ الْكَلَامِ، نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم صلى الله عليه وسلم ۲۵۱۵/۶ الصدق.

وَذُكِرَ عَنْ لُقْمَانَ الْحَكِيْمِ أَنَّهُ قِيْلَ لَهُ: مَا بَلَغَ بِكَ مَا نَرَى؟ قَالَ: صِدْقُ الْحَدِيْثِ، وَأَدَاءُ الْأَمَانَةِ، وَتَرْكِيْ مَا لَا يَعْنِيْنِيْ. تنبيه الغافلين باحاديث سيد الانبياء والمرسلين للسمرقندي ص ۲۱۲ بَابُ: حِفْظِ اللِّسَانِ

کړي. (۱)

## په مسلمان کې چې څلور خصلتونه وي نو دا کامياب دی،

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

أَرْبَعٌ إِذَا كُنَّ فِيكَ فَلَا عَلَيْكَ مَا فَاتَكَ مِنَ الدُّنْيَا : حِفْظُ أَمَانَةٍ ، وَصِدْقُ حَدِيثٍ ، وَحُسْنُ خَلِيقَةٍ ، وَعِفَّةٌ فِي طُعْمَةٍ . (۲)

څلور صفتونه داسې دي چې دا کله په تا کې موجود شي نو بيا د دُنيا په فوت کيدو باندې تا ته هيڅ غم په کار ندی: ۱. د آمانت حفاظت ۲. رښتيا خبره کول ۳. خوش اَخلاقي ۴. په خوراک کې احتياط (او پرهيزګاري).

(يعنی چې کله په تا کې دا څلور خبرې موجود شي نو ده ګويا د جنت نعمتونه حاصل کړل، اوس که ده ته د دُنيا مادي خواهشات او لذتونه ملاؤ نشي نو ده ته په دې باندې هيڅ غم او افسوس په کار ندی).

## ټول پيغمبران صدّيقين (رښتيا ويونکي) وو

رښتيا ويل داسې بهترين صفت دی چې د حضرت آدم عليه السلام نه نيولی تر د نبي عليه السلام پورې چې څومره پيغمبران تېر شوي دي دوی ټول رښتيا ويونکي وو، تر

---

(۱) من فوائد الصدق : (۱) اَلصِّدْقُ طَرِيْقُ الْأَبْرَارِ إِلَى الْجَنَّةِ. (۲) اَلصَّادِقُوْنَ هُمْ أَحْبَابُ اللهِ الْمُقَرَّبُوْنَ. (۳) مَدَحَ اللهُ أَنْبِيَاءَهُ وَخُلَّاصَهُ بِأَنَّهُمْ مُصَدِّقُوْنَ وَصَادِقُوْنَ، يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَنْفَعُهُمْ صِدْقُهُمْ. (۴) اَلصَّادِقُوْنَ يُحِبُّهُمُ النَّاسُ وَيَثِقُوْنَ بِهِمْ وَيَأْتَمِنُوْنَهُمْ فِيْ سَائِرِ مُعَامَلَاتِهِمْ. (۵) اَلصَّادِقُ يَعْتَزُّ بِنَفْسِهِ وَيَرْفَعُ نَفْسَهُ بَيْنَ أَفْرَادِ مُجْتَمَعِهِ. (۶) اَلصِّدْقُ يَرْفَعُ الْأَعْمَالَ وَيُعْلِيْ شَأْنَهَا. (۷) اَلصِّدْقُ دَلِيْلُ الْقُوَّةِ وَسِمَةُ الثِّقَةِ بِالنَّفْسِ. (۸) اَلصِّدْقُ مَنْجَاةٌ وَالْكَذِبُ مَهْوَاةٌ. (۹) اَلصِّدْقُ فِي الْحَدِيْثِ يَجْعَلُهُ مُوَقَّرًا فِي الْقُلُوْبِ. (۱۰) اَلصَّادِقُ مَحْشُوْرٌ مَعَ النَّبِيِّيْنَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِيْنَ. نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم ﷺ ۲۵۱۶/۶ الصدق.

(۲) مسند احمد رقم الحديث ۶۶۵۲، شعب الايمان رقم الحديث ۴۴۶۳، و رقم الحديث ۴۸۷۸، مشكوة المصابيح كتاب الرقاق الفصل الثالث رقم الحديث ۵۲۲۲ (۶۸)، مجمع الزوائد رقم الحديث ۶۷۰۶، و رقم الحديث ۱۸۱۲۳ باب فيمن اكل طيبًا حلالاً، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۴۱، كنز العمال رقم الحديث ۴۳۴۱۳.

دې چې د هرې زمانې کافرانو هم د خپل پیغمبر په باره کې دا اِقرار کولو چې دا صادِق او آمین دی.

## د نبي علیه السلام صداقت

نبي علیه السلام ته د نبوّت ملاویدو نه مخکې هم خلقو صادِق او آمین ویل، تر دې چې کله ورته نبوّت ملاؤ شو، او دا آیت نازل شو:

﴿ وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ ﴾. (١)

ترجمه: او ته خپل نزدې خپلوان (د عذاب نه) اُویروه.

نو نبي علیه السلام د صفا په غونډۍ باندې اُودرید او قریشو ته یې آواز اوکړو، کله چې ټول راجمع شو نو ورته وې فرمایل:

دا راته اووایئ که چیرته زه تاسو ته خبر درکړم چې په دې وادۍ کې څه شاه سواران دي او هغوی په تاسو باندې د حملې کولو اِراده لري، نو آیا تاسو به زما تصدیق اوکړئ؟

نو ټولو ورته ووئیل:

نَعَمْ، مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ إِلَّا صِدْقًا.

سونږ همیشه په تا باندې تجربه کړې نو تا رښتیا ویلي.

دا اُوږد حدیث دی، په بخاري شریف کې ذکر دی. (٢)

---

(١) الشعراء آية ٢١٢.

(٢) پوره حدیث داسې دی: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ: { وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ } صَعِدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الصَّفَا، فَجَعَلَ يُنَادِي: « يَا بَنِي فِهْرٍ، يَا بَنِي عَدِيٍّ » لِبُطُونِ قُرَيْشٍ حَتَّى اجْتَمَعُوا فَجَعَلَ الرَّجُلُ إِذَا لَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يَخْرُجَ أَرْسَلَ رَسُولًا لِيَنْظُرَ مَا هُوَ، فَجَاءَ أَبُو لَهَبٍ وَقُرَيْشٌ، فَقَالَ: « أَرَأَيْتَكُمْ لَوْ أَخْبَرْتُكُمْ أَنَّ خَيْلًا بِالْوَادِي تُرِيدُ أَنْ تُغِيرَ عَلَيْكُمْ، أَكُنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ؟ » قَالُوا: نَعَمْ، مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ إِلَّا صِدْقًا. قَالَ: « فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ » فَقَالَ أَبُو لَهَبٍ: تَبًّا لَكَ سَائِرَ الْيَوْمِ، أَلِهَذَا جَمَعْتَنَا؟ فَنَزَلَتْ: { تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ۝ مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ } [المسد آية ١، ٢]. صحيح البخاري كتاب تفسير القرآن باب { وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ } أَلِنْ جَانِبَكَ رقم الحديث ٤٧٧٠، مشكوة المصابيح باب الإنذار والتحذير الفصل الاول رقم ٥٣٧٢(٢)، ورقم الحديث ٥٨٤٦(١٠) باب البعث وبدء الوحي الفصل الاول.

(نو ته له قرېښو نبي عليه السلام د صداقت ګواهي ورکړه ).

## د نورو پيغمبرانو صداقت

همدارنګې د نورو پيغمبرانو په باره کې هم الله تعالی دا خبر ورکړی چې دوی صِدّيقين (رېښتيا ويونکي) وو .

د حضرت ابراهيم عليه السلام ، حضرت اسماعيل عليه السلام ، او حضرت ادريس عليه السلام په باره کې خو صراحةً په قرآن کريم کې ذکر دي چې دوی رېښتيا ويونکي وو .(۱)

همدارنګې د حضرت عيسى عليه السلام د مور (بي بي مريم) په باره کې هم الله تعالی فرمايلي :

﴿ وَأُمُّهُ صِدِّيقَةٌ ﴾. (۲)

ترجمه : او دده مور ډيره رېښتينې ښځه وه .

---

(۱) ﴿ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ إِبْرٰهِيمَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ﴾ . سورة مريم آية ۴۱ .

﴿ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ إِسْمٰعِيلَ إِنَّهُ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا ﴾ . سورة مريم آية ۵۴ .

﴿ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ إِدْرِيسَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ﴾ . سورة مريم آية ۵۶ .

(۲) المائدة آية ۷۵ .

# دروغ ويل ګناه کبيره ده

محترمو مسلمانانو ! دروغ ويل ګناهِ کبيره ده ، امام ذهبي رحمه الله هم په خپل کتاب " الکبائر " کې دروغ په ګناهِ کبيره کې شمار کړي . (۱)

په قرآن کريم او احاديثو کې د دروغو سختې سزاګانې ذکر شوي .

## په دروغجن باندې لعنت

په دروغجن باندې د الله تعالى لعنت راوريږي . (۲)

او په چا باندې چې د الله ﷻ لعنت راوريږي نو هغه په دُنيا او آخرت دواړو کې د الله ﷻ د خصوصي رَحمت نه لرې وي .

همدارنګې الله تعالى په دروغه باندې اټکل خبرو کوونکو په باره کې فرمايي :

﴿ قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ ﴾ . (۳)

ترجمه : هلاک کړې شو بې دليله (اټکل) خبرې کوونکې .

د خَرَّاص لفظي معنى ده : په اټکل خبرې کوونکی . ددې ترجمه په کَذَّابُوْن سره هم صحيح ده . نو اوس به د آيت مطلب داشي : په دروغجنو باندې دې د الله تعالى لعنت وي . (۴) مفسّرينو هم د خَرَّاصُوْن ترجمه په کَذَّابُوْن سره کړی . (۵)

---

(۱) اَلْکَبِيْرَةُ الثَّلَاثُوْنَ الْکَذِبُ فِيْ غَالِبِ أَقْوَالِهِ. الکبائر ص ۱۲۵

(۲) په قرآن کريم کې په آيت د مُبَاهلې کې ذکر دي : ﴿ فَنَجْعَلْ لَّعْنَتَ اللّٰهِ عَلَى الْكٰذِبِيْنَ ﴾ . ترجمه : پس مونږ به په دروغجنو باندې د الله لعنت اوليږو . آل عمران آية ۶۱ .

(۳) الذاريات آية ۱۰ .

(۴) تفسير معارف القرآن الذاريات آية ۱۰ .

(۵) { قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ } لُعِنَ الْكَذَّابُوْنَ أَصْحَابُ الْقَوْلِ الْمُخْتَلِفِ . تفسير الجلالين

{ قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ } أَيْ: لُعِنَ الْكَذَّابُوْنَ الَّذِيْنَ يَخْرُصُوْنَ الْكَذِبَ . يَقُوْلُوْنَ : لَا نُبْعَثُ، وَلَا يُوْقِنُوْنَ بِالْبَعْثِ ، وَهِيَ مِثْلُ قَوْلِهِ فِيْ عَبَسَ : { قُتِلَ الْإِنْسَانُ مَا أَكْفَرَهُ } عبس آية ۱۷] أَيْ: لُعِنَ . تفسير مجاهد ۶۱۸/۱ . تفسير القرآن العظيم ۴۱۵/۷ . ←←←←←←←←

# دروغ ويل د مُنافقانو علامه ده

د مُنافِق سري درې (۳) علامې دي ، يوه په کې دروغ ويل هم دي .

۱ . د بخارې شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ : إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ . (۱)

د مُنافِق سړي درې (۳) نخښې دي : ۱ . کله چې خبرې کوي نو دروغ وايي ۲ . کله چې وعده اوکړي نو وعده خلافي کوي (يعنی نه يې پوره کوي) ۳ . او چې کله امين جوړ کړې شي (يعنی امانت ورسره کيښودې شي) نو خيانت کوي .

۲ . د مسلم شريف په يو روايت کې ددې سره نوره اضافه هم شته ، نبي عليه السلام فرمايي : آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى وَزَعَمَ أَنَّهُ مُسْلِمٌ .... (۲)

---

←←← { قُتِلَ الْخَرَّاصُونَ } : لُعِنَ الْكَذَّابُونَ . يُقَالُ: تَخَرَّصَ عَلَى فُلَانٍ الْبَاطِلَ . تفسير البغوي (معالم التنزيل في تفسير القرآن) ۲۸۱/۴ .

{ قُتِلَ الْخَرَّاصُونَ } قال الفراء: يعني: لُعِنَ الكذّابون الذين قالوا: إنّ النبيّ صلّى الله عليه وسلم ساحر وكذّاب وشاعر، خَرَصوا ما لا علم لهم به. وفي رواية العوفي عن ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : أنهم الكهنة . وقال ابن الأنباري : والقتل إذا أُخبر عن الله به فهو بمعنى اللعنة، لأنّ من لعنه الله فهو بمنزلة المقتول الهالك. زاد المسير في علم التفسير ۱۶۸/۴ . تفسير أبي السعود ۱۳۷/۸

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ عَلَامَةِ الْمُنَافِقِ رقم الحديث ۳۳ ، ورقم الحديث ۲۶۸۲ كِتَابُ الشَّهَادَاتِ بَابُ مَنْ أَمَرَ بِإِنْجَازِ الوَعْدِ . ورقم الحديث ۶۰۹۵ كِتَابُ الأَدَبِ بَابُ قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ} وَمَا يُنْهَى عَنِ الكَذِبِ . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانَ بَابُ بَيَانِ خِصَالِ الْمُنَافِقِ رقم الحديث ۱۰۷(۵۹) ، ورقم الحديث ۱۰۹(۵۹) ، مشكوة المصابيح باب الكبائر وعلامات النفاق الفصل الاول رقم الحديث ۵۵(۷) .

(۲) صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانَ بَابُ بَيَانِ خِصَالِ الْمُنَافِقِ رقم الحديث ۱۰۹(۵۹).

وفي رواية : عَنِ الْحَسَنِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ فَهُوَ مُنَافِقٌ وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى وَزَعَمَ أَنَّهُ مُسْلِمٌ : مَنْ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ . مسند احمد رقم الحديث ۱۰۹۲۵ ، صحيح ابن حبان مختلفا رقم الحديث ۲۵۷ ، السنن الصغير للبيهقي رقم الحديث ۲۳۳۷ ، شعب الايمان رقم ۴۸۷۴ ، مشكوة المصابيح رقم الحديث ۵۵(۷) باب الكبائر وعلامات النفاق الفصل الاول .

د منافق سري درې علامې دي اګر چې دا روژې نيسي ، مونځ كوي ، او دا يې ګمان يې چې دا مسلمان دی ....

په يو روايت كې د منافق څلور ( ۴ ) علامې ذكر شوي، درې همدا مذكوره دي . او څلورمه علامه داده : وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ . (۱)

او كله چې جګړه كوي نو باطلې خبرې ( كنځل وغيره ) كوي .

**د مذكوره احاديثو مطلب** : مُحقّقين او اكثره علماء ددې احاديثو مطلب دا بيانوي چې دا مذكوره درې خبرې د منافقانو خصلتونه دي نو اوس چې په چا كې دا موجود شي نو دا كس د منافقانو سره مشابه شو ، دا مطلب ندی چې ګني دا يقيني منافق شو .

بعضې علماء د حديث مطلب دا بيانوي چې په چا كې هميشه دا خصلتونه وي نو داسې كس منافق دی .

امام ترمذي رحمه الله د حديث مطلب دا بيانوي چې په چا كې دا صفتونه راشي نو هغه په اعتبار د عمل سره منافق دی ، اعتقادي منافق ورنه مراد ندی .

بعضې علماء وايي چې ددينه د نبي عليه السلام د زمانې منافقان مراد دي .

علامه خطابي رحمه الله وايي چې ددې احاديثو مقصد مسلمانان يَرول دي چې دا خصلتونه په ځان كې پيدا نكړي ، ځكه دا يَره ده چې ددې په وجه انسان حقيقتًا منافق شي .

امام نووي رحمه الله د مسلم شريف په شرح كې ددې حديث پوره تشريح كړې ده . (۲)

---

(۱) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا، وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَلَّةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَلَّةٌ مِنْ نِفَاقٍ حَتَّى يَدَعَهَا: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ " غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ سُفْيَانَ: « وَإِنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ ». صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ بَيَانِ خِصَالِ الْمُنَافِقِ رقم الحديث ۱۰۶ (۵۸). سنن الترمذي أَبْوَابُ الإِيمَانِ بَابُ مَا جَاءَ فِي عَلَامَةِ الْمُنَافِقِ رقم ۲۶۳۲ .

(۲) هَذَا الْحَدِيثُ مِمَّا عَدَّهُ جَمَاعَةٌ مِنَ الْعُلَمَاءِ مُشْكِلًا مِنْ حَيْثُ إِنَّ هَذِهِ الْخِصَالَ تُوجَدُ فِي الْمُسْلِمِ الْمُصَدِّقِ الَّذِي لَيْسَ فِيهِ شَكٌّ وَقَدْ أَجْمَعَ الْعُلَمَاءُ عَلَى أَنَّ مَنْ كَانَ مُصَدِّقًا بِقَلْبِهِ وَلِسَانِهِ وَفَعَلَ هَذِهِ الْخِصَالَ لَا يُحْكَمُ عَلَيْهِ بِكُفْرٍ وَلَا هُوَ مُنَافِقٌ يُخَلَّدُ فِي النَّارِ فَإِنَّ إِخْوَةَ يُوسُفَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَعُوا هَذِهِ الْخِصَالَ وَكَذَا وُجِدَ لِبَعْضِ السَّلَفِ وَالْعُلَمَاءِ بَعْضُ هَذَا أَوْ كُلُّهُ . وَهَذَا الْحَدِيثُ لَيْسَ فِيهِ بِحَمْدِ اللهِ تَعَالَى إِشْكَالٌ وَلَكِنِ اخْتَلَفَ الْعُلَمَاءُ ←←←←←

# په کامل مؤمن کې دروغ او خيانت نه جمع کيږي

۱ . رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

يُطْبَعُ الْمُؤْمِنُ عَلَى الْخِلَالِ كُلِّهَا إِلَّا الْخِيَانَةَ وَالْكَذِبَ .(۱)

مؤمن په هر قسمه خصلت باندې پيدا کيږي مګر په خيانت او دروغو باندې نه پيدا کيږي.

**تشريح** : د حديث مطلب دا دی چې په کامل مؤمن کې هر قسمه خصلتونه او کمزورياني

---

←←← فِي مَعْنَاهُ فَالَّذِي قَالَهُ الْمُحَقِّقُوْنَ وَالْأَكْثَرُوْنَ وَهُوَ الصَّحِيحُ الْمُخْتَارُ أَنَّ مَعْنَاهُ أَنَّ هٰذِهِ الْخِصَالَ خِصَالُ نِفَاقٍ وَصَاحِبُهَا شَبِيهٌ بِالْمُنَافِقِيْنَ فِي هٰذِهِ الْخِصَالِ وَمُتَخَلِّقٌ بِأَخْلَاقِهِمْ فَإِنَّ النِّفَاقَ هُوَ إِظْهَارُ مَا يُبْطِنُ خِلَافَهُ وَهٰذَا الْمَعْنٰى مَوْجُوْدٌ فِي صَاحِبِ هٰذِهِ الْخِصَالِ وَيَكُوْنُ نِفَاقُهُ فِي حَقِّ مَنْ حَدَّثَهُ وَوَعَدَهُ وَائْتَمَنَهُ وَخَاصَمَهُ وَعَاهَدَهُ مِنَ النَّاسِ لَا أَنَّهُ مُنَافِقٌ فِي الْإِسْلَامِ فَيُظْهِرُهُ وَهُوَ يُبْطِنُ الْكُفْرَ وَلَمْ يُرِدِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا أَنَّهُ مُنَافِقٌ نِفَاقَ الْكُفَّارِ الْمُخَلَّدِيْنَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ، وَقَوْلُهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا" مَعْنَاهُ شَدِيْدُ الشَّبَهِ بِالْمُنَافِقِيْنَ بِسَبَبِ هٰذِهِ الْخِصَالِ. قَالَ بَعْضُ الْعُلَمَاءِ وَهٰذَا فِيْمَنْ كَانَتْ هٰذِهِ الْخِصَالُ غَالِبَةً عَلَيْهِ فَأَمَّا مَنْ يندر ذٰلِكَ مِنْهُ فَلَيْسَ دَاخِلًا فِيْهِ فَهٰذَا هُوَ الْمُخْتَارُ فِي مَعْنَى الْحَدِيْثِ . وَقَدْ نَقَلَ الْإِمَامُ أَبُوْ عِيْسَى التِّرْمِذِيُّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مَعْنَاهُ عَنِ الْعُلَمَاءِ مُطْلَقًا فَقَالَ : " وَإِنَّمَا مَعْنٰى هٰذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ نِفَاقُ الْعَمَلِ، وَإِنَّمَا كَانَ نِفَاقُ التَّكْذِيْبِ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . هٰكَذَا رُوِيَ عَنِ الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ شَيْءٌ مِنْ هٰذَا أَنَّهُ قَالَ : اَلنِّفَاقُ نِفَاقَانِ: نِفَاقُ الْعَمَلِ، وَنِفَاقُ التَّكْذِيْبِ" . وَقَالَ جَمَاعَةٌ مِنَ الْعُلَمَاءِ : اَلْمُرَادُ بِهِ الْمُنَافِقُوْنَ الَّذِيْنَ كَانُوْا فِي زَمَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَدَّثُوْا بِإِيْمَانِهِمْ وَكَذَبُوْا وَاؤْتُمِنُوْا عَلٰى دِيْنِهِمْ فَخَانُوْا وَوَعَدُوْا فِي أَمْرِ الدِّيْنِ وَنَصْرِهِ فَأَخْلَفُوْا وَفَجَرُوْا فِي خُصُوْمَاتِهِمْ وَهٰذَا قَوْلُ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ وَعَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ وَرَجَعَ إِلَيْهِ الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ رَحِمَهُ اللّٰهُ بَعْدَ أَنْ كَانَ عَلٰى خِلَافِهِ وَهُوَ مَرْوِيٌّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَوَيَاهُ أَيْضًا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قَالَ الْقَاضِيْ عِيَاضٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَإِلَيْهِ مَالَ كَثِيْرٌ مِنْ أَئِمَّتِنَا . وَحَكَى الْخَطَّابِيُّ رَحِمَهُ اللّٰهُ قَوْلًا آخَرَ أَنَّ مَعْنَاهُ التَّحْذِيْرُ لِلْمُسْلِمِ أَنْ يَعْتَادَ هٰذِهِ الْخِصَالَ الَّتِيْ يُخَافُ عَلَيْهِ أَنْ تُفْضِيَ بِهِ إِلٰى حَقِيْقَةِ النِّفَاقِ . وَحَكَى الْخَطَّابِيُّ رَحِمَهُ اللّٰهُ أَيْضًا عَنْ بَعْضِهِمْ أَنَّ الْحَدِيْثَ وَرَدَ فِي رَجُلٍ بِعَيْنِهِ مُنَافِقٍ وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُوَاجِهُهُمْ بِصَرِيْحِ الْقَوْلِ فَيَقُوْلُ فُلَانٌ مُنَافِقٌ وَإِنَّمَا كَانَ يُشِيْرُ إِشَارَةً كَقَوْلِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَا بَالُ أَقْوَامٍ يَفْعَلُوْنَ كَذَا . وَاللّٰهُ أَعْلَمُ . شرح النووي على مسلم ( المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج ) ۴٦/۲ كتاب الايمان باب بيان خصال المنافق .

(۱) مسند احمد رقم الحديث ۲۲۱۷۰ ، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ الفصل الثالث رقم الحديث ۴۸٦۰(۴۹) ، مجمع الزوائد باب ماجاء ان الصدق من الايمان رقم الحديث ۳۲٦ ، كنز العمال رقم الحديث ۸۲۳، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۲۵٦۰۴ ، ورقم الحديث ۳۰۳۳۹ .

جمع کيدې شي ليکن خيانت او دروغ په کې نشي جمع کيدی ځکه دا دواړه د ايمان ضد صفات دي، او د منافقانو عادتونه دي، بلکه په کامِل مؤمن کې به اَمانت او صِدق وي.

د نبي عليه السلام مقصد په دې سره دادی چې مسلمان دې: خيانت او دروغو نه ځان اوساتي. (۱)

۲. دا مضمون په يو بل حديث کې نور هم په واضحې طريقې سره ذکر شوی: حضرت صفوان بن سليم رضي الله عنه فرمايي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه اوشوه:

أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ جَبَانًا؟ آيا مؤمن بُزدِل کيدې شي؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل: نَعَمْ. آو (مؤمِن بُزدِل کيدې شي).

بيا ورنه پوښتنه اوشوه:

أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ بَخِيلًا؟ آيا مؤمن بخيل کيدې شي؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل: نَعَمْ. آو (بخيل کيدې شي).

بيا ورنه پوښتنه اوشوه: أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ كَذَّابًا؟ آيا مؤمن دروغجَن کيدې شي؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل:

لَا. نه. (مؤمِن دروغجَن نشي کيدی). (۲)

**فائده**: ددې حديث نه معلومه شوه چې مؤمن بُزدِل او بخيل کيدې شي ځکه دا د کامِل اِيمان مُنافي صفات ندي، ليکن مؤمِن دروغجَن نشي کيدی ځکه دروغ د کامِل اِيمان د پاره مُنافي صفت دی.

(۱) مرقاة المفاتيح ج ۷ ص ۳۰۵۰ في تشريح حديث ۴۸۶۰.

(۲) عَنْ صفوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ رضي الله عنه أَنَّهُ قِيلَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ جَبَانًا؟ قَالَ: "نَعَمْ" قِيلَ: أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ بَخِيلًا؟ قَالَ: "نَعَمْ". فَقِيلَ لَهُ: أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ كَذَّابًا؟ قَالَ: "لَا". شعب الايمان رقم الحديث ۴۴۷۲ حفظ اللسان عما لا يحتاج اليه، موطا مالک باب ماجاء في الصدق والكذب رقم الحديث ۱۹، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثالث رقم الحديث ۴۷۶۲ (۵۱).

## د دروغو د بدبويۍ په وجه حفاظت کوونکې فرښتې يو ميل لرې کيدل

د ترمذي شريف او مشکوة شريف حديث دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِذَا كَذَبَ الْعَبْدُ تَبَاعَدَ عَنْهُ الْمَلَكُ مِيلًا مِنْ نَتْنِ مَا جَاءَ بِهِ. (۱)

چې کله يو بنده دروغ وايي نو (حفاظت کوونکې) فرښتې ددې دروغو د بدبويۍ په وجه ددهٔ نه يو ميل لرې کيږي.

**فائده**: لکه څرنګې چې په دې مادي شيانو کې خوشبوئي او بدبوئي وي نو همدغه شان په ښه اعمالو او بدو اعمالو، ښه خبرو او بدو خبرو کې هم خوشبوئي او بدبوئي وي چې دا فرښتې محسوسوي. (نو د دروغو د بدبوئي په وجه فرښتې په ميلونو باندې د انسان نه لرې کيږي). بلکه د کومو بزرګانو روحانيت چې په ماديت باندې غالب وي نو هغوی هم بعضې وخت د دروغو بدبوئي محسوسوي. (۲)

## دروغ ويونکي د پاره سخته سزا

څوک چې دروغ وايي نو د مرګ نه پس تر قيامته پورې به ده ته دا سزا ورکولې شي چې د اوسپنې په ګنډه باندې به دده (د خلې) ومبکي تر څټ پورې شلولې شي، دا به واپس جوړيږي، او بيا به ورله شلولې شي.

په بخاري شريف کې اوږد حديث ذکر دی، زه به ورنه مخصوص حصه رانقل کړم:

حضرت سمرة بن جندب رضي الله عنه فرمايي: د نبي عليه السلام معمول دا وُ چې کله به يې: (سهر) مونځ اوکړو نو مونږ ته به يې خپل مخ مبارک راواړول او پوښتنه به يې اوکړه:

مَنْ رَأَى مِنْكُمُ اللَّيْلَةَ رُؤْيَا؟

نن شپه په تاسو کې چا خوب ليدلی؟

---

(۱) سنن الترمذي أبواب البر والصلة باب ما جاء في الصدق والكذب رقم الحديث ۱۹۷۲، مشكوة المصابيح باب حفظ اللسان والغيبة والشتم الفصل الثاني رقم الحديث ۴۸۴۴(۳۳)، الصمت لابن ابي الدنيا ج۱ ص ۲۳۹ رقم الحديث ۴۷۸، معارف الحديث ج۲ ص ۱۷۰. / نوټ امام الباني دې حديث ته ضعيف وايي.

(۲) معارف الحديث ج۲ ص ۱۷۰

حضرت سَمُرة ﷺ فرمايي چې که په مونږ کې به چا خوب ليدلې وُ هغه به (خپل خوب) بيان کړو ، نو نبي عليه السلام به د الله ﷻ د مَشِيت ( او الهام ) مطابق د خوب تعبير ورکړو .

يوه ورځ يې د خپل معمول مطابق (د سهر مانځه نه پس) د مونږ نه پوښتنه اوکړه :

هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِنْكُمْ رُؤْيَا ؟ آيا په تاسو کې چا خوب ليدلی ؟

مونږ ورته وويل : نه . نبي عليه السلام اوفرمايل : ليکن نن شپه ما (پخپله) خوب ليدلې دی ، هغه دا چې په خوب کې ماته دوه کسان ( حضرت جبريل ﷺ او حضرت ميکائيل ﷺ ) راغلل ، زه يې د لاس نه اُونيوم او مقدسې زمکې ته يې بوتلم ، هلته يو ځای ته چې اُورسيدو نو ما اُوليدل چې يو کس ناست دی او بل کس ولاړ دی ، ددې ولاړ کس سره په لاس کې د اُوسپنې ګنډه وه ، ده به دا د اُوسپنې ګنډه د ناست سړي د خُلې په وَنځکې کې دَننه کړه او تر څټ پورې به يې ورله وَنځکې اُوشلول ، بيا به يې ورله دې بل وَنځکې سره هم همداسې عمل اوکړو ( يعنی هغه به يې هم ورله د څټ پورې اُوشلول ) ، په دې دَوران کې به دده اَولنې وَنځکې صحيح شوې وُ ، نو هغه به ورله بيا دا وَنځکې تر څټ پورې اُوشلول . ده به مسلسل همداسې کول (يعنی چې يو وَنځکې به يې ورله اُوشلول او د بل د شلولو د پاره به راغی نو هغه اول به روغ شوې وُ ، چې دا به دوباره ددې شلولو ته راغی نو هغه بل به روغ شوې وُ ، دا ناست کس مسلسل په دې عذاب کې ګرفتار وُ ) .

نبي عليه السلام فرمايي چې ما ددې دوه ملګرو نه پوښتنه اوکړه :

مَا هٰذَا؟ دا څه دي؟

هغوی راته وويل : مخکې لاړ شه . ( ځکه تر اوسه نور ډير عجائبات پاتې دي چې هغه هم اوګوری نو بيا به درته حقيقت معلوم شي . نبي عليه السلام فرمايي چې بيا مونږ مخکې لاړو او نور عجائبات مو هم اوليدل ، دا اُوږد حديث دی ) ..........

پيغمبر عليه السلام فرمايي : ما دې خپلو دوه ملګرو ته وويل : تاسو خو ټوله شپه په ما باندې سېل اوکړو اوس چې ما کوم عجائبات ليدلي دي تاسو ما د هغې د حقيقت نه خبر کړئ ، نو هغوی راته وويل : صحيح ده ( اوس درته حقيقت بيانوو ) ؟

أَمَّا الَّذِي رَأَيْتَهُ يُشَقُّ شِدْقُهُ فَكَذَّابٌ يُحَدِّثُ بِالْكَذْبَةِ . فَتُحْمَلُ عَنْهُ حَتَّى تَبْلُغَ الْآفَاقَ . فَيُصْنَعُ بِهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ .

تا چې کوم کس اوليد چې د هغه ږکې شلولې شو نو هغه دروغجن وُ ، هغه به دروغ ويل ، بيا به د هغه دروغ خبرې خوريدې تر دې چې لرې لرې به دده دروغ اورسيدل ، دده کس ( سزا داده چې دده ) سره به تر قيامته پورې همدا معامله کولې شي . ( يعنی دواړه ږکې به ورله ددې اوسپنې په ګنډه باندې شلولې شي ) . (١)

## مسلمان ورور ته دروغ ويل غټ خيانت دی

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

كَبُرَتْ خِيَانَةً أَنْ تُحَدِّثَ أَخَاكَ حَدِيثًا هُوَ لَكَ بِهِ مُصَدِّقٌ وَأَنْتَ لَهُ بِهِ كَاذِبٌ . (٢)

دا غټ خيانت دی چې ته خپل مسلمان وروړ ته يوه خبره اوکړې هغه تا رښتينی ګڼړي حالانکه ته هغه ته دروغ وايې .

(١) عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ رضي الله عنه ، قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى صَلوٰةً أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ فَقَالَ : « مَنْ رَأَى مِنْكُمُ اللَّيْلَةَ رُؤْيَا ؟ » قَالَ : فَإِنْ رَأَى أَحَدٌ قَصَّهَا ، فَيَقُولُ : « مَا شَاءَ اللهُ » فَسَأَلَنَا يَوْمًا فَقَالَ : « هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِنْكُمْ رُؤْيَا ؟ » قُلْنَا : لَا ، قَالَ : « لٰكِنِّي رَأَيْتُ اللَّيْلَةَ رَجُلَيْنِ أَتَيَانِي فَأَخَذَا بِيَدِي ، فَأَخْرَجَانِي إِلَى الْأَرْضِ الْمُقَدَّسَةِ ، فَإِذَا رَجُلٌ جَالِسٌ ، وَرَجُلٌ قَائِمٌ ، بِيَدِهِ كَلُّوبٌ مِنْ حَدِيدٍ » قَالَ بَعْضُ أَصْحَابِنَا عَنْ مُوسَى : " إِنَّهُ يُدْخِلُ ذٰلِكَ الْكَلُّوبَ فِي شِدْقِهِ حَتَّى يَبْلُغَ قَفَاهُ ، ثُمَّ يَفْعَلُ بِشِدْقِهِ الْآخَرِ مِثْلَ ذٰلِكَ ، وَيَلْتَئِمُ شِدْقُهُ هٰذَا ، فَيَعُودُ فَيَصْنَعُ مِثْلَهُ ، قُلْتُ : مَا هٰذَا ؟ قَالَا : اِنْطَلِقْ ، فَانْطَلَقْنَا ...... قُلْتُ : طَوَّفْتُمَانِي اللَّيْلَةَ ، فَأَخْبِرَانِي عَمَّا رَأَيْتُ ، قَالَا : نَعَمْ ، أَمَّا الَّذِي رَأَيْتَهُ يُشَقُّ شِدْقُهُ فَكَذَّابٌ يُحَدِّثُ بِالْكَذْبَةِ ، فَتُحْمَلُ عَنْهُ حَتَّى تَبْلُغَ الْآفَاقَ ، فَيُصْنَعُ بِهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ .... صحيح البخاري كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ مَا قِيلَ فِي أَوْلَادِ الْمُشْرِكِينَ رقم ١٣٨٦ ، و رقم الحديث ٦٠٩٦ كِتَابُ الْأَدَبِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى : { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ } وَمَا يُنْهَى عَنِ الْكَذِبِ ، مسند احمد رقم ٢٠١٦٥ ، مشكوة المصابيح كتاب الرؤيا الفصل الاول رقم ٤٦٢١ (١٦) . المعجم الكبير رقم الحديث ٦٩٩٠ .

(٢) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْأَدَبِ بَابٌ فِي الْمَعَارِيضِ رقم الحديث ٤٩٧١ ، الادب المفرد للبخاري رقم الحديث ٣٩٣ باب اذا كذبت لرجل هو لک مصدّق ، شعب الايمان رقم الحديث ٤٤٧٩ ، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٤٨٤٥ (٣٤) ، مجمع الزوائد رقم الحديث ٦١٢ بابٌ في ذم الكذب ، و رقم الحديث ١٣١٧٠ ، كنز العمال رقم الحديث ٨٢١٠ .

**تشريح**: دروغ ويل ګناه ده خو په څنې صورتونو کې ددې ګناه نوره هم زياته ده، په هغې کې يو صورت دادی چې د يو مسلمان ورور په تا باندې اعتماد وي چې ګني دا ريښتيا وايي او ته د هغه د حُسنِ ظن نه غلطه فائده واخلې او هغه ته دروغ وايې، نو دا د هغه سره غټ خيانت دی، او غټ جُرم دی.

## په دروغه باندې قسَم کوونکي د پاره سخته سزا

بعضې کس چې څه څيز خرڅوي نو د خرڅولو په وخت د اخيستونکي د وړاندې په دروغه قسَم کوي نو.دا هم د دروغو خطرناک قِسم دی، دداسې کس د پاره په احاديثو کې سخته سزا ذکر شوی.

۱. د مسلم شريف او مشکوٰة شريف حديث دی، حضرت ابوذر رضي الله عنه فرمايي چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم اوفرمايل:

ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ.

دري (۳) کسان داسې دي چې د قيامت په ورځ به الله تعالی د دوی سره خبرې اونکړي، نه به ورته د رحمت په نظر اوګوري، نه به يې د ګناهونو د خيري نه صفا کړي، او د دوی د پاره به دَردناک عذاب وي.

نبي عليه السلام دا (پوره) جُمله درې (۳) ځله اوفرمايله.

حضرت ابوذر رضي الله عنه (د نبي عليه السلام نه) پوښتنه اوکړه: اې د الله رسوله! دا خلق څوک دي؟ دوی خو نامُراده او تاوانيان شو.

نبي عليه السلام اوفرمايل: اَلْمُسْبِلُ، وَالْمَنَّانُ، وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ. (۱)

---

(۱) عَنْ أَبِي ذَرٍّ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ» قَالَ: فَقَرَأَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مِرَارًا. قَالَ أَبُو ذَرٍّ رضي الله عنه: خَابُوا وَخَسِرُوا، مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «اَلْمُسْبِلُ، وَالْمَنَّانُ، وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ». صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ بَيَانِ غِلَظِ تَحْرِيمِ إِسْبَالِ الإِزَارِ، وَالْمَنِّ بِالْعَطِيَّةِ رقم الحديث ۱۷۱ (۱۰۶)، مشكوة المصابيح باب المساهلة في المعاملات الفصل الأول رقم الحديث ۲۷۹۵ (٦). مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۲٦۵۹۱

( د تکبّر په وجه ) پَرتوګ د ګيټو ( ځنګرو ) نه ښکته کوونکي ، ( چاته د څه څيز ورکولو نه پس ) احسان زباتونکي ، په دروغه قسَم سره خپله سَودا خرڅوونکي .

**فائده** : په دې حديث کې د هغه خلقو د پاره هم سخته سزا ذکر شوه چې هغوی خپله سَودا په دروغه قسَم سره خرڅوي ، بلکه په نورو ډيرو احاديثو کې ذکر دي چې څوک معمولي څيز هم په دروغه قسَم سره حاصل کړي نو الله تعالی د هغه د پاره د جهنم اُور واجبوي او جنت ورباندې حراموي .

۲ . رسولُ الله صلی الله عليه وسلم اوفرمايل :

مَنِ اقْتَطَعَ حَقَّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ بِيَمِيْنِهِ فَقَدْ أَوْجَبَ اللهُ لَهُ النَّارَ. وَحَرَّمَ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ .

څوک چې په قسَم کولو سره د يو مسلمان حق په ناجائزې طريقې سره حاصل کړي نو الله تعالی دده د پاره جهنم اُور واجبوي او جنت ورباندې حراموي .

يو سړي عرض اوکړو : اې د الله رسوله ! که دا معمولي څيز وي ( نو په دې سره هم دا سزا ده ؟ ) . نبي عليه السلام اوفرمايل :

وَإِنْ قَضِيْبًا مِنْ أَرَاكٍ .

(او) اګرچې دا د کيکر ( يا : مسواک ) د اُونې څانګه وي . (۱)

بهر حال ، په معمولي څيز باندې په ناحقه قسَم کولو سره انسان د جهنم مستحق ګرځي .

## بې تحقيقه خبره نقل کول ندي پکار

لکه څرنګې چې د صريحو دروغو نه ځان ساتل په کار دي نو همدغه شان بې تحقيقه او

---

(۱) عَنْ أَبِي أُمَامَةَ ﷺ . أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : « مَنِ اقْتَطَعَ حَقَّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ بِيَمِيْنِهِ. فَقَدْ أَوْجَبَ اللهُ لَهُ النَّارَ. وَحَرَّمَ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ » فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ : وَإِنْ كَانَ شَيْئًا يَسِيْرًا يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ : « وَإِنْ قَضِيْبًا مِنْ أَرَاكٍ » . صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ وَعِيدِ مَنِ اقْتَطَعَ حَقَّ مُسْلِمٍ بِيَمِينٍ فَاجِرَةٍ بِالنَّارِ رقم الحديث ۲۱۸(۱۳۷) ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۲۲۳۹ ، موطا مالک ( ت الاعظمي ) كتاب الأقضية ما جاء في الحنث على منبر النبي صلى الله عليه وسلم رقم الحديث ۲۶۹۳/ ۵۹۱ ، سنن النسائي رقم الحديث ۵۴۱۹ ، شعب الايمان رقم الحديث ۴۴۹۷ ، مشكوة المصابيح باب الاقضية والشهادات الفصل الاول رقم الحديث ۳۷۶۰(۳) ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۷۹۶ ، صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ۵۰۸۷ .

بې ثبوته خبره نقل کول هم ندي پکار ، ځکه دا هم په يو قِسم دروغو کې راځي ، په دې سره د انسان اِعتماد خرابيږي ، په احاديثو کې د دينه هم منع شوی.

د مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

كَفَىٰ بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ . (١)

د انسان د پاره دا دروغ کافي دي چې دا کومه خبره واوري هغه نقل کوي.

**تشريح** : يعنی که يو انسان بل هيڅ دروغ او نه وايي خو چې دا کومه خبره آوري هغه بغير د تحقيق نه نقل کوي نو همدا دروغ ده د پاره کافي دي.

د حديث مقصد دادی چې انسان کومه خبره واوري نو اول دې ددې تحقيق کوي : چې آيا دا خبره رښتيا ده او که دروغ ؟ که رښتيا وي نو بيا يې نقل کول صحيح دي ، د تحقيق نه مخکې خبره نقل کول ندي په کار ، ځکه بې تحقيقه خبره نقل کول په دروغو کې راځي ، په دې سره په معاشره کې د انسان اِعتماد هم خرابيږي. بيا خاصکر د نبي عليه السلام حديث خو په طريقِ اولی سره بې تحقيقه نقل کول ندي په کار. (٢)

## دروغ آخر هم ښکاره کيږي

دروغ دومره بدترينه ګناه ده چې انسان يو دروغ اووايي نو بيا به ضرور ددې يو دروغ د پټولو د پاره نور دروغ هم وايي ، نو دا يوه ګناه د ډيرو ګناهونو سبب شوه ، خو ليکن بيا هم دا دروغ نه پټيږي ، آخر هم راښکاره کيږي چې د انسان د رَسوائي او په خلقو کې د بې اِعتمادۍ سبب ګرځي. لهذا د دينه ځان ساتل په کار دي.

(١) صحيح مسلم مقدمة الإمام مسلم رحمه الله بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْحَدِيثِ بِكُلِّ مَا سَمِعَ بعد رقم الحديث ۴ . مشكوة المصابيح بَابُ الْإِعْتِصَامِ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم الحديث ١٥٦(١٧) ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٢٥٦١٧ ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۴١٣١ .

(٢) ( أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ ) يَعْنِي : لَوْ لَمْ يَكُنْ لِلْمَرْءِ كَذِبٌ إِلَّا تَحْدِيثُهُ بِكُلِّ مَا سَمِعَ مِنْ غَيْرِ تَيَقُّنٍ أَنَّهُ صِدْقٌ أَمْ كَذِبٌ ، لَكَفَاهُ مِنَ الْكَذِبِ أَنْ لَا يَكُونَ بَرِيئًا مِنْهُ ، وَهٰذَا زَجْرٌ عَنِ التَّحْدِيثِ بِشَيْءٍ لَمْ يُعْلَمْ صِدْقُهُ بَلْ عَلَى الرَّجُلِ أَنْ يَبْحَثَ فِي كُلِّ مَا سَمِعَ خُصُوصًا فِي أَحَادِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلِذَا وَرَدَ هٰذَا الْحَدِيثُ فِي بَابِ الْإِعْتِصَامِ . مرقاة المفاتيح بَابُ الْإِعْتِصَامِ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ ١/٢۴٠ رقم الحديث ١٥٦ .

# ماشومانو ته هم دروغ ويل ندي ښکار

د دروغو خطرناک قسمونه مخکې ذکر شو ، اوس درته د دروغو څنې نور قسمونه ذکر کوم ، اګر چې په معاشره کې خلق دا دروغ نه ګڼري خو په حقيقت کې دا هم په دروغو کې داخل دي .

په هغې کې يو قسم " ماشومانو ته دروغ ويل دي " . حالانکه د نبي عليه السلام د احاديثو مطابق دا هم په دروغو کې داخل دي ، ددينه هم ځان ساتل په کار دي .

د ابوداؤد شريف او مشکوة شريف حديث دی ، حضرت عبدالله بن عامر رضي الله عنه فرمايي چې يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم زمونږ په کور کې تشريف فرما وُ ، ( په دې وخت کې زه وړوکې ووم ) ، زه خپلې مور رااوغوښتم او راته وې ويل :

هَا تَعَالَ أُعْطِيْكَ . اې ! دلته راشه ، تا ته څه درکوم ( دا واخله ) .

نبي عليه السلام زما مور ته اوفرمايل :

وَمَا أَرَدْتِ أَنْ تُعْطِيْهِ ؟ ستا دې ماشوم ته د څه شي ورکولو اراده وه ؟

زما مور ورته وويل : ما ده ته د قجورې ورکولو اراده وه .

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته اوفرمايل : أَمَا إِنَّكِ لَوْ لَمْ تُعْطِهِ شَيْئًا كُتِبَتْ عَلَيْكِ كِذْبَةٌ .

خبردار ، که چيرته تا ده ته څه شی نه وُ ورکړی نو ستا په عمل نامه کې به يو دروغ ليکل شوي وو . (۱)

**فائده** : ددې حديث نه معلومه شوه چې د ماشومانو دُهوکه کولو د پاره دوی ته دروغ ويل ندي ښکار ، ځکه مسلمان ته دا مناسب ندي چې په دروغو باندې خپله ژبه ککړه کړي .

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَامِرٍ رضي الله عنه . أَنَّهُ قَالَ : دَعَتْنِي أُمِّي يَوْمًا ، وَرَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ فِي بَيْتِنَا . فَقَالَتْ : هَا تَعَالَ أُعْطِيْكَ . فَقَالَ لَهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « وَمَا أَرَدْتِ أَنْ تُعْطِيْهِ ؟ » قَالَتْ : أُعْطِيْهِ تَمْرًا . فَقَالَ لَهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « أَمَا إِنَّكِ لَوْ لَمْ تُعْطِهِ شَيْئًا كُتِبَتْ عَلَيْكِ كِذْبَةٌ » . سنن ابي داؤد كِتَاب الأَدَبِ بَابٌ فِي التَّشْدِيدِ فِي الكَذِبِ رقم الحديث ۴۹۹۱ قال الالباني : حسن . مشكوة المصابيح . باب الوعد الفصل الثاني رقم الحديث ۴۸۸۲ (۵) ، مسند احمد مخرج رقم الحديث ۱۵۷۰۲ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۲۵۶۰۹ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۲۰۱۴۰ كنز العمال رقم الحديث ۸۲۴۲ .

بل دا چې کله مور او پلار خپلو بچو ته دروغ وايي نو اګر چې د دوی مقصد به صرف بچي مشغولول وي خو ددې نقصان دادی چې بيا به ماشومان هم دروغ وايي ځکه دوی به د مور او پلار نه دا طريقه زده کړې وي، نو دا بيا دده د آئنده ژوند د پاره ډيره خطرناکه خبره ده.

## امام بخاريؒ د هغه کس نه حديث نقل نکړو چې اس ته يې په دروغه ډهوکه ورکړه

د امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ په باره کې نقل دي چې دا يو کس ته ورغی ددې د پاره چې د هغه نه حديث واوري، هغه ته چې ور اورسيد نو د هغه نه خپل آس تختيدلی ؤ، هغه آس ته خپل ځادر نيولی ؤ اشاره يې ورته کوله او دا يې ورته خودل چې ګويا په دې ځادر کې وريشې دي، آس چې کله ورته راغی نو وې نيولو.

امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ ددې کس نه پوښتنه اوکړه:

أَكَانَ مَعَكَ شَعِيْرٌ؟ آيا د تاسره (په ځادر کې) وريشې وې؟

ده ورته وويل: نه، د ماسره وريشې نه وې خو ما صرف ده ته دا په وهم کې وراچولو چې ګني د ماسره وريشې دي، دا ددې د پاره چې راوې نيسم.

امام بخاري رحمه الله اوفرمايل: لَا آخُذُ الْحَدِيْثَ عَمَّنْ يَكْذِبُ عَلَى الْبَهَائِمِ.

زه د هغه چا نه حديث نه نقل کوم چې هغه ځارو ته دروغ وايي.(۱)

دا د امام بخاري رحمه الله کمالِ احتياط ؤ.

---

(۱) خرج البخاري رَحِمَهُ اللَّهُ يطلب الحديث من رجل فرآه قد هربت فرسه وهو يشير اليها بردائه كأن فيه شعيرًا. فجاءته فأخذها. فقال: أَكَانَ مَعَكَ شَعِيْرٌ؟ قال لا ولكن أوهمتها. فقال البخاري: لَا آخُذُ الْحَدِيْثَ عَمَّنْ يَكْذِبُ عَلَى الْبَهَائِمِ. نزهة المجالس ومنتخب النفائس ج ۱ ص ۱۹۱ فصل في زكاة الاعضاء وهي كفها عن المحرمات طبع مكتبه فاروقيه.

لما خرج البخاري يطلب الحديث من رجل فرآه يشير إلى دابته برداء كأن فيه شعيرًا وليس فيه شيء رجع وقال: لا آخذ الحديث عمن يكذب على البهائم. فصل الخطاب في الزهد والرقائق والآداب صفوة منازل تزكية النفوس فصل في منزلة الصدق ۳۲۷/۶

# د خوش طبعۍ واقعه

بزرګانو به د دروغو نه دومره ځان ساتل چې بعضو به په مثال بيانولو کې هم بې حقيقته خبره په ژبه باندې راوړل نه خوښوله.

شبلي رحمه الله يو عالم ته ورغی ددې د پاره چې د هغه نه د نحوې علم زده کړي، نو هغه استاذ (د نحوې قاعدې ذکر کولو نه روستو) ده ته وويل دا مثال اووايه چې:

ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا. (وهلې ؤ زيد عمر له)

شبلي ورنه پوښتنه اوکړه: أَضَرَبَهُ حَقِيْقَةً؟ آيا يقيني زيد عمر وهلې ؤ؟

استاذ ورته وويل: نه، بلکه دا خو (د نحوې زده کولو د پاره) يو مثال دی.

نو شبلي ورته وويل: عِلْمٌ أَوَّلُهُ كِذْبٌ لَا أَتَعَلَّمُهُ.

داسې علم چې د هغې شروع په دروغو ده زه هغه نه زده کوم. (واپس ورنه لاړ).(١)

**فائده**: اګر چې د نحوې يا صرف يا بل علم زده کولو د پاره مثال ذکر کول صحيح دي ليکن دې بعضې بزرګانو به بې حقيقته خبره په ژبه راوړل هم نه خوښوله.

# د خلقو خندولو د پاره د دروغ ويلو سزا

بعضې خلق د مجلس ګرمولو او صرف د نورو خلقو خندولو د پاره دروغ وايي او دا هيڅ ګناه نه ګڼړي، حالانکه دا هم په دروغو کې داخل دي، په احاديثو مبارکه ؤ کې ددې هم سخت وعيد ذکر شوی.

د ابوداؤد شريف او ترمذي شريف حديث دی، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

وَيْلٌ لِلَّذِيْ يُحَدِّثُ فَيَكْذِبُ لِيُضْحِكَ بِهِ الْقَوْمَ، وَيْلٌ لَهُ، وَيْلٌ لَهُ.

---

(١) جَلَسَ الشبلي رَحِمَهُ اللهُ عند رجل يتعلم منه النحو. فقال قل: ضرب زيد عمرًا. فقال الشبلي: أضربه حقيقة؟ قال: لا. وإنما هو مثال. فقال: عِلْمٌ اوّله كذب لا أتعلمه. نزهة المجالس ومنتخب النفائس ج ١ ص ١٩١ فصل في زكاة الاعضاء وهي كفها عن المحرمات.

هلاکت دی ( يا : د جهنم کنده ده ، يا : افسوس دی ) د هغه چا د پاره چې هغه خبرې کوي ، او دروغ وايي ددې د پاره چې په دې سره نور خلق او خندوي ، د داسې کس د پاره هلاکت دی ، د داسې کس د پاره هلاکت دی . (۱)

**تشريح** : څوک چې د خلقو خندولو د پاره دروغ وايي نو دداسې کس د پاره په دې حديث کې سخت وعيد ذکر شو ځکه درې پېرې نبي عليه السلام د داسې کس په باره کې اوفرمايل : چې دده د پاره هلاکت ( او آفسوس ) دی .

اګر چې په دې دروغو کې چاته نقصان نه رَسي خو بيا هم دا منع دي ، ددې يو څو وجوهات دي :

اول : په دروغ ويلو سره د انسان ژبه د دروغو په ګناه باندې ککړه شوه .

دويم : په دې سره د خلقو د زړونو نه د دروغو نفرت ختميږي ، بيا هيچا ته دروغ ويل ګناه نه معلوميږي .

دريم : بيا به خلق په دروغو ويلو باندې زړه وَرشي او هر سړې به دروغ وايي . او دا ټولې خبرې نقصاني دي . (۲)

## د ملګرو خوشحالولو د پاره خندوونکې رښتينې لطيفه يا رښتينې قصه بيانول صحيح دي

په پاس حديث کې چې د خلقو خندوونکي د پاره کوم مذمّت بيان شو نو دا هغه وخت دی چې کله هغه دروغ وايي او په دروغ ويلو سره خلق خَندوي ، نو بيا يقيني دداسې کس د پاره وعيد شته .

په دې ځاى کې ملا علي قاري رحمه الله ليکلي چې که يو کس د خپلو ملګرو د خوشحالولو يا خندولو د پاره ريښتينې خبره اوکړي يا ريښتينې لطيفه او ريښتينې قصه بيان کړي نو په دې کې هيڅ حرج نشته. ځکه په يوه موقع ... حضرت عمر ﷺ د نبي عليه السلام د وړاندې داسې خبره کړې وه چې په هغې باندې نبي عليه السلام اُوخندل.

لهذا د ملګرو د خوش طبعي د پاره کله کله د ريښتيا خبرې په وجه هغوى خوشحالول او خندول جائز دي. امام غزالي رحمه الله ليکلي چې انسان به دا خپل عادت نه جوړوي او په دې کې به د خپل حد نه تجاوز هم نه کوي. (۱)

## دروغ پريخودونکي د پاره د جنت په مينځ کې د کور ضمانت

څوک چې دروغ ويل مکمل پريږدي نو د داسې کس د پاره نبي عليه السلام د جنت په مينځ کې د کور ضمانت ورکړى.

د ابوداؤد شريف حديث دى، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

أَنَا زَعِيمٌ بِبَيْتٍ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْمِرَاءَ وَإِنْ كَانَ مُحِقًّا، وَبِبَيْتٍ فِي وَسَطِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْكَذِبَ وَإِنْ كَانَ مَازِحًا. وَبِبَيْتٍ فِي أَعْلَى الْجَنَّةِ لِمَنْ حَسَّنَ خُلُقَهُ.

زه د هغه کس د پاره د جنت په اطرافو کې د کور ضامن يم چې هغه په حق باندې د کيدلو باوجود جګړه پريږدي، او د هغه چا د پاره د جنت په مينځ کې د کور ضامن يم چې هغه په توقو کې هم دروغ پريږدي، او د هغه چا د پاره په اعلى جنت کې د کور ضامن يم چې هغه

---

(۱) ثُمَّ الْمَفْهُومُ مِنْهُ أَنَّهُ إِذَا حَدَّثَ بِحَدِيثٍ صِدْقٍ لِيُضْحِكَ الْقَوْمَ فَلَا بَأْسَ بِهِ. كَمَا صَدَرَ مِثْلُ ذٰلِكَ مِنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ غَضِبَ عَلَى بَعْضِ أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ. قَالَ الْغَزَالِيُّ: وَحِينَئِذٍ يَنْبَغِي أَنْ يَكُونَ مِنْ قَبِيلِ مُزَاحِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَا يَكُونُ إِلَّا حَقًّا وَلَا يُؤْذِي قَلْبًا وَلَا يُفْرِطُ فِيهِ. فَإِنْ كُنْتَ أَيُّهَا السَّامِعُ تَقْتَصِرُ عَلَيْهِ أَحْيَانًا وَعَلَى النُّدُورِ. فَلَا حَرَجَ عَلَيْكَ. وَلٰكِنْ مِنَ الْغَلَطِ الْعَظِيمِ أَنْ يَتَّخِذَ الْإِنْسَانُ الْمُزَاحَ حِرْفَةً. وَيُوَاظِبَ عَلَيْهِ. وَيُفْرِطَ فِيهِ. ثُمَّ يَتَمَسَّكَ بِفِعْلِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهُوَ كَمَنْ يَدُورُ مَعَ الزُّنُوجِ أَبَدًا لِيَنْظُرَ إِلَى رَقْصِهِمْ وَيَتَمَسَّكَ بِأَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَذِنَ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فِي النَّظَرِ إِلَيْهِمْ وَهُمْ يَلْعَبُونَ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۷/۳۰۳۵ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ الفصل الثاني في تشريح حديث ۴۸۳۵(۲۴)

خپل اخلاق ښائسته کړي. (۱)

## په درې ځايونو کې د دروغ ويلو ګنجائش شته

په درې (۳) ځايونو کې د دروغ ويلو ګنجائش شته: ۱. د دوه مسلمانانو په مينځ کې د صُلحې کولو په وخت ۲. د کافرانو سره د جنګ په حالت کې ۳. خاوند ښځې ته يا ښځه خاوند ته د مينې او اتفاق پيدا کولو د پاره دروغ اووايي.

په صحيح احاديثو کې د دې جواز شته:

۱. د بخاري شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ فَيَنْمِي خَيْرًا أَوْ يَقُولُ خَيْرًا (۲)

هغه سړې دروغجَن (او ګناهګار) ندی کوم چې د دوه مسلمانانو په مينځ کې صُلح کوي، (د يو نه بل ته) د خېر خبره رَسوي، يا د خېر خبره کوي.

**د حديث تشريح**: د حديث مطلب دادی چې کله د دوه مسلمانانو په مينځ کې جګړه وي او د سختې فِتنې پيدا کيدو خطره وي نو اوس که څوک د دوی په مينځ کې صُلحه کول غواړي او هغه دا ضرورت محسوس کړي چې د دوی په مينځ کې د صُلحې راوستلو د پاره د ځان نه داسې خبرې اوکړي چې دواړه ډلې صُلحې ته آماده شي مثلاً يوې ډلې ته اووايي چې: " هغه بلې ډلې واله په تاسو باندې سلام ويل، ستاسو صفت يې کولو، او ويل يې چې مونږ خو د دوی سره محبت کوو " حالانکه په حقيقت کې هغوی هيڅ هم نه وي

(۱) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْأَدَبِ بَابٌ فِي حُسْنِ الْخُلُقِ رقم الحديث ۴۸۰۰ قال الالباني: حسنٌ. المعجم الاوسط رقم الحديث ۸۷۸، و رقم الحديث ۴۶۹۳، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۷۴۸۸، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۲۱۱۷۶، شعب الايمان فصلٌ فى المزاح، و رقم الحديث ۷۶۵۳، مجمع الزوائد رقم الحديث ۷۰۷، كنزالعمال رقم الحديث ۸۲۹۹، و رقم الحديث ۸۳۰۸.

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الصُّلْحِ بَابٌ: لَيْسَ الكَاذِبُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ رقم الحديث ۲۶۹۲، صحيح مسلم كتاب البِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ تَحْرِيمِ الْكَذِبِ وَبَيَانِ مَا يُبَاحُ مِنْهُ رقم الحديث ۱۰۱ (۲۶۰۵)، مسند احمد رقم الحديث ۲۷۲۷۲، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۵۷۳۳ باب الكذب، المعجم الكبير رقم الحديث ۱۸۸، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الاول رقم الحديث ۴۸۲۵(۱۴).

ويلي نو داسې کس د دروغو په ګناه کې نه راځي بلکه په دې حالت کې دروغ ويل مُباح دي. (۱)

۲. د مشکوة شريف او ترمذي شريف حديث دی، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

لَا يَحِلُّ الْكَذِبُ إِلَّا فِي ثَلَاثٍ: كَذِبُ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ لِيُرْضِيَهَا، وَالْكَذِبُ فِي الْحَرْبِ، وَالْكَذِبُ لِيُصْلِحَ بَيْنَ النَّاسِ. (۲)

دروغ صرف په درې (۳) ځايونو کې جائز دي: ۱. چې سړی خپلې ښځې ته د هغې د خوشحالولو د پاره دروغ وايي ۲. (د کافرانو سره) د جنګ په حالت کې دروغ ويل ۳. د خلقو په مينځ کې د صُلحې کولو په وخت دروغ ويل.

په مسلم شريف کې ذکر دي: ابن شهاب رحمه الله فرمايي: ما داندي آوريدلي چې نبي عليه السلام د دروغو ويلو اجازت ورکړې وي مګر په درې ځايونو کې يې اِجازت ورکړی: يو د جنګ په حالت کې، دويم د خلقو په مينځ کې د صلحې کولو په وخت، او دريم چې سړی د خپلې ښځې سره خبرې کوي او ښځه د خپل خاوند سره خبره کوي. (۳)

---

(۱) وَالْمَعْنَى: مَنْ كَذَبَ لِيُصْلِحَ بَيْنَ النَّاسِ لَا يَكُونُ كَاذِبًا مَذْمُومًا (وَيَقُولُ خَيْرًا) أَيْ: قَوْلًا مُتَضَمِّنًا لِلْخَيْرِ دُونَ الشَّرِّ، بِأَنْ يَقُولَ لِلْإِصْلَاحِ مَثَلًا بَيْنَ زَيْدٍ وَعَمْرٍو: يَا عَمْرُو! يُسَلِّمُ عَلَيْكَ زَيْدٌ وَيَمْدَحُكَ وَيَقُولُ: أَنَا أُحِبُّهُ وَكَذَلِكَ يَجِيءُ إِلَى زَيْدٍ وَيُبَلِّغُهُ مِنْ عَمْرٍو مِثْلَ مَا سَبَقَ. (وَيَنْمِي خَيْرًا) أَيْ يُبَلِّغُهُ وَيَرْفَعُهُ إِلَيْهِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۷/۳۰۲۰ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ في تشريح حديث ۴۸۲۶(۱۵).

(۲) مشكوة المصابيح كتاب الْآدَاب بَابُ مَا يُنْهَى عَنْهُ مِنَ التَّهَاجُرِ وَالتَّقَاطُعِ وَاتِّبَاعِ العورات اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۵۰۳۳(۷)، سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي إِصْلَاحِ ذَاتِ الْبَيْنِ رقم الحديث ۱۹۳۹، شرح السنة للبغوي بَابُ التَّحَاسُدِ فِي الْعِلْمِ بَابُ التَّحَاسُدِ فِي الْعِلْمِ ج۱ ص۲۹۸، كنز العمال رقم الحديث ۸۲۶۰.

(۳) پوره حديث داسې دی: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ، وَيَقُولُ خَيْرًا وَيَنْمِي خَيْرًا» قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: وَلَمْ أَسْمَعْ يُرَخَّصُ فِي شَيْءٍ مِمَّا يَقُولُ النَّاسُ كَذِبٌ إِلَّا فِي ثَلَاثٍ: اَلْحَرْبُ، وَالْإِصْلَاحُ بَيْنَ النَّاسِ، وَحَدِيثُ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ وَحَدِيثُ الْمَرْأَةِ زَوْجَهَا. صحيح مسلم كتاب الْبِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ تَحْرِيمِ الْكَذِبِ وَبَيَانِ مَا يُبَاحُ مِنْهُ رقم الحديث ۱۰۱(۲۶۰۵)، مشكوة المصابيح كتاب الْآدَاب بَابُ مَا يُنْهَى عَنْهُ مِنَ التَّهَاجُرِ وَالتَّقَاطُعِ وَاتِّبَاعِ العورات اَلْفَصْلُ الاول رقم الحديث ۵۰۳۱(۵)، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۸۵۸۸، و رقم ۹۰۷۴، شعب الايمان رقم الحديث ۴۲۵۶، و رقم ۱۰۵۸۵، الكبائر للذهبي ج۱ ص۲۱۲.

**تشريح** په جنګ کې د دروغو مطلب دادی چې مجاهدينو ته داسې خبرې اوکړي چې په دې سره د دوی زړونه مطمئن شي او حوصلې يې زياتې شي، يا داسې خبرې اوکړي چې په هغې سره د مسلمانانو د قوّت مظاهره کيږي "مثلاً دا اووايي چې زمونږ تعداد د دُشمن په مقابله کې ډير زيات دی، يا د مونږ پسې شاته نور لښکر راروان دی" حالانکه په حقيقت کې داسې نه وي.

د ښځې او خاوند يو بل ته د دروغ ويلو مطلب دادی چې يو بل ته داسې خبرې اوکړي چې په هغې سره د زياتې مينې او محبت اظهار کيږي او مقصد يې دا وي چې د يو بل سره مينه زياته شي، مثلاً خاوند ښځې ته اووايي چې: "زما د تاسره ډيره زياته مينه ده او ته راباندې ډيره ګرانه يې" حالانکه په حقيقت کې داسې نه وي.

ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې د دې پوره تشريح کړې ده. (۱)

---

(۱) قِيلَ : اَلْكَذِبُ فِي الْحَرْبِ كَأَنْ يَقُولَ فِي جَيْشِ الْمُسْلِمِينَ كَثْرَةٌ وَجَاءَهُمْ مَدَدٌ كَثِيرٌ . أَوْ يَقُولُ : اُنْظُرْ إِلَى خَلْفِكَ فَإِنَّ فُلَانًا قَدْ أَتَاكَ مِنْ وَرَائِكَ فَيَضْرِبُكَ ذَكَرَهُ ابْنُ الْمَلَكِ ..... ( وَحَدِيثُ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ ، وَحَدِيثُ الْمَرْأَةِ زَوْجَهَا ) أَيْ فِيمَا يَتَعَلَّقُ بِأَمْرِ الْمُعَاشَرَةِ وَحُصُولِ الْأُلْفَةِ بَيْنَهُمَا قَالُوا : وَالْأَخِيرَةُ عَاطِفَةٌ عَلَى مَا قَبْلَهَا وَمَا قَبْلَهَا مَعَ مَا عُطِفَ عَلَيْهِ عَطْفٌ عَلَى السَّابِقِ . قَالَ ابْنُ الْمَلَكِ ، كَأَنْ يَقُولَ : لَا أَحَدَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْكَ ، وَمِثْلُهُ حَدِيثُ الْمَرْأَةِ زَوْجَهَا وَهُمَا فِي قُوَّةِ حَدِيثِ الزَّوْجَيْنِ لِيَكُونَ الثَّالِثَ . قَالَ الْخَطَّابِيُّ : هٰذِهِ أُمُورٌ قَدْ يَضْطَرُّ الْإِنْسَانُ فِيهَا إِلَى زِيَادَةِ الْقَوْلِ وَمُجَاوَزَةِ الصِّدْقِ طَلَبًا لِلسَّلَامَةِ وَدَفْعًا لِلضَّرَرِ ، وَقَدْ رُخِّصَ فِي بَعْضِ الْأَحْوَالِ فِي الْيَسِيرِ مِنَ الْإِفْسَادِ لِمَا يُؤَمَّلُ فِيهِ الْكَثِيرُ مِنَ الْإِصْلَاحِ ، فَالْكَذِبُ فِي الْإِصْلَاحِ بَيْنَ اثْنَيْنِ هُوَ أَنْ يَنْمِيَ مِنْ أَحَدِهِمَا إِلَى صَاحِبِهِ خَيْرًا وَيُبْلِغَهُ جَمِيلًا ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ سَمِعَهُ مِنْهُ يُرِيدُ بِذٰلِكَ الْإِصْلَاحَ ، وَالْكَذِبُ فِي الْحَرْبِ أَنْ يُظْهِرَ مِنْ نَفْسِهِ قُوَّةً وَيَتَحَدَّثَ بِمَا يُقَوِّي بِهِ أَصْحَابَهُ وَيَكِيدَ بِهِ عَدُوَّهُ ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ : « اَلْحَرْبُ خُدْعَةٌ » . وَأَمَّا كَذِبُ الرَّجُلِ زَوْجَتَهُ هُوَ أَنْ يَعِدَهَا وَيُمَنِّيَهَا وَيُظْهِرَ لَهَا مِنَ الْمَحَبَّةِ أَكْثَرَ مِمَّا فِي نَفْسِهِ يَسْتَدِيمُ بِذٰلِكَ صُحْبَتَهَا وَيُصْلِحَ بِهِ خُلُقَهَا . قَالَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ : لَوْ أَنَّ رَجُلًا اِعْتَذَرَ إِلَى رَجُلٍ بِحَرْفِ الْكَلَامِ وَلَحْنِهِ لِيُرْضِيَهُ بِذٰلِكَ لَمْ يَكُنْ كَاذِبًا . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳۱۵۱/۸ كتاب الآداب باب مَا يُنْهٰى عَنْهُ مِنَ التَّهَاجُرِ وَالتَّقَاطُعِ وَاتِّبَاعِ العورات اَلفصل الاول في تشريح رقم الحديث ۵۰۳۱ (۵) .

همدارنګې امام نووي رحمه الله هم د مسلم شريف په شرح کې ددې تحقيق کړی . (۱)

بلکه علماؤ تر دې پورې ليکلي چې په بعضې ځايونو کې د رښتياؤ په نسبت باندې دروغ ويل بهتر دي ، مثلا يو کس بل چا راپه منډو کړې وي ، هغه دا قتلول غواړي ، دا ورنه په يو ځای کې پټ شي ، ته يې اووينې ، اوس چې هغه بل کس راشي او د تانه پوښتنه اوکړي چې : دلته يو کس راغی تا خو ندې ليدلی ؟ نو ته به ورته رښتيا نه وايې ، ځکه که رښتيا ورته اووايې نو هغه يې قتلوي ، بلکه په تا باندې لازم دي چې ته ورته دروغ وايې چې ما ندې ليدلی .

همداسې خبره ابن ابي الدنيا په خپل کتاب " اَلصَّمْتُ وَآدَابُ اللِّسَان " کې او امام نووي رحمه الله د مسلم شريف په شرح کې هم رانقل کړې ده . (۲)

## د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا رااووته چې په قرآن کريم او احاديثو کې د رښتيا ويلو ډير اهميت او فضيلت بيان شوی :

---

(۱) قَالَ الْقَاضِي لَا خِلَافَ فِي جَوَازِ الْكَذِبِ فِي هٰذِهِ الصُّوَرِ وَاخْتَلَفُوا فِي الْمُرَادِ بِالْكَذِبِ الْمُبَاحِ فِيهَا مَاهُوَ؟ فَقَالَتْ طَائِفَةٌ هُوَ عَلَى إِطْلَاقِهِ وَأَجَازُوا قَوْلَ مَا لَمْ يَكُنْ فِي هٰذِهِ الْمَوَاضِعِ لِلْمَصْلَحَةِ وَقَالُوا الْكَذِبُ الْمَذْمُومُ مَا فِيهِ مَضَرَّةٌ وَاحْتَجُّوا بِقَوْلِ إِبْرَاهِيمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ ﴾ ، و ﴿ إِنِّي سَقِيمٌ ﴾ وَقَوْلُهُ : إِنَّهَا أُخْتِي . وَقَوْلُ مُنَادِي يُوسُفَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ﴿ أَيَّتُهَا الْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَارِقُونَ ﴾ .... شرح النووي على مسلم ۱۶ /۱۵۸ باب تحريم الكذب وبيان ما يباح منه في تشريح حديث ۲۶۰۵.

(۲) عَنْ سَوَّارِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ : نُبِّئْتُ أَنَّ مَيْمُونَ بْنَ مِهْرَانَ قَالَ : وَعِنْدَهُ رَجُلٌ مِنْ قُرَّاءِ أَهْلِ الشَّامِ : « إِنَّ الْكَذِبَ فِي بَعْضِ الْمَوَاطِنِ خَيْرٌ مِنَ الصِّدْقِ » . فَقَالَ الشَّامِيُّ : لَا ، اَلصِّدْقُ فِي كُلِّ مَوْطِنٍ خَيْرٌ . قَالَ : " أَرَأَيْتَ لَوْ رَأَيْتَ رَجُلًا يَسْعَى وَآخَرَ يَتْبَعُهُ بِالسَّيْفِ ، فَدَخَلَ دَارًا فَانْتَهَى إِلَيْكَ ، فَقَالَ : رَأَيْتَ الرَّجُلَ ؟ مَا كُنْتَ قَائِلًا ؟ " قَالَ : كُنْتُ أَقُولُ : لَا . قَالَ : « فَهُوَ ذَلِكَ » . الصمت وآداب اللسان لابن ابي الدنيا ج۱ ص ۲۴۶ رقم ۵۰۲.

قَالُوا وَلَا خِلَافَ أَنَّهُ لَوْ قَصَدَ ظَالِمٌ قَتْلَ رَجُلٍ هُوَ عِنْدَهُ مُخْتَفٍ وَجَبَ عَلَيْهِ الْكَذِبُ فِي أَنَّهُ لَا يَعْلَمُ أَيْنَ هُوَ . شرح النووي على مسلم ۱۶ /۱۵۸ باب تحريم الكذب وبيان ما يباح منه في تشريح حديث ۲۶۰۵.

د انبياء کرامو پسې دويمه مرتبه د رښتيا ويونکو ده ، الله تعالى مسلمانانو ته حُکم کړی چې د رښتيا ويونکو خلقو سره ملګري شي ، په رښتيا ويونکو باندې الله تعالى خصوصي انعامات کوي ، د قيامت په ورځ به انسان ته رښتيا نفع ورکوي ، په رښتيا ويلو سره انسان د جنت مستحق ګرځي او د الله ﷻ په نزد صِدّيق ليکلې شي ، رښتيا ويونکو ته پيغمبر عليه السلام د جنت ضمانت ورکړی ، په رښتيا ويلو سره انسان د الله ﷻ محبوب جوړيږي ، په رښتيا ويلو کې نِجات او اِطمينان دی ، د رښتياؤ په وجه انسان د نورو ګناهونو نه منع کيږي ، او د رښتياؤ په وجه انسان اُوچتو مرتبو ته رَسي .

همدرانګې په قرآن کريم او احاديثو کې د دروغو سختې سزاګانې ذکر شوي :

دروغ ويل ګناهِ کبيره ده ، په دروغجَنو باندې د الله تعالى لعنت راوريږي ، دروغ ويل د منافقانو علامه ده ، په کامِل مؤمن کې دروغ او خِيانت نه جمع کيږي ، د دروغو د بَدبويۍ په وجه حفاظت کوونکې فرښتې د انسان نه په ميلونو باندې لرې کيږي ، دروغ ويونکي ته به د مرګ نه پس تر قيامته پورې سخته سزا ورکولې شي ، مسلمان وروړ ته دروغ ويل غټ خِيانت دی ، تر دې چې ماشومانو ته هم دروغ ويل ندي په کار ، همدارنګې د خلقو د خَندولو د پاره هم دروغ ويل جائز ندي ، لهذا د دروغو نه ځان ساتل په کار دي ، ځکه دروغ پرېخودونکي د پاره نبي عليه السلام په جنت کې د کور ضمانت ورکړی .

## دُعا

الله تعالى دې مونږ ته هميشه د رښتيا ويلو توفيق راکړي ، ربِّ کريم دې مونږ ټول د دروغو او نورو ګناهونو نه اوساتي .

اې الله ! په قرآن کريم او احاديثو کې چې کوم ښه صفتونه ذکر شوي هغه ټول په مونږ کې پيدا کړه ، او د کومو بدو صفتونو نه چې انسان منع شوی د هغې نه مونږ ټول اُوساته .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْن

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# خوشخبري

څوارلسم (١٤) جلد به هم إِن شَاءَ الله په نزدې وخت کې را اُووځي ، او دا سلسله به د الله ﷻ په توفيق سره تر يو وخته پورې همداسې جاري وي .

په خپلو خصوصي دُعاګانو کې مو ياد ساتئ

ستاسو ورور :

**ابوالشمس نورالهدا عفى عنه**

موبائل نمبر : ۰۳۰٦ ۵۴۴۷۱۷۴

په مختلفو ژبو ( یعنی پښتو ، اردو ، عربي ، فارسي او انګریزی )
کې د تقریر استعداد پیدا کولو د پاره اَولنې ، بې مِثله ، نایاب ، جامِع ،
عِلمي او تحقیقي کتاب :

# هر تقریر په مُختلفو ژبو کې

## كُلُّ خُطْبَةٍ بِلُغَاتٍ مُخْتَلِفَةٍ

## ہر تقریر مختلف زبانوں میں

## هر تقریر دَر زُبان هاى مختلف

## Every speech in different Languages


تالِیف

اَبُو الشَّمس مولانا نُورُالهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

په پښتو ژبه کې د اول ځل لپاره د ذهن د زیرکتیا، بیدارولو او
مضبوطولو د پاره د مختلفو موضوعاتو متعلق عجیبه،
مُعَمّیٰ، عِلمي او تحقیقي سوالات او جوابات:

# أَلْأَسْئِلَةُ وَالْأَجْوِبَةُ الْفَاضِلَةُ
# لِتَشْحِيْذِ الْأَذْهَانِ الْكَامِلَةِ

یعنی

## مُعَمّیٰ او عِلمي سوالات او جوابات

تالیف


آبُو الشَّمس مولانا نُورُالهُدیٰ عُفِيَ عَنْهُ
مُدَرِّس دارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی، مردان


نوټ: دا کتاب په پښتو، اردو، او فارسي ژبه کې چاپ شوی، چې په هره غټه مکتبه کې پیدا کیږي.

# د دې (اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه) کتاب په تېرو جلدونو کې د.

# کتابتي غلطيانو اصلاح

انسان عاجز دی ، د ډېر کوشش باوجود بيا هم کله کتابتي غلطي راشي ، اګر چې په تېرو جلدونو کې کوم ځای د کمپيوټر کتابتي غلطي راغلی هغه مونږ په دويم چاپ کې اصلاح کړی خو چې د چا سره اول چاپ وي نو په هغې کې به نه وي اصلاح شوي.

لهذا دلته د هر جلد نوم ، صفحه او کرخې نمبر ليکم ، ورسره د غلطی نِشاندهي هم درته کوم ، او مخامخ ورته صحيح عبارت هم ليکم ، تاسو په خپلو ټولو کتابونو کې د دې کتابتي غلطيانو اِصلاح اوکړئ ، د دې د پاره چې بيا په لوستلو کې خطاء نه شي.

| جلد ، صفحه او کرخه نمبر | خطائي | صحيح عبارت |
|---|---|---|
| اول جلد ، صحفه ۲۱ دولسمه کرخه | ما مه يوسه | ما مه مايوسه |
| اول جلد صفحه ۳۷ اتمه کرخه | آمَنْتُ أَنَّهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا | اٰمَنْتُ أَنَّهُ لَا إِلٰهَ |
| اول جلد صفحه ۳۷ دولسمه کرخه | آلْآنَ | آلْئٰنَ |
| اول جلد صفحه ص ٦٩ نهمه کرخه | زما عام دی | زما رحمت عام دی |
| اول جلد ، صفحه ۱٦۳ اُوومه کرخه | نسبت | نسب |
| اول جلد ، صفحه ۱٦۳ يوولسمه کرخه | شپږمه شبهه | اُوومه شبهه |
| اول جلد ، صفحه ۱۹۵ څوارلسمه کرخه | يَفْنِيْ | يَفْنٰى |
| اول جلد ، صفحه ۲۲۹ پنځلسمه کرخه | سَهَرَ | سَهِرَ |
| اول جلد ، صفحه ۲۳۱ نورلسمه کرخه | ابوحام رازي | ابوحاتم رازي |
| اول جلد ، صفحه ۲۴۳ اُوومه کرخه | اُووه سوه کاله | آويا کاله |
| اول جلد صفحه ۲۴۱ دولسمه کرخه | اَلْعُلَمَاءَ | اَلْعُلَمَاءُ |
| دريم جلد ، صفحه ۵۲ دولسمه کرخه | قرض نه اداء کيږي | زکوة نه اداء کيږي |
| دريم جلد صفحه ۱٦۹ شپږمه او اتمه کرخه | جذامي (برګي مرض واله) | جذامي (غوښه رژيدونکي بيماری واله ) |

| جلد ، صَفحه او کرښه نمبر | خطائي | صحيح عبارت |
|---|---|---|
| پنځم جلد صفحه ۲۹۸ دريمه کرښه | سجده سهوه | سجده تلاوت |
| پنځم جلد صفحه ۱۵۵ دريمه کرښه | ذُلبٌ | ذُکبٌ |
| شپږم جلد صفحه ۳۳۵ اوله کرښه | څرګان | چرګان |
| اووم جلد صفحه ۱۰ يوولسمه کرښه | بيتُ المقدس | بيت الله |
| اووم جلد ، صفحه ۲۷ شلمه کرښه | پنځوس مونځونه کم کړل | پنځه مونځونه کم کړل |
| اَتم جلد ، صفحه ۱۲۱ څلورمه کرښه | امام او مقتدي | امام او مُنفرِد |
| لسم جلد صفحه ۶۴ څلورمه کرښه | اعتکاف نه ماتيږي | اعتکاف ماتيږي |
| يوولسم جلد صفحه ۳۲۹ پنځمه کرښه | حضرت هاجرة رَضِيَ اللهُ عَنهَا | حضرت سارة رَضِيَ اللهُ عَنهَا |
| يوولسم جلد صفحه ۳۲۰ پنځمه ، اُوومه او اَتمه کرښه | چَرمخکی | کربُونړي |
| يوولسم جلد صفحه ۲۴۸ اوله کرښه | اُورِدي | اُورِي |
| دولسم جلد صفحه ۲۵۰ لسمه کرښه | فائده نه حاصله | فائده نه وي حاصله |

**نوټ** : ددينه علاوه که تاسو ته په بل ځای کې داسې صريحه خطائي معلومه وي نو ماته اطلاع راکړئ چې په آئنده جلد کې د هغې نِشاندهي هم اوکړم.

**ابوالشمس نورالهدا عفی عنه**

موبائل نمبر : ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

## اول جلد

١. د توبې اهميت ، فضيلت او احكام
٢. د الله ﷻ رحمت او مهرباني
٣. د ګناهونو نقصانات
۴. د علم فضيلت او اهميت
۵. د علماؤ او طلباؤ مقام
٦. د درود شريف فضيلت او اهميت

## دويم جلد

١. حقوق الوالدين ( يعنى د مور او پلار حقوق )
٢. عُقوقُ الوالدين (يعنى د مور او پلار نافرماني او د هغې سزا )
٣. د مرګ بيان
۴. د صبر فضيلت او اهميت
۵. د قبر عذابونه او نعمتونه

## دريم جلد

١. د زكوة اهميت ،فضيلت او احكام
٢. د زكوة نه وركوونكي عذابونه
٣. د صدقې وركولو فضيلت او فوايد
۴. د خرچ كولو اهميت ، او د سخاوت فضيلت
۵. په مخلوقاتو كې د الله ﷻ د قدرت نخې

## څلورم جلد

١. د نبي ﷺ اتباع او اطاعت
٢. نبي ﷺ سره د مَحبت كولو وُجوب او لزوم
٣. د نبي ﷺ په سُنتو باندې د عمل كولو سائنسي او طِبي فوائد
۴. د ګيرې پريخودلو اهميت ، او د خرېلو يا قبضې نه د كمولو سزاګانې

## پنځم جلد

١. د قرآن كريم د تلاوت كولو فضائل او فوائد
٢. د حافظانو او د قرآن كريم سره د تعلق لرونكو خلقو مقام
٣. د قرآن كريم اِعجاز
۴. قرآن كريم يو اِنقلابي او مؤثر كتاب دى
۵. د قرآن كريم د تعظيم او عمل په وجه الله ﷻ قومونو ته ترقي وركوي

## شپږم جلد

١. د حلال كسب اهميت او فوائد
٢. د حلال خوراک اهميت او فوائد
٣. د حرام خوراک سزاګانې او نقصانات
۴. د مُشتبه شيانو نه ځان ساتل
۵. د سُود خورلو سزاګانې او نقصانات
٦. د نبي ﷺ معجزات
٧. نبي ﷺ ته د مخكيني پيغمبرانو په نسبت بهترينې معجزې وركړې شوې دي
٨. د علم او كماله ډكه رساله

## اووم جلد

١. په اِسلام كې د مانځه اهميت او مقام
٢. د مانځه فضائل او فوائد
٣. بغير عُذره د مونځ پريخودلو سزاګانې او نقصانات
۴. په جمعې سره د مونځ كولو اهميت او فضائل
۵. بغير عذره د جمعې پريخودو سزاګانې
٦. په مانځه كې د خُشوع اهميت
٧. د ټول مونځ معنى

## اتم جلد

١. د مانځه متعلق ضروري بحثونه
٢. د مانځه متعلق ضروري فِقهي مسائل
٣. د سجده سهوې متعلق ضروري مسائل
۴. د مسبوق ځني ضروري مسائل
۵. د قضا مونځونو باره كې فِقهي مسائل
٦. د مانځه متعلق مُتفرق فِقهي مسائل
٧. د مسافر د مانځه متعلق ضروري فِقهي مسائل
٨. د امامت متعلق ځني ضروري مسائل

## نهم جلد

١. د رمضانُ المبارک د مياشتې فضيلت
٢. د رمضانُ المبارک د روژو اهميت او بغير عُذره د پريخودو سزاګانې
٣. د رمضان المبارک د روژو فضائل فوائد او حكمتونه
۴. د شل ركعته تراويحو ثبوت او فضائل
۵. د روژې متعلق فِقهي مسائل
٦. د تراويحو متعلق فِقهي مسائل

## لمړی جلد


١. د رمضانُ المبارک په آخري عشره کې د اعتکاف اهميت او فضائل
٢. د ليلة القدر عَظمت او فضائل
٣. د سَر سايي وُجوب او فضائل
۴. د وړوکي اختر بيان
۵. د جُمعې د مانځه اهميت، فضائل، او بغير عُذره د پرېښودو سزاګانې
٦. د جُمعې د ورځې عَظمت او فضيلت د جُمعې مانځه متعلق ضروري فِقهي مسائل


## يوولسم جلد


١. د حَج اهميت او بغير عُذره د حج نه کولو سزاګانې
٢. د حَج فضائل، فوائد او حکمتونه
٣. د ذوالحجې اولې عشرې عَظمت او فضائل
۴. د قرباني اهميت او فضائل
۵. د قرباني متعلق فِقهي مسائل
٦. د غټ اختر تقرير (په ابراهيم ﷺ باندې د راغلي اِمتحاناتو تفصيلي بيان)


## دولسم جلد


١. په اسلام کې د جهاد اهميت او مقام
٢. د جهاد فضائل، فوائد او حکمتونه
٣. د قدرت باوجود جهاد نه کولو سزاګانې او نقصانات
۴. د مجاهدينو مقام او فضائل
۵. د شهادت فضائل او د شهيد مقام


## ديارلسم جلد


١. په جهاد کې د مال خرچ کولو فضائل او فوائد
٢. جهاد د الله ﷻ د رَضا د پاره کول، او مال غنيمت کې د خيانت نه ځان ساتل
٣. په اجتماعي لحاظ سره د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کيدو اسباب
۴. هر نيک عمل په اخلاص باندې کول
۵. د رِيا نه ځان ساتل
٦. د رِښتيا ويلو فضيلت او د دروغو سزاګانې













جاده میوند پخته فروشی کابل: 0764857797